د پښتو ادبیاتو تاریخ

دوهم ټوک

د پښتو پخوانی تاریخ تر ۱۰۰۰هـ پوري
او
پر پښتو نظم او نثر تحلیلی څېړنه

لیکوال
عبدالحی حبیبی

پښتو ټولنه
۱۳٤۲ش

لومړي خبري

د دې کتاب په لومړي ټوک کي، تر اسلام دمخه د پښتو پر وجود او اصل مستندي او مفصلي څېړني وشوې، چی د تاریخ او ژبپوهني په رڼا کي د پښتو پخوانۍ ریښې او زړې ښیي او دا ښکاره کوي، چی پښتو د ایشیا د قدیمو ژبو، زړې پارسي او د اوستا او سنسکریت په څیر زړه ژبه ده.

داسي ښکاري چه پښتو د شرقي او هندي ژبو او غربي او ایراني ژبو تر منځ یوه مستقله ژبه وه او له ویدي ژبي او سنسکریت سره هغه نښتون لري، کوم چی له پخوانۍ پارسي او اوستا او پهلوي سره لري.

دلته زه یو ښکاره دلیل او قوي سند راوړم چه د پښتو رابطه له پخوانۍ پارسي سره ښه ثابتوي او دوه نیم زره کاله مخکي د پښتو وجود را ښئي.

زړه پاړسو

لکه په لومړي ټوک کي چي ما لیکلي وه، زړه پاړسو هغه ژبه ده، چه دوه نیم زره کاله دمخه د ایران په پارس کي ویله کیده او د هخامنشي پاچاهانو درباري ژبه وه؛ خو د دې ژبي کوم کتاب اوس نه دي پاتي، فقط د ایران او مصر پر ځینو غرو باندي د دې ژبي یو څو ډبرلیکونه (کتیبې) په میخي خط پاتي دي، چي ټوله ٤٠٠ لفظونه کیږي.

د دې ژبي ځیني لفظونه د لومړي ټوک په پاي کي ما د پښتو سره پرتله کړي وه، چي بالکل پښتو یا ور نژدې وه؛ خو اوس د هغې ژبي یو شعر راوړم، چه بالکل پښتو دی او تاسي به ورته حیران شي، چه څنګه دوه نیم زره کاله دمخه هم پښتو اشعار وه او د پاچاهانو پر ډبر لیکونو کښل کیده.

دوه نیم زره کلنی شعر

لوي داریوش د ایران د مخامنشي کورنۍ یو مشهور پاچا دي، چي د ٥٢٢ ق،م څخه یې تر ٤٨٦ ق،م پوري سلطنت کړي دی. د ده په امر د بغستان (بیستون) پر غره یو ډبر لیک کیندل شوي دی او په څلورم ستون او ٦٤\٤٣ بند کي یې داسي یو اخلاقي حماسه لیکلې ده:

داریوش پاچا وایي: اور مزدا او نورو بغانو (خدایانو) ځکه زما مرسته وکړه، چي زه اړیکي وم، نه دروهونکي وم، نه ځوروهنکي وم، نه زه، نه مي کورنۍ له ربښتیا څخه واوښتو.

نه مي مریي، نه مي بیوزلي وځوراوه. چا چي زما د کورنۍ مرسته وکړه، هغه مي ونازاوه او چا چي زما د کورنۍ وراني وغوښته هغه مي وځوبلاوه.[1]

دوکتور معین د تهران پوهنتون استاد وایي چه په دې اخلاقي حماسه کي په خاص ډول یو درې مسریز شعر راغلي دي، داسي:

---

۱. اولډ پرشن ص ۱۲۹ د کنټ تالیف، طبع امریکا ۱۹۳۵.

1. Nê a ri ka à hum

2. Nê drau ja na à hum

3. Nê zura ka ra à hum

دا درې مسرې داسي لوستلي کېږي:

۱. نې اري که آ هم

۲. نې دروجه نه آ هم

۳. نې زوره که ره آ هم

د دې شعر هره مسرۍ شپږ هجاوي (سپږ) لري او داسي دي لکه د پهلوي ژبي دیاتکار زریران کتاب شپږ هجائي مسرۍ.[۱]

اوس به دغو مسریو ته ځیر شو او بیلي بیلي هجاوي به ئې سره ونښلوه، وګوري دا خو پښتو دي چه داسي ویلې کیږي:

۱. نې اړیکه اوم

۲. نې دروه جنه اوم

۳. نې ځور کړه اوم

کلمات

لاندي د هري کلمې شرح هم ولولي، چي ښه مو یقین شي، چي دا پښتو دی:

۱. نې né په پښتو کي د (نه یې) مخفف دی، (نه) د انکار او نفي توري دي چي په اوستا کي noit او په سنسکریت کي ned او په پهلوي کي ne ؤ.[۲]

او (ئې) فاعلي او مفعولي غایب ضمیر دی، نه یې دوې هجاوي لري، خو چي مخفف شي (نې) یوه هجا ده، دا مخففه انکاري او نافیه کلمه په اوسنۍ پښتو کي هم شته.

یوه لنډۍ ده:

نې درکوم نه یې پرېږدمه د زړه له داغه مي سور ګل ګوره مینه!

وګوري دلته دواړه شکله راغلي دي. د لومړۍ مسرۍ (نې) او (نه یې) دواړه په یوه معنا دي؛ خو لومړۍ کلمه سپکه شوې ده (نې) په مهجوله (ې) ویله کیږي مسري خان ګګیاڼي وایي:

---

۱. کنجکاویهاي علمي و ادبي ص ٤٢ د تهران طبع د دوکتور معین مقاله.

۲. اولډ پرشن، ۱۹۲.

نه يې عذر نه حجت وي   د يار امر ته تيار وي[1]

(ديوان ص ١٥٤)

۲. اړيکه arika: دا کلمه ځينو پوهانو په زور د پارسي ژبې (اريغ) ته کش کړې ده. حال دا چې پخپله دغه کلمه هم په مختلفو خطي نسخو کې مشکوکه او (آزيغ) هم راغلې ده.[2] دوی وايي، چه معنا يې عداوت او دښمني او نفرت ده، چه ازيغ هم را نقل شوې ده.[3] په هر صورت که په پارسي کې اريغ هم ثابت شي چه شته؛ نو به هغه هم له دغې ريښې څخه را شين شوی وي؛ خو په پښتو کې کټ مټ دغه زړه کلمه اوس هم مستعمله ده او معنا يې هم مضر، مانع، پاي بند او مغرض او عدو او دښمن ده.

له دې کلمې سره نور داسې کلمات هم اوس په پښتو کې شته، چه له دغې ريښې څخه را وتلي دي؛ لکه اړ (گرفتار او محتاج) اړيکي (پاي بند او مانع او مضر) اړې، اړتيا (مشکلي او احتياج) د دې کلمې استعمال په پښتو ادب کې خورا زوړ دی، د ٤٠٠ هـ په شا او خوا کې چه لودي کورنۍ په ملتان که پاچاهي کوله، له دغې کورنۍ څخه يو شاعر شيخ رضي ويلي دي:

هغه گروه دي اوس آړه کړ   چې پلرو دي رڼاوه

نصر لودي د ده په جواب کې وايي:

توراني دښن چې وايې   زه له گروهه په آړه يم[4]

آړه هم له دغې قديمي ريښې څخه دی چه معنا يې په نفرت او عداوت اړول دي، په پښتو وايي پلاني اوښتئي دی يعني په عداوت ملحد شوي او له دينه وتلي دی.

اما اړيکه په دې شعر کې شته، سلام قندهاري وائي:

کله به ورسيږي ستا د خولې اواز ما ته   چې اړيکه مي شو په مينه کي غماز ماته

دلته اړيکه کټ مټ د مخالف او دښمن او مانع به معنا دی.

۳. د دې پاړکي د درو مسريو مشترکه سجع (آهم) دي او اوس دا فعل په مختلفو لهجو (وه م، وه مه، اؤم، اؤه م) دی چې د پارسي (بودم) معنا لري.

په دې تلفظونو کي (وم، اؤم) يوه يوه هجا ده، مگر (وه مه يا اوه م) دوې دوې هجاوي لري، چه د زړې پاړسو له (آهم) سره نژدې دی، په ټولو لهجو کي واو زورکي لري او د زورکي ښکاره کونکي توري (هـ) ده؛ نو د (آهم) د منځ (هـ) به هم ښايي دغسې آواز ښکاره کاوه او اوس يې موږ ځلرم حرکت يعني زورکی بولو. دغه کلمه په سنسکريت کي هم آهم

---

۱. د خان گگياڼي ديوان ص ١٥٤.

۲. لغت فرس ۲۳۸ د تهران چاپ.

۳. برهان قاطع.

٤. تفصيل يې وگورئ: لوديان د دې کتاب دوهم څپرکي، د کنټ په قول د دغه اړيکه ريښه هم د اوستا انگره او د لاتين anra دي، چې معنا يې شرير او بې عقيده دی (اولډ پرشن ص ۱۷۰) او د پښتو آړه هم دغو ته بالکل په شکل او معنا کي نژدې ده.

او په ګرېک کي hom وه.[1]

٤. په دوهمه مسرۍ کي (دروجنه) د پارسي مترجمانو په دروغزن) ترجمه کړي دی[2] خو په پښتو کي کټ مټ (دروجن، دروجنه) موجود دی.

(درو) یا (دروه) په پښتو فریب، مکر، حیلې ته وایي، جن یا جنه د نسبت کلمه ده، لکه: ماښیجن، کرکجن، درواغجن.

په پښتو درواغ او دروه فرق لري او بیلي بیلي کلمې دي. درواغ یا دروغ له پارسي سره مشترک دی، مګر دروه او دروهل یا دروول د (فریفتن) معنا لري، دروهنه، دروهونکي، دروهلي هم له دغي ریښې څخه دي، نو د پارسي (دروغزن) د دې تاریخي کلمې حقیقي تعبیر نه دی؛ بلکي (دروجن) د فریبنده او حیال او مدلس او قلب کار معاني لري. نصر لودي پخواني پښتون شاعر هم دا کلمه د ٤٠٠هـ په شاوخوا کي استعمالوي، وایي:

دا یي تور تاسي دروهوي زه مؤمن ستاسي په تله یم[3]

خوشحال خان وایي:

په خپل زوي او ورور باور نشته خوشحاله! غافل مه شه د جهان له مکره دروه[4]

یو بل شاعر ویلي دي:

نه په دروه نه په دروغ نه په ریا شي کار د دین دی سر تر پایه په رشتیا

٥. په دریمه مسرۍ کي (زوره کره) راغلي دی، چه په پارسي یې معنا زورګر ده په دغه کتیبه او دیرلسم بند کي دوه واره (زور) راغلي دی؛ خو درې تنه ژبپوهان لکه تولمن، ویسباخ، او بارتولومي د دغو دواړو په اشتقاق کي سره مختلف دي لکه ګیګر چه په اوستایي څېړنو کي[5] لیکلي دي، په اوستا کي زواري، او په سنسکریت کي جوس، او په زړه پارسي کي زوره، په پهلوي کي زور یا زوار، یا زورش، د زور او فشار او ظلم په معنا وه.

دوهمه نظریه دا ده، چي د اوستا زوره، د سنسکریت هوارس، د زړې پارسي او پهلوي زور، د فریب او نادرست په معنا د دې کلمې اصل دی.[6]

نو باتولومي یې په دواړو ځایو کي معنا (نادرست، خطا کار، تزویر) لیکلې ده.

خو ویسباخ (زور، ستم، زور چلول) راوړې ده. تولمن یې په لومړي ځاي کي معني خطاکار او مزور او په دوهم ځاي

---

١. اولډ پرشن ص ١٧٤.
٢. کنجکاویهای علمی و ادبی ص ٤٣.
٣. تفصیل یي وګوري په دې کتاب کي د لودیانو کورنۍ.
٤. د خوشحال خان دیوان، ٢٣٠ ص.
٥. ص ٢٤٢،طبع ١٨٧٩م.
٦. اولډ پرشن، ص ٢١١.

کي زور او فشار کښلې ده.[1]

اوس به راشو پښتو ته: چي تر اوسه هم ځور او ځورول شته او معني يې هغه ده، چه په نورو پخوانيو ژبو که وه، زور د لومړی توري په فتحه (آزار، زحمت) معنا ورکوي؛ خو ځور هم د اول حرف په زور ستم او فشار ته وايي.

عبدالقادر خان خټک دغه دوې کلمې په بيلو بيلو معناوه داسي راوړي دي:

نه به ستا د ښايست تل وي هسي دور / نه به زړه وي د عاشق مدام به زور

چي دواړه بقا نه لري تيريږي / بيهوده هومره ستم کړي هومره ځور

په اول بيت کي زور (زحمت او آزار) په دوم بيت کي ځور (ستم او ظلم) دی.

او دا دواړه کلمې له زور په اول پيښ بيلي دي، نو په اصلي زړه کتيبه کي هم ځور کړه (ستمگر، فشار دهنده، ظالم) ؤ، چي د هغه فعل ځورول دی.

اما د دې کلمې دوهم جزو (کره) دی، چه په پښتو اوس (کړه) وايو، کړل ، کړنه، کړونکي، کړئ له دې ريښې څخه دی. دا کلمه هم پوهانو کړه ويلې ده، په دوه هجاوه (که-ره) نو چي دا دوې هجاوي شي، د دې مسرۍ ټولي هجاوي به اوه شي. دلته دوکتور معين وايي:

چه ښايي د وزن د ضرورت لپاره د (که-ره) يوه هجا سپکه شوي، او په گرده مسرۍ کي شپږ هجاوي پاتي شوي وې؛ مگر دا مشکل د پښتو صحيح تلفظ په خپله حل کوي؛ څکه چي په پښتو (کړل) او (کړه) د کاف به سکون او د ړې په زورکي تلفظ کيږي او يوه هجا ده، نه دوې. له دې جهته په پښتو صحيح تلفظ کي دا مسرۍ هم شپږ هجاوي ده او حاجت بل تاويل ته نه لري. په اوستا کي هم (کر) مصدر ؤ، چه د پښتو کړ، کړل، او د پارسي کردن ورسره نژدې دی، خو د پښتو (کړه) يعني فعل کټ مټ هغه کلمه ده، چي په دې کتيبه کي راغلې ده. په پښتو اوس داسي وايو:

د خداي په کړه راضي اوسه! / له بدو کړو څخه توبه وکړه!

تقطيع او قافيه

د پښتو اشعارو لکه نور پخواني آريايي شعرونه د هجا په حساب وه، د ويدا او اوستا او نورو پخواني پهلوي کتابو اشعار، ټول هجائي وزن لري؛ خو د قافيي قيد ډير کم دی او مسجع پاړکي دي، چي د ځينو په پاي کي يوه قافيه تکراريږي او دغه قطعه شعر چه دري مسرۍ لري، د هري مسرۍ په پاي کي (آهم) راغلي دی. خو دا قافيي تکرار عيب نه ؤ او ځيني اوستايي اشعارو هم دغسي مکرري قافيي لري[2] حتي چه د پارسي ژبي پخواني اشعارو هم دغسي وه، مثلاً د ابن مفرغ دغه درې مسريزه پاړکي، چه په الاغاني کي راغلي دی:

آبست و نبيذ است

---

۱. کنجکاويها، ص ٤١.

۲. کنجکاويها، ص ٤٤.

عصارات زبیب است

سیمه رو سپیذ است

یا دا شعر چي د خراسان کوچنو به په کوڅو کي د ابو منذر راسد بن عبدالله القسري پر ماته، په ملنډو وایه او طبري راوړي دی:

از ختلان آمذیه — بروتباه آمذیه — بیدل فراز آمذیه[1]

د خواجه عبدالله انصاري (متوفي٤٨١ هـ) دا کلمات همدغسي دي:

اگر بهوا پری مگسی باشی

و اگر بر آب روی خسی باشی

دل بدست آر، تا کسی باشی

دغسي شعرونه د پښتو په عوامي اشعارو کي خورا ډېر دي، په هره کلي کي یو شاعر وي، چي داسي شعرونه ارتجلاً وایي، لکه د سلیم زمینداوري د شعر دا یوه ټوټه:

پر تا مین زه خوار و زار یمه — دا د هجران په غمو بار یمه

په سر تور سر در پسې خوار یمه — جانانه زه پر تا مین یمه

د دې شعر هجاوي په هره مسري کي لس لس دي او قافیه یي کټ مټ لکه د هغو قدیمو شعرونو په ډول غبرگه ده او داسي مسجع جملات د پښتو په قدیمو کتابو کي د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء (٦١٢ هـ)، د پیر روښان خیر البیان (٩٨٠هـ) او د اخوند درویزه په مخزن اسلام کي خورا ډېر دي، بلکه پخوانو خپل نثري آثار هم په دغه ډول لیکله، چه شرح به یی به دې کتاب کي راشي.

له دې څېړني څخه به تاسي ته دا ښکاره شوي وي، چه د پښتو ژبي وجود تر اسلام دمخه او د دغي ژبي نژدیوالي له نورو ژبو سره ثابت دي. البته زه د دې مدعي نه یم، چه پښتو عین زړه پاړسو وه، لیکن د دې څېړني څخه دا خو ضرور ښکاري، چه ښایي د پښتو ځیني ادبي قطعات به په دغو قدیمو ژبو کي د قرابت له جهته ساري او جاري او گډ وه. یا دا چه زړه پښتو به له زړې پاړسو سره دونه نژدې وه، چه له لږ تغیر به له پښتو څخه هغه زړه ژبه جوړیده.

که کوم وخت د دغو ژبو پخواني آثار په تحلیلي ډول مطالعه شي، ښایي چه ډېر نور داسي اسناد هم پیدا شي.

خو دا کار د آیندگانو دی، چه د علم او پوهي په رڼا کي د پښتو پلټني پسې اوړدې کاندي.

---

١. د قزویني بیست مقاله، ١-٣٢.

(۱)

لومړي برخه

(د پخوانو دوره تر ٦۰۰ هـ)

لومړی څپرکی

د اسلام خپریده او د هیواد دیني او سیاسي حالت:

د ٦۰۰ م کال په شاوخوا کي چي د عربستان له ریگزاره د اسلام لمر را ختونکي وه، د پښتونخوا پر مځکو له یوې خوا د بودایي دین نفوذ دوني خپور شوي ؤ چه اکثر مراکز او معمور ښارونه د دې دیانت تر اثر لاندي وه، په غربي برخو کي هم د زردشت د دین آخري وړانگي ځلیدې.

د سیاست له پلوه هم دا غرونه او مځکي تر دوه سلطو لاندي وې، شرقي خواوي د بودایي مذهبو پاچاهانو به لاس کي وې، چه مراکز یې کابل او پیښور او د اباسین د غاړي ویهند وه، غربي برخي لکه خراسان او سیستان د ایران د ساساني کورنۍ تر حکومت لاندي وې چي دیناً دوي، د زردشت پیروان وه.

د لومړي هجري کال ٦۲۲ م په حدودو کي چي یو چیني سیاح هیون تسانگ په افغانستان کي گرځي او د پښتونخوا سیمي گوري، عزني، زابل، کابل، بگرام، بامیان، بلخ، ویني، دی په غزني، کابل، بامیان او بلخ کي ډیر بودایي معابد او بود تونونه را ښیئي او د ده د سفر نامې څخه ښکاري، چي د اسلام په ابتداء کي په پښتونخوا کي هر ځاي د بودا د دین بودتونونه موجود ؤ او د خلکو دغه دین پاله او دا سلطه د اسلام د مجاهدینو تر راتگه پوري ټینگه وه.[1]

که څه هم رسماً د خلکو دیانت بودایي ؤ او پاچاهانو هم دا دین پاله؛ مگر د سیاست له پلوه د هیواد شرقي او شمالي خواوي متحدي وې او پاچاهان یې هم د دغه ځاي وه، او تل یې خپل سیاسي او اداري استقلال ساته، تر اسلام دمخه چي د لویو او کوچنو کوشانیانو سلطنت وران شو؛ نو دې هیواد بیا هم د یفتل شاهانو تر اداري لاندي د خپلواکۍ ژوندون درلود او د دوي ډېر لیکونه تر اوسه هم د زابل په روزگان کي شته[2] او بیا نو د کابل او زابل پاچاهانو د رتبیل په نامه اقتدار ومنوند او هم ډیر عمر په دې ملک کي د سلطنت خاندان وه؛ نو کوشاني او یفتلي او د اریانو کورنۍ هغه پاچاهان دي، چي دوي تر اسلام دمخه او د اسلام د راتگ پر وخت د هندوکش پر جنوبي خوا او کابل او زابل حکمراني کوله او د اسلام تر راتگ پوري څو پیړۍ په استقلال اوسیده او د دې مځکي ثقافت او مدنیت او خپلواک ژوندون یې ساته له غربي او شرقي خوا چي پر پښتونخوا خطرات راتله خلک د دغو خپلو پاچاهانو تر سیوري لاندي متحد وه.[3]

ځکه چي د دغو غرو خلکو خپل ژوندون په خپلواکي تیر کړي او هر کله ئې استقلال ساتلي و؛ نو هغه وخت چي تر

---

۱. تفصیل یې وگوري د هیون تسانگ سفر نامه، د بیل انگریزي ترجمه.

۲. تصاویر یې وگوري د موزیم جورنال، پیښور ۱۹۵۳.

۳. امپراطوري کوشان، رتبیل شاهان، تاریخ افغانستان، ج ۲.

هجرت ۳۰ کاله وروسته (٦٥۰ م) لومړۍ پلا، د اسلام مجاهدین د سیستان له سیمي څخه پر دې هیواد باندي راغلل؛ ځکه چي دوي ته د اسلام ښیګړي نه وې معلومي؛ نو یې له مسلمانانو سره تقریباً درې پیړۍ مسلسل جنګونه وکړه، مګر وروسته چي دوي د اسلام مقدس دین ومانه، نو دوي پخپله د اسلام لومړني علمبرداران هم شول.

خلاصه: د اسلام ابتداء له ۳۰ هجري کاله دلته کیږي[1] او تقریباً په پنځوس کاله کي د اسلام فاتح لښکر پر سیستان، رخج، داور، زابل، کابل او بست بري مومي او له بلي خوا خراسان او هرات او مرو او مرغاب او پوشنج او بادغیس تر جوزجان او تالقان او فاریات او بلخ پوري فتح کوي او تر ۱۰۰ هـ پوري د اسلام بریالي لښکر تر ختن او خجنده پوري رسیږي او له بلي خوا هم دا فتوحات په سند کي دوام مومي او له کابله د اټک تر غاړو پوري رسي او هم د سند په سیمو کي ملتان او نیرون او قیقان او قندابیل او نور ټول مشهور ښارونه او کڅونه (بندرونه) د مسلمانانو په لاس فتح کیږي.[2] د اسلام په دوره کي لومړني سل کاله تر ۱۰۰ هـ پوري د دې هیواد د جګړو او مقاومت دوره ده، چي پښتانه ورو ورو د اسلام دین مني او هغو خلکو چي لا دغه دین نه وي منلي، نو پر خپل زاړه حالت پاتیږي او د اسلام مجاهدین او فاتحین هم په دغه مځکه کي تل په جګړو بوخت وه. داسي ښکاري چي د هیواد د غربي خواوه خلک لکه د هرات، سیستان، بست، زمینداور، بادغیس، پوشنج، او هم د شمالي څنډو اهالي تر بلخه، په لومړۍ اسلامي پیړۍ کي د اسلام په دین مشرف شوي دی، مګر د شرقي خواوه اوسیدونکي یعني د سلیمان غره او سپین غره پښتانه د اباسین تر غاړو پوري وروسته مسلمانان شوي دی. د ابن واضح الیعقوبي په قول په ۸۰هـ کال عبدالرحمن بن محمد د حجاج له خوا د لسو زرو عربو سره پر سیستان راغي او په ۸۳هـ یې رتبیل ته په بست کي ماته ورکړه، او بیا قتیبه په ۹۲هـ کال د رتبیل سره په سیستان کي مقابل شو.[3] او د خلیفه منصور په عصر کي (۱٤۰هـ حدود) د بامیان پاچا (شیر) اسلام ومانه، څو چي د الرشید له خوا فضل بن یحیی برمکی ټول کابلستان او طخارستان تر غوربند او شاه بهار (شیبر) فتح کړل او په ۱۷٦ کال یې پر کابلشاه باندي بیا لښکر کشي وشوه. د شاه بهار (شیبر) لوي بت د مسلمانانو په لاس مات کړ شو او فضل برمکی د خلافت له درباره د دې خوا حکمران و.[4]

د پیښور په موزیم کي یو عربي ډبرلیک شته چه په ۲٤۳هـ کال لیکل شوي او د وزیرستان په ټوچي کي پیدا شوي دی او دا ځني ښکاري چي په دغه وخت کي اسلام او عربي رسم الخط (لیک دود) او ژبه او ثقافت تر دغو غرو پوري خپاره شوي وه، دغه کتیبه په ساردا او ناګري خط هم ده؛ نو دا ثابتوي چي د پخواني مدنیت رسم الخط لا نه و ورک شوي، که څه هم په وزیرستان کي د عربي ژبي او خط اثر خپور شوي ؤ اما د کابلشاهانو او مقامي پاچاهانو اقتدار لا له بامیانه تر ګردیزه پاتي ؤ، څو چه په ۲٥٦هـ کال ګردیز او بامیان، یعقوب لیث صفاری فتح کړل.[5] او د العتبی او حدود العالم ۳۷۲هـ له قوله ښکاري، چي پښتانه تر ٤۰۰هـ پوري ورو ورو مسلمانیدل او د سلطان محمود تر عصره لا هم په پښتونخوا که داسي خلک وه چه په تدریج به مسلمانیدل.[6]

---

۱. کتاب البلدان الیعقوبي، ٥۷.
۲. د بلاذري فتوح البلدان، ابن اثیر، تاریخ سند.
۳. تاریخ الیعقوبی ۱-۲۳، و ۳-۲۲.
٤. کتاب البلدان د ابن واضع یعقوبي (متوفي ۲۹۲هـ) اثر د لیدن طبع، ص ۲۹۰.
٥. زین الخبار ګردیزي، ص ٦ وګوري د دې کتاب دوهم څپرکي لویکان.
٦. ابن اثیر، آداب الحرب.

د پښتنو تاریخي شهرت په اسلامي دوره کي:

له تاریخي آثارو او پخوانو کتابو له کتني څخه داسي ښکاري چي د اسلام په لومړیو پېړیو کي پښتانه له بادغیس او هراته، بیا د غور تر غرو پوري میشته وه، دغسي هم دوي په زابلستان او کندهارا او د شرقي پښتونخوا په غرو کي اوسیدل، په مدني ښارو کي هم داخل وه، د اسلام د دورې هغه تاریخ لیکونکي او جغرافیا وال چي د دغه هیواد وه، یا یې د دې خوا غرونه او ښارونه لیدلي ؤ، ډیر د پښتنو ذکر کوي او د پښتو له پخوانو آثارو څخه هم داسي ښکاري، چي پښتانه د اسلام په اوایلو کي مشهور ؤ او د دوي ژبه هم په دغه وخت کي یوه داسي ادبي ژبه وه، چه ډیر ښه او پاخه اشعار یې درلودل.

دلته زه غواړم د پښتنو ذکر چي په لومړیو اسلامي پېړیو کي مورخینو راوړي دی، لنډ بیان کړم، بیا به نو د لومړنیو ادبي آثارو په څېړنه بوخت شم، له دغه لنډ تاریخي تذکاره به تاسي ته ښه ښکاره شي چي پښتانه یو مشهور قوم ؤ او چي دوي موجود او مشهرو ؤ نو طبعاً د دوي ژبه هم موجوده وه او لکه چي ښایي هغسي ادبي موقعیت یې هم درلود.

عموماً په څلورمه هجري پېړۍ کي مؤرخین د پښتنو ذکر په ښه ډول کوي، چي په ښارو کي اوسیدل او خپله ژبه یې ویله، وروسته چي تاسي د لویکانو او سوري او لودي کورنیو حال ولولئ، دا خبره به ښه درته څرګنده شي، مګر دلته د ځینو نورو مؤرخینو اقوال هم د پښتنو په باب کي را نقلوم.

۱- د اسلامي دورې په جغرافیا لیکونیکو کي لومړی سړی زموږ د هیواد یو مدقق لیکوال جوزجاني دی، چي یو خورا قدیم جغرافي کتاب یې په پارسي ژبه (حدود العالم من المشرق الی المغرب) په نامه په ۳۷۲هـ کال کښلي دی، دا لیکوال په هغه ځاي کي چي د پښتونخوا ښارونه لکه ګردیز او لغمان او نور ذکر کوي، په سول او بنیهار نومو ځایو کي د افغانانو استوګنه ښیي[1] او داسي ښکاري چه پښتانه په ښارو کي هم اوسیده او مشهور وه.

۲- تر ده وروسته په غزنوي دوره کي ابو نصر محمد بن عبدالجبار العتبي د غزنوي دربار نامتو مورخ دی، د ٤١٥هـ په حدودو د سبکتګین په احوال کي "د جیپال تر جګړو وروسته افغانان او خلجي (غلجي) د سبکتګین په لښکرو کي په زرو زرو داخل شول." بل ځاي وایي: "افغانان په لوړو غرو کي اوسیدل او د سلطان محمود پر لښکر به یې یرغلونه کړل، نو محمود له دوي سره سخت جنګونه وکړل."[2]

۳. ابو ریحان البیروني (متوفي ٤٢٠هـ) چي د غزنوي دورې معروف عالم او مؤرخ دی وایي: "ډیر افغاني قبایل د هند په غربي خواوه کي د سند تر څنډو پوري پراته دي[3] او دا مؤلف پخپلو نورو علمي آثارو کي د افغانیه ذکر ډیر کوي[4]

---

۱. حدود العالم، ص ٤٥-٤٦.
۲. تاریخ یمیني، ص ٤٦-٢٦٨.
۳. کتاب الهند، ج ا،ص ٢٧٧.
٤. کتاب الجماهر ص ٢٣٣؛ التفیهم ص ١٩٩.

او په الصیدله کي د پیښور (پرشاور او دهک)[1] تر منځ د غزنه سره د دوي غرونه او مسکن ښیي[2] چي له دې څخه هم د دوي شهرت په دغه دوره کي د البیروني له بیانه ښه ښکاري.

٤. ابن اثیر عربي مشهور مؤرخ هم د ٤٠٩هـ په وقایعو کي د سلطان محمود جگړې له پښتنو سره بیانوي، چي سلطان د دوي پر غرو یرغل وکړ او له دوي سره یې سخت جنگونه وکړه.[3] له دې روایته هم داسي ښکاري چي د پښتنو غرني قبایل لا تر دغه وخته غزنوي حکومت ته نه ؤ ایل شوي او ځکه چي دوي په خپل هیواد کي د لوړ حربي او مدني مقام خاوندان ؤ، نو د غزني پاچاهان مجبور ؤ چي له دوي سره خپلوي ولري او د دوي له متې او توري څخه استفاده وکړي. سبکتگین چي د غزنوي کورنۍ لویه پاچاهي تاسیس کړه؛ نو یې له دې قوم سره خپښي وکړه او د زابل (زاول) له ملکانو څخه یې د یوه لور ځانته وغوښته، چي د سلطان محمود مور دغه زابلۍ پښتنه وه، او هم لدې جهته سلطان محمود ته زابلي ویلي شي.[4] پس له دې چي سبکتگین د پښتنو خپل شو؛ نو دوي د غزنوي سلطنت په مرسته ودریده او د سلطان محمود د هند په جگړو کي دوي شامل وه او اکثر فتوحات یې هم د دوي په توره کړي دي.

٥. شریف محمد بن منصور چي په مبارکشاه فخر مدبر مشهور او د غزنوي او غوري دورې مؤرخ دی، لیکي: ادیرا نومي افغان د سلطان محمود په عصر کي د جیپال له خوا په نردرې کي کوتوال ؤ، دا سړي راغي او د سلطان محمود په مخ کي یې اسلام قبول کړ.[5] له دې روایته هم د پښتنو رجالو شهرت او ادارې مقام ښکاري او دا هم ثرگندوي، چي په دغو وختو کي لا هم ځینیو پښتانه په اسلام نه ؤ مشرف شوي.

دا ؤ ځیني تاریخي روایات چي د ببنتنو د شهرت په باب کي لنډ لنډ را نقل شوه، علاوه پر دې چي د تاریخ پاڼي د دوي نومونه ذکر کوي، پارسي ادب هم له دې ذکره خالي نه دی. مثلاً د فردوسي د شهنامې په ملحقاتو کي ډېر ځلي اوغان یادیږي او داسي ښکاري چي په نیم افسانوي قبل الاسلام دورو کي اوغانیان په شجاعت مشهور او د زابل په سیمو کي یې کلاوې او ټینگ مواقع درلودل، او کک کوهزاد (غرزي) د دوي مشر پهلوان ؤ، چي له رستم سره یې سختي جگړې کړي دي، لکه چه وایي:

چنین گفت دهقان دانش پژوه	مر این داستانرا ز پیشین گروه
که نزدیک زابل بسه روزه راه	یکی کوه بد، سر کشیده به ماه
بیک سوی او دشت خرگاه بود	دگر دشت، زی هندوان راه بود

---

١. د البیروني پرشاور دغه پیښور دی چي پخوا پرشور هم کښل کیدي، اما دهک د زکي ولیدي توغان (د الصیدلي د ناشر) په قول دغه اوسنې ډکه ده، مگر دا خبره د غور وړ ده، ځکه چي په غزنوي دوره کي دهک د زابلستان یو مجلس و، چه مسعود سعد سلمان شاعر هلته بندي ؤ، لکه چي وائي: هفت سالم بسود سوه دهک. دا ځاي د ابن حوقل او استخري په قول د زرنج او بست تر منځ ؤ.

٢. الصیدله، ص ١١٠-١٢٢.

٣. الکامل، ج ٩ ص ١٢٨.

٤. د حمدالله مستوفي تاریخ گزیده، ص ٣٩٥، طبع ١٩١٠ لندن؛ سیاست نامه ص ١٢٦، طبع تهران.

٥. آداب الحرب ص ١٠٤٣. دیرا دغه اوسني ودیر د صافو د یوه قوم نوم دی او معني یې (هو+دیر) یعني د ښې دیرې خاوند دی.

نشسته دران دشت، بسیار کوچ ز اوغان و لاچین و کرد و بلوچ
یکی قلعه بالای آن کوه بود که آن حصن، از مردم انبوه بود
مر آن حصن را نام مرباد بود ازو جان نابخردان شاد بود
بدژ در، یکی بد کنش جای داشت که در رزم با اژدها پای داشت
نژادش ز اوغان سپاهش هزار همه ناوک انداز و ژوبین گزار
ببالا بلند و به پیکر ستبر به حمله چو شیر و به پیکار ببر
به نیرو جدا کردی از کوه کمر گریزان ز رزمش بدی شیر نر
ورا نام بودی کک کوهزاد بگیتی بسی رزم بودش بیاد[1]

له دغه بیانه ښه ښکاري چي اوغانیانو د دې قصې په اصلي مآخذو کي هم شهرت درلود؛ لکه په دغه قصه کي چه نور ځایونه هم د اوغان او د دوي د هیواد نوم راوړي، مثلاً د رستم له خولې وایي:

ندارم درنگ امشب ایدر ز کین مگر سوی اوغان و خرگه زمین

بل ځاي بهزاد افغان داسي ستایي:

چو بهزاد اوغان ازو این شنفت بدو گفت کا هریمنت باد جفت

بل ځاي رستم په قهر وایي:

همه مرز اوغان بهم بر زنم بدین دژ ز کین آتش اندر زنم[2]

شاعر په دې خپل بیان کي (مرز اوغان، اوغان سپاه) یادوي او د دوي د مشرانو لکه کک کوهزاد او بهزاد نومونه اخلي، په ښه ډول دا څرګندوي، چي اوغانیانو حکومت او مشران او سپاه درلوده او ښایي چي (دشت خرګاه یا خرګه زمین) هم د پښتنو ورشو وې او مراتع ۇ، چي دوي به خپلي کیږدۍ پکښي درولې.

نور شعرا هم د افغان ذکر کوي، فرخي (متوفي ٤٢٩هـ) د سلطان محمود په ستاینه کي یوه بولله (قصیده) لري، هلته د اغزیو په صفت کي وایي:

بگونه شل افغانیان دو پره و تیر چو دسته دسته بهم تیر هاي بي سو فار[3]

دغسي هم د غزنوي دورې یو بل شاعر مسعود سعد سلمان چي د سلطان ابراهیم غزنوي (٤٥٠-٤٩٢هـ) معاصر دی، پخپلو اشعارو کي د افغان د دلاورانو او جګړو ذکر داسي کوي:

١. د شهنامې ملحقات، ج ١ ص ٣٠٦١.
٢. د شهنامې ملحقات ص ٣٧٥-٣٠٧٤.
٣. د فرخي دیوان ص ٦٣، د شل کلمې شرح به وروسته راشي.

از لشکر ترک و هند و افغان   بر باره هزار شیر نر کرده[1]

له دغو تاریخي او ادبي تذکارو څخه چه لنډ لنډ مو را نقل کړه، تاسي ته څرګندیږي چه پښتنو په دغو وختو کي شهرت درلود.

اوس چي تاسي ته د پښتنو د نامه بولګه په اسلامي تاریخ کي ښکاره شوه، نو په اصلي مقصد پیل کوه.

دوهم څپرکی

د لویکانو (لاویکانو) کورنۍ

د اسلامي دورې په لومړنیو پیړیو کي د کابل او هندوکش په درو او د پښتونخوا په ښارو کي ځیني محلي د شاهانو کورنۍ پاتي وې، چي دوي د هغو پخوانو هفتالیانو (ابدالیانو) او هونانو (خانانو) او کوشانیانو بقایا وه، او غالباً د ابن خرداذبه کابلان شهاه او د بامیان شیران شاه او د زمین داور داوران شاه[2] او د زاول هفتالي (ابدالي) چي له دوي څخه د مهر ګل (میر کهول) کتیبه د روزګان په دره شمالي کي شته، دا ټول سره خپلوان وه.

د دغو شاهي کورنیو تاریخ ښه نه دي معلوم، فقط له ځینو سکو څخه د دوي یو څو نومونه موږ پیژنو او دا هم نه ده ښکاره، چي د دوي ژبه څه وه، خو رسم الخط یې یوناني او سره داناګري، یا کله منګولي هم وه.[3]

دلته د دې شاهي کورنیو اصل او تاریخ او وقایع لیکنه مقصد نه ده، بلکي د دوی د ژبي څرک ایستل مو پکار دي او دغه دلایل شته چي د دوي ژبه پښتو یا پښتو ته نژدې وه.

۱. د بغلان لیک

د بغلان په نورو حفریاتو کي چي په یوناني خط او ژبه یا په یوناني خط او بله محلي ژبه لیکونه پیدا شوي دي، تر اوسه د دې کتیبو د محلي ژبي لیکونه نه دي لوستل شوي او نه ده معلومه چي هغه کومه ژبه وه؟

خو داسي ښکاري چي په مسیحي لومړیو پیړیو کي لا هم هلته د اور پرستش ؤ او په بغلان کي د سره کوتل پر غونډۍ چي له پل خمري څخه ۱۵ میله د ایبک خوا ته پروت دی، یوه آتش کده کشف شوې ده.

فارنزالشیم روټ شنتېل الماني د بغلان د کتیبې هغه یو څو لیکي لوستي دي، چي په یوناني لیک کښلي دي او یوه جمله یې داسي ده:

کیرودومي بغولانګ[4]

پروفیسر هننګ الماني وایي، چي په دې کتیبه کي د بغلان قدیم نوم بغولنګ دی چي سغدي شکل یې بغدنګ یا

---

۱. د مسعود سعد دیوان، ص ٤٨٣.

۲. کتاب المسالک و الممالک د ابن خرداذبه، ص ۱۷۰ د لیدن طبع.

۳. د پیښور موزیم په ډبر لیکونو کي پر یوه منګولي خط هم شته چي د هونانو (خانانو) عصر دي.

٤. د شرق او عرب ایټالوي مجله، نومبر ۱۹۵۷.

بغدنج ؤ، دال په لام تبدیل شو او اخرني جزو (انگ) په (آن) واوښت او بغلان ځني جوړ شو او په زړه پارسي که هم بغدانکه د آتشکدې او اورتون معنا لرله.[1]

اوس به موږ دا کلمه تحلیل کړو: بغه یا بگه په ټولو قدیمو آریایي ژبو کي د خداي نوم ؤ. د اوستا بغه، د زړې پارسي بگه، د سنسکریت بهگه، د روسي بگ، د یوناني باگوس ټول له دغه اصله دي[2] او دا لغت په قدیمو نومو کي خورا ډېر دی، لکه بغ پور (معروف فغفور) یعني د خداي زوي، بغستان (بیستون) یعني د بغ ځاي، بغداد، بغشور، بغني، بغلان (د ښارو نومونه)، بغان یشت (د اوستا یو څپرکي)، بغار (بهسود دایزنگي)، بغاوي (سرپل)، بغک (سمنگان)، بغیار (وادي کرم).

په پښتو کي دا کلمه اوس هم شته، خو شکل یې د اوستا په رنگ بغه نه دی، بلکي د داریوش د بیستون د کتیبې په ډول بگه[3] ته نژدې دی.

بگ اوس لوي، عظیم ته وایي، چي د خداي صفات دي، وایي پلاني بگ سړي دی، یعني لوي دی، قوي دی، توانا دی. ښایي بغه یا بگه هم له صفاتي اسماوه څخه و، نه ذاتي او وروسته د اسم ذات په ډول مشهور شوي وي، لکه رحمان، غفور، غني او نور صفاتي اسماء الله. دا پښتو بگ هم په ځینو قدیمو نومو کي تر اوسه شته لکه بگرام، بگرامي (کابل)، بگل (هرات)، بگلا (غزني)، بگ لک (دایزنگي) بگه پاي (تالقان)، بگي (ترنک).

په پښتو ادب کي هم بگ د عظیم په معني و، شمس الدین کاکړ د کندهار شاعر د ۱۲۵۰هـ حدود وایي:

هسي شوم طالع زما دي باطن وهړ په ظاهر بگ

د افغانستان په فارسي ادب کي هم دا کلمه په دغه معني موجوده وه، مولوي بلخي وایي:

از چه دم از شاه و از بگ میزني در هوا چون پشه را رگ میزني[4]

اما د کلمې دوهم جزو (انگ) هم د قدیمو ښارو د نومو په پاي کي خورا ډېر وینو، مثلاً سالنگ (د کابل شمال ته دره)، یکاولنگ (په دایزنگی کي)، بشلنگ (د هلمند د ناوې ښار)، الیشنگ (د لغمان یوه دره)، اولنگ (د سالنگ په منځ کي)، مستنگ (بلوچستان کي)، زرنگ (د سیستان ښار)، پوشنگ (د هرات غربي خوا ته)، گیرنگ (د مرو ښار)، وررنگ (د غور یو رباط) چي عربي جغرافیاوالو دغه اخیرني جزو (انگ) په انج اړولې او دا ښارونه یې فوشنج، بشلنج، مستنج، زرنج، جیرنج، هم لیکلي دي[5] او لکه پروفیسر هننگ چه وایي، دغه (انگ) او د عربو (انج) د آتشکدې معنا لرله او د بغولنگ اوسنۍ کشف شوي آتشکده یې هم ښکاره دلیل دی، او د کابل او هندوکش د درو کوم پاچاهان چي د اسلام د ظهور په پیړیو کي وه، د اکثرو په سکو باندي هم اور خانې لیکلي شوي دی.

دغه انگ (آتشکده او اور) وروسته په پهلوي ژبه اتهر، آذر بلل شوي دی، چه معنا یې هغه (اور) ده. د بندهش به

---

۱. آریانا، اسد ۱۳۳٦.
۲. اولډ پرشین، ص ۱۹۹.
۳. یسنا ۱-۲٤۰٤؛ اولډ پرشین ۱۹۹.
٤. د شمس الدین دیوان ص ۱٦٦ او د مولوي مثنوي، لومړی دفتر ص ٤۸.
٥. احسن التقاسیم ص ۳۰٦-۳۱۲، اصطخري ۳۳۹.

۱۷ فصل کي درې لويي آتشکدې يادي شوي دی، چي يوه آذر فربغ وه او د دې آتشکدې ځاي د کابل پر روښان غره ؤ.[۱]

که څه هم په يقيني ډول نه ده معلومه چي دا روښان غر چيري ؤ، خو د نامه له پهلوي شکله چي هغه قديم انگ په پهلوي آذر، او بغو د بغ په کلماتو کي لري، بايد دا وهايو چي هغه به دغه د بغلان آتشکده وه او ښايي چه بغلان لکه اوس په هغو وختو کي هم له کابله سره مربوط ؤ.[۲]

په هر صورت: انگ په پهلوي آذر يعني اور تعبير شوي او بغ پخپله په پهلوي کي هم په هغه معنا ؤ. دغه انگ يقيناً د اور معنا لرله، او اورتون او آتشکده هم انگ بلل کيده.

وگوري په اوستا کي دژانگه (دژ يعني بد+انگ اور) چي د وهيشته (بهشت) مقابل او ضد ؤ او دغه اوسنۍ کلمه (دوزخ) هم له دې څخه جوړه شوه[۳] ځکه چي د اور پرستش د زردشت له عصره بيا تر اسلامه پوري څو زره کاله د اباسين او آمو او دجلي تر منځ د خلکو عام دين ؤ او په هر ځاي کي اورتونونه وه، نو دغه انگ د اکثرو ښارو په پاي کي دلالت کوي، چي هغه ځايونه د آتشکدې او معبد په نامه مشهور شوي دی.

په پښتو کي د انگ دغه زړه ريښه تر اوسه هم ليدله کيږي، انگار او انگاره ډېر سره او کوټه اور ته وايي، چه د کلمې لومړي جزو انگ دی. انگل هم په پښتو شور او جدت او تيزۍ ته وايي، چي د اور صفات دي، د دې کلمې اول جزو هم انگ دی او لام له ظرفي اداتو څخه ؤ، لکه بورجل، کتل، زاول، کاول، انگازه هم د تيزۍ او جدت په مناسبت په اول سر کي انگ لري، انگولا هم تيز او سوځونکي ږغ دی.

ښايي چی د انگريزي anger خشم او angry خشمناک هم د جدت او تيزوالي په مناسبت دغه ريښه ولري او angel فرشته د رڼا او روښنۍ په مناسبت هم له دغي ريښې څخه وي.

د ملا فيض الله کاکړ په شعر کي دا کلمه عيناً داسي راغلې ده:

زړگي بند کړمه په منځ د پاڼ و پړانگ　　　　سوځي زړه لکه پيلوځي په بلانگ

دا بلانگ مرکبه کلمه ده، بل (مشتعل، بليدونکي) انگ (اور) يعني بل اور.[٤] دلته دا خبره هم بايد هيره نه کړو چي د بغولنگ (سغدي بغدنگ) او د زړې پارسي (بغدانگه) د بغ او انگ تر منځ يو (د) هم شته، چي دا دال په پښتو کي هم کله په لام اوړي لکه: ديوار=ديوال، غربيل=غلبيل او نور.

نو دغه نوم په اصل کي بغودانگ ؤ، او دا (د) د پښتو اضافي دال دی، چي اوس يې موږ تر مضاف اليه دمخه وايو (د بغو انگ) يعني (د خداي اور)؛ نو د پښتو د ابدال پر اصولو سم دغه (بغودانگ=بغدنگ) بغولنگ شو.

اما وروسته د دغي کلمې (انگ) په (آن) واوښت او دغه (آن) هم د ځايو په نومو کي تر اوسه مستعمل دی، مگر دا تحول وروستني دی. مثلاً گلران (د هرات)، شملان (د هلمند ناوې)، بغلان (هغه زوړ بغولنگ) او داسي ډېر د ځايو

۱. يسنا ۱-۱۳۲، کيانيان ص ۱٤۰.
۲. د روښان غر اوس د بدخشان په جرم کي په دغه نامه شته، ښايي چي پخوا به دا نوم پراخ و او تر بغلانه به را رسيده.
۳. يشتها ۲-۱۷۰.
٤. د کابل په فارسي کي هم بلنگس د اور د اشتعال حال ته وايي.

نومونه چي اخر ته يې (آن) راځي.

د دې خبري يو تاريخي ټينګ دليل، بل هم شته، چه په چيني کتابو کي د بدخشان نوم دوه قرنه تر ميلاد دمخه (تسه-نګ-لنګ) راغلي، او بيا د ٦٣٠م کال په شاوخوا کي د هيوان تسنګ په سفرنامه کي (پو-تو-چنګ-نه) او بيا په يوان شي کي (به-ده-هه-شنګ) ذکر شوي دی.[1] په دې نامه کي هم د (انګ) ټوټه وروسته په (آن) بدله شوې او بدخشان شوي دی.

بل مثال يې دا دی: چه د ګورګان په غرو کي يو ځاي سنګ چارک شته، چي دغه سنګ هم پخوانو جغرافياوالو (سان) راوړي دی.[2]

اوس چي تاسي ته د بغولنګ (بغلان) زړې ريښې په پښتو کي ښکاره شوې، نو به زه دا هم وهايم، چي د بغلان د آتشکدې د کتيبې نوري ويل شوي کلمې هم پښتو ته نژدې دي.

کيردومي:

دا کلمه هم دوې ټوټې ده: کيردو - مي.

له کيردو څخه په لږ صوتي تغيير اوسنۍ پښتو (کړي دي) جوړيږي. دا نکته مه هيروي چي پښتانه د صوتي حروفو په تلفظ کي ډېر سره مختلف دي. خو زما په خيال هغه تلفظ چي د غرو پښتانه يعني اپريدي او وزير او مسيد او وردک يې کوي، پخواني تلفظ ته نژدې دی. ښارو ته نژدې ژبې ډېري مهذبې او تراشلي شوي دي، د بيستون د کتيبې د صوتي حروفو تلفظ هم د دغو قبيلو تلفظ ته نژدې و.

د بغلان د کتيبې د ږغيږو توريو ږغونه هم دغسي دي. کړي دی د غرو پښتانه تر اوسه په مختلفو لهجو ادا کوي. کاکړان يې کړيې دی وايي، ځيني پښتانه يې کيږده، کيړاي دو کيړيه ده او ځيني يې کټ مټ هغه کيردو وائي. وروستني (مي) منفصل فاعلي ضمير دی، چي اوس هم په پښتو کي ژوندی او مستعمل دی او تر مفعلو وروسته راځي؛ نو کيردومي کټ مټ پښتو فعل دی او ټوله جمله داسي کيږي:

کيردومي بغولنګ = کړي دی مي بغلان

دا خبره هم واورئ: د کړل=کول فعل په پښتو کي ډېري معناوي لري، چه يوه زړه معنا يې هم جوړول، ابادول، تعمير ده. کاکړان وايي: مړئ دي کړيې ده؟ يعني ډوډئ دي خوړلې ده؟ سنک هلته کور کړي دی. يعني سنک در آنجا خانه يي ساخته است.

د کړل په ريښه کي د اوستا کر او د پهلوي او فارسي کردن ورسره نژدې دي او د ابادولو او تعمير معنا له پخوا په کي پرته ده.

د خرده اوستا په آتش بهرام نيايش (٢٠ فقره) کي د آتشکدو په نومو کي (مينيو کردو) هم راغلې ده[3] مينيو يا مينو د

---

١. په چيني منابعو کي د منځنيو پيړيو پلټني. د پترچ ميدر تاليف د لندن طبع ١٨٨٧م.
٢. اصطخري، ٢٧٠؛ حدود العالم ١٩-٦٠.
٣. خرده اوستا ص ١٣٧.

پښتو د منل له ريښې څخه د فارسي خرد معنا لري.[1] او کردو هم کټ مټ دغه کيردو ده چي د آباد کړي او جوړ کړي معنا ورکوي او دغه آتشکده مينيو آباده کړې وه.

د اسلامي عصر په لومړنيو پيړيو کي چه اوسنۍ فارسي له پهلوي څخه زيږيده، هم کردن د جوړولو او ساخت په معنا کله کله استعماليده، مثلاً: خواجه عبدالله انصاري هروي ليکي: يو ترسا امير، چي د شام په رمله کي و، له صوفيانو څخه پوښتنه وکړه چې: شما را جای هست که آنجا فراهم آيند؟ گفت نه، گفت: من شما را جای کنم، تا با يک ديگر آنجا فراهم آييد، آن خانقاه رمله بکرد.[2] دلته کنم او بکرد دواړه د آبادولو په معنا دي. په زړه پارسي او پهلوي کي هم کرته، کرد د ښارو په نومونو کي د اباد کړي په معني و، مثلاً پارسه کرته (پازارکاد او يوناني پرسپوليس په فارسي کي) او نور ښارونه لکه بلاش کرد، خسرو کرد، يزد کرد؟ بغکرد[3] چي معنا يې ده هغه کړي دی يعني آباد کړي بلکي د جمشيد اول آباد کړي ځاي په اوستا کي ورجم کرت بللي شوي دی.[4]

يعني هغه واره چه جم آباد کړې ده.[5]

نو د بغلان د کتيبې کيردومي بغولنگ هم پښتو (کړي دی مي بغلان) دی، يعني آباد کړي مي دی بغلان او جوړ کړي مي دی بغلان او د مې منفصل فاعلي ضمير موږ ته د ژبې پخواني گرامري شکل هم راښيي، چي تر اوسه هم ځيني قبايل دغه مي دغسي استعمالوي، يعني د فعل په منځ کي نه راولي او په آخر کي وايي.

ځکه چي تر اوسه ټولي را پياد شوي کتيبې نه دي لوستلي شوي، ښايي چي د ټولو تر تحليل او لوستني وروسته ځيني نور حقايق هم کشف شي؛ خو د دغو اوسنيو الفاظو څخه په لوړو دلايلو موږ د پښتو بلگه ايستلاي شو او وايو:

ښايي چه د پښتنخوا د دغو شاهي کورنيو ژبه به پښتو وه، يا به يوه ژبه وه چي پښتو ته به ډيره نژدې وه.

۲- د روزگان ډبرليک:

دوهم دليل چي موږ ته د پښتو څرک د دغو شاهانو په کورنيو کي راکوي د دوی نومونه دي. مثلاً يوه کورنۍ شاهان چي د هيوان تسنگ چيني سياح په وخت ٦٣٠م او دوه کونگ بل چيني سياح ٧٦٠م په عصر کي پرگندهارا او اټک تر ټکسيلا پوري مسلط وه کشتريان دی، چي دا نوم د ماکواټ په قول کشته تريه او په زړه پارسي او سنسکريت کي هم و.[6]

لکه چي ما په مفصل ډول د دې کلمې شرح په لومړي ټوک کي کړې ده، اصل يې د پښتو کښه توره او د پير روښان د خيرالبيان په ډول تورکښ دي[7] او له دغو څخه د يوه پاچا نوم (لکه تورمان) و، لکه تورمن يعني شمشير زن.

---

۱. يسنا ۱، ۲۰۷، مزديسنا و شعر پارسي ص ۳۰.
۲. طبقات الصوفيه خطي، د استانبول نسخه.
۳. سبک شناسي ۱-۳۱.
٤. ونديداد، ۲ فرگرد.
٥. کيانيان ص ۱۱۹.
٦. دايرة معارف اسلامی ۱-٦٤۳ د ايرانشهر په حواله.
۷. د کشتريه نوره شرح به وروسته راشي.

نور برهمني پاچاهان چي د مسيحي اوهمي پيړۍ په اوله برخه کي پر کابل او د هغه پر نژدو ځمکو حکمرانان وه دا دی:

کلر مشهور په للیه: کوي لر=لاندي ذکر شوي کوي، کي، کاوه یعني هوښیاري او سرداري لرونکي. اما للیه د پښتو لالا او د مشر لقب دی.

سامند: لومړي جز یې سا په ساهو کي شته چه ساها هم په مسکوکاتو کي راغلي دی، دوهم جز له مندل څخه دی یعني سامیندونکي چه سامنته هم راغلي دی. او معني یې هغه د پښتو ساهو ده یعني جر او آزاد او د تشخص خاوند.

کمرو یا کملو: رې په لام اوښتې ده یعني رنګین او رعنا او ښایسته، چي تر اوسه هم کمرو نوم په پښتو کي شته، یوه پښتو ناره ده:

کمره میږو لاړه پر ډبره　　　　راشه خولګي راکه؛ نامینده شي د لوی باري له دره

جیه پاله: ځیه = زیې پالونکي یعني قوم پالونکي.

اننده پاله: انند یعني عیش پالونکي خوشحال خان وایي:

هوښیارانو څخه ډیري اندیښنې دي　　　　چي ملنګ د مصلې، هغه انند کا

تروجن پاله: توروجن پالونکي یعني توریالي پالونکي.

سپاله پتي: سپاه له پت ساتونکي او د لښکر پتي او مشر د پارسي سپهبد.[۱]

پدمه: په دمه یعني په شوکت او دمدمه، مجلل.

خودویه که: د اپریدو خدوي او د تجلیل کاف، خدایک.

وښکه: وړک، د وړ یعني فاتح تجلیلي شکل.

د دغو پاچاهانو فقط نومونه د سکو څخه معلوم شوي دي.[۲]

هم په دغه وختو کي چه د لوي کوي شوانګ (کوشان) انحطاط د دریمي مسیحي پیړۍ په اوایلو کي شروع کیده، په باختري کي کیداراد کوچنو کوشانیانو د سلطنت سته ټینګه کړه.

کوي د پښتو په ادب کي کاوه راغلي دی، چي په ویدا کي د سردار او پوه او دانا او په اوستا کي د پیشوا معناوي لري.[۳] دا لغت د اکثرو زړو نومو په سر کي و، لکه کوشان، کیخسرو، کیکاوس، کاوه او نور. نو کیدار هم (کي دار=کي لار=کي لرونکي) یعني پیشوا او سردار او هوښیار و، دا کلمه تر اوسه هم په نورستاني ژبه کور پاتې ده او د قندهار د غربي خوا د غره پر سر چي کومي زړې آبادۍ دي هغه کیتور بولي. ملا عبدالباقي کاکړ وایي:

---

۱. د پتي شرح وګورئ: د پښتو ادبیاتو لومړی ټوک، ص ۷۵.

۲. اسلامي دایرة المعارف د افغانستان آرټیل، د لنګور ته ډیمز سکه شناس لیکنه.

۳. تفصیل یې وګورئ د پښتو ادبیاتو تاریخ ۱ ټوک ص ۱۰۲ او د دې کتاب د لودیانو څپرکي او کیانیان د کرستن سن ۲، ۶۳.

پر کیتور باندي وخیژه څو دي دید شي ننداري دي.

د کیدار یو زوي پیرو نومیده[1] او پیرو، پیرا، پیر، پیرک نومونه تر اوسه هم په پښتو کي شته او بیا چي پس له ۴۲۵م د هفتالیو (ابدالیو) دولت جوړ شو، د دوي لوي پادشاه اخشنور و (۴۶۰م) چي د ده نوم په خوداي نامو او عربي کتابو کي اخشنوار، اخشوان یا خشنواز راغلي دی. خو د کریستن سن په قول د دې کلمې اصل له خشیون سره نښلي، چه په سغدي کي د پادشاه په معنا و.[2]

د افغانستان د تاریخ لیکوال ښاغلي کهزاد وایي چي دا اخشنور د پرگهر معنا لري؛[3] خو د کلمې تجزیه او شرح نه ده کړې، چي دا معنا له کومه را وتلې ده؟ او کوم علمي دلیل نه لري. د کریستن سن قول صحیح ښکاري، او کلمه داسي تجزیه کیږي:

خش=کش=کښ د هغه قدیم کش تري=کش توري له ریښې څخه دی، چه اخشن=خشن=کښن ځني جوړ شوي دی.

دوهم جزو یې وړ=ون دی، چي په پښتو فاتح او وړونکي دی، نو کښینوړ=کښیون=خشیون=اخشیور ټول یوې ریښې ته ورځي، چي معنا یې په پښتو کښن وړ یعني کشتریه فاتح (توره کښونکي فاتح) ده او د دې (تور کښ وړ) پاچا جنگونه له ساساني فیروز سره مشهور دی.[4]

له دغو هفتالو (ابدالو) څخه چي په زابل کي پاچاهان وه او په سکو کي ځانونه جاولي=زاولي بولي، تورامانا (تورمن) او د ده زوی مهرا کولا (میر کهول=لمر کهول) د ۵۰۰م په شاوخوا کي مشهور د هند فاتحان دی.

دغه مهرا کولا د ابدالیو مشهور فاتح دوې کتیبې لري چي د زوزگان د شالي په دره کي پر ډبرو لیکلي شوي دی.

د اکسفورډ پوهنتون د تاریخ استاد ښاغلي بیور دغه کتیبې کتلي او یوه مقاله یې د پیښور موزیم په مجله که پرې لیکلې ده، دی وایي چه دغه د روزگان کتیبې له هغو درو نورو هفتالي کتیبو سره چي په توچي (وزیرستان) کي پیدا شوي او اوس د پیښور په موزیم کي خوندی دی، ډېر مشابهت لري. خو تر اوسه دغه د وزیرستان کتیبې نه دي لوستلي شوي، چه په یوناني رسم الخط او په منگولي خطو او دوې په دوه ژبو دي. د پیښور موزیم نمبر ۴۱ وزیرستاني کتیبه په کوفي رسم الخط ځیني عربي کلمات هم لري، چه الله او محمد په کي ښکاري او نور منگولي توري دي.

پروفیسر بیور وایي: د روزگان یوه کتیبه چي ښه روښانه ده، په یوناني رسم الخط دا الفاظ پکي لیدل کیږي: باگوس، شاهو، زاولو، مهروزکي.

بیور وایي دغه پاچا چه نوم یې دلته راغلي دی، هغه د هون پاچا میرا کولا به وي چي د ۵۰۰م په شاوخوا کي یې پاچاهي لرله، او د ده اصلي نوم لا تر اوسه ندی معلوم چه څه و؟ د دې الفاظو ترجمه داسي ده:

---

۱. د افغانستان تاریخ ۲، ۴۳۷.
۲. ساسانیان ص ۳۸۵ د میولرد متون سغدي ۱، ۱۰۸ په حواله.
۳. تاریخ افغانستان ۲، ۴۵۷.
۴. ساسانیان، ص ۳۸۴.

خدايي مقدس پادشاه زابل مهرا.[1]

اوس موږ دا الفاظ په ژوره کتنه ګورو چه څنګه دي؟

۱- باګو هغه بګه=بغه او د پښتو بګ دی، چي معنی يې عظيم او خداي ده (شرح يې تيره شوه) پس له دې کلمې (س) ليدل کيږي، چه ښاغلي بيور (ري) ورستره زياتوي او کلمه (سري) لولي؛ مګر ښايي چي دغه (س) د (باګو) سره يو ځاي او کلمه (باکوس = باګويس= باګويز) وي او دا د پښتو (ايز=ايځ=ايس) او د نسبت لاحقه ده معني يې کيږي: خدايي، الهي، مقدس.

موسيو مريک فرانسوي د بغلان په کتيبه کي دا څو کلمات لوستي دي: بګو شاوه کنشکي، چي دلته د کنشکا له نامه سره بګو شاوه يعني خدا شاه راغلي او دا کټ مټ د روزګان د کتيبې باګوس شاهو دی.

۲- شاهو يا ساهو په پښتو کي شته، چه کله علم وي او کله صفت. وايي دغه کلمه او شاه او شار او شير او شهر تړول له هغې قديمې کشتريه (کښ تور) څخه را وتلي دی[2] چي شار د غرجستان او شير د باميان د پاچاهانو القاب وه.[3] او د زابل او کابل د پاچاهانو معاصر وه. په پښتو کي تر اوسه شاهوزي او شاهوخيل شته.

۳- زاولو منسوبه کلمه ده زاول ته، چي جاول او جاوله هم تلفظ کيده، او زابل يا زابلستان له غزني څخه د هلمند تر غاړو پوري مځکه وه، او دغه جاغوري او اجرستان او روزګان ئې مرکزي مځکي وې، چه کتيبه هم په درهٔ شالي کي ده، چي له قندهاره د روزګان پر لار اجرستان او جاغوري ته ځي[4] او دلته يوه قبيله زاولي تر اوسه هم شته چي په ۱۸٤۲ کي زر کوره وه.[5]

٤- بله کلمه په دې کتيبه کي مهرزکي ده، چي د بيور په خيال دا نوم هغه مهرا کولا دی.

لکه ما چي د پښتو ادبياتو په لومړي توک کي تشريح کړېده[6] کولا په ويدي ژبه کي د کورنې او خاندان معنا لري، چه اوس موږ کهول يا کول ورته وايو، دا کلمه د شيخ رضي او شيخ نصر لودي په شعر کي کول او د سليمان ماکو په تذکره ٦۱۲هـ کي هم کول وه.[7]

مهر هم په پښتو مير، مر، لمر، نور دی، د لورلايي ترينان تر اوسه لمر مير بولي؛ نو مهراکولا=مير کول=د لمر کهول، د لمر له خاندانه دی.

دا نوم تر اوسه هم په پښتنو کي ډير مستعمل دی، لکه مير خان، ميرو، ميرا (مونث مورا) او هغه زوړ مير کهول هم اوس ميرګل شوي او هغه زوړ مفهوم يې له اذهانو څخه وتلي دی.

---

۱. د پيښور موزيم مجله، دسمبر ۱۹۵۳م.

۲. د شار او شير حواله ايرانشهر د مزګوارټ تاليف.

۳. البلدان د يعقوبي او مسالک د ابن خرداذبه.

٤. برزاول او کاول زما يوه مقاله د آريانا په ٦۱ شماره کي وګورئ.

۵. کابل، الکسندر برنس، ص ۲۳۰.

٦. پښتو ادبيات، ص ۷۵، ج ا.

۷. په دې کتاب کي د دغو اشخاصو احوال او اشعار په خپلو ځايو کي وګورئ.

مگر دلته باید دا خبره هم وڅیړو: زوړ مهرا کولا چې په سنسکریت کې هم و او د دې کورنۍ پر مسکوکاتو لیکلې دی، څنګه دلته مهروزکي شو؟

دا مشکل هم پښتو په ښه ډول حل کوي: په پښتنو کې له پخوا څخه یو بل نوم دغسې شته میرویس چې د مردان په مځکه کې د پیښور شمال شرقي خوا ته یو ځای میروس دی او د هوتکو مشهور مشر میرویس قندهاري خو هر څوک پیژني.

دا نوم هم د پخوانو یادګار دی او پښتانه تجلیلاً کاف ور اچوي، میروسکي=میروڅکي وایي او دا شکل کټ مټ هغه دی، چې د روزګان پر ډبر لیک شته.

میر هغه مهر، لمر، آفتاب دی، ویس یا ویسه یا ویسا د کلي، قبیلې، کورنۍ په معنا وه په سنسکریت او اوستا کې هم وه، او (ویس پتي) د کورنۍ پتي او ساتونکي و[1] او د ګیګر الماني محقق په قول په ریګویدا کې هم ویس (ټبر، کورنۍ) ته ویل کیده.[2]

نو میرویس هم کټ مټ هغه مهرا کولا او میر کول دی، چه معنا یې هغه د لمر له کورنۍ څخه ده، او میروسکي د دې کلمې مجلل شکل دی، چه داسې تحبیبي مجللات پخوا ډیر وه او شرح به یې وروسته ولولئ.

له دې کتیبې څخه داسې ښکاري، چې میرا ګل مهروسکي=د پښتنو هفتالیو (ابدالیو) یو خدایي او مقدس پاچا و او دوي خپل پاچا ته د تقدس په نظر کاته او القاب یې خدایي، الهي وه.[3]

دا چې زه دغه کتیبه پښتو یا پښتو ته نژدې بولم یو بل ګرامري دلیل هم لري. د دغو کلماتو ترکیب او نښلونه د پښتو پر اصولو سمه ده، تر اوسه هم د پښتو ګرامر یوه مسلمه قاعده دا ده، چه صفت یا صفات تر موصوف دمخه راځي، خو په فارسي کې دا قاعده بالعکس ده. په پښتو وایو تور آس، چې په فارسي اسپ سیاه ورته وایي. په دغه کتیبه کې هم ټول صفات تر خپل موصوف دمخه دي:

خدایي شاه زاولي میروڅکي

درې صفته تر خپل موصوف دمخه دي او دا هم ښایي چې د ژبې د ساختمان اثر وي، د دغې کتیبې په مقابل کې د بغ ذت بن بغ کرت د پارس د یوه پادشاه (۲۲۰ ق.م) د سکې لیک وګورئ، چې صفات ټول تر موصوف وروسته دي:

بغ دت – پرترکه – زي بغي – بغ کرت[4] یعني بغ دت (بغداد د شاه نوم) پرترکه (د کورنۍ نوم) زی (از یعني

۱. کیمبرج هیستري، ۱-۹۱.

۲. د شرقي ایرانیانو تمدن، ۱-۲۶۶. د دې کلمې تفصیل وګورئ تاریخ ادبیات پښتو، ۱-۷۷.

۳. د دې کتیبې تفصیل د بیور د مقالې په فارسي ترجمه کې وګورئ. آریانا کابل طبع ۱۳۴۰. د دې ډبرلیک پر لوړه خوا یو څو عربي توري هم ښکاري، چې (حسن) یې لوستل کیږي؛ خو بله کلمه هم خرپول یا خرپوست ښکاري، ګومان کوم چې دا به هغه ملي تاج الدین حسن سالار خرپوست وي، چې د غور د تولک حکمران و، او په ۶۴۱ هـ قاضي منهاج سراج د ده په امر اسفزار ته تللې و؛ (طبقات ناصري ۱-۶۹۸) مګر دا توري ښایي چې تر ۶۰۰ هـ وروسته لیکل شوي وي، ځکه چې د خط ډول یې د دغو وختو دی.

۴. سبک شناسي، ۱-۱۳۰.

زوی) بغي بغکرت، خدايي بغکرت چي د پلار نوم يې دی.

دا وه زموږ هغه دلايل چي د پښتو څرک مو د اسلام په لومړيو زمانو کي ځني وايستلي. اوس به نو راشو خپل اصلي مطلب ته چي د لويکانو يا لاويکانو کورنۍ ده.

لويکان څوک وه؟

د دې کورنۍ تاريخ هم لکه هغه نوري کورنۍ ډېر څرگند نه دی، فقط د لويک يا لاويک نوم ذکر شوي دی.

لنگور تهه ډيمز مشهور انگليسي سکه شناس مؤرخ ليکي:

د ٢٦٠هـ په شاوخوا کي د غزني محلي حکمران شاه لاويک بلل کيده، خو د ده شخصيت مجهول دی. د کابل د هندو شاهانو سره متحد و او دا گومان کيږي، چه دی به هم هندو و.

بيا نو بلکاتگين د سامانيانو له خوا پر غزني غالب شو او په ٣٥٩هـ يې لومړۍ پلا دلته سکه وهله. تر بلکا وروسته پيري د غزني پاچا شو، چي د لاويک او د کابلي هندوشاه سره متحد و، څو چي سبکتگين په ٣٦٧هـ له پروانه پر ده حمله وکړه او غزني يې ځني ونيو.[1]

دغه لويک يو سړي نه و، بلکي لويه کورنۍ وه، چي په غزني او گرديز او نورو شاوخوا ځايو کي يې سلطنت کاوه او د کابل شاهانو او د زاول د رتبيلانو سره متحد وه او مؤرخينو يې ذکر داسي کړی دی:

(١) ابو سعيد عبدالحي بن ضحاک بن محمود گرديزي چي د ٤٤٠هـ په شاوخوا کي ژوندی و، د يعقوب ليث صفاري په احوال کي داسي ليکي: يعقوب غزني ونيوه او بيا گرديز (گرديس) ته ولاړ او د ابو منصور افلح بن محمد بن خاقان د گرديز له امير سره يې جنگ وکړ، خو دې امير لس زره درهمه خراج ومانه. بيا نو يعقوب بلخ په ٢٥٦هـ کال ونيوه او د هغه ځاي نوشاد (نوشار) يې وران کړ.[2]

دغه افلح د گرديز امير هم د دغو لويکانو د کورنۍ و. چي شرح به يې وروسته راشي.

(٢) د نظام الملک په سياست نامه کي چي د ٤٨٥هـ تاليف ده، د الپتگين جنگونه له کابلي او غزنوي اميرانو سره راوړي او وايي چي الپتگين د باميان له امير سره چي شير باريک نوميده جنگ وکړ او دغه شير يې ونيوه، بيا يې وباخښه، وروسته يې پر کابل حمله وکړه او د کابلشاه زوی يې ونيوی، دا د کابل شهزاده د لويک زوم و، او د غزنين امير لويک هم وتښتيد، سرخس ته ولاړ.

له دې روايته معلوميږي، چي د دې کورنۍ نوم لويک و او د دوی خپلوي له کابلشاهانو سره هم ښکاري. الپتگين په ٣٥١هـ غزني له لويک څخه نيولي و، او بيا چي په ٣٥٢هـ دی مړ سو او زوی يې اسحاق د غزني پاچا شو، نو لويک بيا پر غزني حمله وکړه، خو ساماني پاچا منصور بن نوح د اسحاق په مرسته ؤ، نو غزني بيرته اسحاق ونيوه.

د اسحاق تر مرگ وروسته په ٣٦٥هـ امير پيري د ده پر ځاي په غزني کي کښيناست؛ مگر د غزني خلکو بيا امير لويک را وغوښت او لويک د کابلشاه د زوی په کومک پر چرخ (د کابل جنوبي خوا ته د لوگر پر مځکه) حمله وکړه؛ خو

---

١. اسلامي دايرة المعارف د ليدن طبع، ٢-١٥٤.

٢. سياست نامه، ص ١٢٢.

دلته امير سبکتگين دوي مات کړل او پخپله په ۲۷ د شعبان ۳٦٦هـ د غزني پر تخت کښيناست.[۱]

(۳) منهاج سراج جوزجاني ٦٥٨هـ د سبکتگين په احوال کي داسي ليکي:

الپتگين غزني او زاولستان فتح کړه او امير لاويک يې له غزني څخه وايست. تر اتو کالو وروسته چه الپتگين مړ شو او زوی يې اسحاق پاچا شو؛ نو دی لاويک سره وجنگيد؛ خو مات شو او بخارا ته ولاړ. ده له منصور بن نوح څخه کومک واخيست بيا راغي او غزني يې ونيوه او تر ده وروسته ملکاتگين پاچا سو او تر ملکا وروسته امير پيری (پري) کښيناست؛ خو خلکو لاويک را وغوښت. لاويک د کابل شهزاده (په کومک) له ځانه سره راوست، مگر په چرخ کي امير سبکتگين پر دوی حمله وکړه او ډير يې وهژل، دوه پيلان يې هم ځني ونيول.[۲]

د طبقات ناصري په مختلفو خطي نسخو کي دغه نوم انوک هم راغلي دی، چي صحيح نه ښکاري او دغه اخيرني لويک چي په چرخ کي د سبکتگين له لاسه مات شو، هم په دوه نومو ابوبکر او ابو علي لاويک بلل شوی دی او داسي ښکاري چي مسلمان و، خو له دغو درو ډولو (لاريک- انوک- لويک) څخه وروستنۍ املا صحيحه ده.

(٤) محمد بن علي بن محمد بن حسين بن ابو بکر شبانکاره يې چي مجمع الانساب يې په ۷۲۵هـ ليکلی دی، هسي وايي:

"الپتگين د باميان تر نيولو وروسته کابل ته راغي، په دې وخت کي د غزني ملک يو کافر و چي لويک نوميده، ده خپل زوی د درو زرو لښکرو سره مقابلې ته را واستاوه، خو الپتگين د لويک زوی ونيوه، خلعت يې ورکړ، خپل پلار ته يې وليږه، چه زه ستا سره اړه نه لرم، د هندوستان غزا له ځم، خو هغه کافر سلامي نه شو، نو الپتگين هم غزني محاصره کړ، پس له دوه مياشتو يې ونيوه او پس له څلورو مياشتو لويک او د ده زوی چي د غزني په کلا کي وه هم ونيول شوه، مگر چي دوی ظاهراً مسلمانان شول نو الپتگين هم ايله کړل، خو د دوی زړه پاک نه و، هندوستان ته وتښتيدل او له هغه ځايه يې لښکر راوست د دې پلا الپتگين د دوي د مقابلې لپاره سبکتگين ور وليږه او دوي يې مات کړل، ديرش پيله يې هم ځني ونيلول او لويک وتښتيد."

دا انتخاب د مجمع الاساب له يوې قلمي نخسې څخه دی، چي د لويک پر ځاي يې د غزني د ملک نوم لويل ليکلي دی، مگر دا نوم هم کاتبانو مسخ کړي دی، چي اصل يې هغه لويک و.[۳]

---

۱. افغانستان تر اسلام وروسته (خطي) ص٦٩ د حبيبي ليک او دايرة المعارف اسلامي ج ۱ د افغانستان ماده. زين الاخبار، ٦، ۲ افغانستان الخ.

۲. طبقات ناصري ۱-۲٦۸ د حبيبي طبع.

۳. دا تاريخي پښتو کلمه (لويک) هر کله د نابلدئ په سبب د کتابو کاتبانو مسخ کړې او رنگ رنگ يې ليکلې ده. د دهلي د سلطان ناصر الدين په دربار کي يو مشهور فارسي شاعر ملک الکلام فخر الملک عميد الدين لويکي (متولد ٦۰۱هـ) تير شوی دی، چي د دغي لويکي کورنۍ له پاتي خلکو څخه و او د ټول هند مستوفي هم و او پخپل عصر کي عميد لويکي بلل کيده؛ مگر دا کلمه هم کاتبانو مسخ کړه او په کتابو او تذکرو کي نونکي - تولکي - لويکي - ديلمي وکنبله شوه (وگورئ بزم مملوکيه ص ۲۰۳) د منتخب التواريخ مؤلف عبدالقادر بن ملوکشاه بدواني، خو دغه کلمه صحيحه لويکي ليکلي وه، مگر په چاپي نسخه د کلکتي چاپ ۱۸٦۸م په جلد ا ص ۷۵ تولکي او په ۹٦ صفحه کي نونکي او په دريم مخ کي لويکي چاپ شوه. په کراچي کي د کرنل رشيد څخه يوه د منتخب التواريخ مصوره صحيحه نسخه شته، چي غالباً د مؤلف په عصر کي ليکلی شوې ده، هلته پر ۱۵ ورقه باندي عميد

(٥) عبدالحي گرديزي علاوه پر ابو منصور افلح چي دمخه يې بيان تير شو، له دې کورنۍ څخه د يوه بل سړي نوم هم اخلي او هغه نو ابو سهل مرسل بن منصور بن افلح گرديزي دی، چي د سلطان محمود او مسعود د دربار له مخوهرانو څخه و، په ٤٢١ هـ کال چي سلطان محمود مړ شو او امير مسعود زوی يې پر ځاي کښيناست، نو د بغداد خليفه القادر بالله له خوا عهد او لواء دغه ابو سهل بن منصور بن افلح گرديزي راوړه او سلطان مسعود دی ډير ونازاوه.[١]

د گرديزي له دې لنډ بيانه ښکاري چي د لويکانو د کورنۍ پاتي خلک د غزنويانو په دربار کي هم وه او د سفارت کارونه يې کول، نو د گرديزي په سند موږ د لويکانو دغه سړی پيژنو:

سهل (تولد د ٤٠٠هـ حدود) بن مرسل (تولد د ٣٥٠هـ حدود) بن منصور (تولد ٣٠٠ هـ حدود) بن افلح (د ٢٥٦هـ حدود) الخ چي د دوي د نسب سلسله په د دې مبحث په پاي کې راوړم.

لويک

دا نوم د پښتو د (لوي) تجليلي او تحبيبي ډول دی، چي په مختلفو لهجو کي بڼغيز توري اوړي (لواي – لاوي – لوي) ويل کيږي.

د طبقات ناصري لاويک او د سياست نامې لويک دواړه صحيح دی او د يوې کلمې دوې لهجې دی، مگر (انوک) ښايي چي د کاتبانو غلطي وي.

لوي په پښتو عظيم او بزرگ او مشر او سردار ته وايي، اوس هم لويان د قوم مشران او سرداران بولي او دا هم لکه رتبيل او شير او کيدار او کشتري د کورنۍ لقب او تجليلي نوم و.

وروسته چي د لويک پښتو شعر راوړم، تاسي ته به معلومه شي چي په هغه کي لويان، لويا هم راغلي دی او دا نوم لويک د لوي تجليل او تحبيب دی، چي دا ډول هم په پخوانو زمانو کي عام رسم و او خاص بيا د شاهي کورنيو په نومو کي رواج و.

د پختيا پښتانه تر اوسه هم پاينده نوم پاينډک بولي په تاريخي نومو کي دغسي ډير دي.

بارک، اڅک، سنک، خټک، هوتک، شيتک د پښتنو د نيکونو نومونه دي. زمرک، شيرک، ببرک، خيرک او داسي نور ډير نومونه تر اوسه هم په پښتو کي شته. د سلطان محمود مشهور وزير حسنک دغسي نوم و، د دغه لويکانو زماني ته نژدې ځيني تاريخي نومونه هم داسي وه مثلاً فور د هندوستان شاه و،[٢] چي د مجمل التواريخ مؤلف ملک الملوک هندوان بللی دی[٣] او البيروني هم په تحقيق ماللهند او فردوسي په شهنامه او رشيدالدين په جامع التواريخ کي هم فور

لويکي او بيا مکرر دا نسبت دغسي ليکلي دی؛ نو ښکاري چي نورو تذکره ليکونکو غلطه لوستې ده، حتي ځينو ويلي دي چي دا کلمه تولکي ده او تولک د ديلم يو ښار و (؟). صحيحه خبره خو دا ده چي نه تولک په ديلم کي و او نه عميد تولکي دی، بلکي د کلمې صحيح شکل لويکي دی.

١. زين الخبار، ص ٧٦.

٢. تاريخ بيهقي، ا–١٠٠.

٣. مجمل التواريخ ص ١٠٨.

راوړی دی. دا نوم د مها بهارت په ترجمه کي پرج و، چي پلوتارک یوناني مؤرخ پروس لیکلي او عربي مؤرخانو هم فور ملک الهند راوړی دی،[1] ابو الفرج روني د غزني د یوه پاچا په مدح کي وایي:

تیغ تو بقهر بستده باج	از خیل و ختار و خان ایلک
ادرار تو خورده خان و قیصر	مامور تو بوده راي فورک[2]

بل دغسي تجلیلي نوم مهروزکي (میریسک) دی، چي دمخه مو د روزګان د کتیبې په شرح کي د هغه اصل او کیفیت ولوست، دغسي هم خودرویکه (خدایک) هم دمخه ذکر شو او ابن خرداذبه هم د قدیمو شاهانو په نومو کي غوزک، نیرک، فورک، راوړی دی.[3]

نو په دغه ډول لویک هم د لوی تجلیلي شکل دی، چي د پښتنو د نوم اینښوهولو له عامه رواجه سره هم سم دی، دا چي دوي شاه ته شاهک یا شاهو وائي، یا بابا ته بابک او بابکو وایي، دا سپکتیا نه ده، بلکي د عزت او احترام او تجلیل او تحبیب علامه ده.

د لویکانو پښتو بیت

مرحوم باز محمد قندهاري چي د کراچي په ملیر کي یې خانقا وه، ده د ډیرهٔ اسماعیل خان په بلوڅو مریدانو کي یو فارسي کتاب ګوټې موندلي و، چي د سر او پاي پاڼې یې لویدلي وې، نو ځکه د کتاب د مؤلف نوم او د لیکلو تاریخ یې نه و ښکاره، خو د خط او کاغذ له لیدني څخه ما دا تخمین کاوه چي باید د ۹۰۰هـ په شاوخوا کي لیکلي شوی دی. خط یې اخرني نسخ و، اکثرو حروفو یې ټکي نه درلوده، هره (چ) په (ج) او پ (ب) او ګ (ک) لیکلي و او داسي ښکاریده چه لیکونکي به یې په فارسي نه پوهیده او ډیر کلمات یې مسخ کړي وه، یا دا چي منقول عنها نسخه به دغسي مغلوطه وه.

دا کتاب ګوټې یو څو حکایات وه، چي موضوع یې د شیخ سخي سرور د کراماتو بیان و، چي اوس یې فقط ۳۳ پاڼي پاتي وې.

د کتاب ژبه او د فارسي لیکلو ډول یې داسي و لکه د غزنوي او غوري دورې فارسي نثر، چي ښایي تر ۶۰۰هـ دمخه به تالیف شوی و.

د دې کتاب نورو حکایاتو د تاریخ له نظره کوم اهمیت او قیمت نه لاره، صرف د هغه شیخ د کراماتو حکایات او هغه هم له عقله لیري غرایب وه، دا کتاب په سنه ۱۹۵۷م ما ته د کتلو لپاره هغه مرحوم راکړ او چي ما وکوت بیرته مي ورکړ، نه پوهیږم چي بیا څه شو؟ د دې کتابګوټې پر ۱۵ پاڼې باندي یو حکایت لیکلي و، چي د تاریخي لحاظه ډیر مهم و، نو هغه ما کټ مټ نقل کړ او پس له اوږدې مطالعې او پلټنې موفق شوم چه هغه په حقیقي ډول ولولم او مبهم کلمات یې سم ولیکم. دلته هغه حکایت لومړی په هغه اصلي املا راوړم او خپلې څیړني پرې زیاتوم، چه زما په فکر د پښتو ادب په تاریخ کي ډیره بها لري او یو قیمتي ګران اثر دی.

---

۱. تاریخ الیعقوبي ۱-۱۱۶ طبع نجف ۱۳۵۸هـ.

۲. دیوان روني ص ٦٥ طبع تهران ۱۳۰٤ش.

۳. المسالک الممالک د ابن خرداذبه ص ٤۱.

حکايت (په اصلي املا)

"ابو حامد الراولي را در تاريخ غزنه از حسن صنعاني روايت است، که در بلده غزنه بر داب باميان مسجديست عظيم که آنرا مرلت افلخ لويک خواندندي و اين بيحانه عظيم بود که وحولر لويک بر خدمت رسل و کابلساه کرده بود.

"چون بسرش خانان به مسلمی امد، صنم لويک را نيارست شکستن و آنرا دران مرکت بزمين اندر کرد و تبالوت سيمينه در نهاد. کابلان سان خجل اين بيت فرستاد بلسان خلجيه که لويک گفت:

بزم کزن سحيد لويک لوي انو بويلا لوما

کسه تر ببرا غلوم بلوم مملا تيز يو بملا

"خانان باز بکش هندوان ساه شد و جون نيسه او افلخ بشاني بنست بحانه لويک بر کند و مزلت بکرد.

"جنين روايت کنند: چون سلطان سخي سرور باين مزلت شد گفت:

"بوي صنم شنوم، نيک ديد و کشف سدس، زمين بر کافت و صنم لويک بر کشيد، در مالوت سيمينه نهاده، آنرا بشکست و سيم را بناي مسجد داد و بکرامت آن ولي اللّٰه، بوي کفر و هندوئي از شهر غزنه بر جاست" (ورق ۱۵ خظي).

ځکه چي د دې کتاب نوم ما ته نه دی معلوم او نې مؤلف څرګند دی، نو زه د موضوع په لحاظ دا کتاب (کرامات سخي سرور) بولم او هر ځاي چي (کرامات) ياد شي، مقصد به دغه کتاب او دغه حکايت وي.

اوس د دې حکايت يوه يوه کلمه شرح کوم:

۱. ابو حامد: دا کنيت ښکاره ويل کيږي، خو زه ابو حامد نه پيژنم چي څوک و؟ د رجالو او تاريخو په کتابو کي هم ما ته نه شو معلوم.

۲. الراولی: دوهمه کلمه په اصل کي (الراولی) ده، چه زما په خيال صحيحه (الزاولي) ده زاول يا زابل د غزني د مځکي قديم نوم و، الزاولي په نسبت ډير مؤلفان او مشاهير تير شوی دی، مثلاً قاضي شهاب الدين بن دولت آبادي مهشور عالم او مفسر د عمر الزاولي لمسي و[1] او دا هغه قديم زاول دی چه د روزګان په ډبرليک کي هم راغلي دی، نو ابو حامد زاولي د زابلستان د ځمکي و.

۳. تاريخ غزنه: په دې نوم کوم کتاب ما ته نه شو معلوم، د کتاب شناسئ اکثر کتب ما وکتل، خو د تاريخ غزنه په نامه کوم کتاب مؤلفانو نه دي ذکر کړي او نه ابو حامد زاولي پيژنو؛ ښايي چي دا يو نوم ورکي کتاب او مؤلف وي، چي د هند په مځکه کي به ليکل شوي وي، ځکه چي حسن صغاني هم د هند يو مشهور عالم او ژبپوهاند ؤ، چي شرح به يې وروروسته وليکم.

يو کتاب د تاريخ ملا محمد غزنوي په نامه ما ته معلوم دی، چي شيخ عبدالرحمن بن عبدالرسول چشتي (متوفي ۱۰۹٤هـ) دغه کتاب درلود او ده په ۱۰۳۲هـ په خپل کتاب مرآت مسعودي کي له دغه کتاب څخه اقتباسات وکړه، دی

۱. سبحة المرجان، ص ۳۹.

وايي چې ملا محمد غزنوي د سلطان محمود سره يو ځاي هند ته راغلي او دغه تاريخ يې ليکلي دي.[1]

دا شيخ عبدالرحمن چشتي د هند مشهور مؤلف او د مرآت الاسرار او مرآت مسعودي او نورو ډيرو کتابو خاوند او ثقه صوفي دی، چې درواغجن نه ښکاري او د ده په وخت کي هم تاريخ ملا محمد غزنوي موجود و، چې مرحوم شيراني يې هم ذکر کړي دی.[2]

مگر داسي ښکاري چې د ملا محمد غزنوي تاريخ به له دې تاريخ غزنه څخه بيل وي، ځکه شيخ عبدالرحمن چشتي تصريح کوي، چې ملا محمد د سلطان محمود معاصر و، يعني د ٤٠٠هـ په شا و خوا کي به ژوندی و، مگر دغه ابو حامد خو له حسن صاغاني څخه دا حکايت اوريدلي دی او امام صاغاني د ٦٠٠هـ د شاوخوا سړی دی.

٤. حسن صاغاني يا صغاني: د هند يو خورا لوي عالم او د عربي ژبې امام تير شوي دی. د کرامات به اصلي نسخه کي صنعاني ليکل شوي او دا نسبت غلط دی، صحيحه املا يې صاغاني يا صغاني ده، چې د چغاني معرب دی او دغه چغان يا چغانيان د آمو دريا شمالي خوا ته يوه لويه ناحيه وه.[3]

اما حسن صاغاني (صغاني) په ٥٧٧هـ په لاهور کي زيږيدلي، او په غزني او بغداد کي يې د علومو تحصيل کړي او مخوصاً په عربي ژبه کي امام و، چې په عراق او مصر او حجاز کي هم شهرت درلود، او ډير مؤلفات لري. دی په ٦٥٠هـ په بغداد کي وفات شو او قبر يې په مکه کي دی، مشهور تاليفونه يې دا دي:

کتاب الشواردفي الغات، شرح القلادة السمطيه، کتاب الافتعال، کتاب العروض، مشارق الانوار، مصباح الدجي، الشمس المنيره، شح البخاري، درة السحابه، کتاب الفرايض، العباب الزاخر چې د عربي يو لوي ناتمام قاموس دی[٤]. د کرامات په دغه حکايت کي چه د حسن صغاني څخه را نقل شوی دی، دا ثابتيږي چې دا کتاب د ٦٠٠هـ په شاوخوا ليکلي شوي دی، ځکه چه دغه وخت د حسن صغاني د ژوندون زمانه ده.

اما دا چې حسن صغاني د غزني په احوال خبر و او د ده روايت به ثقه وي که يه؟ له دې سببه ثقه ښکاري، چې امام حسن صغاني د خپل علمي تحصيل يوه دوره په غزني کي تيره کړې او د غزني په مدرسو کي لوست کړي و.[5]

د امام صغاني يو ډير مهم کتاب العباب دی، چې خطي نسخې يې په استانبول کي دی، امام صغاني په دې کتاب کي د عربي لغاتو په مقابل کي ځيني فارسي کلمات هم راوړي او وايي چې په "لسان غزنويه" يې دا يا دا بولي او ما په غزني کي له خلکو څخه اوريدلي دي.[6]

له دغو خبرو څخه ښکاري، چې امام صغاني په خپله په غزني کي اوسيدلي، او د دغه ښار په احوال او ژبه ښه بلد و، نو ځکه د ده روايت ثقه گڼل کيږي.

---

١. پرشين لټريچر ١٠٧٢ د سټوري تاليف د لندن طبع.
٢. تنقيد شعر العجم، ص ٥٧ د دهلي طبع.
٣. حدود العالم ص ٦٦.
٤. سبحه المرجان، ص ٢٨ او تذکرة علماي هند، ص ٤٨، او بزم مملوکيه ص ٢٨.
٥. وگوري د حسن صاغاني احوال؛ معارف اعظم گډ. ١٩٥٩م د مولوي عبدالرحيم په قلم او معجم المطبوعات ٢-١٢٨.
٦. العباب، د خطي نسخې عکس.

٥. برداب بامیان؟ دا کلمات کاتبانو مسخ کړي دي، زما په خیال صحیح یې داسي دی: "بر درب بامیان" یعني د بامیان پر دروازه، چي د غزني ښار پخوا څلور دروازي درلودې او یوه یې "باب البامیان" وه.[1] داسي ښکاري چي د غزني هغه شمالي دروازه باب البامیان یا درب بامیان بلله کیده، چي بامیان ته به له دغي دروازې څخه لار تله.

٦. مرلت: دا کلمه په دغه حکایت کي لومړی پلا مرلت او بیا مرکت لیکلي ده. گمان کوم چي دواړه ډولونه یې غلط دی او د نسخې د کاتبانو د ناپوهی له لاسه مسخ شوې ده او اصل یې مزگت دی، د (مسجدیست عظیم) له تعبیره هم دا ښکاري، چي دا کلمه اصلاً مزگت وه او دوه نور شکلونه یې ممسوخ دی.

مزگت په قدیمه فارسي کي د عربي مسجد په معنا راغلی دی، نو ښایي چي مسجد هم د دغي کلمې معرب وي او د دې کلمو ریښه هم د پښتو مزدک سره مشترکه ده[2] اسدي طوسي وایي: مزگت بپارسي مسجد باشد.[3]

مروت پښتانه تر اوسه هم مسجد مزدک بولي، او په پخوانیو فارسي کتابو لکه تاریخ طبري او تفسیر طبري او حدود العالم او نورو کي دا کلمه ډیره د مزگت په شکل راغلې ده.

٧. افلخ لویک: د کرامات د دې حکایت په اسنادو یو لوي مسجد د غزني د بامیان په دروازه کي و، چي (مسجد افلخ لویک) یې باله او دا مسجد لومړی پلا د افلخ نیکه خانان جوړ کړي و او د لویک له کورنی څخه لومړی پلا دغه (خانان) مسلمان شوي وه، خو دی بیرته مرتد شو او تر ده وروسته بیا د ده لمسي نبسه افلخ دا مسجد د غزني د بامیان به دروازه کي جوړ کړ او دا ځاي دمخه بتخانه وه.

دا افلخ لویک، ظاهراً هغه افلخ دی، چي د ده ذکر دمخه ما د زین الاخبار گردیزي په حواله وکړ، مگر د گردیزي په خطي نسخه کي دا نوم الفخ بن محمد بن خاقان راغلي دی چی کنیت یې ابو منصور و.[4]

له دې څخه ښکاري چه دغه افلح (افلخ) پلار محمد پوره مسلمان شوي او اسلامي نوم یې و، مگر د محمد پلار خاقان (چي په دې حکایت کي خانان راغلي دی) اولاً بت پرست و، چي بیا مسلمان او وروسته بیرته مرتد شو، که څه هم گردیزي دغه ابو منصور افلخ د لویکانو له کورنی څخه نه دی بللي، خو د کرامات روایت دا ښکاره کوي چي دی هم لویک و، اما د دې لویک نوم د گردیزي په نسخو کي افلح او د کرامات د ناقصي نسخې په املاء افلخ دی. ښایي چي د گردیزي ضبط صحیح وي، ځکه چه افلخ نه په عربي، نه په پښتو او نه په فارسي کومه معنا لري او نه داسي نوم بل ځاي لیدل شوي دی.

ښایي چي د دې کورني د لومړنی پلا اسلام قبلولو په مناسبت د ده نوم افلح اینښوهل شوي وي، چه د عربي فلاح څخه ریښه لري او هم گومان کیږي، چي دا مسجد د غزني د اسلامي زمانې لومړی مسجد وي.

٨- بیحانه: دا کلمه دوه واره بیحانه او بحانه لیکلې شوې ده، چي غالباً بتخانه ده، قرینه یې هم وروسته د "صنم" کلمه ده، چي گویا دلته دمخه یوه لویه بتخانه وه او هلته یو لوي بت هم و، چي هغه ئې هم لویک باله "صنم لویک".

---

١. احسن التقاسیم د مقدسي ص ٣٠٣.
٢. شرح یې وگورئ: د پښتو ادب تاریخ ا-٦٩ او په دې کتاب کي د ښکارندوي غوري حال.
٣. لغت فرس ٥١.
٤. زین الخبار، ص ٦.

دا نکته مه هیروئ، چي په دغو زمانو کي شاهانو د معبودانو رنګ موندلي و او د دوي مجسمې او بتونه به په بتخانو او معبدو کي پراته وه. د بغلان په اورتون کي هم د شاهانو بتونه او مجسمې ولاړي وې او د روزګان له کتيبي څخه هم ښکاري چي پاچا، الهي القاب درلوده او خلکو د تقدس په سترګه ورته کتل، نو ښايي چي دغه بت هم د لومړي لويک و چي يو قسم معبود ګڼل کيده او چي مسلمانان غالب شول او خانان يا خاقان مجبوراً مسلمان شو، ده به د خپل سلف بت نشو ماتولای، نو يې په سيمين تابوت کي هلته ښخ کړ، چي هم د بت شکنو مسلمانانو له لاسه محفوظ پاتي شي او هم يې خاوري و نه خوري.

۹. وحوير لويک؟ د کرامات په خطي نسخه کي داسي ليکلي دی، خو زه ګومان کوم چي دا کلمه به وجوير وي، چي ښايي دا لويک به هم د کابلشاهانو او رتبيلانو معاصر او د دوي له خپلوانو څخه و.

د دغه لويک په نامه اوس هم يوه لويه مځکه د غزني جنوب غربي خوا ته پرته ده چي اجرستان يې بولي او منهاج سراج جوزجاني وجوير او وجيرستان ليکلي ده، چي په غوري دوره کي د غوري سلطنت يو مشهور ولايت و.[1] په غزنوي دوره کي هم يو ځاي د غزني له نواحيو څخه هجوير و، چي د کشف المحجوب ليکوال او مشهور صوفي علي بن عثمان هجويري غزنوي (متوفي حدود ٤٩٥هـ) هم دغه ځاي ته منسوب و او په دغه کتاب کي ځان مکرراً هجويري غزنوي بولي[2] او د شهزاده دارا شکوه په قول هجوير د غزني له محلاتو څخه و.[3] نو (وجوير- هجوير- وجير) د يوه اوسني اجرستان مختلفي املاوي دي، چي دا ځاي وجوير لويک په نامه مشهور دی او تر اوسه هم شته، يا ښايي چي دغه نوم قديم وي او دغه لويک ورته منسوب وي. ځکه چي د محل په نامه تسميه تر اوسه هم په پښتنو کي شته او پښتانه د کابل، غزني، مقر نومونه پر ځان ږدي.

دا خبره موږ ته نه ده ښکاره چي وجوير کوم حرکات لرله، خو ژوکوفسکي د کشف المحجوب ناشر او نکلسون د دغه کتاب مترجم او نورو پوهانو دغه کلمه هجوير د اول توري په پيښ لوستلي او چاپ کړي ده او ښايي چه په اصلي خطي نسخو کي به هم دغسي وه، نو په دغه دليل زه وجوير هم د واو په پيښ لولم، چي کله کله دغسي مصموم واو په مضموم الف هم بدليږي، مثلاً د اوستا هومه (د سنسکريت سومه) په پښتو (اومان يا اوم) دی او هويه (بيضه) کله په پښتو (ويه) ده.

نو پر دغه قياس وجوير او هجوير د يوې کلمې دوه صورتي رنګونه دي، چي د منهاج سراج په طبقات ناصري کي وجوير په تخفيف راغلي دی او اوس يې اجرستان بولي.

دلته دا نکته هم مه هيروئ چي دغه کلمه په لږ تغيير (هجير) کيږي، چي د فارسي هژير سره برابره ده او په فارسي کي د ښه او نيک او خوښ شوي په معنا وه، بو الفرج روني دا کلمه د صفت په ډول داسي راوړي:

هجير پرخرد آزاده منعمى که نگشت بجاه و نعمت با او برابر آتش و آب

منوچهري وايي:

---

۱. طبقات ناصري ۱، ص ۲۹۳-٤٦٢-٤١٦ وغيره.

۲. کشف المحجوب د لينين ګراد طبع.

۳. سفينته الاوليا، ص ٥٦.

نوروز فرخ آمد و نغز آمد و هژیر　　　با طالع سعادت و با کوکب منیر[1]

په شهنامه کي هجیر د گودر زوی دی، چي د سهراب په لاس اسیر شو:

هجیر دلاور میان را به بست　　　بدان بارهٔ تیز تگ بر نشست

قطران هژیر او ناهژیر په دې بیت کي داسي راوړی دی:

همیشه وعدهٔ او نادرست و ناز درست　　　همیشه عادت او ناهژیر و ناز هژیر

منو چهري د خوبانو پر ځای هژیران راوړي دي:

دست به می شاه را و دل به هژیران　　　دیده بروی نکو و گوش به قوال[2]

له دغو مثالو څخه ښکاري چي هجیر یا هژیر کله صفت و او کله علم، خو په هر صورت خراسانۍ کلمه ده، چي معنا يې هغه د منوچهري خوب او خوبان را ځي، په دې تفصیل:

د دې کلمې اول ټوک (هو یا هـ) دی، چي په پهلوي کي هم د خوب اي نیک په معنا و، او په پښتو اوس (هو=وه) د (بلي، بسیار خوب) پر ځای ایجاباً وایو، د فارسي په هروي لهجه کي هم و، مثلاً هوبخت (نیکبخت) هونامي (نیکنامي) چه د ٤٨٠هـ په حدودو کي د خواجه عبدالله انصاري په هروي لهجه کي هم وه[3] او دغه (هو= هؤ) د ځینو تاریخي کلماتو په سر کي هم راځي مثلاً:

هؤ سروه Hausrauah[4] (خسرو= هؤ= خه + سروه = زړه؛ خه زړه= خوشدل). هومایا[5] Humaya (هو= خه+مایه = همای یا خمای د گشتاسپ لور) هو و خشتره د نینوا مادي فاتح ٦١٢ ق،م او د یونانیانو سیاگزار و[6] چي لومړي جز يې هو=خه او دوهم خشتره =کښتور دی. دغسي هم د مزدیسنا د آیین درې غټ اصول د اوستا هومته-هوخته-هورشته، دي، چي په پهلوي هومنش -هوگنشن - هوکنش او په فارسي پندار نیک، گفتار نیک، کردار نیک دي.[7] دغه کلمات په پښتو کي اوستا ته ډیر نژدې هومننه، هوختنه، هورشه دی او دغسي هم په اوستا کي هورمک (خوب رمه) د جمشید صفت دی[8] او به فارسي کي آهو د عیب په معني و ، (آ=نا-نفي+هو خوب یعني ناخوب، ناښه) فردوسي وایي:

گر آهوست بر مرد موي سپید　　　ترا ریش و سرگشت چون برگ بید[9]

---

١. دیوان منوچهري ص ٣٣.
٢. فرهنگ نظام ٥، ٦٩٨.
٣. طبقات الصوفیه فارسي خطي نسخه.
٤. کیانیان ٦٣.
٥. کیانیان ٤١.
٦. میراث ایران ٣١.
٧. گاتها ٧٥ مزدیسنا و تاثیر آن در ادب فارسي ٤٠٠.
٨. وندیداد فرگرد ٢، ص ٢١٠.
٩. شهنامه ج١، بیت ٢٦٤٤.

نو د دغو کلماتو یو جزو (هو=هئو=خو=ښه=خوب) دی، چه د هجیر په سر کي هم دغه (هو=هـ) شته.

اما دوهم جزو یې (جویر=جیر=ژیر) دی، چه په پښتو که څیر څیره شته.

دا کلمه په اوستا کي چیځهره او په سنسکریت کي چیتره وه، چې په پښتو او زړه پاړسو کي سیکه cika هم کټ مټ دغه د شکل او اصل معنا لري[1] او د فارسي چهره هم له دغې ریښې څخه ده، فرخي وایي:

مردیکه سلامی بکشد چهرهٔ آن مور در دیدهٔ من خوبتر از صد بت مشکوی

دغه کمله د اوستا په منوش چیڅهره manush-chithar یعني منوچهر کي پاته ده، او په کیاني پاچاهانو کي د منوچهر له نسله یو بل هم وهیجرو نومیږي،[2] چي د نوم اخر جز یې دغه څیر دی، یعني وهو=خه؛ جرو=څیره؛ خه څیره. او موږ د منوچهري په لوړ بیت کي ولوستل چي هژیران (خوبان) او پیِ مخي او ښایسته وه؛ نو وجویر= هجویر= وجیر پښتو (هوڅیر) و هو (نیکو) جویر= جیر، ژیر، چهر= څیر (یعني شکل او قیافت) او معنا یې جمعاً داسي ده:

نیکو روی، ښکلي، خوب چهر، منوچهر.

د دې کلمې یو بل نظیر په تاریخي نومو کي پؤروجیره pauruajira دی[3] یعني (پوره ځیر) چي ډیر هوښایر او ښه سړي او د مزدا پرستانو له پښته و، بلکي په یشت کي دغه کلمه کله د صفت پر ځاي د ډیر هوښیار په معني هم راغلې ده[4] نو که موږ دغه (وجیر= هژیر- هجویر) د هوښیار او خردمند په معنا واخلو، نو به یې دوهم جز (جیر) د پښتو (ځیر) وګڼو، چه معنا یې هغه دقیق او بصیر او هوښیار ده او ځکه چي د (وزیر) کلمه هم علماوه په عربي کي دخیله ګڼلې ده او اوستایي شکل یې ویچیرا vichira و[5] نو دا هم ویلاي شواي چه هجویر یا وجیر یا هژیر ټوله د دغه کلمې پخواني اشکال او لهجوي ډولونه دي.

۱۰. بر حدمت رسل و کابلساه: دا کلمات هم زما په خیال مسخ شوي دی او صحیح ډول یې داسي و (بر خدمت رتبیل و کابلشاه) یعني وجویر لویک دغه بتخانه د کابلشاه او رتبیل لپاره جوړه کړې وه. رتبیل د هغو شاهانو یو عمومي لقب و چي د دوي سلطنت د عربو د فتوحاتو په وختو په لومړۍ هجري پیړۍ کي له زابله تر سیستانه رسیده او د سبکتګین تر عصره ئې دوه نیم قرنه مسلسل په دغه مځکو کي د اسلامي لښکرو سره جنګونه کول. داسي ښکاري چه د رتبیلانو او زاولي شاهانو او کابلشاهانو په منځ کي خپلوي او دوستي وه، ځکه هغه وخت چه چیني سیاح هیون تسنګ زانلستان ته راغي نو کابلشاه له ده سره تر زابلستانه ولاړ او بیا بیرته د خپل مملکت سرحداتو ته وګرزید، لکه کنتګهم چي حسابلي دی، هیون تسنګ له هنده بیرته د اټک او بنو او اپوکین (افغان) پر لار غزني ته په ۲۵ جون ۶۴۳م کال راورسید[6] چي د هجره سنې ۲۴هـ کال دی، نو ښایي چي د غزني د لویکانو پاچاهي هم د اسلامي هجري سني په ابتداء

۱. اولډ پرشن ۱۸٤.
۲. کیانیان ۲۳.
۳. د اتسنان د نییک فصل ۳۸ بند ۳۳؛ یشت ۱۳ بند ۱۳۱.
٤. کیانیان ۱۱٤.
۵. تمدن ایراني ۱۸٤ د هنري ماسه مقاله.
٦. د هند پخوانۍ جغرافیا، ۱-۲۶٦.

کي شروع شوي وه، چه د سبکتگین تر عصره ۳٤٥هـ پوري موجوده وه.

مگر د رتبیل کلمه مؤرخانو په ډول ډول را نقل کړي او د هر کتاب ناسخ بیا هم پسې مسخ کړې ده: رتیل، رتپیل، رتال، زنبیل، زنیل وغیره، چه د تاریخ سیستان او مجمل التواریخ محشي مرحوم ملک الشعراء بهار خراساني دغه کلمه د فارسي زنده پیل څخه جوړه شوي (زنتبیل یا زنبیل) شمیرلې ده[۱] مگر راورټي وايي: دا نوم د هندي رنتهبیل یا رتن پال تصحیف دی[۲] خو عربي مؤرخانو لکه بلاذري ، یعقوبي، او طبري او مسعودي دغه کلمه رتبیل ضبط کړې ده چه د کلمې اصلي شکل هم دغه دی او جمع یې رتابله ده، لکه قیاصره، نمارده، کیاسره، فراعنه، تراکمه، افاغنه او نور. حتي دا نوم په عربو کي مشهور و، د عربي شاعر فرزدق چي د رتبیلانو معاصر و د سلیمان بن عبدالمالک اموي به مدح کي وايي:

و ترا جمع الطرداء اذو تقوا بالا من من رتبیل و الشحر[۳]

د دغه بیت په استناد دا نوم یقیناً رتبیل و، نه بل څه، چي وروسته عربو دا نوم د علم په ډول پر خپلو زامنو هم ایښود، مثلاً رتبیل بن صالح یو مشهور محدث و، چي د ده نوم زبیدي د قاموس په شرح کي د "الرتبل" تر مادې لاندي راوړی دی[٤] او علامه ذهبي له ده څخه ډېر احادیث را نقل کړي دي.[٥]

رتبیل ځینو خلکو د اول حرف په پیښن لوستي دی، خو د فرزدق په دیوان کي د اول حرف په زورو او همدغسي چاپ شوی دی. د دې حرکت د صحت دلیل هم دا دي، چه ابو منصور موهوب بن احمد جوالیقي (٤٦٥-٥٤٠هـ) رتبیل په خپل کتاب کي ملک سجستان بللي دی، چي د ده د کتاب په خطي نسخو کي هم اول حرف زور درلود او دغسي لوستل کیده.[٦]

له دغو روایاتو څخه ښکاري، چه د کلمې اصلي شکل هم رتبیل و، نه بل څه ځکه زنتبیل په لوړ بیت کي نه ځائیږي او د قصیدې وزن خرابوي او که یې زنبیل فرض کړو، نو بیا د الرتبل په ماده کي نه راځي، بلکي دغو لغویانو د زنبیل ماده جلا راوړې او هلته یې زنبیل کوم عَلَم یا لقب نه دي ښوهلي.

گومان کوم چی د دغي کلمې اخرني جز (بیل) به لکه راورټي چه وايي د هغه "پال" سره نژدې وي او (رتپیل) به وي، ځکه د قدیمو نومو د اخر "ال" له پالل څخه دی، خو پالل او پیلل دواړه د پښتو په لهجو کي شته او (رتو) هم په هندي نومو او هم په اوستا کي لیدل کیږي. رتو ratu په گاتها کي د روحاني مشر او بزرگ مینوي په معنا وه او د زرتشت لپاره هم د صفت به ډول استعمال شوي او په خپله زرتشت هم (رد جهان) بلل شوي دی.[۷] په فارسي کي هم رد د هوښیار او خردمند په معنا و، فردوسي وايي:

---

۱. د تاریخ سیستان حواشي ص ۹۱ او د مجمل حواشي ص ٤٢٢.
۲. پر افغانستان ځیني یاداشتونه، ص ٦۳.
۳. دیوان الفرزدق ۳۲٥.
٤. تاج العروس، د الرتبل ماده.
٥. مشتبه النسبه د علامه ذهبي.
٦. المعرب من الکلام العجمي ص ١٦۳ د مصر طبع، ١۳٦١هـ.
۷. فروردین یشت، ١٥٢ بند.

بپوشید درع سیاوش رد　　　　　　　　زره را گره بر کمر بند زد

او همدغه کلمه ده، چي په سنسکریت کي د میني رب النوع او زهره ستروي او عشق او محبت ته وایي.[۱]

وایي چه زردشت لومړی پلا د نیکۍ فرښته وهومنه ولیدله او په ریتا Rita معتقد شو او دغه ریتا د معنوي عالم د نظم او عدالت مظهر و.[۲] همدغه ریښه د تاریخي نومو په سر کي شته، لکه روته –ستخمه raotha-staxma چي د نامه اول جز دغه راته دی او وروسته رستم شو او وایي چي د ده مور رت–آیت (روزابذ) بلل کیده او د رستم نوم هم دې ته منسوب دی.[۳]

کله کله دا کلمه د ارت په شکل هم راغلي ده مثلاً ارت خشتر arta-xshartا د یوناني آرتاگزر - گس او د فارسي اردشیر[٤] چي اول جز یې هغه راته او دوهم خشتر (کښتور = تورکښ) دی، یعني راد تورکښ.

په پښتو کي د دې کلمې ریښه په راتو کي شته چي د ښځي نوم دی، یعني روحاني محبوبه او مینوي معشوقه او د نرو نوم راتگل هم دغسي دی. رات=رت=روحاني مشر او محبوب. گل هغه تاریخي کولا او کهول، چي معني یې ده د محبوب مشر له کهوله؛ خو ملایانو دا نومونه معرب کړي دي راحتو؟ راحت گل؟

نو د دغه تاریخي لغوي تحلیل په سیوري کي رتبیل ډېر ښکلي پښتو نوم دی، یعني د عشق پالونکي، مینه ور مشر، یا د میني د رب النوع پالونکي او عربانو حق درلود، چي دا ښکلي ادبي نوم واخلي او پر خپلو زامنو یې کښیږدي.

۱۱. بسرش خانان؟ د کرامات حکایت د وجویر لویک زوی خانان بولي او په ناقصه خطي نسخه کي دا نوم خانان دی، خو د گردیزي د زین الاخبار په خطي دوه نسخو کي چه اوس په لندن کي موجودي دی، دا نوم لکه دمخه چه وهیل شول خاقان دی.

په پښتنو کي د خاقان نوم نه دی رواج، مگر خانان ډېر دي، خاص بیا د ارگون او زاولستان په ملاخیلو قبیلو کي. ښایي چه کاتبانو خانان په گردیزي کي خاقان کړي وي، چه یو مشهور نوم ؤ.

په هر صورت خانان یا خاقان د وجویر لویک زوی و، چه لومړی پلا له دې کورنۍ څخه مسلمان شو او د غزني د بامیان د دروازې بتخانه یې مسجد کړې او د لویک بت یې هلته ښخ کړي و، خو دی بیرته مرتد شو. په دې جمله کي بسرش د فارسي پسرش دی.

۱۲. کابلان ساه؟ چي صحیح یې کابلان شاه دی. دا هغه د کابلان شاه یو بل شکل دی، چي کله کله په ځینو تاریخي کتابو کي هم دغه شکل راغلي دی، مثلاً ابن خرداذبه د شاهانو په سلسله کي د "کابلان شاه" لقب هم یادوي لکه داوران شاه، کشمیران شاه، هندوان شاه[٥] چي د دې نومو اخرني (آن) د نسبت ادات دي، چي په پهلوي کي هم ؤ.

۱۳. خجل؟ د کرامات په ناقصه خطي نسخه کي دغسي لیکلي شوی دی او داسي ښکاري چه دا له کابلشاهانو

---

۱. هندي قاموس ډنکن فوربس ٤۲٦.
۲. تمدن ایراني ۸۲ د دوماس مقاله.
۳. کیانیان ص ۲۰۳.
٤. کیانیان ۲۱۰ څخه وروسته.
٥. المسالک و الممالک د ابن خرداذبه ص ۱۷۰.

څخه د يوه نوم و، دا نوم د تأمل وړ دی، چي اصل يې څه و، زه داسي گمان کوم چي دا نوم خنچل و.

ځکه چي پخوانو مورخانو هم دا نوم راوړی دی، احمد بن واضح يعقوبي (متوفی ۲۹۲ هـ) ليکي، چي المهدي خليفه په ۱٦۳هـ کال ځينو شاهانو ته سفيران واستول او دوي يې خپل اطاعت ته را وغوښتل، چي اکثرو يې د المهدي اطاعت ومانه، يو له دغو شاهانو څخه ملک کابلشاه و چي دی يې خنجل باله.[1]

دا کابلشاه چي د ۱٦۳هـ په حدودو کي ژوندی و د يعقوبي په تاريخ کي د ده نوم حنجل دی، چي د کرامات په نسخه کي خجل ليکلي او دواړه سره ليري نه دي او داسي ښکاري چي کاتبانو تصرف پکښي کړی دی.

لومړي توري په کرامات کي (خ) او دوهم په يعقوبي کي (ن) او دريم (ج) او اخرني په دواړو کي لام دي، نو له دې څخه خنجل جوړيداي شي، چه زما په تخمين به دا کلمه اصلاً خنچل وي، ځکه چه په عربي او فارسي قديمو نسخو کي د (ج) او (چ) فرق په رسم الخط کي نه ؤ.

که دا نوم تجزيه کړو داسي به شي: خن چل، خن د خان مخفف دی، لکه په پښتو کلمه خنتما کي. دا نوم په کاکړانو کي تر اوسه شته خان تما يعني د خان له تومني او پښته څخه. تما پخوانۍ کلمه ده، چه په اوستا کي هم وه، لکه گئوتما (د گئو له تومني = بودا)[2] او مرتم = مردم (مړ-تما) يعني د مړو له تومني، چي په اوستا کي هم مرته (مردني) و[3] يا سپين تما چه د زردشت د کورنۍ نوم ؤ.[4] دغه تما کټ مت په زړه پاړسو کي هم وه، چه ۲۵۰۰ کاله مخکي د بيستون پر ډبر ليک او پر ځينو پخوانو مهرو ليکلي ده او معني يې هغه کورنۍ وه او د اوستا توخمن او د سنسکريت توکم او د فارسي تخم هم له دغي ريښې څخه دي.[5] او په پښتو کي تر اوسه هم تام-تومنه-توکم د نژاد او کورنۍ او اصل په معناوه موجود او مستعمل دی.

دغسي نور ډير کلمات شته، چي په آخر کي تما (تومنه، خټه، کورنۍ) راغلې ده، نو خنتما هم د خان تومني او د خان له خټي او متکبر او مغرور او اصيل په معنا دی، چي د پښتو خانگل (خان+کهول) هم عيناً دغسي نوم دی. پر دغه اساس د خنچل لومړۍ ټوټه هم (خن) د خام مخفف دی، لکه چي ځيني پښتانه خانمړي هم خنمړي او خانگل هم خنگل بولي.

دوهمه ټوټه يې (چل) دی، چي په پښتو طرز، سلوک، رفتار ته وايي، ملا ميران ويلي و:

نه په چل د عشق پهيږي نه يې زده دی   لغوړن مچ دي بوڼيږي رقيب تل تل

دا کلمه په پخوانو نومو کي ده، مثلاً راجه اوچل د کشمير پاچا (۱۱۰۱-۱۱۱۱م) د ۵۰۵هـ په شاوخوا کي ژوندی و[6] چي دا نوم هم هو (ښه) + چل و، يعني نيک کردار او د ښه چلاو خاوند.

---

۱. تاريخ يعقوبي ۱، ۳-۱۳۱ د نجف طبع ۱۳۵۸هـ.
۲. بودا، د دکتور جوليوس طبع ۱۹۰۵م.
۳. يشتها، ۲-٤۲.
٤. يسنا ۱۹، کيانيان ۵۱.
۵. اولډ پرشن ۱۸۵.
٦. راجه ترنگيني د کلهنه تاليف، ۸ ترنگ، ۳۷۹؛ اشلوک ج ۲ ص ۲ څخه وروسته.

نو خنچل هم د لوړ او عالي او خاني سلوک خاوند معنا لري، چي داسي سړی حتماً باید پښتون او پښتو ژبي وي. اما د خان کلمه موږ ته د مغولو سره نده راغلې، بلکه دا کلمه د (هون=هان=خان) یعني د آریایي هفتالیو (ابدالیو) له نومه څخه جوړه شوې ده؛ لکه د تور خان کلمه چي ترخان او بیا معربه طرخون یا طرخان شوه.

۱٤. بلسان خلجیه که لویک گفت؟

دا لویک نه دي معلوم چه نوم یې څه و؟ خو داسي ښکاري چي خنچل کابلشاه دا بیت د لویک له خولې را لیږلي دی او ښایي چي دغه لویک له خنچل سره په کابل کي و، څکه چي د دې دوه کورنیو خپلوي په تاریخي روایاتو کي دمخه ثابته شوه، نو ممکنه ده چي دا لویک هم د خنچل خپل وي.

اما دلته د غور خبره دا ده، چې لسان خلجیه کومه ژبه وه؟ زما سره ډیر تاریخي او ژبني دلایل شته چي خلجي دغه اوسني غلجي دي، چي له قدیمه د غزني په غرو او رغوکه اوسي او د زاولستان پخواني خلک دي، دلته به زه په لنډه یو څو دلیله راوړم، چي لږ څه دا خبره ښکاره شي.

خلجي او غلجي یا غلزي په اصل کي (غرزي=کوهزاد) دي[1] یعني د غرو خلک، چي دا کلمه په غرج، غرچه او غلچه او نورو ډیرو تاریخي کلماتو کي شته او کله (غ) په (خ) هم اوښتي دی او غلجي، خلجي شوي دی.

د هند خلجیان چي په پیړیو یې هلته سلطنت کړي دی هم دغه پښتانه غلجیان وه، د دوي په نوم ډیر ځایونه هم شته، لکه خلج (په روزگان کي)، خلج[2] (د هلمند د ناوې)، خلج (د غزني) چي یاقوت هم په معجم البلدان (۲-۳۸۱) کي خلج غزني ته نژدې د زابلستان له لتو څخه ښوهلي دی.

د قبایلو او ځایو په نومونو کي کله (خ) په (غ) اوړي، مثلاً خرخیز=قرغیز او د غور اوسني ساغر، چه منهاج سراج ساخر ظبط کړي دی او اصلاً سور غر و.[3]

دا خبره چه خلجیان د چنگیز خان د زوم خالج خان له نسله دي او محمد قاسم فرشته د نظام الدین احمد بخشي هروي له طبقات اکبري را نقل کړي ده[4] تاریخي صحت نه لري، څکه دا ناممکنه ده، چي پس له ٦۲۰هـ د چنگیز خان له عصره بیا تر اوسه به ٦۰۰ کاله کي د یوه سړي له نسله په ملیونو خلک او قبایل پیدا شي.

خلجیان یا غلجیان خو دري قرنه تر چنگیز دمخه په دغو ځایو کي ساکن و او ډیر شهرت یې لاره، د حدود العالم مؤلف په ۳۷۲هـ کي وایي: د غزي په اطرافو کي خلخ (صحیح یې خلج دی) پراته دي او تر بست او گوزگان او بلخ او تخارستانه پونده دي او رشوهې او د څړ ځایونه او ډیر پسونه لري.[5] تر ده دمخه بل اسلامي جغرافیا وال ابن خرداذبه (۲۳۰-۲۳٤هـ) هم د خلجیه نوم اخلي او وایي چه خرلخ تورکان طراز ته نژدې د ژمي هستوګنې لري او هم دوی ته

---

۱. د شاهنامې په ملحقاتو کي د کک کوهزاد حال شته، چي د دغو افغانانو مشر و او دوي د زابل د سیمو به غرو کي پراته وه. دغه کوهزاد کټ مټ د غرزي فارسي ترجمه ده. (د شاهنامې ملحقات ج ٥، ص ۳۳).

۲. دا خلج اصطخري هم د هلمند په ښارو کي یاد کړي دی (اصطخري ص ۲٥٤).

۳. طبقات ناصري ۱-۳۸۷ د حبیبي طبع.

٤. تاریخ فرشته ۱-۸۸.

٥. حدود العالم ص ٦٤.

نژدې د خلج (خلجيه) د ژمي اورشوهې دي.[1]

ابراهيم بن محمد اصطخري (۳٤۰هـ) وايي: خلج يوه ډله وه، چه خورا پخوا د هند او سيستان تر منځ د غور شا ته راغله، پسونه يې لرل، کالي او ژبه او کړه وړه يې لکه د تورکانو داسي وه.[2]

ځيني مستشرقان په دې عقيده دي، چي دغه غلجي د هفتاليو بقايا دي، مارکوارټ وايي: خلچ يا خولچ د هفتاليو قبايلو پاتي برخي دي، چي په شامي منابعو کي په ٥٥٤م راغلي[3] او بيا په ٥٦۹م کال سفير ايمرچوس دغه کلمه خولېر را وړې ده.

او دا نظريه موږ کټ مټ د محمد بن احمد خوارزمي په کتاب کي ۳۷۰هـ هم وينو، دی وايي: خلج او کيجيه[4] (په اصل کي کنجينه غلط چاپ شوي دی) د هياطله له پاتيشونکو څخه دي، چه په تخارستان کي د شان او شوکت خاوندان وه.[5] دا خلجيان له افغانانو سره يو ځاي مؤرخانو ياد کړي دي او داسي ښکاري چي دوي ډېر سره نزدې او يو قام و، ابو نصر محمد بن عبدالجبار عتبي ٤١٥هـ د سبکتگين په فتوحاتو کي ليکي:

افغانيه او خلج ده ته ايل او په زرو يې په خدمت کي داخل کړه شوه[6] چي ابن اثير هم کټ مټ دغه روايت راوړي دی.[7]

ميناسکي په صراحت سره وايي: دغه خلج د اوسنيو غلجو افغانانو اسلاف وه، او بارتولد او هيگ هم په اسلامي دايرة المعارف کي داسي ويلي دی.[8]

دا خبره يقين ته نژدې ده، چي خلجي يا غلجي به له پخوانو هفتاليانو او زابلي پاچاهانو سره نژديوالي لري، ځکه چي دغه هفتاليان هم په دغه زابلستان کي چي اوس غلجي اوسي پاچاهان وه او پر سکو چي د دوي د پاچاهانو شکلونه گنبل شوي دي، هم گټ مټ د دغو اوسنيو غلجيانو کړه وړه ته ورته دي، جگي پزي، غټي سترگي، گڼ ويښتان، قوي بدنونه يې عيناً د غلجيو دی.

نو خلج يا غلجي د هغو تورکانو او غزانو له نسله نه دی، چي په غزنوي دوره کي او بيا د سلجوقيانو په زمانو کي افغانستان ته راغلي وه، بلکي تر اسلام دمخه چه کوم هفتالي آريايي اقوام په تخارستان کي وه زموږ غلجيان به د هغو

---

١. ابن خردادبه ص ۲۸.

۲. اصطخري ۲٤٥.

۳. ايرانشهر تر ص ۲٥۱ وروسته.

٤. دا د بيهقي کيچي او د منهاج سراج کوچي او د عربو قفص او د شهنامې د ملهحقاتو کوچ او د ارمني مؤرخ مؤسس کلن کتوس: گن چک هفتاليت او اوسني کوچي دی. دا کلمه ډېره زړه ده، ۲٥۰۰ کاله دمخه د فرس قديم په ميخي ډبرليکو کي اکوپاچيه Akoupaciya راغلې ده، چه په اکادي ژبه Aku-pi-i-is وه او معنا يې کوه نشين - کوهزاد - غرزي ده (اولډ پرشن ١٦٥، سبک شناسي ۲-٦۷). له دې څخه ښکاري چي د آريايي هونانو تر اختلاط دمخه هم دغه غلجي کوچيان موجود وه.

٥. مفاتيح العلوم ص ۷۲.

٦. تاريخ يميني ص ۲٦.

۷. الکامل ۸-۳٤۸.

۸. د مينارسکي حواشي پر حدود العالم ص ۳٤۸.

سره ګډ شوي وي او د دې غلجو حملې پر هند د هفتاليو سره شروع شوې او تر ۸۰۰هـ پورې دوام لري، چه د دوې غټې شاهنشايۍ هم په هند کې وې او اسلام يې تر بنګاله خپور کړې ؤ او د دوي له نومو سره د خان لقب هم د هون د کلمې اوښتي شکل دی، ځکه چه (هـ) په (خ) اوړي لکه قديم هوارزم، اوسني خوارزم، د تورکو هانم او زموږ خانم.

د دې خبرې لپاره هم موږ تاريخي سندونه لرو.

مثلاً د تورکو معروف لغوي محمود کاشغري (٤٦٦هـ) ليکي: او تورکان ۲۲ قبيلې دي مګر د خلجيانو دوې قبيلې په دوي کي ځانونه نه شميري او بيلي دي[1] او دغه مؤرخ د تورکانو په قبايلو کي د خلج يا خلجيانو ذکر کورټ نه کوي او ځکه چي دی پخپله تورک او په ژبو او عنعناتو يې پوه و، نو د ده قول په دې بابت کي مستند او قديمتر دی.

بل دا چې: محمد بن نجيب بکران (د ٦۰۰هـ حدود) داسي ليکي:

خلج قومی از ترکان از حدود خلخ بحدود زابلستان افتادند، و در نواحی غزنين صحرايست آنجام مقام کردند، پس بسبب گرمی هوا، لون ايشان متغير گشت و بسياهی مايل شد، و زبان نيز تغيير پذيرفت و لغتی ديگر گشت، و خلخ را مردمان به تصحيف خلج خوانند.[2]

له دې څخه ښه ښکاري، چې دغه خلجيان له تورکي قبايلو څخه په دې وخت کي بيل وه او د خلخ او خلج تر منځ التباس او تصحيف موجود و.

منهاج سراج هم په طبقات ناصري کي د خپل عهد ډير ملوک په هند کي ښيي، خو هغه چه تورکان دي، هغه ترک بولي، او هغه چه خلجيان دي، خلجي يې بولي، چه د غور له ګرمسيره هلته تللي او پادشاهۍ يې جوړې کړې وې، لکه ملک خان خلج، محمد بختيار خلجي، محمد شيران خلجي، علي مردان خلجي، حسام الدين عوض حسين خلجي، غياث الدين خلجي[3] او ډير نور خلجي مشاهير چي له ترکانو بيل وه.

حتی ضياء برني د هند مؤرخ (د ۷۵۸هـ حدود) په خپل تاريخ فيروز شاهي کي يو خاص فصل لري، چه بايد شاهي د تورکانو وي، خو هغه وخت چي ملک جلال الدين خلجي د دهلي پر تخت کښيناست، نو دی ليکي، چه خلک ډير متأثر وه، چي څنګه يو خلجي د تورکانو پر تخت کښينستلای شي؟ دلته داسي ليکي:

"ملک خلجيان شهريان را بغايت دشوار نمود."[4]

له دغي خبري څخه هم دا ښکاري، چي خلجيان تورکان نه وه، که نه وي نو ولي به خلکو د ترکانو د تخت و تاج پر ضياع افسوس کاوه[5] بلکي دغه خلجيان چي په هند کي د مدنيت او سلطنت يو ښکلي اثر پريښي دی، په اصل او نسب د افغانستان څخه وه.[6]

---

۱. ديوان لغات الترک ۳-۳۰۷.

۲. جهان نامه، ورق ۱۷، خطي د مينارسکي په حواله.

۳. طبقات ناصري ۱-٤۹۵ څخه وروسته.

٤. تاريخ فيروز شاهي د برني ص ۱۷۳.

۵. خلجيان تورکان وه، د دې تفصيل وګورئ د هند د تاريخ د ګانګري رويداد ۱۹۳۹.

٦. تذکرة بهادران اسلام ۲-۳۳۱.

بارتولد وايي چي: له ځلرمي هجري پيړۍ څخه موږ خلجيان د افغانستان په جنوب کي د سيستان او هند تر منځ وينو او دوي د هغو ترکانو پښتانه شوي بقايا دي، چه د اصطخري په قول په قديمو زمانو کي دلته راغلي وه او دغه اوسني پښتانه علجي چي د ترنک او ارغنداو په لوړه وادي کي اوسي، هم له دغه نسله دي.[1]

زما به عقيده دغه تورکان بلل شوي اقوام چه په قديمو زمانو کي زابل ته راغلي وه، هغه هفتاليان وه، چي يو نيم زر کاله دمخه له پښتنو کوچيانو سره ګډ او دلته د پښتنو د اکثريت په سبب بالکل پښتانه شوي وه او کوم وخت چي دوی په هند کي سلطنتونه جوړ کړل، بالکل پښتانه وه او پښتنو دوی دغه خپل غلجي ګڼل. مثلاً خوشحال خان خټک سلطان جلال الدين خلجي (٦٨٩-٦٩٥هـ) په صراحت سره غلجي ګڼي او وايي:

بيا سلطان جلال الدين پر سرير ګښيناست چه په اصل کي غلجی د ولايت و[2]

تورک که تورکښ؟

دلته بايد دا نکته هم تصريح شي، چي دغه هفتالي (ابدالي) سپين اريايي قبايل د تخارستان له خوا پر کابل و زابل راغله، نو دوي د خپلو نورو اريايي ورونړو سره چي د ويدي زمانو څخه دلته د پکهت (پښت-پښتون) په نامه اوسيدل او خپله ژبه او دودونه يې لرل ګډ شول، د دوی مشران کشتريه=خشتريه=ګښتور او د پير روښان د خير البيان به تعبير تور کښ بلل کيده (اوس په پښتو دا نوم تورباس يعني شمشير باز دی) او موږ د دې کلمې قدامت ته دمخه اشاره وکړه، چي لومړي جز (توره) د ډيرو تاريخي نومو په سر کي شته، اما دوهم جز (کښ) د پښتو (ښ) ږغ درلود، چي د دې خاص ږغ د تعبير لپاره هنديانو او يونانيانو خاص ږغونه استعمال کړه، مثلاً پښت په ويدا کي پکهت[3] شو، او (ښ) په (که) ښکاره کړ شو او دغه (ښ) لکه د ننګرهار په لهجه په اوستا کي (خ) شوه، چي په بخد او بخدي[4] کي شته او د يونان هيرودوت (٤٨٤، ٤٢٥ق.م) دغه نوم پکتويس Paktves ولوست.[5]

دغه د تورکښ کلمه پخوا (کښ توري=کشتريه) وه، چي جنګي خلکو او مشرانو ته ويل کيده او د هند د خلکو په کاسټ په ويشلو کي هم عسکري طبقه (کشتريه) وه، د دې کلمې پښتو بل شکل (تورکښ دی)، او څکه چي د (کښ) تعبير په بله ژبه او خط مشکل و، نو له قديمي زمانې څخه دغه (تورکښ) د مشرقي پښتو پر لهجه برابر چي هند ته نژدې وه، (توروښکه = له وښکل مصدره څخه) رواج شوه، مثلاً په اوهند (هنډ) کي د اباسين پر غاړه يوه کتيبه په سنسکريت پيدا شوې وه، چي د غښتلو غوښو خورو حمله کونکي ذکر د تورشکه Turshcas په نامه په کي شوی دی.

دا کتيبه به ٧/٨ مسيحي قرن اړه لري او سري تلکه Tillaka کښلې ده[6] دلته د پښتو (ښ) په she ښکاره شوی دی.

او بيا د راجه ترنګيني د کشمير تاريخ چي کلهنه په (١١٤٨م ٥٤٣هـ) تاليف کړی دی، دی هم مکرراً لليه شاهان د

---

١. اسلامي دايرة المعارف ٢-٨٧٦.
٢. کليات ص ٦٦٩ د قندهار طبع.
٣. ويدا، ج ٢ ص ١٧، بند ١٨ فرد ٧،٦.
٤. ونديداد، لومړي فرګرد.
٥. د ايران تاريخي جغرافيا ٧٤٠، تاريخ ادبيات پښتو ج ١، ص ٢٦.
٦. کابل د سر الکسندر برنس ١٢٠.

ردرد او توروشکه په منځ کي بولي (ترنگ ٥، شلوک ١٥٢) او وايي چي توروشکه Turuska به تل خپله وسله پر شا تړلې وه او نيم سر به يې خريلي و او پر کشمير به يې حملې کولې (ترنگ ٤، شلوک ١٧٩) او د دوی پاچا هرشه د کشمير ټول معابد او بتخانې ونړولې (ترنگ ٧، شلوک ١٠٩٥) سر اورل ستاين د راجه ترنگيني انگليسي مترجم هم دغه توروشکه په (ترک) ترجمه کړی دی. او داسي ښکاري چه دا التباس قديم دی او پښتو توروښکه (تورباس) او د خير البيان تورکښ د (تورک) له کلمې سره د نژديوالي په سبب يو ګڼل شوی دی.

او ځکه چي د کشتريه=خشتريه کلمات په ويدي او فرس قديم او پخوانو نومو کي رينبه لري او عمر يې تر ٣٠٠٠ کاله پوري رسيږي او د پادشاه، کشور، شهر، شار، شير کلمات ټول له دغه څخه را وتلي دي، نو سړی دا هم ويلاي شي، چي د تورک کلمه به هم دغه رينبه لري، ځکه چي تورکان هم له دغو مځکو څخه خپاره شوي وه.

دلته دا خبره مه هيروي چي د دغو پښتنو هفتاليو (ابداليو) ژبه هم نه تورکي وه او نه هندي. کننگهم انگليسي محقق وايي: په اوهمه مسيحي پيړي کي چی هون تسنگ چيني زائر له ٢٠ جون تر ٢٥ جون ٦٤٤ م د اپوکين (افغان) او غزني ولايتو د هند تر اوږده سفر وروسته وکتل، دی وايي چه د دغو خلکو ژبه او رسم الخط له نورو مملکتو سره اختلاف لري؛ خو لږ څه هندي ته ورته وه، ځکه چي هيون تسنگ په هند او تورکي ژبو پوره پوهيده، نو که د اپوکين (افغان) ژبه هندي يا تورکي واي، ضرور به ده ويلي واي. له دې جهته بايد وهايو چي د دغه ځاي ژبه نه هندي او نه تورکي، بلکي پښتو وه، چه له هندي ژبو سره لږ مشابهت لري.[1]

له دغو ټولو تاريخي اسنادو څخه دا ثابتيږي چه خلجيان پښتانه وه او دغه اوسني د غزني د غرو او رغو غلجيان دي، چه د جهان نامې د مؤلف په قول يې ژبه هم بيله وه او هغه نو دغه پښتو وه، چه تر اوسه هم د ټولو غلجو ژبه ده او د کرامات په دغه حکايت کي هم "لسان خلجيه" بلله شوې ده او د دغه لويک ژبه هم پښتو وه ځکه چي دغه بيت پښتو دی او وروسته به يې تاسي ولولئ.

١٥. هندوان ساه؟ دا کلمه هندوان شاه ده، په پهلوي او قديم فارسي ادب کي هندوان، هند ته ويل کيده.[2] د شاهنشاهي په ملحقاتو کي چي د زابلي افغانانو او د دوي د مشر کک کوهزاد کيسه راغلې ده داسي وايي:

که نزديک زابل بسه روزه راه	يکي کوه بد سر کشيده بماه
بيکسوي او دشت خرگاه بود	دگر دشت زي هندوان راه بود
نشسته دران دشت بسيار کوچ	ز افغان و لاچين و کرد و بلوچ[3]

دلته مقصد دغه د ارگون او وازي خوا لوي دښت دی، چه د هند و خوا ته يې د گومل او کرم له درو څخه لاري وې او کوچ هم هغه کيچي او کبجينه دی، چه تر اوسه هم غلجيان کوچي بلل کيږي او د دوي کيږدۍ (خرگاه) له دغه دښته د اباسين غاړو ته کوچ کوي.

ابو منصور موفق بن علي هروي د ٦٣٠هـ په حدودو کي وايي: "و آن ديگر داروها کي به هندوان موجود است ازين

---

١. د هند پخوانۍ جغرافيا ص ١٤١\٨٩.

٢. سبک شناسي ٢-٢٧.

٣. د شاهنامې ملحقات ج ٥ ص ٣٣.

دیگر اقلیمها نیابند."[1]

۱٦. نیسه؟ دا کلمه نبسه ده، چې اوس يې په فارسي نواسه او په پښتو لمسی، نمسی بولي. بيهقي د دغي کلمې مفرد نبسه او جمع يې نبسگان راوړی دی[2] د يوه زاړه تفسير په خطي نسخه کي چه په کمبرج کي ده هم نبسه راغلې ده: و او را فرزند دادیم و نبسه بر سر (ورق ۳٤ب). فخر مدبر مبارکشاه ليکي: "سندنبال نبسه شاه کابل از پایان هندوستان باز آمده بود."[3]

امير خسرو وايي:

صفت ذات او همین نه بس است　　　　که رسول خداي را نبس است

ځکه چي افلح د گرديزي په سند د خاقان (خانان) لمسې ؤ، نو دا کلمه حتماً نبسه ده او د اصل (نيسه) معني نه لري او د بيهقي له استعماله هم ښکاري چه په غزني کي مروجه وه.

۱۷. بشاني بنست؟ دا جمله غالباً داسي وه؟ بشاهي بنشست، يعني پر پادشاهي گنبیناست او پادشاهي په پهلوي او لومړنۍ فارسي کي د سلطنت او مملکت په معنا هم وه[4] وروستني کلمات داسي دي: "بتخانه لويک بر کند و مزگت بکرد" يعني د لويک بتخانه يې ورانه کړه او پر ځاي يې مسجد جوړ کړ.

۱۸- سلطان سخي سرور: دا سړي د هند او پنجاب په مځکو کي ډير شهرت لري او د مشهورو اولياوه په ډله کي شميرل کيږي. مفتي غلام سرور لاهوري ليکي، چي: د ده نوم سيد احمد او مشهور په سخي سرور سلطان و، د ملتان له اولياوه څخه دی، چه خلک يې "لکه دانا" بولي، او نسب يې حضرت علي ته رسيږي. د پلار نوم يې سيد زين العابدين ؤ، چي د ملتان په کرسي کوټ کي ساکن ؤ او د عايشې کهوکهري سره يې واده وکړ او سيد احمد او عبدالغني دوه زامن ځني پيدا شول. دغه سيد احمد په بغداد کي د عبدالقادر جيلاني او شهاب الدين سهروردي حضور ته ورسيد او بيا يې په لاهور کي له محمد اسحاق لاهوري څخه علوم ولوستل. وروسته مفتي لاهوري د ده کرامات شميري او د شهادت تاريخ يې د شاه کوټ د غره سره چه اوس يې مزار هم هلته دی په ٥٧٧هـ گڼي.[5]

دا سيد احمد د خپل روحاني سطوت او شکوه له رويه په سلطان مشهور شوی ؤ. د دې پس له شيخ هجويري د هند په خاوره کي د اسلام خورا لوي مبلغ دی، حتي چه د هندوانو ډير قبايل په جالندهر کي خپل ځانونه تر اوسه هم سلطاني او ده ته منسوب بولي.[6]

او په ميلادي پنځلسم او شپاړسم قرن کي دغه سلطاني فرقه ډيره مشهوره وه او د پنجاب جاټ سلطاني وه، چي دوي به د فرورۍ په منځ کي د سخي سرور زيارت له ډيره غازي خان ته تله، خو د سکهانو د حکومت په وختو کي ديوان

---

۱. الابنيه عن حقايق الادويه ص ۱.
۲. تاريخ بيهقي ص ۲۲۱، ٦۷۳.
۳. آداب الحرب و الشجاعه ص ۲۸.
٤. سبک شناسي ۱-٤۲۹.
٥. خزيتة الاصفياء ۲-۲٤۸. د ده مزار د بابر په وختو کي هم مشهور و او بابر يې پخپل تزک کي ذکر کوي.
٦. د جالندهر گزيټر، ص ۱۲۱.

ساون مل د ملتان حاکم دوي منع کړل.

تر نولسمي پېړي پوري چه د لودهاني او جالندهر گزيټرونه ليکل کيده، دغه سلطاني هنود موجود وه.[۱]

دا سخي سرور چې د حضرت عبدالقادر جيلاني (۴۷۰-۵۶۱هـ) او د شيخ شهاب الدين سهروردي (۵۳۶-۶۳۲هـ) معاصر بلل شوی دی، په هغو مځکو کي چي د افغانستان د خلکو د تگ او راتگ لاري وې، يعني په ملتان او ډيره غازي خان کي اوسيد، نو ځکه پښتانه هم د ده مريدان وه او ښايي چي دی پخپله هم د لوست لپاره غزني ته راغلي وي، ځکه چه دغه وخت د غزنويانو دوره وه او غزني د علم او ثقافت او تصوف مرکز ؤ.

د کرامات د دغي ناقصي نسخې څخه ښکاري چي دغه کتاب خاص د ده پر کراماتو ليکل شوي و او ټول حکايات يې هم د ده په خوارقو اړه لري، چي يو مثال يې دغه موجوده حکايت او د غزني په مسجد کي د لويک د بت کشف کول او له مځکي څخه را ايستل دي.

۱۹. باين مرلت؟ دا کلمه هم يقيناً مزگت ده، مرلت معني نه لري.

۲۰. کشف شدس: دا کلمه شدش ده يعني ده ته کشف شوه.

۲۱. درمالوت؟ ضحيح يې در تابوت ده.

۲۲. از شهر غزنه برجاست؟ برجاست دلته معني نه ورکوي دا کلمه برخاست ده.

اوس دا حکايت په صحيح ډول په اوسنۍ املا ولولئ:

"ابو حامد الزاولی را در تاريخ غزنه، از حسن صغانی روايت است که در بلدهٔ غزنه، بر درب باميان، مسجديست عظيم، که آنرا مزگت افلخ (افلح؟) لويک خواندندی، و اين بتخانهٔ عظيم بود، که وجوير لويک بر خدمت رتبيل و کابلشها کرده بود. چون پسرش خانان (خاقان؟) به مسلمی آمد، صنم لويک را نيارست شکستن و آنرا دران مزگت بزمين اندر کرد، و بتابوت سيمينه در نهاد.

کابلان شاه خنچل اين بيت فرستاد بلسان خلجيه، که لويک گفت (صورت صحيح بيت بعداً می آيد). خانان (خاقان؟) باز بکيش هندوان شاه شد و چون نبسهٔ او افلخ (افلح؟) بشاهی بنشست، بتخانه لويک بر کند و مزگت بکرد.

چنين روايت کنند: چون سلطان سخی سرور باين مزگت شد گفت: بوی صنم شنوم، نيک ديد و کشف شدش. زمين بر کافت و صنم لويک بر کشيد، در تابوت سيمينه نهاده. آنرا بشکست و سيم را (به) بنای مسجد داد و بکرامت آن ولی الله، بوی کفر و هندوئی از شهر غزنه برخاست."

(ورق ۱۵ خطی کرامات)

د خلجي ژبي پښتو بيت

اوس به دغه د لسان خلجيه د بيت الفاظو ته ځير شو، گمان کوم چي دا پښتو دي داسي وي. (د کتاب اصلي غلطه املا دمخه تيره شوه).

---

۱. آب کوثر، ص ۹۱ څخه وروسته.

په زمي گزنه ښخېد لويک لويانو بويله لويا
کښه تور به براغلوم (بلوم؟) ممله تيز يو په ملا[1]
په اوستي املا داسي کيږي:
په زمي غزنه ښخيد لويک لويانو بايله لويا
کښه تور به براغلوم (بلوم؟) ممله تازيو په ملا

د کلماتو تحليل

۱. زمي

دغه اوسنۍ زمکه او د فارسي زمين ده، دا کلمه عيناً په فارسي پخواني ادب کي په دغه شکل شته، فخرالدين گرگاني (٤٤٦هـ) وايي:

چو اين مايه بنودي رتسني را نبودي جانور روي زمي را[2]

نظامي وايي:

اساسيکه در آسمان و زمي است باندازهٔ قدرت آدمي است

اسدي طوسي (متوفي ٤٦٥هـ) وايي:

زمين جاي آرام هر آدمي است همان خانهٔ کردگار از زمي است[3]

په اوستا کي زم (مځکه) او په پهلوي زميک د آسمان په مقابل که وه[4] او زمياد د زمکي د ودانۍ فرشته وه.[5] داسي ښکاري چه زمي پخوا په پښتو کي د اول حرف په سکون وه، چه وروسته زمکه يا مځکه د پهلوي زميک ته نژدې ځني جوره شوه.

۲. گزنه:

په اصل کي (کزن) ده، چه د گزن او گزنه=غزنه ناقصه املا ده، دا کلمه په سغدي ژبه گزنک او د ماني په کتابو کي گزن او معني يې خزانه ده[6] او په سنسکريت کي جگن يا کجن وه چه عربو دغه کلمه معربه کړه. ابو منصور موهوب بن احمد بن محمد الخضر جواليقي (٤٦٥-٥٤٠هـ) ليکي الکنز: فارسي معرب و اسمه بالعربيه مفتح[7] نو د عربي کنز د فارسي گنج معرب دی[8] چي قديم شکل يې گزنه=گنزه=غزنه و او په فارسي کي د مرغوزن (گورستان) يا مرغزن په کلماتو کي پاتي ده، مرغوزن يا مرغزن (مړ + غزن= خزانهٔ مردگان=گورستان) په هراتي فارسي کي وه.[9]

---

۱. د کتاب د ٦٣ مخ د جدول انځور.
۲. ويس و رامين ٣.
۳. فرهنگ دهخدا، ص ٦٦.
٤. يشتها ٨، ١٣، ٩٥.
۵. مزديسنا و تاثير آن در ادب فارسي ٤٣٢.
٦. د پروفيسر بنونيست په حواله.
۷. المعرب من الکلام العجمي، دارالکتب مصريه ١٣٤.
۸. سواء السبيل الي معرفة المعرب و الدخيل، طبع لاهور ١٩٠٣.
۹. طبقات الصوفيه ٢١٣ خطي.

امامي هروي وايي:

آن جهانداري كه گشت اندر نبرد مرغزار از زخم تيرش مرغزن

منوچهري وايي:

وقت صلحش كس نداند مرغزن از مرغزار وقت خشمش كس نداند مرغزار از مرغزن[1]

نو گزن=غزن، مجمع او مخزن ته وايي، چي د غزنه قديم نوم گزنه په پښتو كي ۉ او غزنه يې وروستني لغوي تحول دی او هيون تسنگ هم دغه نوم (هو-سي-نه) ضبط كړی دی[2] او داسي ښكاري چه (گه -زه - نه) هم درې هجايي تلفظ لاره.

موږ ته د طبقات ناصري او د مسعود سعد سلمان محبوس شاعر له اشعارو دا ښكاري چي په غزنوي دوره كي ځيني د غرو كلاوي موجودي وې چي هلته به شاهانو خپلي خزانې خوندي كولې يا به محبسونه وه، ځكه چي د غزني كلا هم لوړه او خورا ټينگه وه، نو د گزن (خزانې) لپاره استعماليده، كننگهم وايي چه په اوهمه مسيحي پيړۍ كي د هيون تسنگ په قول غزني ډيره ترقي درلوده او محيط يې ۳۰ لي و (٥ ميل) او نوم يې له Gaza څخه جوړ شوی دی، چي معنا يې خزانه ده، دا ښار د نانوس(٥٠٠م حدود) او د يونيسيوس (۳۰۰ م حدود) په قول ډير ټينگ او جگ او تسخير ناوړه ښار و.[3]

۳. سحيد لويک:

دا كلمه هم د لويک بت د ښخولو او مځكي كينلو په قرينه چي په دې حكايت كي ذكر شوی دی، د پښتو (ښخيد) ده، له ښخ او ښخول څخه چي د مفرد غايب صيغه ښكاري، او اوس موږ وايو (ښخ شو) گمان كوم چي د (ښخيدل) مصدر پخوا پخپله مستقيم مشتقات درلوده او (ښخ كيدل) د ژبي د وروستني فتور نخښه ده او د صيغې اخير (يد) د فارسي له هروي لهجې سره ډير نژدې دی چه پخوا د مفرد غايب لپاره راته.

مثلاً: وی نان خورديد (وي نان خورد) احمد استاد محمود ايد (احمد استاد محمود است) نو ښخيد لويک هم دغه معني لري: ښخ شو لويک، د خواجه عبدالله انصاري په طبقات الصوفيه كي چه په هروي لهجه دی، ډير داسي د مفرد غايب صيغې شته.[4]

٤. لوي انو:

په اوسنۍ املا (لويانو) ده، له دې څخه هم ښكاري چي د لويک رېښه هم لوي وه او پښتنو دوی لويان هم بلل. دا كلمه اوس هم شته، مثلاً: د كلي مشران او لويان سره را غونډ شول، كريمداد وايي:

پر غريبو چي تيري كا لوی دي نه شي هسي لوی

٥. بولا:

دا هم دا اوسني (بايله) قديم تلفظ دی، بايل او بويلل (باختن) په يوه معنا وه، تر اوسه هم د غرو پښتنانه بويلا وايي باخت. او دا د پښتو د لهجو اختلاف دی، چي د بړغيزو تورو په ويلو كي لري او لكه چي ما دمخه وهيل، په قديمو نښانو كي د مسيدو او وزيرستان او اپريدو د لهجو او ادا ډير آثار ښكاري. بويلا (بايلوهله، بايلو، بايله) ماضي صيغه ده، چي په

---

۱. ديوان منوچهري ٦٦.

۲. د هيون تسنگ سفرنامه ۱۲باب.

۳. د هند پخوانۍ جفغرافيا ص ٤٢.

٤. د طبقات الصوفيه فرهنگ د حبيبي ليک.

فارسي باخت ورته وايي.

٦. لويا:

اوسنۍ لويي د هغه لوي رينبنې ځخه پر قديم ډول اسم حالت دی.

پخوا داسي کلمات ډير وه خو اوس خورا لږ دي مثلاً اوس موږ خندا، ژړا، ړڼا، نڅا وايو، خو ځغلا، شڼا، ځلا، زرغا، زلما، ښکلا، ملا نه وايو، حال دا چي دغسي ډير کلمات په پخوانۍ پښتو کي وه او په پخوانو اشعارو کي مستعمل دي.[1] وگورئ په لومړۍ مسري کي لويان، لويا دواړه له يوې رينبنې دي او دا ثابتوي چي د لويک لقب هم له دغي رينبنې ځخه را وتلي دی.

٧. کسه تر؟

دا کلمه کشه تر او کښته تور وه، لومړۍ ټوټه يې کښه له کښل ځخه ده او دوهمه کلمه (توره) ده، چي په ترکيب کي (هـ) خذفيږي، لکه تورن، توريالي.

د (توري) کلمه په قديمو علاموکي خورا ټينگه رينبه لري، لکه دمخه ذکر شوي (تورامانا=تورمن) او تروجن پال (تورجن پالونکي) او کشتريه چه په سنسکريت او زړه پارسي او سغدي او اوستا کي عموماً د پاچا او حکمران او جنگي او توريالي په معناوه وه او د شاه او شار او کشور کلمې هم له دغي ځخه را وتلي دي، او د پير روښان په خيرالبيان کي تورکښ راغلې ده.[2]

سر الکسندر برنس تر ١٨٣٦ ع کال دمخه د اباسين په هند (پخواني ويهند) کي پر سنگ مرمر يوه سنسکريت کتيبه موندلې وه، چه د ميلاد په ٧-٨ پيړۍ کي کښلې شوې وه، پر دې ډبره ليکلي وه، چه يو غوښي خوړونکي قوم تورشکه Turshcas (تورکښ) پر دې سيمه مسلط وه، دا ليک يوه برهمن Seri Tillaka سري تلکه کښلی دی،[3] او داسي ښکاري چي دا غوښي خوړونکي تورکښان هغه هفتاليان (ابداليان) وه او دوي يې د دلاورۍ او توريالي توب په سبب تورکښ = کښه تور بلله، چي په دې پښتو بيت کي کټ مټ دغه کلمه راغلې ده.

کشتريه او کښ تور د لښکر او عسکر په معنا له قديمه په پښتو ادب کي موجود ؤ، او دلته هم په دوهمه مسرۍ کي دغه پښتو کښه = کښه تورو دی، چي مقصد ځني فوج او عسکر دی. او لکه چي تاسو ولوستل دغه کلمه په هندي هفتالي منابعو کي توروښکه ده، چي دغه شکل او معنا لري.

٨- ببرا غلوم:

دا کلمه غالباً (به براغلوم) ده، چي د بيت د هجايي وزن په تجزيه کي (برا -غل- وم) ويله کيږي او بايد مصدر يې براغلول يا برغلل وي. له موقعه داسي ښکاري چي براغلول به د فارسي له (آغال او بر آغاليدن) سره يوه رينبه لري، اسدي طوسي ليکي: "آغال چنان باشد که کسی را بر کسی طيره کنند تا تند شود، آن فعل را آغالش خوانند و سگ را که بر مردم جهانند، بر آغاليدن گويند، فرالاوي گفت:

من ز آغالشت نترسم هيچ   ور بمن شير را بر آغالي"[4]

دا مصدر په فارسي کي برغلانيدن او ورغلانيدن هم راغلي دي چي اوس يې په پښتو شکارل بولي او په فارسي يې

---

١. پټه خزانه، ص ٢٣٤، ٢٣٩.

٢. شرح يې وگورئ: د پښتو ادبياتو تاريخ او د خيرالبيان په خطي نسخه کي دا کلمه مکرره راغلې ده.

٣. د دې کتيبې انگريزي ترجمه وگورئ، کابل د لندن طبع ١٨٤٣، ص ١٢٠-١٢١.

٤. لغت فرس ٣٢٥.

"کسي را بر جنگ تيز کردن" معنا ليکې ده.[1] بيهقي ليکي:

"انديشيد اين پادشاه که ما بترسيديم و بگريختيم و دم ما بگيرد، و بنامه ولايت داران را بر ما بر آغالانيدن گيرد و ناچار دوست بر ما دشمن شود." بل ځاي وايي: "که بنده بورتگين را برين قوم آغاليد و او بخواهد آمد."[2]

نو په دې پښتو مسرۍ کي هم کښه تور به براغلوم داسي معنا کوي: عسکر به وگمارم او فوج به پاڅوم، يعني زه به ستا په مرسته خپل لښکر در وليږم.

په پټه خزانه کي د امير کروړ يو شعر دی، چي په هغه کي: "په ژوبله يونم يرغالم پر تښتيدونو باندي" راغلی دی[3]. هلته ما دا کلمه يرغالم لوستې وه، ځکه چي د خوشحال خان او نورو متوسيطينو په اشعارو کي يرغل او يرغال هم د حملې په مفهوم موجود وه، مگر ښايي چي د امير کروړ دغه يرغالم هم برغالم وي، د برغلل له لازمي مصدره، چي دغه قديمه ريښه لري.

او امير کروړ هم د دغو لويکانو د زمانې پاچا دی، چي د دوی د سلطنت غربي خوا ته پر غور او زور او بادغيس حکمران ؤ او د ژبي نژديوالي يې ضروري دی.

۹. بلوم؟

د بيت د هجايي تقطيع څخه بايد دا کلمه دوې هجاوي وگڼو (به – لوم). مگر ما چي هر څه فکر او مطالعه وکړه، د دغي کلمې حل مي و نه موند او داسي کلمه چي معنا يې له موقعه سره ونښلي او منطقي هم وي، ما نه کړه پيدا، ځکه دا کلمه دغسي پټه او ناحل شوې پاتي شوه.

۱۰. مملا:

دا کلمه ظاهراً نهې ده (مه مله) يعني ملتيا مه کوه. ځکه چي وروسته هم د بيت په پاي کي (ملا) راغلې ده، مل تر اوسه په پښتو، ممد او معاون او رفيق ته وايي، ملتيا، ملتوب، تعاون او رفاقت او همراهي ده. ملا په پخواني پښتو کي لکه لويا د ملتوب په مفهوم وه، شيخ اسعد سوري د پښتو يو قديم شاعر ٤٢٥ هـ وايي:

نه به لاس واخلې له ځوره نه به لورې   نه به ملا کړې له بې وزلو له ترار[4]

ملکيار غرشين (۵۷۱هـ) وايي:

غازيانو راشئ   ټول شا و خوا شئ   د شهاب په ملا شئ[5]

کله (ملی) د پاتيدو او اقامت او باقي بودن په معني هم راغلی دی.

عبدالقادر خان خټک وايي:

اي يوه خدايه ژر وران د دنيا سراي کړې!   چي اشنا عالم ترې ځي، نا اشنا ملي

بل ځاي وايي:

ناپوهان به يې باور په ودانۍ کا   چي په طمع د سيلاب د اوبو ملي

يا دا چي وايي:

---

۱. برهان قاطع، ج۱.

۲. پټه خزانه، ص ۳۳.

۳. پټه خزانه، ص ۳۳.

٤. پټه خزانه ٤١، ٢٣٤.

۵. پښتانه شعراء ۱-۵٦.

د دنیا په سراي کي مخ و آخرت ته کاروانو ته ملي لیږدي یو شاپوش دی

نو ښايي چي دلته هم (مه مله) یعني مه پاتیږه، دوام مه کوه وي.

اما د کلمې اخرني الف د (هـ) پر ځاي اوس هم د غلجو او وردگو او اپریدو په لهجو کي سته مه کوا، مه خورا، مه ځا وایي.

۱۲. تیز یو؟

دا کلمه د هجائي تقطیع لپاره (تي-ز-یو) باید ولوسته شي، گمان کوم چي دا هم د بږغیز یو تور یو د اوښتلو د سیستم په اثر له (تازیو) څخه (تیزیو) شوې ده.

تازي له قدیمه عربي ژبي او عربي قوم ته ویل کیده، په اوسنۍ محاوره باید وهایو (مه مله د تازیو په ملا) یعني مه ځه یا مه پاتیږه د تازیو او عربو په ملگري کښي.

ځکه چي د غزني لویک خانان، جبراً مسلمان شوي ؤ نو یو بل لویک له کابله ده ته په دې بیت کښي وکښل، چه "هاي افسوس! لویک بت د غزني په زمکه کښي ښخ شو، او لویانو خپله لوئي بایلوهه، زه به لښکر در واستوم، ته د تازیانو (عربو) ملگري مه کوه، تازي چه پښتانه مسید او وزیر به ئې حتماً (تیزي) وایي، د عربي اقوامو لپاره قدیم نوم دی، چي په پهلوي او فارسي کښي هم مستعمل و، فردوسي په شاهنامه کښي د عربو او سعد وقاص د حملې پروخت دغه د مطلق عرب په معنا استعمالوي، مثلاً:

نه تخت و نه دیهیم بیني نه شهر کزا ختر همه تازیان راست بهر

از ایرانان و از ترک و ز تازیان نژادي پدید آید اندر میان

نه دهقان، نه ترک و نه تازي بود سخنها بکردار بازي بود

بیا وروسته تازي عربي ژبه هم بولي:

بتازي یکي نامهٔ پاسخ نوشت پدید آورید اندر و خوب و زشت

اکثر محققان وائي چي دغه تازي نوم له (طائي) څخه اخیست شوی دی، ځکه چي د بنوطي قبیله ایرنیانو ته خورا نزدې او ورځرمه قبیله وه، نو ټول عرب ئې په دغه نامه وبلل.[۱]

دا چي یو ملت د یوې قبیلې په نامه وبلل شي، په تاریخ کي نور مثالونه هم لري؛ لکه یونان د یوې قبیلې یونیا په نامه، یا فرس (د عربو ایران) د پرسه قبیلې په نامه، چي یونانیانو (پرسیا) وبلله او بیا (پرشیا) شوه[۲] او بل مثال ئې دا دی چي په دغه حکایت کي د پښتنو ژبه یوازي د غلجو په نامه "لسان خلجیه" بلله شوې ده، او دا د کل تسمیه په جزو سره گڼله شي.

مگر دا تازي نوم د عربو لپاره ډیر قدیم دی، حتي چینیانو هم د تانگ د کورنۍ په سلطنت کښي (۶۱۸-۹۰۷م) پخپلو کتابو کي دا نوم Ta-shi ذکر کړي دی چي په ۹۲۰م د تاشي امیرالمؤمنین له خوا شل ډلي سفیران د چین د سنگ Sung شاهانو ته راغلل، او د لیوشي Liao-shi چیني امپراطور حضور ته هم یو تاشي (تازي) سفیر راغي.[۳]

---

۱. بارتولډ په اسلامي دایرة المعارف کي ج ۲ د تاجیك ماده.

۲. د شاهنامې فرهنگ، ص ۸٤.

۳. په چیني کتابو کښی د ایشیا حال، د دوکتور برهتزمیدیر تالیف د لندن طبع، ج ۱ص ۲٦٦.

نتایج

د دې مبحث ادبي او لساني او تاريخي نتايج دا دي:

۱. لويکان يوه شاهي کورنۍ وه، په زابلستان او غزني کښې، چې د کابل شاهانو سره ئې خپلوي لرله. د دوی نوم له پښتو (لوی) څخه جوړ شوي ؤ او ژبه ئې پښتو وه او قديمتر لويک وجوير (هجوير) نوميد د ۱۲۰هـ حدود.

۲. دغه يو بيت د لويکانو د ژبې نمونه پاته ده.

۳. د دوی د ژبې لهجوي سيستم د وردگو او مسيد او وزيرو اوسنۍ ادا ته ورته وه.

٤. دوی بتان درلوده، خو وروسته مسلمانان شول.

٥. د دوی جگړې له صفاريانو او غزنويانو سره څو قرنه جاري وې.

٦. د دوی نژادي تقارب له غلجيانو (خلجيانو) سره ښکاري، ځکه چې ژبه ئې لسان خلجيه بلل شوې ده.

۷. د غزني قديم نوم (گزنه) لکه په سغدي او فارسي کې چې رينبې لري، په پښتو کې هم (گزنه) ؤ.

۸. د پښتو يو قديم نظم ويونکي لويک، چې د خانان لويک او خنجل کابلشاه معاصر ؤ، په ۱٦۳هـ کې به ژوندی ؤ، نو دی هم لکه امير کروړ د پښتو قديم شاعر او د هغه معاصر ؤ.

۹. د لويکانو کورنۍ د سبکتگين په لاس ختمه شوه (۳٦٥هـ).

۱۰. پښتو په دغه اوقاتو (د ۲۰۰هـ حدود) په شرقي خوا کې پهلوي ته نژدې وه چې په دې بيت کې د زمي، گزنه او براغلوم او تازي کلمات له سغدي او پهلوي او فارسي سره نزديوالي او اشتراک لري. خو په دغه عصر کې چې د امير کروړ شعر هم موجود دي او وروسته به ئې تفصيل راشي، له دغو اغيزو څخه سپيڅلي دی. نو داسي ښکاري چه د امير کروړ ژبه د غور په غرو کې له دغو اغيزو څخه ليري پاته وه. د زابل او غزني پر خواؤ، د ساساني دورې ثقافت او ژبې اثرونه کړي وه.

ځکه چې دا غرونه او رغونه د هند د برعظيم سياسي او تجارتي لار وه، او د عربو او ايران او ماورأ النهر د خلقو تگ او راتگ ډير ؤ، نو د دوي ثقافي او ژبني اثرونه هم يوه طبيعي خبره وه.

۱۱. په مسيحي لومړيو پيړيو کې چه سپين هون (آريائي اقوام) د تخارستان له خوا زابلستان ته راغلل دغه هفتاليان (ابداليان) د ارغنداو او هلمند په ناوه او غرو رغو کښې تر کوړکه له پخوانو پښتنو سره گډ او ميشته شول، چې اوس د ابدالي (دراني) په نامه کښې هغه قديمه رينبه شته، او بله ډله د خلجي، غلجي (غرزي) په نامه له محلي پښتنو سره گډ شول. د دغو خلقو ژبه دمخه هر څه چې وه خو دلته په زابلستان کښې له غزني څخه تر سيستانه پښتو شوه او د دوي گډون له پخوانو پښتنو سره په دغه ژبه کښې ځيني د دوي راوړي کلمات گډ کړل لکه هون چې خان شو، يا اولس، جرگه، يرغل او نور. خو کوم وخت چې پر دغو خانانو د اسلامي فاتحانو يرغلونه راغلل، نو دوي غرو ته پناه يوهړه، او د دوي لهجه او ادا په غرو کې پاته شوه، لکه د وردگو او وزيرو او مسيدو لهجې، اما هغه اقوام چې په سيمو کښې وه، د دوي پر لهجو د سمي د خلقو او مدنيت او ژبو اثر وشو، او تهذيب ئې وموند، چې د اوسنيو ابداليو لهجه ئې نمونه ده.

د لویکانو تاریخي ښکارندوی

لویک وجویر (هجویر) د رتبیل او کابلشاه په خدمت (کرامات) د ۱۲۰هـ حدود

↓

لویک خانان د وجویر زوی (د گردیزي خاقان) مسلمان او بیا مرتد شوي لویک
د خنچل کابلشاه معاصر (د دوي معاصر د ۱٦۳ حدود)
یو بل لویک د پښتو بیت ویونکي

↓

محمد بن خاقان (گردیزي) د ده نوم اسلامي او هم مسلمان ؤ د ۲۱۰ هـ حدود
افلح د محمد زوی د (گردیزي ابو منصور افلخ) د یعقوب لیث څخه په گردیز کي مات شو ۲٥٦هـ

↓

↓ ↓

منصور (تولد د ۳۰۰هـ حدود) د گردیزي په قول
مرسل (تولد ۳٥۰هـ حدود)
سهل (تولد) د ٤۰۰هـ حدود)

ابو علي (ابوبکر) لاویک
(طبقات ناصري) یا مطلق لویک
(سیاست نامه) د کابلشاه د زوی
خسر، چي د سبکتگین له لاسه
ئې په څرخ کښي د خپل زوی
(د کابلشاه زوی) سره ماته وکړه ۳٦٥هـ

دریم څپرکی
سوریان
۱۰۰-۱۵٤هـ

سوری په تاریخ کې:

سوری یا زوري هم لکه لویکان د پښتنو شاهانو یوه قدیمه کورنۍ ده، چې له دوی څخه د پښتو ژبې د اسلامي دورې ډېر پخواني آثار موږ ته پاتي دي؛ ځکه چې دغه سوریان د پښتو په تاریخ کې ډېر اهمیت لري.

نو دلته په لنډه د سوری د کلمې او قبیلې تاریخ شرح کوم، وروسته نو د دوی ادبي شهرت او د شعر مشاهیر ښیم: سوری د غور یوه مشهوره طایفه ده، چې اوس هم شته او زوري یې بولي، دا نوم خورا زوړ دی، د عربو د تاریخ او جغرافیا لیکوال هم د زور یا زوري په ډول راوړی دی، لومړی مؤرخ چې په اسلامي دوره کې د زور نوم راوړي، احمد بن یحیی مشهور په البلاذري دی (د ۲۵۵هـ حدود). دی د سجستان او کابل په فتوحاتو کې هسې وايي:

"تر ۳۰هـ کال وروسته عبدالرحمن بن سمره بن حبیب بن عبدشمس د سجستان او زرنج او کش تر نیولو پس د الخرج له لاري بلاد داور ته راورسید او دغه ځای خلک یې د زور په غره جبل زور کې کلابند کړه، بیا یې نو له دوی سره روغه وکړه او لوی طلايي بت چې زور نومیده او د یاقوتو سترګي یې وې، واخیست او لاسوني یې ور پریکړه او هغه یاقوت یې له سترګو څخه راوکښه، د داور مشر مرزبان ته یې وهیل: له دې بته څخه ګټه یا ضرر چا ته نه رسیږي. تر دغه وروسته د بست او زابل په فتح بخت شو.[1]

بل مؤرخ ابو زید احمد بن سهل بلخي (متوفي ۳۲۲هـ) چې کتاب الاشکال یا صور الاقالیم یې په ۳۰۹هـ وکیښ او تر ده وروسته معروف اصطخری په ۳٤۰هـ هغه کتاب د المسالک و الممالک په نامه تهذیب کړ، دوی هم دواړه د دغه بت او جبل زور ذکر کوي، چې یاقوت یې په معجم البلدان کې را نقلوي او د هغه بت نوم زور یا زون ښیي[2] یاقوت په خپل یوه بل کتاب کې وايي، چې: زور د لومړي حرف په ضمه او د دوهم په سکون د داور په ښارو کې یو بت و[3].

تر اسلام دمخه چې کومو مؤرخینو څه کښلي دي؛ همداسې ښکاره کوي، چې دا بوتونونه مشهور وه، چیني زایر هیوان تسانګ چې په ٦۳۰م دغه بت لیدلي ؤ، وايي چې نوم یې شونا او دا معبد د ستاوکوتا په سیمه کې پر یوه غره پروت دی، دغه شونا د لمر رب النوع و، چې د هندوکش د جنوبي خوا د شاهانو یعني د تجن او نپکي ملکا، د کورنیو په سکو کې هم لیدل کیږي او داسې ښکاري، چې د زوري قبیلې دین هم تر اسلام دمخه د لمر پرستش و[4].

لي سترانج وايي چې دغه غر د درتل یا تل ښار ته نژدې و[5] خو اوس یې ځای نه معلومیږي.

له دغو تاریخي مطالعاتو څخه ښکاري چې د سوري نوم له هغه ویدي سوریا څخه اخیستل شوی دی، چې په اوستا (هور) او بیا (اور) شوی دی او شرح یې په لومړي ټوک کې تیره شوه. دغه زور یا سور نوم تر اسلام را وروسته هم

---

۱. فتوح البلدان ص ٤۰۲.

۲. معجم البلدان ج ٤ ص ۲۸.

۳. مراصد الاطلاع ص ۲۰٦.

٤. تاریخ افغانستان ج ۲.

۵. اراضي خلافت شرقي ص ۳٤۵.

پاتیږي او یوه مشهوره او لویه قبیله له پښتنو څخه په دغه نامه یادیږي او د دوی په نامه، د زور آباد مشهور ښار ودانیږي، د دې ښار بقایا اوس هم په دغه نامه پاتي او د سرخس پر جنوبي خوا د هرات په شمال غربي گوښه کي واقع دي، یاقوت دا ښار د زور ابذ په نامه د سرخس له سیمو څخه گڼي[1]؛ مگر دغه زور آباد پخوا په هرات اړه درلوده؛ لکه ابو بکر عتیق بن محمد السور آبادي مفسر (حدود ٤٦٠هـ) چي په هروي هم مشهور دی، او اوس هم زور آباد د هرات شمال غربي سرحد دی. د سور او سوري قوم نوم او رجال ډېر معروف وه، مثلاً سوري ابن المعتز و سلطان مسعود د غزنوي د عصر د خراسان عمید (حکمران) ؤ او شیخ عبدالجبار بیهقي په خپلو اشعارو کي دی هسي یادوي:

تنبه ایها المغرور وانظر　　　الی آثار مسعود و سوری
ولاتغتر بالدنیا سروراً　　　فان الموت یهدم کل سور

یا دا:

امیر بسوي خراسان نگر![2]　　　که سوری همی مال و ساز آورد

دغه سوری قوم له پښتنو لودیانو سره خپلوي لري، چي د لودي کورنۍ هم په پښتو ادب کي مهم پخواني آثار لري او په دوی کي شیخ حمید او سلطان بهلول او نور معروف سلاطین تیر شوي دي او په دغه کتاب کي به یې شرح بیله راشي له سوریو څخه هم د غور او هند مشهور شاهان شته چي دوی په پښتنواله او میړانه مروف وه، د تاریخ له پاڼو څخه ښکاري چي سوریانو تر اسلام دمخه او بیا د اسلام په لومړیو وختو کي پر غور او خراسان پاچاهي کړله، څو وروسته غزنه، بامیان، تخارستان او زابلستان هم په دوی اړه درلوده او د غور مشهور او برمیالي سلاطین له دغه پښته وه، چي شرقاً یې تر آمو او پامیره او جنوباً یې د عربو تر بحیرې پوري د سلطنت لمن ارته وه. قاضي منهاج سراج، چي د دوی د دربار مؤرخ دی، هسي وایي:

”د ضحاک (په پښتو سهاک یا سهک) له اولاده دوه ورونه وه؛ چي مشر یې سپه سالار او تر اسلام ډېر دمخه، د دوي کورنۍ د غور شاهي لرله دوي شنسبانیان بولي؛ ځکه چي لوی نیکه یې شنسب (پښتو: شین اسپه) نومید او د عليؓ په خلافت کي مسلمان شوي او د غور پاچا منل شوي و.[3]

علاوه پر دغه د سوریانو بل پاچا هم د اسلام په ابتداء کي د مرو مشر و، چي ماهوي سوري نومیده، دې سړی د ساسانیانو اخرني پاچا هم، یزدگرزد سوم مړ کړ او د حضرت عليؓ له خوا په کوفه کي د مرو په پاچاهي ومنل شو[4] فردوسی هم دی سوری نژاد گڼه او وایي:

هیوني بر افگند بر سان باد　　　به نزدیک ماهوي سوري نژاد

دې سوری مشر تر یزدگرد وروسته د خپلي شاهۍ لمن تر بلخ او هرات او بخارا پوري ارته کړه، فردوسي وایي:

به مهتر پسر داد بلخ و هری　　　فرستد بر هر سوئی لشکری
چو لشکر فروان شد و خواسته　　　دل مرد بی بر شد آراسته
سپه را درم داد و آباد کرد　　　سردودهٔ خویش پر باد کرد

---

۱. مراصله ص ۲۰٦.

۲. تاریخ بیهقي ص ۱۷۹.

۳. طبقات ناصري ص ۷٦-۱۷۷ په پخوا خلکو کي د آس په نامه تسمیه رواج وه، لکه لهر اسپه، گشتاشپه، ازیاسپه او نور تاریخي نومونه؛ نو دغه شین اسپه پښتو نوم هم شنسب شو.

٤. فتوح البلدان ص ۳۲۳، الیعقوبي ج۲ ص ۲۱٤.

بشهر بخارا نهادند روی   چنان ساخته لشکر جنگجوی[1]

په دې ډول سوري اقوام، تر اسلام دمخه او بیا د اسلامي دورې په لومړیو وختو کي شهرت درلود او لکه چي وملولستل ، پر غربي پښتونخوا یعني غور او خراسان بریمن وه.

۱. امیر کروړ او ابو مسلم:

مخکي مو ولوستل چي د سوریانو د شنسب کهول مشهور و، دوی د غور پر غرو شاهي کوله، دا شنسب د خرنک زوی و، چي د اسلام په ابتداء کي ژوندی و، د ده زوی امیر پولاد ډېر مشهور شو، د خپلو پلرو نوم یې بیا ژوندی کړ، کوم وخت چي ابو مسلم مروزي د بني امیه امیران له خراسانه وشړل او د بني عباس په طرفدارۍ ټینګ ودرید؛ نو امیر پولاد د غور لښکر د ابو مسلم مدد له بوت او د آل عباس د پاچاهۍ لپاره یې ډېر کارونه وکړل. د ده مرکز په غور کي مندیش و او پر ټول غور یې حکومت کاوه چي مړ شو نو یې امارت زامنو ته پاتي شو، بیا نو د امیر بنجي نهاران تر وخته د دوی احوال نه شو معلوم.[2]

دا روایت د خراخان مشهور مؤرخ منهاج سراج جوزجاني د منتخب تاریخ ناصري په حواله کښلی دی، وایي چي امیر پولاد د ابو مسلم (۱۳۹هـ) معاصر و بنجي نهاران د هارون الرشید (۱۷۰هـ) له درباره عهد او لواء راوړه او بیا نو د دې کورنۍ یو بل مشهور پاچا امیر سوري یادوي، چي د آل صفار (۲۵۴-۲۹۶هـ) معاصر دی، له دې څخه ښکاري چي د شنسب له وخته یعني د اسلام له ابتداء څخه بیا د سلطان محمود او مسعود تر وختو پوري د سور کورنۍ امارت لاره؛ مګر د دغو شاهانو احوال متأسفانه مؤرخینو ته په تفصیل نه و معلوم؛ نو یوازي د څو تنو نومونه یې ذکر کړي دي. وروسته چي د غور پاچاهان پر غزنوي کورنۍ غالب شول، دا ټول له سوري کورنۍ څخه وه او د دوی کورنۍ د مغولو تر تاړاکه (۴۰۰هـ) پوري پر غور او خراسان او بامیان او تخارستان او سیستان او زابل او کابل شاهي کړله، هندوستان هم دوی فتح کړ او د ګنګا تر څنډو پوري یې سلطنت ورسید، د پښتو ادبي آثار داسي ښکاره کوي چي دغي سوري کورنۍ پښتو ویله او په دوی کي د پښتو ادب بهترین او خورا زاړه آثار پیدا شوي دي.

تاسو د طبقات ناصري په روایت کي ولوستل چي امیر پولاد د ۱۳۰هـ شاو خوا کي د غور مشهور سوري پاچا و[3] په دغو وختو کي د خراسان خلکو غوښتل چي خپل هیواد آزاد کاندي، د دغه تحریک په سلسله کي د خراسان یو مشهور سړي ابو مسلم مروزي را پورته شو، چي د خراسانیانو په کومک یې د بني امیه اخر پاچا مروان مات کړ او په ۱۳۲هـ یې په کوفه کي ابو العباس علي بن عبدالله بن عباسؓ پر خلافت کښیناوه.[4] د سوریانو کورنۍ چي د غور او خراسان له مشهورو واکوالانو څخه وه، د ابو مسلم سره ملګري وه، د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک د شیخ کټه متي زي د لرغوني

۱. شهنامه ج۵ ص ۳۱۱.

۲. طبقات ناصري ۱-۱۷۹مخ.

۳. د کوه بابا لوړه څوکه شاه پولادي او د شرقي غور دای پولاد د دغه امیر په نامه موسوم دي.

۴. ابو مسلم عبدالرحمن بن مسلم ډېر مدبر او لایق سړی و په خراسان کي یې دوه لکه اتباع درلودل، که مسلمانان وه، که زردشتیان ټولو ده ته عقیدت لاره او امام یې باله. د الفخري (ص ۱۷۹) او دینوري (ص ۳۵۴) له روایته ښکاري چي نصر بن سیار د عباسیانو د خراسان حکمران د ده په باب کي د خلافت دربار ته داسي راپورټ ورکړي و: دوه لکو تنو ابو مسلم ته لاس ورکړی دی زه په ایرو کي پټ اور وینم که مو دا اور مړ نه کړ، ډېر بدنونه او ککرۍ به په کي ایرې شي؛ نو عباسیان له ده څخه وبیریده او منصور دوهم عباسي خلیفه په ۱۳۷هـ دی وهاژه؛ خو طرفدارانو یې تر ډېره جګړې کولې.

پښتانه په حواله هسي وايي:

چي امير کروړ جهان پهلوان د امير پولاد سوري زوی و او دا امير په جګړو کي د ابو مسلم خراساني کلک ملګری او بريالی مل و. که څه هم د امير کروړ نوم نور مؤرخانو نه اخلي او منهاج سراج تش دوني وايي چي پس له امير پولاده د ده زامن د غور واکوال وه[1] مګر محمد بن علي البستي په تاريخ سوري کي د امير پولاد يو زوی چي امير کروړ جهان پهلوان سوري غوري دی، ستايي او د ده پښتو اشعار را نقلوي او داسي ښکاري چي امير کروړ جهان پهلون ډېر شجاع او اديب او د قلم او توري څښتن و.

که څه هم تاريخ سوري اوس نشته، مګر د پټي خزانې مؤلف د لرغوني پښتانه په حواله ا امير کروړ په باب کي لاندي معلومات موږ ته سپارلي دي.

"نقل کا زبدة الواصلين، شيخ کټه متی زی غورياخيل پخپل کتاب "لرغونی پښتانه" کښي، چي دی نقل کا له "تاريخ سوري" څخه، چي په بالشتان[2] ئې کتلی او موندلی ؤ، شيخ کټه عليه الرحمه هسي وايي چه په تاريخ سوري کي راوړي:

چي امير کروړ د امير پولاد سوری زوی ؤ، چه په کال ۱۳۹ سنه هجري، د غور په منديش[3] کي امير سو، او "جهان پهلوان" ئې باله. وائي چه د غور کوټونه او د بالشتان او خيسار[4] او تمران[5] ماڼی، او برکوشک[6] ئې تول ونيول، او د رسالت له کهوله ئې په خلافت کي ډېر کومکونه وکړل.

نقل کا: چي امير کروړ، ډېر غښتلی او پهلوان ؤ، په يوه تن له سلو جنګاورو سره جنګېده، ځکه ئې نو "کروړ" باله، چه معنی ئې ده کلک او سخت. وائي: چه امير کروړ به په دوبی[7] زمين داور کي ؤ، او هلته ئې ماڼۍ درلوده چی کټ مټ د منديش په شان وه او په دغه ځای کي ئې ښکار کاوه او عشرت. په تاريخ سوری کي راوړي: چي دا اميران له پېړيو په غور او بالشتان او بست کي وه او د هغه سور نومی له اولاده دي، چه د سهاک له پښته وه. امير پولاد په هغه دعوت کي شريک ؤ، چه ابوالعباس سفاح د بنی اميه سره جګړه کړله او ابومسلم ئې هم مرستی ؤ. شيخ کټه عليه الرحمه له تاريخ سوري نقل کا چي امير کروړ عادل او ضابط او د ښې وينا خاوند و، ده به هر کله شعرونه ويل. په کال سنه ۱۵٤هـ د پوشنج[8] په جګړو کي مړ شو او تر ده وروسته يې زوی امير ناصر ايوادونه ضبط کړل او د غور او سور او بست او زميندا‌ور پر مځکو خاوند شو".[9]

---

۱. طبقات ناصري ۱-۱۷۹ مخ.

۲. بالشتان د جنوبي غور مشهور ښار و چي مؤرخانو والشتان هم ليکلي دی اوس هم د بالشتان علاقه د غور جنوبي شرقي خوا ته د کندهار تر تيري وروسته په دغه نامه يادېږي.

۳. د غزنويانو او غوريانو په وخت کي منديش مشهور ښار و چي بيهقي او ګرديزي او جوزجاني يې هم نوم اخلي.

٤. د خيسار کلا په غزنوي او غوري دورو کي د مغلو تر تاړاکه مشهوره وه اوس قيصار په سيمي پوري مربوط دی.

۵. تمران د تيموري قبيلې ځای چي د غور شرق کي و او د اوسني ګيزو سره نژدې و. د دايکندي جنوب ته.

٦. برکوشک يعني لوړه ماڼۍ چي فيروزکوه کي وه.

۷. په اصل کي دوبي دی خو ژمی به اصح وي؛ ځکه چي زميندا‌ور د غوريانو د ژمي دارالملک و. د طبقات ناصري ۱۸۱ مخ.

۸. پوشنج - د ياقوت په قول له هراته لس فرسخه ليري يو تېنګ ښار و. دا ښار د هرات نيم غوندي و چاپير يې خندق لاره (حدود العالم).

۹. سوريان وروسته هم په تاريخ کي مشهور دی، لکه په ۹٤۷هـ چي له دوی څخه مشهور شير شاه په هند کي پاچا شو، د

د امیر کروړ کورنۍ او شاهۍ له بابه دغه لوړ معلومات د تاریخ سوري په حواله مستند او ټینګ دي، که څه هم نور مؤرخین د ده د نامه تصریح نه کوي؛ خو اساساً دا بیان له نورو تاریخي متنو سره مخالفت هم نه لري. امیر پولاد او سوریانو کورنۍ او د دوی معاصرت او کومکونه له ابو مسلم سره دا ثابتوي چې دوی په غور کې لوی لاس درلود او په دې کې تاریخونه متفق دي؛ خو پټه خزانه د لرغوني پښتانه په حواله له تاریخ سوري څخه دا خبره هم ښکاره کوي چې په هغه وخت کې د سوریانو ژبه پښتو وه او لکه چې اوس هم ځیني سوري خلک په بادغیس کې پښتو وایي د دوی پخوانو اجدادو هم پښتو ویله. امیر کروړ تر اوسه هم په پښتنو کې په افسانوي ډول مشهور دی- مثلاً که وغوايي چې د یوه شي قدامت بیان کړي وایي: د کروړ له وختو دی؛ نو ګویا کروړ د پښتنو یو پخواني تاریخي پهلوان دی چې د پښتو ژبې پخوانی شاعر هم ګڼل ګیږي.

د پښتو ډیر زوړ او پخوانی شعر:

د پښتو په خورا زوړ او پخوانو ادبي آثارو کې چې تر اوسه زموږ لاس ته راغلي دي د امیر کروړ سوري یو حماسي epic شعر دی چې پټې خزانې د تاریخ سوري په حواله خوندي کړی دی.

هغه وخت چې د پارسي ژبې لومړني شعراء لکه ابو حفص سغدي او عباس مروزي (دوهم هجري پیړۍ) او حنظله بادغیسي (متوفي ۲۲۰هـ) او فیروز مشرقي (۲۸۰هـ) او بوسلیک ګرګاني (۲۸۰هـ) لا دنیا ته نه وه راغلي، زموږ د پښتونخوا په غربي څنډو او د بادغیس او هرات او غور په سیمو کې د پښتو ژبې د شعر ږغونه اوریدل کیده او زموږ توریالي مشران لکه د توري پر میدان چې پهلوانان وه، دغسي د ادب او شعر پر ډګر هم دمخه وه.

داسي ښکاري چې په سوریانو کې د پښتو شعر د اسلام له ابتداء څخه موجود و؛ ځکه چې د امیر کروړ د ژوند وخت پس له ۱۰۰هـ څخه شروع کیږي او بیا موږ وینو چې په دغو سوري خلکو او هم د غور په اوسیدونکیو کې د سلطان محمود تر عصره د ٤۰۰هـ په حدودو کې هم د پښتو شعر ازانګي پورته وې؛ نو له دې څخه ثابتیږي، چې د اسلامي دورې په لومړیو څلورو سوه کالو کې غور او سوري قبایل د پښتو د شعر او ادب زانګو وه او په دغو وختو کې پښتو ژبې پاخه اشعار او ادبي آثار درلودل.

پټه خزانه د امیر کروړ سوري یو شعر هسې را نقل کوي:

په تاریخ سوري محمد بن علي البستي داسي کښلي دي چې: د عباسي دعوت په جنګو کې چې امیر کروړ ډیري سوبې[1] وکړلې؛ نو یې دا بیتونه وهیل چې ویاړنه[2] یې بولي. هغه دا دي چې شیخ کټه علیه الرحمه له تاریخ سوري را نقل کړی دی:

ویاړنه د امیر کروړ جهان پهلوان

زه یم زمري پر دې نړي له ما اتل نسته
په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته له ما اتل نسته

سوریانو شاهي تر ۹٦۲هـ پوري وه.

۱. سوبه: فتح.

۲. ویاړنه: حماسه ځکه چې ویاړ د افتخار معني لري.

غشی د من[۱] مي ځي، بريښنا پر مېرځمنو[۲] باندې
په ژوبله[۳] يونم[٤] يرغالم[٥] پر تېښتېدونو باندې
په ماتېدونو[٦] باندی له ما اتل نسته
زما د بريو[۷] پر خول تاوېږي[۸] هسک[۹] په نمنځ[۱۰] او په وياړ[۱۱]
د آس له سوهمي مځکه رېږدی غرونه کاندم لتاړ[۱۲]
کړم ايوادونه اوجاړ[۱۳] له ما اتل نسته
زما د توري تر شپول لاندې دي هرات و جروم[۱٤]
غرج[۱٥] و باميان و تخار بولي[۱٦] نوم زما په اودوم[۱۷]
زه پېژندو[۱۸] يم په روم له ما اتل نسته
پر مرو زما غشی لوني[۱۹] ډاري دښن[۲۰] را څخه
د هريوالرود پر څنډو ځم تښتي پلن[۲۱] را څخه

۱. من: اراده.
۲. ميرځمن: دښمن.
۳. ژوبله: جنگ.
٤. يونم: يون کوم.
٥. يرغالم: هجوم کوم – ښايي چي دا کلمه يرغلم وي، لکه د لويک په بيت کي چي يې شرح تيره شوه.
٦. ماتيدونکي: شکست خوړولي.
۷. بري: ظفر.
۸. تاويږي: څرخي.
۹. هسک: اسمان.
۱۰. نمنځ: ستاينه.
۱۱. وياړ: افتخار.
۱۲. لتاړ: برهم.
۱۳. اوجاړ: خراب.
۱٤. جروم: گرمسير.
۱٥. غرج: غرجستان.
۱٦. بولي: يادوي.
۱۷. اودوم: چاره، علاج.
۱۸. پيژندوي: شناسا.
۱۹. لوني: اوري.
۲۰. دښن: دشمن.
۲۱. پلن: پياده

رپي[1] زړن[2] را څخه له ما اتل نسته
د زرنج سوبه مې د توري په مخسور[3] وکړه
په باداری[4] مې لوړاوی[5] د کول[6] د سور وکړه
ستر مي تربور وکړه[7] له ما اتل نسته
خپلو وګړو لره لور[8] پېرزوينه کوم
دوی په ډاډينه[9] ښه بامم[10] ښه ئې روزنه کوم
تل ئې ودنه[11] کوم له ما اتل نسته
پر لويو غرو مي وينا درومي نه په ځنډو په ټال[12]
نړۍ زما ده نوم مي بولي[13] پر دريځ[14] ستايوال[15]
په ورځو، شپو، مياشتو، کال له ما اتل نسته[16]

د دې شعر ښيګړې او ادبی او تاريخی نتايج:

په اسلامي دوره کي دغه يو قديم شعر دی چي له پټې خزانې څخه زموږ لاس ته راغلی دی، که څه هم د پښتو ادب عمومي تحليلي کتنه او انتقادي څېړنه ما د څلورم ټوک دوهمي برخي ته پريښې ده چي هلته به د پښتو ادب مضامين او محتويات مفصلاً راوړم، مګر دلته هري ادبي ټوټې ته بيل بيل ځير کاته په لنډ دول لازم ګڼم، چي له دغو کتنو اوڅېړونو څخه د ادب لومړني مزايا او خصايص څرګندېږي او زموږ وروستني ابحاث هم پر دغو کتنو بنا کيږي.

---

۱. رپي: رپيږي.
۲. زړن: زړور.
۳. مخسور: سرخروي.
٤. باداري: سرداري.
٥. لوړاوي: ترقي.
٦. ګول، کهول: کورني
۷. يعني تربورونه مي ستر کړه.
۸. لور: رواداري.
۹. ډاډينه: اطمينان.
۱۰. بام: تربيه کوم.
۱۱. ودنه: نشو و نما.
۱۲. ټال: معطلي.
۱۳. بولي: يادوي.
۱٤. دريځ: منبر.
۱۵. ستايوال: ستايونکي.
۱٦. پټه خزانه ص ۳۳-۳٦.

۱. د پښتو دا زوړ شعر چي د هجري دوهمي پيړۍ له لومړۍ برخي څخه را پاتي دی له ظاهري پلوه يعني د ژبي او اداء او لغاتو او کلماتو له مخي مخصوص رنگ او زموږ د اوسنۍ ژبي له محاوروي جريانه سره توپير لري ډير داسي لغات او پښتو سوچه کلمات پکي راغلي دي چي اوس متورک او مهجور دی او په عمومي محاوره او ادب کي نه استعماليږي.

د دې شعر له لساني پلټني څخه سړی دا نتيجه اخيستلای شي چي په دغه لومړنۍ دوره يعني په هجري اوله او دوهمه پيړۍ کي پښتو ژبه په غور کي د نورو ژبو له اختلاطه سوچه وه او دا سوچه توب او خالصوالي يې تر ٤٠٠هـ پوري هم ساتلي دی او هر څوني چي په اسلامي دوره کي پيړۍ پر تيريږي، هغوني ژبه له سوچه توبه ليري کيږي او نور عناصر په گډيږي. تاسي دا شعر له سره تر پايه وگوري يو عربي يا پارسي لغت پکي نشته، ځيني لغات که يې له پخوانو اريايي ژبو سره مشترک وي، وي به د ځينو کلماتو گرامري کيف او اشتقاقي ډول دا راښيي چي پښتو ژبي پخوا تر اوس قوي بنيه او غښتلي پړي درلود او د ايتمالوجۍ له پلوه يې ډير مزايا او خصايص لرله چي اوس يې متأسفانه بايللي دي، مثلاً په دغه شعر کي د کلماتو د ساختمان او جوړښت له پلوه داسي مواد شته چي اوس يې نه لرو.

الف: پخوا ډير مصادر په ژبه کي د څپلو مشتقاتو سره موجود وه چي اوس فقط له هغو څخه يوه سپکه ريښه موږ ته پاته او نور له منځه وتلي دی. مثلاً يون (تگ او کوچ)، يرغل (هجوم)، رپ (تپش) چي اوس شته؛ مگر مصدري او فعلي صورتونه يې ورک شوي دی؛ خو په دغه شعر کي د يونم (ځم)، يرغال (هجوم کوم)، رپي (ريږدي) په ډولو شته؛ نو چي مشتق افعال يې مستعمل و، بايد دغو مادو ته په ژبه کي د (يونل يرغالل رپل) مصادرو ته هم قايل شو چي اوس مستتعمل نه دی.

ب: زړن (دلاور)، دښن (دشمن)، پلن (پياده) اوس مستعمل او ژوندی نه دی؛ خو داسي ښکاري چي (ن) د نسبت يا فاعليت ادات په آخر کي لري او لومړۍ کلمه له زړه او دوهمه له (دښ) يعني عيب او زشتي او دريمه له پل (قدم) څخه جوړ شوی دی چي اوسني اشکال يې دا دي: زړه ور، دښمن، پلي.

ج: ځيني پخواني کلمات چي دې زاړه شعر له زړې ژبي څخه را خوندي کړي دی د ژبي پخواني وسعت او ارتوالي څرگندوي او دا ښکاره کوي چي د ژبي ډير مواد او ښه ښه کلمات متأسفانه له لاسه وتلي دی، مثلاً په دې شعر کي من خورا قديمه کلمه ده، چي په سنسکريت کي هم وه او موږ پخپله مستعمله ژبه کي د منل مصدر لرو او مشتقات يې هم وايو؛ خو ريښه يې نه ده راته معلومه چي دا مصدر له کومه شوی دی.

که دقيق شو د منل مصدري عنصر من دی چي په سنسکريت کي د زړه او روح او ارادې معني لري[1] ابو ريحان البيروني وايي چي من اصلاً زړه ته وايي، اما ځکه چي د ارادې محل او ځای زړه دی؛ نو په څپله اراده هم من بولي[2] او په دې شعر کي هم من د ارادې معنا ورکوي او له دغي مادې څخه د ارياپانو د يوه پخواني پلار او مشهور مقنن مانو نوم هم جوړ شوي دی، چي د منونکي او فکر کونکي معني لري[3] او دا ټوله اسناد دلالت کوي چي من پخوانۍ ارياپي کلمه ده، چي په پښتو کي هم وه.

دغسي هم دريځ پخوانۍ پښتو کلمه ده، چي اوس يې موږ نه لرو. که د ژبي د اصليت له پلوه د دغي کلمې عنصر ته وگورو بايد له دريدل او ځاي څخه جوړه شوې وي، داسي دوې نوري کلمې هم په پخوانو اشعارو کي شته لکه خاتيځ (د

---

۱. هندي قاموس ص ۷۰۳.

۲. کتاب الهند ج۱، ص ٤٥.

۳. د دې کتاب په ۱ ټوک ۳ برخه کي د من، مانو شرح وگورئ.

ختلو ځاي مشرق) لوديځ (د لويدلو چاي = مغرب).
له دغو قديمو الفاظو څخه ښکاري، چي پخوا ژبي په دې ډول د ظروفو نومونه درلودل چي ورو ورو محوه شوي دي. فقط دغه درې کلمې اوس د پټې خزانې د اشعارو په استناد راته پاته وې.
۲. د معني له پلوه هم دا لومړنی شعر ډېر قدیم دی، له حماسي اشعارو څخه چي د دنیا د ادب یوه غوره برخه ده دا یو برجسته او غوره نسخه ګڼله کیږي. د شاعر لوړ حماسي مقام او د ده د توري غلبه او بری ښه تصویر کوي شاعر د خپل پاخه شعر او غښتلي قريحې په مرسته خپله وياړنه په داسي ډول کوي، چي یوه توانا او مقتدر شاعر ته ښايي له دغي وياړني څخه د امیر کروړ ملي مینه او د خپل ټبر د پالني احساسات ښه څرګندیږي او دغه د شعر یوه زړه ټوټه ده چي سړی د هغې زمانې د پښتنو اخلاقي او روحي کیفیت ښه ځني معلوموﻻی شي او د شاعر د احساساتو د محيط هينداره ده، چي د پخواني ژوند مختلف پلونه پکي ښکاري.
۳. د شعر عروضي کیف او وزن هم د غور وړ دی او دا څرګندوي چي ژبي پخوا د عروضو او بحر له پلوه هم پاخه اشعار درلوده او دغه مخصوص بحور له خورا زړې زمانې څخه په شعر کي موجود وه او د دې ژبي عروضي او بحري هويت او ځنګوالي بيل دی او پوره استقلال لري او د عربو د خليل بن احمد علم العروض ﻻ دې مځکي ته نه و راغلي، چي دلته د اشعارو مخصوص ملي او پښتني عروض او بحور موجود وه او تر اوسه هم دغه آثار په ملي اشعارو کي پاته دي چي د پښتو د علم او ادب په تدوين او ترتيب کي ښايي دغو مخصوصو بحرو او اوزانو ته خاصه توجه وشي.
٤. د تيرو څېړکيو له څېړنو څخه تاسي ته د پښتو ځيني قديم آثار ښکاره شوه؛ خو د دې شعر له لوستلو څخه موږ دغه ادبي نتايج را کښلای شواي چي د ژبي ادبي جوړښت او ښکلا را ښيي.
الف: پښتو ادب د ۱۰۰هـ کال په حدودو کي د ادب او احساساتو د څرګندوني وړ و او داسي پوخ او غوره شعر يې درلود نو ښايي چي دې ژبي لږ تر لږه ۵۰۰ کاله دمخه ادبي عمر تير کړي او د هلکيني او زلميتوب مراحل ئې تير کړي دي چي دې درجې رشد او کمال ته رسيدلې دی ځکه چي دا شعر خو د ژبي د ادبي مراحلو لومړی شعر نه ګڼل کيږي.
ب: د هري ژبي ادب چي نضج او پوخوالي ته نه وي رسيدلې په لومړنيو دورو کښي د نورو ژبو تر اثر ﻻندي کيږي. د پارسي ژبي په لومړنی ادب کي د عربي درنه اغيزه دوني ښکاري چي تر ٤٥۰هـ پوري ﻻ هم دا ادب د عربي فکر او عربي ادب تر اثر ﻻندي و.[1]

---

۱. د پارسي ژبي په ابتدائي ادب کښي دا اثر ښکاره دی، شاعران د عربي فکر او ژبي پيروي کوي او مضامين ځني اخلي. مثلاً د ابو نواس دا شعر (ليس من اللّٰه بمستنكران يجمع العالم في واحد) عنصري داسي اخيستي دي.

کس از خداي ندارد عجب اگر دارد　　همه جهان را اندر يکي تن تنها

د متبني عربي شاعر دا بيت (اذا رايت نيوب الليث بارزة　فلاتظن ان الليث مبتسم) اسدي طوسي په ګرشاسپ نامه کي داسي تروښلي دی:

نبايد از خنده شه دلير　　نه خنده است دندان نمودن ز شير

اما عربي فکر په پارسي شاعرۍ کي هم ډير دی لکه خاقاني چي وايي:

سلام علي دار ام الكواعب　　بتان سيه چشم عنبر ذ وابب
رسوم الطلل والديار الدوارس　　چو بر صدر منشور تواقع صاحب
سمن زار گشته ديار سلاحف　　چمنزار گشته و جار ثعالب

په نثر کي هم د عربي اثر خورا ډير دی، لوی استاید د عربي ژبي تعابير را اخلي او ترجمه کوي يې مثلاً د بيهقي د تاريخ دا عبارات:

دې شعر ته چي ګورو نه د عربي او نه د پارسي اثر پکي ښکاري، پارسي خو په دغه وخت کي لا پوره ژبه نه وه؛ مګر د عربي يا مثلاً د پهلوي ژبي اغيزه هم په دې شعر کي نشته؛ نو دا ويلاي شواي چي د دې شعر د ويلو پر وخت پښتو په غور کي خپل ادبي پوخوالي ته رسيدلې وه، چي دا شعر د نورو ژبو له اغيزو څخه تش دی او له دې څخه هم موږ نتيجه اخيستلاي شو چي پښتو تر دې شعر دمخه بايد ډېر ادبي مراحل تير کړي وي، چي د ۱۰۰هـ کال په شا و خوا کي دې پوخوالي او متانت او نضج ته رسيدلې وي.

څرګندونه:

د سوري قوم او غوريانو څخه نور شاعران هم شته، چي په وروستو زمانو اړه لري ځکه چي زموږ دا تاريخ د عصر په لحاظ مسلسل ليکل کيږي؛ نو به يې وروسته پر موقع ذکر وشي اوس دلته تر لومړني شاعر وروسته نور د ده عصر ته نژدې ويونکي او شاعران ذکر کوو.

۲. هاشم د زيد سرواني زوی
۲۲۳-۲۹۷هـ

لکه چي تاسو وليدل د اسلام په لومړۍ او دوهمه پيړۍ کي د پښتونخوا غربي خواوي او د غور مځکي د پښتو ادب د پرورښت او ودي زانګو وه او دغه سوري کورنۍ وه چه له دوی څخه د غور د شاهنشاهۍ مشهوره کورنۍ پيدا شوه او ډېر مشهور شاهان او فاتحان لکه سلطان غياث الدين او معزالدين محمد او نور پکي راوهتل او د دغي کورنۍ په وخت کي بيا غور د پښتو شعر او ادب ټاټوبي و چي د دوی د دربار شعراء به وروسته تاسي وپيژني؛ خو د ټولو پلټونو څخه داسي ښکاري، چه د غور او د هغه ځاي په نژدو ځمکو کي پښتو يوه ادبي او درباري ژبه وه او د پښتو لومړني آثار هم په دغو سيمو پوري اړه لري.

تر جهان پهلوان امير کروړ وروسته چي بل ادبي پخواني اثر زموږ څخه شته، تقريباً سل کاله د ده تر عصر را هيسته دي او دا ادبي نخښه هم د غور په جنوبي خوا او د هلمند د غاړو په هغو ښارو پوري اړه لري، چي په هغو وختو کي يې روڼ مدنيت درلود او اوس وران دی. د پښتو بل شاعر او اديب چي وروسته موږ ته معلوم دي ابو محمد هاشم بن زيد السرواني البستي دي چي د ده اشعار او احوال هم د پټي خزانې مؤلف د شيخ کټه له لرغوني پښتانه څخه نقل کړي او زه يې دلته کټ مټ را اخلم:

”ذکر د زبدة لفصحاء ابو محمد هاشم ابن زيد السرواني البستي رحمة الله عليه... په لرغوني پښتانه کي هسي

(و بار داد بار داني سخت بشکوه) چي دوهمه جمله د عربي په ډول حال دی له دمخه ذوالحال څخه او دا حال بايد جليلا يا خطيرا يا مهيبا وی.

يا دا جمله (يافتم امير را در خرګاه) چي عيناً لکه عربي او فعل وروسته مفعول به وروسته مفعول فيه دی؛ خو په پارسي به داسي وي (امير را در خرګاه يافتم) چي اول مفعول دوهم مفعول به او دريم فعل راځي.

داسي جملې ډيري دي لکه و آنچه کردند خود رسد فاداش آن بديشان.

د محمد بلعمي د تاريخ طبري په ترجمه کي دغه اثر ښه څرګند دی مثلاً (اين نامه تاريخ پسرجرير است، پارسي ګردان هر چه نيکوتر چنانکه اند روي نقصاني نيفتد) تاريخ طبري.

حکایت کا شیخ کته[1] رحمة اللّٰه علیه چي ابو محمد هاشم د هلمند په سروان په سنه ۲۲۳ هجري قدسي زیږیدلی او په بست که یې له علماء او فصحاء لوستنه وکړه، او وروسته ولاړ، په عراق یې په کلو کلو د لویو ائمه وه څخه سمع وکړه، او ابن خلاد چي څرګند و په ابي العیناء سره یې په بغداد کي عمرونه تیر کړل او له هغه یې د عربي بلاغت او اشعار ولوستل او په ۲۹٤هجري قدسي کال له عراقه بیرته راغي درې کاله وروسته په بست کي وفات شو نقل کا: چي ابو محمد په عربي او فارسي او پښتو شعرونه ویل او هغه وخت چي د ده استاد ابن خلاد ړوند شو؛ نو ده به یې خدمت کا او د هغه څخه به یې خواږه شعرونه په ادب کي د عربو ارویدل. ابو محمد له عربي څخه په پښتو د خپل استاد ډیر شعرونه هم را اړولي دی.[2]

د لرغوني پښتانه په استناد دا بیان د ابو محمد هاشم علمي او ادبي ژوندون را ښکاره کوي او داسي څرګندیږي چي د ۳۰۰هـ تر حدودو پوري د عربو مدنیت، د عربي ژبي سلطه او د عربي ادابو او علومو اثر د پښتونخوا په اکثرو برخو کي خپور شوي و او د دې مځکي غربي خوا ډیره تر دې اثر لاندي وه. که څه هم په دغه عصر کي د غربي پښتونخوا خلکو د آل طاهر (۲۰۵-۲۵۹هـ) تر بیرغ لاندي استقلال وموند او څه نه څه د پارسي ژبي ادب هم په دغو زمانو کي ژوندی شو مګر عربي علمي او ادبي او درباري ژبه وه او پوهانو خپل اثار په دغه ژبه لیکله. په خراسان کي ډیر د عربي لیکوال او پوهان وه چي دوي د عربو د مدنیت او ادب په خپرولو کي ښه خدمتوني وکړه. مثلاً صالح بن عبدالرحمن سیستاني د حجاج بن یوسف په امر له ۸۱-۸۷هـ دواوین او دفاتر له پارسي څخه عربي ته نقل کړه[3] او ډیر علماء په عربي علومو بوخت شول، لکه ابو خالد وردان کابلي موسوم په کنکر چي د علي بن حسینؓ (٤٤-۷٤هـ) له ملګرو څخه و او د حجاج له ظلمه مکې ته وتښتیدي[4] یا بشار بن برد د عباسي دربار ړوند شاعر چي اصلاً د تخارستان و او په ۱٦۷هـ وژل شوي دی[5] یا ابو عمر د شمر بن حمدویة الهروي چي د عربي اخبار او اشعارو پوهاند و او یو عربي د لغت کتاب یې هم کښلی او په ۲۵۵هـ مړ شو[6] یا ابو حاتم سهل بن محمد سجستاني چي د عربو په لغت او شعر او نحو کي عالم ؤ او ۳۲ کتابونه یې لیکلي دي[7] چي له هغو څخه کتاب المعمرین (د لیدن طبع ۱۸۹۹ ع) او کتاب النخله (د ایټالیا د پالرمو طبع ۱۸۳۷ ع) مشهور دي او دا عالم هم په ۲۵۵هـ کي مړ دي[8] او احمد بن ابو طاهر طیفور خراساني (متوفي ۲۸۰هـ) چي ۵۰ کتابونه یې لیکلي چي تاریخ بغداد (د لایبزیک طبع ۱۹۰۸ ع) او کتاب المنثور و المنظوم او بلاعات النساء (د مصر طبع ۱۹۰۷ ع) یې مشهور دی او ابو زید بلخي (متوفي ۳۲۲هـ) د صور الاقالیم او نورو ډیرو کتابو خاوند او ابو داود سجستاني د معروف سنن خاوند[9] (متوفي ۲۷۵هـ) او نور ډیر پوهان او علماء له پښتونخوا څخه وپاڅیدل، چي د عربي علومو او ادابو ستوري دي.

---

۱. د دې مؤلف احوال به په دې کتاب کي پر خپل ځای راشي.
۲. پټه خزانه ص ۵۹.
۳. الفهرست ص ۳۳۸.
٤. مجالس المؤمنین.
۵. الاغاني ج۳ ص ۱۹.
٦. طبقات الادباء ج۱ ص۲٤۰.
۷. الفهرست.
۸. آداب اللغة العربیه ج۲ ص۱۸۵.
۹. آداب ج۲.

يو له دغو پوهانو څخه ابو محمد هاشم دی چي دا سړی د عربي ادب پوهاند و او لکه پټه خزانه چي وايي: په کلو کلو د علم او ادب د زدکړي لپاره په بغداد کي ميشت و او د عربو د ادب له هغه مشهوره استاده يې استفاده کړله، کوم چي ابن خلاد نوميد او په ابي العيناء[1] معروف و.

هاشم په سروان[2] کي زيږيدلي او په بست کي يې ژوند تيراوه، او هم هورې په ۲۹۷هـ کال مړ دی. د پټې خزانې له ليکه ښکاري چي دا سړی د پښتو ژبې ليکوال هم و او ده په پښتو يو کتاب کښلي و، چي په هغه کي يې د عربو د اشعارو فصاحت او بلاغت بيان کړی و او نوم يې و "د سالو وږمه".[3]

متأسفانه چي دا کتاب اوس نشته او د پښتو په منثور ادب کي چي د کوم لومړني کتاب نوم موږ ته معلوم دي، همدغه د سالو وږمه ده چي د "نسيم ريگستان" معني لري او داسي ښکاري، چي دا کتاب به د پښتو له لومړنيو مؤلفانو څخه و.

د هاشم اشعار:

د دې عالم او اديب سړي کوم شعر چي زموږ په لاس کي دی، د پټې خزانې په ذريعې له لرغوني پښتانه څخه را نقل شوي دی. لکه دا کتاب چي تصريح کوي هاشم سرواني د درو ژبو شاعر و، هم په پښتو او هم په عربي او فارسي اشعار ويل؛ خو د ده عربي يا فارسي کوم شعر د پټې خزانې مؤلف نه دی را نقل کړی، که يې فارسي شعر زموږ په لاس کي واي؛ نو به يقيناً د دې ژبې له اولو شاعرانو څخه هم واي.

پټه خزانه ليکي:

"ابن خلاد چي يو ظريف او اديب سړی و په شعر يې درهم ستايلي دي او ابو محمد هغه شعر داسي په پښتو را اړولي دی:"

شعر

ژبه هم ښه وينا کاندي چي يې وينه[4]	د خاوند په لاس کي زر او درهمونه
ژبور[5] ور له ورځې وينا يې اروي	د درهم خاوندان تل وي په وياړونه[6]

---

۱. دا سړي د عربو مشهور اديب او ظريف و، چي نوم يې محمد بن القاسم يا ابن خلاد بن ياسر بن سليمان او کنيت يې عبدالله و. دی له لويو استادانو څخه روايت کوي او ډير مشاهير لکه صولي او ابن نجيح او احمد بن کامل د ده ادبي شاگردان دي. په ۱۹۱هـ په اهواز کي وزيږيد او په ۲۸۲ يا ۲۸۳هـ په بغداد کي مړ دی. په ځوانۍ کي ړوند شوي و، د عربي ډير پاخه اشعار لري او ډير فکاهي اشعار او مضامين له ده را نقليږي (معجم الدباء ص ٦١ ج۷ هفت اقليم).

۲. سروان د هلمند د غاړي مشهور ښار و چي اوس يې ساروان کلا بولي او د هلمند پر شرقي څنډه د يوه کلي په ډول شته. ابن حوقل وايي چي: د سيستان يو وړ ښار دي، ميوې، خرما، انگور لري. له بسته دوه منزله ليري دی (تقويم البلدان ص ۳٤۲). اشکال العالم ليکي: ذروان تر قرمين کوچنی او فيروز قند ته نژدې دی (ص ٦٦ قلمي) حدود العالم يې د خراسان په گرمسير کي گڼي.

۳. پټه خزانه ص ۵۹.

٤. وينه د (وي) مزيد عليه د باشد په معني.

۵. ژبور: لسان، سخنور.

٦. وياړونه: افتخارات.

که درهم یې ځني ورک شو، سي نتلي[1] | پر نړۍ یې وي په خړو[2] پیژندونه[3]
که بډاي سونې[4] وبولي[5] خلق وایي | دا وینا ده ربښتیانیه[6] له ربښتونه[7]
که یې روزلي وهایي ربښتیا خبره | نور وهایي د خو سونې دي تیرونه[8]
هو درهم ښندي هر چا له لویه برخه | د درهم د خاوند هر ځاي پرتمونه[9]
درهم ژبه ده که څوک ژبور کیږي | ده وسله[10] که څوک په کاندي قتالونه[11]

دا اوه بیته چي زموږ لاس ته راغلي دي د پښتو ژبي د دریمي هجري پیړۍ ډول او ادبي صبغه او رنگ راښیي.

که موږ د عربو د ادبي تاریخ کتابو ته رجوع وکړو؛ نو هلته د ابن خلاد ذکر مومو، لکه چي دمخه مي د ده د ژوند لنډ حال ځني را نقل کړ؛ خو د ابن خلاد هغه عربي شعر چي زموږ هاشم سرواني په پښتو ترجمه کړی دي یاقوت حمودي یې را نقل کوي، چي دلته یې زه د پښتو شعر د مقایسې لپاره را اخلم:

من کان بملک درهمین تعلمت | شفتاه انواع الکلام فقالا
و تقدیم الفصحاء فاستمعوس الیه | ورایته بین الوری مختلا
لولا درهمه اللتی فی کیسه | لرایته شرالبرتة حالا
ان الغنی اذا تکلم کاذبا | قالو صدقت و ما نطقت محالا
و اذالفقیر اصاب قالو لم تصب | و کذبت یا هذا و قلت ضلالا
ان الدرهم فی المواظن کلها | تکسو الرجال مهابة و جلالا
فهی اللسان لمن اراد فصاحته | و هن السلاح لمن راد قتلا[12]

مقایسه او نتیجه:

د پښتو د ادبي نخښبه چي موږ په تحلیلي کتنه وگورو او د امیر کروړ له هغه لومړني شعره سره یې مقابله کړو؛ نو له مقایسوي تحلیله داسي نتیجه اخلو:

۱. په دوهمه هجري پیړۍ کي د پښتو ژبه او شعر په غورکي سوچه او خالص و؛ خو په دریمه پیړۍ کي د عربي ژبي

---

۱. نتلي: زبون.
۲. خړه: بدي.
۳. پیژندون: معرفي.
٤. سونې: کذب.
٥. وبولي: وهایي، بگوید.
٦. ربښتیاینه: راستي.
۷. ربښتون: صادق.
۸. تیرون: تجاوز.
۹. پرتم: شوکت، مهابت.
۱۰. وسله: سلاح، د جنگ اسباب.
۱۱. پټه خزانه ٥۹.
۱۲. معجم الادباء ج۷ ص٦۱.

لغوي او ادبي اغيزې پرې شوي دی او د عربي فکر او ادب اثر په هغو ځايو کي غالب شوی دی، چي د عربو د حکومت اثر هلته ډير و، يعني په خراسان او د پښتونخوا پر غربي څنډو تر زابلستان او کابل پوري دا عربي اثر خپور شوی و.

۲. په دريمه هجري پيړۍ کي لا پښتو ژبي ځيني هسي لغتونه او کلمات او تعابير درلوده چي اوس نشته او د هاشم په دې شعر کي خوندي دی، مثلاً وياړونه، خړی، سوښي، بلل، تيرونه، چي اوس يې ريښې په ژبه کي بل راز شته مثلاً وياړ: وياړل، سوښی ويشتل: تيري کول.

۳. د هاشم دغه قطعه شعر د بحر او وزن له پلوه هم عربي بحورو او عروضو ته نژدې دي، حال دا چي د امير کروړ شعر وزناً او عروضاً ځانته خاص رنګ او صبغه لري.

نو د دغو درو، نتيجو تر لوستلو وروسته وايو چي ابو محمد هاشم د پښتو په ادبي تاريخ کي د عربي فکر او ادبي تحول اول نماينده او ښکارندوي دی او د ده دا يوه قطعه شعر د خپل عصر د ادبي حالت څرګندونه په ښه ډول کوي.

څلورم څپرکی

لوديان

۳۵۰-٤۰۰هـ

لوديان هم لکه سوريان د پښتنو يوه مشهوره کورنۍ ده چي د سلطنت او مشرتانه مرکز وه او پس له ۳۰۰هـ په شرقي پښتونخوا کي د دې کورنۍ د پاچاهانو نومونه اوريدل کيږي؛ ځکه چي دا کورنۍ هم په حکمدارۍ او پاچاهۍ او هم په ادب کي نوم لري؛ نو دلته د دوې تاريخ لږ راوړل کيږي:

لودي د پښتنو يوه قبيله ده، چي دغه کورنۍ هم له دغي قبيلې څخه وه او د الپتګين او سبکتګين د غزني د لومړيو پاچاهانو په عصر کي (۳۵۱-۳۹۰هـ) له دې قبيلې څخه شيخ حميد پر ننګرهار او پيښور تر ملتانه حکمراني درلوده او تر ده وروسته نصر چي زوی يې و پاچا شو او ملتان يې د سلطنت مرکز و. شيخ حميد لودي د ۳۵۰هـ په شاو خوا کي د راجه جي پاله له خوا له لغمانه تر ملتانه حکمدار و د ۳۵۱هـ په شاو خوا کي چي پر جيپاله له غربي خوا کومي حملې کيدې، حميد له ده سره کومک کاوه او په داخل کي يې آزادي او استقلال درلود؛ خو بيا چي سبکتګين پاچا شو؛ نو حميد روغه ور سره وکړه او په ۳۹۵-۳۹۶هـ چي سلطان محمود پر ملتان حمله وکړه، د شيخ حميد لمسی ابو الفتوح داود له دې کورنۍ څخه پاچا و؛ نو يې ججه ومنله خو تر ٤۰۲هـ دمخه سلطان محمود دی ونيو او په غزنه کي يې بندي کړ[1].

ګرديزي ليکي چي: محمود په ٤۰۱هـ د ملتان قرامطه سره ومروړل او داود بن نصر يې غزني ته راوست او د غورک[2] په کلا کي يې بندي کړ، خو هورې ومړ.[3]

که څه هم پخواني مؤرخين د شيخ حميد د کورنۍ افغانيت ته اشاره کوي؛ مګر فرشته تصريح کوي چي دوې پښتانه وه او تر ده وروسته نور مؤرخين هم لکه حيات خان په حيات افغاني او شير محمد په خورشيد جهان او مليسن انګريز

---

۱. فرشته ص ۱۷-۲۷.

۲. غورک: د کندهار شمال غربي خوا ته ۳۰ ميله دی.

۳. زين الخبار ص ٥٥.

په تاريخ افغانستان کي دوی پښتانه بولي؛ خو اوسني ځيني مؤرخان د دې کورنۍ پښتونواله نه مني[1] او دوي عربي نژاد ګڼي مګر د پټې خزانې مؤلف هم دوی پښتانه بللي او پښتو اشعار ئې ځني را نقل کړي دي.

پټه خزانه خپل سند هم ښيي او دا مطالب له کليد کامراني څخه نقل کوي او کليد کامراني هم له يوه کتابه اقتباس کوي چي اعلام اللوذعي في اخبار اللودي نوميد؛ ځکه چي دا کتاب په ٦٨٦هـ د يوه لودي سړي له خوا کښلي شوی دی نو د دوی د پښتونوالي مهم او زوړ سند هم دغه دی او موږ کولای شو چي د دې کتاب پر تصريح اعتماد وکړو.[2]

له دې کورنۍ څخه پخوانو مؤرخانو درې تنه (حميد، نصر، داود) ذکر کړي دي، چي پاچاهان وه؛ مګر پټه خزانه د شيخ حميد يو وراره شيخ رضي هم ذکر کوي چي ده د خپل تربور سره يوه شعري معارضه او مناقشه کړې ده.

د لوديانو دا سلطنتي او ادبي کورنۍ که څه هم سلطان محمود منحله کړه او پس له داود بل پاچا نه شو پاتي؛ مګر وروسته هر وخت لوديان په تاريخ کي نوم لري. له دې څخه مشهور او نام دار خلک راوځي او په ٨٥٥هـ بيا د ټول هند سلطنت نيسي او د لودي پاچاهانو برم تر ٩٣٢هـ پوري په هند کي دوام کوي. سلطان بهلول، سکند، ابراهيم د دې قبيلې مشهور شاهان دي چي د پښتو ادب مميزه له دوی سره د سلطنت په ډول ملګرې ده؛ ځکه چي دا کتاب زه د عصر او زمان د تسلسل په لحاظ ليکم؛ نو به د شيخ حميد د کورنۍ ادبي آثار دلته راوړم او د نورو لوديانو آثار به پر خپل خپل موقع دروښيم.

٣، ٤. شيخ رضی او نصر لودي

شيخ رضی او نصر لودي دواړه د شيخ حميد له کورنۍ څخه دي چي رضي د حميد وراره او نصر يې زوی دی او د مؤرخانو په قول تر شيخ حميد وروسته د ده زوی نصر پاچا شوي دی او رضي سلطنت ته نه دی رسيدلی.

د پښتو ژبي د دغو دوه پخوانو شاعرانو احوال پټه خزانه داسي راوړي:

"ذکر د امير الفصحا شيخ رضي لودي: پوه شه په دې چي کامران خان ابن سدو خان په ښهر صفا[3] کي په سنه ١٠٣٨ هجري يو کتاب وکيښ چي کليد کامراني يې نوم و په دې کتاب کامران له کتابه د شيخ احمد بن سعيد اللودي چي په سنه ٢٨٤هـ يې کښلي او نوم ئې اعلام اللوذعي في اخبار اللودي دی هسي نقلل کا چي شيخ رضي لودي د شيخ حميد لودي وراره و چي شيخ حميد په ملتان پاچا شو نو يې خپل وراره پښتونخوا ته وليږه، چي د هغو غرو خلک د اسلام دين ته راولي. شيخ رضي راغي دوه کاله د کسي[4] په غرو ګرځيده او هلته يې مخلوق مسلمان کړل. نقل هسي کا نصر د شيخ حميد زوی په ملتان کي د ملاحده[5] له استازو سره کښيناست او له دوی څخه يې د الحاد او اسماعيلي فرقې

---

١. مثلاً سيد سليمان ندوي دوی عرب ګڼي (تعليقات هند و عرب ص ٣٢٨).

٢. د کليد کامراني او اخبار الودي شرح به په دې کتاب کي پر خپل ځاي راشي.

٣. ښهر صفا: د کندهار ديرش ميله شمال شرقي خوا ته د کابل پر لار يو ځاي دی.

٤. د کسي غر: پښتانه د سليمان غر په دې نامه بولي.

٥. د ملاحده استازي يعني د ملحدانو قاصد: ملاحده او اسماعيليه او قرامطه د اسماعيلي شيعګانو درې فرقې دي. اکثرو مؤرخانو دا نومونه سره ګډ کړي دي مګر جلا جلا فرقې دي. قرامطه تر ٢٠٠هـ دمخه په بحرين او خليج فارس او عراق کي ښکاره شول؛ مګر اسماعيليه په ٢٩٤هـ په افريقا کي پيدا او په ٣٥٦هـ مصر ته راغله اما کلاحده د حسن صباح هغه باطنيه فرقه ده چي په ٤٨٣هـ په خراسان کي پيدا شول او د لوديانو تر عصر وروسته نو ځينو مؤرخانو دا نومونه سهواً سره ګډ کړي دي.

حقيقت خو دا دی چي په ملتان کي د اسماعيلي فرقې زور و او دوی د مصر له فاطمي اسماعيلي ډلي سره نژدې وه چا چي دوی

عقاید زده کړل او وګوروهیدي[۱] د دوی په اعتقاد ملحد شو، چي شیخ حمید رحمة الله وفات شو، نو یې پر ځاي نصر کښیناست او د الحاد ترویج یې غوره کړ او قرامطه یې راوستل. شیخ رضي چي سوچه مسلمان و خپل تربور نصر ته یې داسي پاړکي وکښل او ور وایي ستول.

پاړکي[۲]

د الحاد په لور دي ترپلل[۳]
ګروه[٤] دي زموږ و کوراوه[٥]
موږ رونلي[٦] په زیارنه[۷]
تا په تور وتوراوه[۸]
لرغون ولي ګروهیدلي[۹]
چي دي ګوښي[۱۰] اړاوه[۱۱]
هغه ګروه چي دي اوس لړه[۱۲] کړ
چي پلرو دي رڼاوه[۱۳]
لودي ستا په نامه سپک شو
که هر څو مو درناوه[۱٤]

قرامطه یا ملاحده بللي دي اشتباه ده؛ ځکه چي تر ۳٤۰هـ وروسته قرامطه له ترقۍ څخه لویدیلي دي او هم قرمطي ډلي د مصر فاطمي خلفاوه تش په نامه منل حال دا چي د ملتان اسماعیلیانو دوی په ښه ډول منل او بشاري مؤرخ هم تصریح کوي چي دوی د فاطمیانو تر اثر لاندي او په جمعه او خطبه کي هم مخصوص شعابر لري او په اذان کي حي علي خیر العمل وایه چي دا ټول د قرمطیانو شعایر نه دي نو داسي ښکاري چي اصلاً د ملتان دغه خلک اسماعیلي فاطمي وه (تعلقات هند و عرب ص ۳۱۷).

دا اشتباه قدیمه ده ګردیزي چي خپل زین الاخبار په ٤٤۱هـ په غزني کي کښلي دی هم د ملتان قرامطه یادوي. ابن اثیر (ج۹ ص۱۳۲) هم دوی بد اعتقاده ملحدین بولي؛ نو ښایي چي د اخبار اللودي لیکوال هم له دغو تاریخو څخه متاثر شوي وي. په هر صورت د پټي خزانې څخه ښکاري چي لودیان اسماعیلي یا ملاحده نه وه؛ بلکه دا د مخالفینو له خوا یو تور و چي پر دوی اړول کیدي. ښایي چي په ملتان کي به د دغو فرقو تابعان اوسیدل چي سلطان محمود د هغو په بهانه پر ملتان یرغل کړي او لودیان یې بدنام کړي وي.

۱. ګروه اعتقاد و ګورهیدي، یعني معتقد شو (ګروید).
۲. پاړکي: د شعر یوه قطعه. دا کلمه د سلیمان ماکو په تذکرة الاولیاء کي هم شته.
۳. ترپلل اوس ترپلودل وایو یعني غورځیدل.
٤. ګروه: اعتقاد.
٥. وکوراوه اوس کروه کول وایو یعني باطلول، وکوراوه یعني باطل دی کړ.
٦. رونلي: له رونل څخه چي اوس رونول وایي.
۷. زیارنه: اوس زیار د کوښښ په معنی شته.
۸. وتوراوه: یعني تور دي کړ، تهمت زده دي کړ.
۹. یعني پخوا دي ولي اعتقاد کاوه، ولي دي ایمان پر راوړ.
۱۰. ګوښي: یوازي، روسته.
۱۱. له اړول یعني ګرځول څخه فعل دی.
۱۲. لړه: داړول له ریښې څخه، یعني تبدیل دي کړ.
۱۳. رڼاوه: یعني روښانه کاوه ئي.
۱٤. درناوه: له درنول څخه، یعني له هر څو مو لودي معزز کاوه.

نصره نه مو يې له کهاله[1] لودي نه يې په کاوه[2]
زموږ رغاده[3] ستا له گروهه دور ځلوي[4] په رغاوه[5]

شيخ احمد لودي هسي نقل کا، چي نصر لودي هسي د شيخ رضي غبرگون[6] وکاوه:

د الحاد په تور تورن[7] سوم زه لرغون خو ملحد نه يم
زما دښنه[8] هسي تورا[9] کړي که ملحد يم د دښنه يم
له اسلامه نه يم ترپلمه[10] تورانو[11] څخه په ترپله يم
گروه مي هغه لرغوني[12] دی اوس هم کروړ[13] په لرغونه يم
د اسلام پر هسک[14] به ځلم و تورانو ته تياره يم
د دلودي زوی سنتي[15] يم د حميد له لوړ کهاله يم
تورانی دښن چي وايي زه له گروهه په اړه[16] يم
دا يې تور تاسي دروهوي[17] زه مؤمن ستاسي په تله يم

---

۱. کهاله: يعني له کهول او خاندانه.

۲. کاوه: کاوه کي، کوي په قديمو نومو کي راځي. د سردار او هوښيار او زعيم په معناوه د کيانيانو قديمه کورنۍ په دغه نامه وه؛ لکه کی قباد، کی خسرو وغيره د کيدار او کلر په نومو کي هم شته.

۳. رغا، نمبر ۱۲ ولولي.

٤. ورځلوي: يعني لو ورځ او قيامت.

٥. رغا او راغاوه دا دواړه کلمې د روغ يعني درست له ريښې څخه دي، رغول يعني بيزاره کيدل او رابطه څني شلول. د بيت معني دا ده: چي موږ ستا له عقيدې څخه بيزاره يو د قيامت د ورځي په بيزارۍ.

٦. غبرگون: جواب.

٧. تورن: تهمت زده.

٨. دښن، دښنه يې جمع ده.

٩. تورا: د تور له ريښې څخه، تهمت ويل، مگر اوس مستعمله نه ده.

۱۰. نه ترپله يعني نه ځم، نه ځغلم، ترپلل اوس ترپلودل وايو.

۱۱. يعني له تورانيانو څخه يا له تور ويونکيو څخه تښتم، د سبکتگين کورنۍ توراني وه چي د لوديانو سره يې رقابت لاره.

۱۲. يعني دين او اعتقاد مي هغه پخوانی دی، لرغوني يعني قديم.

۱۳. کروړ: ټينگ او محکم.

۱٤. يعني د اسلام پر اسمان به ځليږم د ځلم فعل اوس عام نه دی.

۱٥. يعني سني او د سنت تابع يم.

۱٦. اړه: له اوړيدولو څخه د الحاد په معنی.

۱۷. دروهوي: يعني دروهي مو مگر اوس دروهول نه وايو دروهل مستعمل دی.

د دښنو ويناوي مغبزه[1]   زه لودي يمه څو زه يم[2]

په دې ډول پټه خزانه د خپلو قوي اسنادو په اتکاء د دغو دوه تنو پخوانو پښتنو مشرانو اشعار موږ ته سپاري چې د پښتو په ادبي تاريخ کي ډير مهم دي او هم د ژبي په تحول کي ښې نتيجې ځني ايستلاي شو چي لاند به يې ولولئ.

تحليلي کتنه او نتيجه:

د رضي او نصر دا اشعار چي موږ گورو او د پښتو له دمخنيو او وروستنيو اشعارو سره يې مقابله کوو داسي نتايج ځني اخلو:

۱. د ۳۵۰هـ تر حدودو پوري لا د پښتونخوا پر شرقي خواوه د عربي اثر لږ و، که څه هم د هاشم سرواني نظم د لوديانو تر عصر دمخه دی، مگر ځکه چي د پښتونخوا پر غربي څنډو د عربو فکر او حکومت او ادب اثر ډير و؛ نو د هاشم په نظم کي دغه اغيزې ښه ښکاري، ام د لوديانو نظمونه که څه هم تر هاشم وروسته دی خو د پښتو سوچه توب او د ژبي لغږوالي يې قوی دی او د عربي اثر لږ ښکاره کوي.

۲. د لوديانو له دغو نظمونو څخه ځيني مړه او متروک مواد لاس ته راځي او په دې خاصيت کي د امير کروړ شعر ته ورته دي او دغه آثار موږ ته راښيي چي د غزنوي دورې تر اوايلو پوري لا دې ژبي په شرقي خوا کي مخصوص ډول او رنگ درلود، چي وروسته يې هغه رنگ بدل شو.

مثلاً د تور يعني تهت له مادې څخه په دغو ويناوه کي تورن د صفت په ډول او تورا په مصدري معني او فعل يې وتوراوه او هم توراني داسي کلمات دي چي اوس نشته دغسي هم وکوراوه او رغا او رغاوه او نور ډير نادر مواد لري چي اوس مړه دي.

۳. د دوه عربي لغاتو الحاد او سنتی څخه ښکاري چي د عربي ژبي اثر په دغو وختو کي تش په ديني اصطلاحو پوري محدود و. دغسي عربي اصطلاحات په ژبه او ادب کي ننوتلي وه؛ خو نور د ژوند څانگي ځني نشي وې.

٤. له دغو ويناوه څخه ښکاري چي په دغو وختو کي د پښتنو نفوذ او د پښتو د خپرتيا لمن شرقاً تر ملتانه وه او د پښتونخوا له غرو څخه پښتانه د شرق لوري ته ډير خپاره شوي او د ژبي ادبي نفوذ يې هم له بادغيس او هراته د اباسين تر څنډو پوري شوی دي.

۵. لودي سلطنتي او ادبي کورنۍ که څه هم له پښتونخوا څخه ليري په ملتان کي ميشته وه؛ مگر دوی خپل پښتني تهذيب خوندي کړی و او خپله ژبه يې ساتلې وه او د اسلام سوچه خدمتگاران وه دوي غوښته چي د پښتونخوا په ټولو غرو کي د اسلام رڼا خپره کاندي، لکه چي شيخ رضی لودي په همدې مقصد د سليمان په غرو کي تبليغ کاوه او د لوديانو د الحاد خبري فقط د دښمنانو او د دوی د سياسي مخالفينو او رقيبانو (د سبکتگين د کورنۍ) پروپاگند و ځکه چي نصر لودي په خپل نظم جواب کي له ځانه ښه دفاع کړې او خپل عقايد يې د پخوانو په ډول د سنت تابع بللي دي.

---

۱. مغبزه: مه اروه اما اوس غبزل مصدر مستعمل نه دی.

۲. پټه خزانه ۷۱ مخ.

پنځم څپرکی
د پښتون کورنۍ

يوه تاريخي کتنه:

د پښتنو په تاريخ کي يوه ډېره مشهوره کورنۍ شته چي موږ ئې د وجود وخت پس له ۳۰۰هـ څخه تخمينولاي شو، که څه هم د دې کورنۍ په باب کي ډېر متفرق او ډول ډول روايات د پښتنو په مؤرخينو کي شته او سړی نه شي کولای چي په ښکاره او مبرهن ډول د دوی احوال وليکي؛ مگر د ملي عنعناتو څخه چي تر اوسه د پښتنو په منځ کي شته او هم له تاريخي ليکنو څخه سړی ځني نتيجې اخستلاي شي او د دې کورني د نامدارو سړيو حال لږ لږ ځني څرگندولای شي.

د دې کورنې لومړی مشر پښتون بابا (پټان)[1] دی چي نوم يې کيس[2] و، د کسي غره (کوه سليمان) ته منسوب او عربي نوم يې مؤرخينو عبدالرشيد کښلي دی چي ده درې زامن دلرودل او د پښتنو مشهور رجال او نيکو نه دي:

اول بيټ يا بيټني دوهم سړبن او دريم غرغښت.

له ملي عنعناتو او تاريخي ليکنو څخه داسي ښکاري چي دې کورنۍ د غور له غرو څخه د کسي غره کوه سليمان ته ليږد کړي و او په دغه غره کي اوسيدل او هلته دا کورنۍ ډيره شوه او ډېر شهرت يې وموند او داسي سړي پکي پيدا شول چي د پښتو ژبې شاعران هم وه.

د پښتنو مؤرخان له پخوا زمانې څخه د دغي لويي کورنۍ احوال او د سړيو نومونه ليکي، تر ټولو دمخه خورا زوړ مؤرخ سليمان ماکو دی چي دی پخپله تذکرة الاولياء کي د بيټ نيکه، سړبن او اسماعيل احوال لږ لږ ليکي او هم د دوی اشعار خوندي کوي، د ده د ليک نتيجه دا ده:

"بيټنی د کسي پر غرو باندي اوسيد، د خدای په عبادت بخت و، سړبن د ده ورور او اسماعيل يې زوی و چي سړبن په زويتوب قبول کړی و. د اسماعيل مرقد د کسي په غره کي دی..."[3]

له دې کورنۍ څخه يو بل مشهور سړی خرښبون دی چي پټه خزانه او نور مؤرخان د ده نوم او احوال ذکر کوي، دا سړی هم د سړبن زوی دی، د کسي په غره او د کلات په غونډان کي اوسيد او په مرغه کي په ۴۱۱هـ وفات شو.[4] زما مقصد دلته دا نه دی چي د دغو سړو احوال راوړم؛ ځکه وروسته چي د دوی اشعار ذکر کوم نو د دوی پر ژوندانه به

---

۱. پټان د پښتون کلمې هندي تلفظ او تصحيف دی.

۲. کيس د پښتو کلمه د عقل او فراست او بصيرت په معنا ده. په کندهار کي مور زوی ته د کنايې او تعريض په ډول وايي: کيس دي کم سه! په پښتو کسل ليدنه او بصيرت دی وکسه يعني وگوره؛ نو کيس هم يصير او سترگه ور او عاقل دی. کاسي د يو قوم نوم له دغي ريښې څخه دی چي په غور کي تر اوسه هم کاسي د يو ځاي نوم شته، ملايانو دغه نوم معرب قيس کړ او په مخزن افغاني کي د عربيت افساني وتراشلي شوي چي دغه قيس عبدالرشيد د خالد له خپلوانو څخه و او د حضرت رسول ﷺ په حضور مشرف شوی و؛ مگر دا افسانه حقيقت نه لري او نه په اسلامي تاريخ او سير يا د احاديثو په کتابو کي د قيس عبدالرشيد نوم راغلي دی او نه په بل قديم کتاب کي دا افسانه شته او نه قديم سند لري. د حضرت رسول ﷺ د ژوند وقايع او هغه وفود چي له نورو هيوادو د دوی مبارک حضور ته راغلي وه ټول وقايع يې د سير او مغازي او فتوح په کتابو کي منضبط دي؛ خو دا د قيس افسانه بالکل نشته؛ نو دا ويلای شو چي دا قصه فقط د زرم هجري کال په حدودو کي پيدا شوې او تاريخي اصالت نه لري.

۳. د سليمان ماکو تذکره پښتانه شعرا ج۱، ص ٦٥.

٤. پټه خزانه ص ۲۱.

مفصلاً وړغیږم، دلته فقط دومره وایم چي مؤرخان د دې کورۍ پر وجود متفق دي او ابو الفضل مؤرخ په آیین اکبري کي او نعمت الله هروي په مخزن افغاني کي د دغي کورنۍ رجال او شهرت بیانوي او دواړه کتابونه د ۱۰۰۰هـ په شاوخوا کي کښل شوي دي.

خلاصه: له زرو کلونو را بدیخوا چي کوم عنعنات او تاریخي کتب موجود دي د دغي کورنۍ شهرت را ښیي او د دوی ادبي اثار او اشعار هم را نقل شوي دي چي د پښتو په ادبي تاریخ کي ډیر اهمیت لري او د قدماوه د دورې په آثارو کي غوره او خوندور او د ملي احساساتو ډک همدغه منقول اشعار او سندري دي چي لاندي یې بیانوم.

۵. بیټ نیکه

۳۵۰هـ

دا سړی په پښتنو کي ډیر شهرت لري او له قدیمي زمانې څخه مؤرخانو د ده نوم او حال لیکلي دی او په پښتني عنعنه کي هم دا سړي یو خورا لوی پښتون او مشهور نیکه ګڼل کیږي.

د دې عنعنې تصدیق په خارجي مؤرخینو کي ابو الفضل علامي ۱۰۰٦هـ د اکبر مغولي پاچا د دربار مؤرخ په دې ډول کوي: ”په پښتنو کي درې وروڼه بیټنی او غرغښت او سړبن ډیر مشهور نیکونه دي.“[1]

د بیټ نیکه نوم په تاریخو کي بیټنی او بټن هم راغلی دی او نعمت الله هروي (نورزی) چي په ۱۰۱۸هـ یې مخزن افغاني تالیف کړی دی، هم د شیخ بیټني او د ده د اولادې احوال مفصل راوړي او ځینو نورو تاریخو ته حواله ورکوي چي مجمع الانساب او معدن اخبار احمدي او تاریخ ابراهیم شاهي له هغو څخه دي او تر ده دمخه کښل شوي دي. تر نعمت الله وروسته اخوند درویزه ننګرهاري چي تر ۱۰٤۸هـ پوري ژوندی[2] و هم د شیخ بیټني او د ده اولاد ذکر کوي او د پښتنو له مشاهیرو څخه یې ګڼي[3] مګر تر دغو ټولو یو پخواني او زوړ کتاب چي د بیټ نیکه ذکر او د ده اشعار پکي راغلي دي، د سلیمان ماکو د بارک خان د زوی تذکرة الاولیاء ده چي پس له ٦۱۲هـ لیکله شوې ده، د دې کتاب هغه یو څو پاڼي چي شته د شیخ بیټني ذکر داسي کوي: ”نقل هسي کاندي یارانو چي په روزګار د شیخ بیټني د ده ورور چي سړبڼ نومید او پر شیخ بیټني هم خورا ګران و، سړبڼ نه درلود زامن او هر کله به یې ویل خپل ورور ته، بیټني خپل زوی اسماعیل ورکاوه او لوي شو د سړبڼ په کاله، خداي مهربان د اسماعیل په برکت، سړبڼ ته نصیب کړه دومره زامن چي اوس تر وس تیر شو د ګڼون د هغو...“[4]

نعمت الله هم دغه عنعنه په مخزن افغاني کي هسي لیکي:

”نقل است که سربنی برادر کلان بیتني مفلس بود و از سعادت فرزند هم محروم بود، روزی سربن بخانهٔ برادر خود که شیخ بتنی باشد آمد عرض کرد که ای برادر! دعای تو در باب جمیع خلایق مستجابست، در باب من توجه نمیفرمائي... حضرت شیخ بیت فرمود که یک پسر مرا ببر و پرورش نما... آخر الامر شیخ پسر خود اسماعیل را ببرادر خود سربني داد...“[5] په دې ډول زموږ د لومړی مؤرخ سلیمان ماکو قول خو تر نعمت الله څلور سوه کاله دمخه دي مګر

---

۱. آیین اکبري ح۱ ص ۱۹۱.
۲. تذکرة علماي هند ص ۵۱.
۳. تذکرة الابرار او پښتو مخزن اسلام.
٤. د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء قلمي.
۵. مخزن افغاني قلمي.

يو له بله ربط او نژديوالي سره لري او دا ښکاره کوي چي تر زرم هجري کال مخکي هم د بيټ نيکه له بابته پښتنو معنعن او مستند روايات درلودل.

د بيټ نيکه نور احوال موږ ته نه دی معلوم او نه د ده د ژوند وخت مؤرخانو تصريح کړی دی، فقط د پټې خزانې له ليکو څخه ښکاري چي اسماعيل د بيټ نيکه زوی نيو[1] د خرښبون معاصر و او دغه سړی په ٤١١هـ مړ شوی دی[2] نو چي پلار او اکا يې هم د ٣٥٠هـ په حدودو کي ژوندي وي.

د بيټ نيکه اشعار:

د پښتو په پخوانو اشعارو کي د بيټ نيکه يو مناجات ډير قيمتي دی او دا ادبي ټوټه سليمان ماکو پخپله تذکره کي هسي راوړي:

"نقل کاندي چي شيخ بيټني سپين ږيري شو نو ده به هر کله څښتن ستايه او رب ته به يې درخواست کاوه چي زما په کهول او سړبن او غرښښت په کهول برکت کښيږده! بادار قبول کړ د ده درخواست، او ډکه شوه ځمکه د پښتونخوا د دوی په کهول، نقل کاوه شي چي حضرت شيخ بيټني به ډير تر ډيره دا سندري لولولې او کسي غره کي به ګرځيده په شپې."

لويه خدايه لويه خدايه — ستا په مينه په هر ځايه
غر ولاړ دی درناوی کي — ټوله ژوي په ځاری کي
دلته دي د غرو لمني — زموږ کږدی دي په کي پلني

دا وګړي ډير کړې خدايه!
لويه خدايه لويه خدايه!

دلته لږ زموږ اور بل دئ — وهړ کورګی دئ، وهړ بورجل دئ
مينه ستا کي موږ ميشته يو — بل د چا په مله تله نه يو
هسک او مځکه نغښته ستا ده — د مړو وده له تا ده

دا پالنه ستا ده خدايه
لويه خدايه لويه خدايه![3]

لکه چي وهيل شوه دا شعر د ٣٥٠هـ په حدودو اړه لري او له الفاظو او کلماتو يې هم دغه مطلب ښکاري. لغات او کلمات چي پکي راغلي دي اوس ځيني په دغو معناوه مړه دي، مثلاً ژوی اوس څوک د مخلوق او حيوان په معنا نه وايي فقط په زړو ادبياتو کي يې کله کله وينو او که دغه کلمه په فعلي معني واخلو يعني ژوند کوي دا تعبير هم زوړ دی او اوس مستعمل نه دی دغسي هم هسک دلته د اسمان په معني دی او دا کلمه په دغه مفهوم ډيره زړه ده او لکه چي تاسو دمخه د امير کروړ او نصر لودي په کلام کي ولوستل، پخوا ئي اسمان هسک وايه مګر او هر لوړ شي ته هسک وايو او دا لغوي تحول ورستنی دی لکه د عربي سما چي اسمان ته هم وايي او د هر ځای لوړي خوا ته هم وايي. پر دې شعر د پرديو ژبو اغيزه هم لږ ده او له هغو زړو آثارو څخه دی چي په غرو کي ويل شوی دی او د عربي او پارسي ژبو له اغيزو څخه تش

---

۱. زوی نيو: پسر خوانده.

۲. پټه خزانه ص ۲۱ د خرښبون حال به وروسته راشي.

۳. د سليمان ماکو تذکره، د پښتانه شعرا ج۱، ص۵.

وي لکه امير کروړ او لوديانو اشعار مثلاً په ټول شعر کي يوه پردۍ کلمه نشته او فقط د خداي مشترکه کلمه لري چي هغه هم ښايي د پښتو په رېښو کي ډېره نژدې وي او د دې سوچه توب علت هم دا دی چي بېټ نيکه په کوه سليمان کي بيل اوسيد او پر ژبه يې د نورو ژبو اثر نه و شوی. د شعر وزن او عروض يې هم د پښتو ملي بدلو ته ډير ورته دی او يو تکراريدونکي کسر لري (لويه خدايه لويه خدايه) چي دغه قديم ادبي رنګ تر اوسه هم د پښتنو په بدلو کي ليدل کيږي او ښکاري چي يو پخوانی ادبي مزيت دی. دا شعر د مضمون او ادبي فکر له پلوه هم پخواني اريايي سندرو ته ورته دی او لکه چي تاسو د دې کتاب په لومړی ټوک کي ولوستل په پخوانو اريايي اقوامو کي (کوله – کهول) څومره اهميت درلود؟ او پر دغه کهول باندي اکثر اجتماعي تشکيلات بنا کيده او دوی هر کله خپلي کورنۍ او کهولونه ډيرول او کورنۍ يې د ټولو نعمتونو مرکز ګڼله[1] د بېټ نيکه دا شعر که له ريګويدا سره مقابله کړو نو د مضمون له پلوه له دې مناجات سره نژديوالي لري: ''خداي د ژوندون واکمن دی مالک الملک دی، دی ښاغلي کورنۍ سړو ته ورکوي؛ نو خدايه! موږ ستا مريي يو! بې اولاده، بې ښيګړي مو مه وژنه!...''[2]

د پښتنو مؤرخان او اسماء الرجال خاوندان ليکي چي اسماعيل په اصل د بېټ نيکه زوی و او لکه چي دمخه مو ولوستل د خپل تره سربڼ په کور کي لوی شوی و؛ نو دی په سربڼي مشهور دی:

لکه سليمان ماکو چي ليکي: اسماعيل د بېټ نيکه په کور کي لوی شوی و او د سليمان په غره کي ميشته او هم هورې وفات شو دا مؤرخ وايي:

''د اسماعيل مرقد واقع دې د کسي پر غره چي زه هلته تللي وم...''[3]

دغه روايات نعمت الله هم کټ مټ په مخزن کي داسي تاييد کوي:

''چون اسماعيل بسن رشدي رسيد از رياضات شاقه بمراتب ولايت رسيد و اين شيخ اسماعيل سړبني پسر حضرت بېټ است.. شيخ اسماعيل سړبني قدس سره صاحب عبادت و رياضت شاقه بود مقتداي وقت بعلوم ادبي کاشف اسرار طريقت و حقيقت بوده در ولايت روه چون بوطن مالوف رسيدند به مقام خواجه منزل ګرفتند و خلايق از جاهاي دور بملازمت شتافتند...''[4] سليمان ماکو او خواجه نعمت الله هروي دواړه وايي، چي: د اسماعيل د ژوندانه ځاي کوه سليمان و، بل ځاي نعمت اللّٰه تصريح کوي چي د ده مزار په هغه ځای کي دی چي وازه خوا يې بولي او وازه خوا د سليمان د غره په لمنو کي ده. علاوه پر دغه په پټه خزانه کي هم د اسماعيل احوال ليکل شوي او وايي چي دی د خرښبون معاصر و؛ ځکه چي د خرښبون وفات په ٤١١هـ[5] دی نو موږ د اسماعيل د ژوند عصر هم دغه ګڼو.

اسماعيل د خپلي کورنۍ مشهور عابد او د خداي دوست سړی و د مخزن افغاني له رواياتو څخه ښکاري چي دی له خپله کوره په سياحت هم تللي او له لويو اولياوه سره ملاقي شوی و[6] او لکه چي تاسو يې په آينده مخو کي لولئ د ده او خرښبون ډېره خپلوي وه.

---

١. د ګوستالوبون تمدن هند ص ١٨٨ د دې کلمې پخوانۍ ريښې د کتاب په لومړيو ابحاثو کي ښودلي شوي دي.

٢. ريګويدا ٧ باب ٦ فصل ٧ سندره.

٣. د سليمان ماکو تذکره.

٤. مخزن افغاني قلمي.

٥. پټه خزانه ص ٢١.

٦. قلمي مخزن افغاني.

د اسماعیل اشعار:

د اسماعیل اشعار موږ ته په دوه وسیلو را رسیدلي دی لومړی شعر یې هغه دی چې سلیمان ماکو پخپله تذکره کې په دې ډول را نقل کړی دی.

"نقل کاوه شي چې شیخ ملکیار[1] ستانه به تل تر تله د شیخ اسماعیل ستر ستانه پاړکې[2] ویل او بړغ به یې کاوه دا شیخ د سړبن زوی و."

تنبته وکړه له ابلیسه   چې ابلیس لعین ښکاره شي
هلته ورکه پلوشه شي   ټول نړی توره تیاره شي
سړی وران شي له ابلیسه   غوځ د پس په کټاره شي
که هر چا ابلیس خرڅ کړ   نو یې هلته نندارہ شي
که سړی ابلیس ته پړ شو   نو پر کور د ویر ناره شي[3]

د اسماعیل یو بل شعر چې د ده پر خانداني احساساتو دلالت کوي د پټې خزانې لیکوال په دې شرح لیکي:

"هسې وایي، چې یو وقت خرښبون بابا او اسماعیل د سړبن او بیټني نیکه په مخ کې ناست وه، د دوی کور و د کسي په غره نو خرښبون د پلار او تره له خوا په تګ او رخصت ماذون شو، اسماعیل نیکه داسې نارې وکړلې."

که یون دی یون دی   مخ کې بیلتون دی
له کسي غره ځخه   ځې خرښبون دی
که وروره وروره!   خرښبون وروره!
ته چې بیلتون کړې   زما ویر وګوره!
چې ځې مرغې له   توري کرغې[4] له
همزولي پاته   ځې څه برغې[5] له
د خداي دپاره   خرښبون یاره!
چې هیر مو نه کړې   زموږ کهول واړه
زړه مې رپیږي   یار مې بیلیږي
بیلتون یې اور دی   ځان په سوځیږي[6]

---

۱. د ملکیار حال به وروسته راشي.
۲. پاړکې: د شعر یوه ټوټه او قطعه.
۳. د سلیمان ماکو تذکره، پښتانه شعرا ج۱ ص ۵۳.
۴. کرغه: توره او وچه مځکه.
۵. برغه: دا کلمه اوس نه ده مستعمله ښایي د نفع او مقصد په معنی وي.
۶. پټه خزانه ۹. د دې نارې جواب د خرښبون په حال کې ولولئ.

لکه چي تاسو ولوستل اسماعیل یو روحاني او د متصوفینو سره مل سړی ؤ، نو ځکه د ده لومړني شعر کي د وعظ او تلقین او نصیحت رنگ شته او ځني عربي لغات هم پکي راغلي دي چي د ده روحاني حیات ښکاره کوي اما دوهم شعر خاص په ملي وزن دی او د پښتو ژبي د مخصوصو عروضو او اهنگ نمایندگي کوي او پردي لغات هم نه لري، نو ځکه ویلای شو چي دا شعر هم د پښتو ژبي په زړه دوره اړه لري او په هغو اشعارو کي حسابیږي چي د نورو ژبو اثر لږ پرې شوی دی. داسي نارې تر اوسه هم د پښتو ژبي په افسانو او نکلو کي شته چي شعری وزن او عروض یې مخصوص دي او په یوه خاص اهنگ ویل کیږي.

۷. خرښبون

٤۰۰هـ

په پښتنو کي دا سړی ډیر شهرت لري او د مشهور سړبن زوی و چي د بیټ نیکه وراره کیږي او د دې کورنې یو معروف شاعر دی او د ده درې زامن کند، زمند، کاسی هم خورا مشهور دي[1] او پټه خزانه یې احوال داسي لیکي: "د پښتون بابا د کسي د عبدالرشید لمسی و، خاوند ده ته ښکاره کمالات او کرامات ورکړي وه، د خدای په عبادت به بوخت و. نقل کا چي: د پلار په ژوند کي لا رخصت شو او د خپلو اولادو سره راغي له کسی څخي غوړي مرغۍ ته، او کله به ولاړ د غنډان غره ته او هلته به یې خدای ستایه او نمانځه[2] او په کال کي به یو وار تلي د خپل تره بیټني نیکه لیدنه به یې کوله او پس له وفاته به یې هم زیارت ته ورتلي. خرښبون بابا د شیخ اسماعیل سره چي د بیټني نیکه زوی و لوی شو او هغه وخت چي خرښبون د کسي له غره غنډان[3] ته راتلي؛ نو اسماعیل بابا په ده پسې ډیر وژړل[4] ..." تر دې وروسته د پټې خزانې لیکوال هغه داستان را نقلوي چي دمخه د اسماعیل په احوال کي ذکر شو او د اسماعیل هغه نارې لیکي چي د څرښبون په فراق کي یې کړي دي: پټه خزانه د خرښبون هغه د عبرگون (جواب) اشعار هم نقل کوي چي د اسماعیل د نارو په غبرگون کي د خرښبون له خوا ویل شوي وه، دا اشعار څلوریځ (مربع) گڼل شي.

د خرښبون څلوریځ

بیلتانه ناره مي وسوه په کور باندي | نه پوهیږم چي به څه وي پیښ په وړاندي
له خپلوانو به بیلیږم په سرو سترگو | واړه سترگي مي په وینو دي ژړاندي

اسماعیله ستا نارو مي زړگي سوری کي | بیلتانه خرښبون بیا له تا پردی کي
نه هیریږي که مي بیا نه ستا یادي کي | په چړو د ویر به پرې سي د زړه مراندي

---

۱. قلمي مخزن افغاني ۱٤۱-۱٥۱.

۲. یعني پرستش به یې کاوه.

۳. د یو غره نوم دی د غلجیو د کلات شرقي خوا ته.

٤. پټه خزانه ص ۱۷.

ځمه ځمه چه اوږد یون. مي دي و مخ ته یانه ځوري[1] په اچوم و ترخ[2] ته
ستاسي یاد به مي وي بس د زړه و سخ[3] ته که دا مځکه غرونه ټول سي لاندي باندي[4]

د خرښبون دا جوابي ځلوریځ شعر هم له دې پلوه چي تقریباً ټول پښتو دی او د نورو ژبو کلمات نه لري؛ نو د دې ژبي په ادبي آثارو کي اهمیت لري او دا ښکاره کوي چي تر دې وخته لا په پښتو کي د پردو ژبو کلمات ډېر نه وه ګډ شوي.

پټه خزانه وایي: چي خرښبون د خپل عمر پای ته په مرغه کي ساکن سو او دا مرغه یا غوره مرغه هغه ځای دی چي د کندهار شرقي جنوبي خوا ته د ارغسان او کلات تر منځ د کوړک او کوه سلیمان په لمنو کي واقع ده او لکه دمخه چي وهیل شو، خرښبون د غنډان په غره کي هم اوسید، چي دا غر هم د کلات خوا ته د ترنک په وادي کي دی."

خرښبون په ٤١١هـ کال په مرغه کي وفات شو اولاد یې هم هورې اوسیدل؛ خو ده ده د زوی کاسي زامن بیرته د کسي غره او پښین ته تللي وه او د کند او زمند اولاد په ننګرهار او خیبر پیښور کي خپاره شول.[5]

داسي ښکاري چي د خرښبون اولاد ډېر شوي او وروسته د ده په نامه ډېر د پښتنو قبایل یادیده؛ لکه چي په ۸۲۰هـ میرزا شاهرخ د هرات تیموري پاچا کندهار ته راغي؛ نو د غزنین مشران او د پرمل او خرشواني افغانانو مشران دلته د ده حضور ته راغلل.[6]

دا روایت د هرات د دربار مؤرخ عبدالرزاق سمرقندي راوړی او دا ځني ښکاري چي خرشواني (خرښبوني) پښتانه په دغو اوقاتو کي هم په غزني په وززه خوا کي پراته وه.

شپږم څپرکی
نور پخواني شعراء تر ٦۰۰هـ

۸. شیخ اسعد سوري
٤۲٥هـ

د سوري کورنۍ تاریخي احوال مو دمخه ولوستل او دا درته لڅه شوه چي د پښتو پخواني او ډېر لومړنی آثار په دغي کورنۍ اړه لري او کله چي دوی سلطنت درلود، ادبي ذوق هم ور سره و.

له دې ټبره د پښتو یو بل مقتدر اور ژبی شاعر هم را وتلي دی چي نوم یې اسعد او د محمد زوی و، دا شاعر د

---

۱. ځوري: زاد راه.
۲. ترخ: بغل.
۳. سخ: خوښي او نیک فال.
٤. پټه خزانه ص ۱۹.
٥. پټه خزانه ص ۲۱.
٦. مطلع سعدین ۲-۳٥۹.

قدماوه په دوره کي ډېر لوړ مقام لري او د ٤٠٠هـ په شاوخوا کي ژوندی و، پټې خزانې د لرغوني پښتانه په حواله داسي له تاريخ سوري څخه نقل کړی دی.

"شيخ کټه په کتاب کي د لرغوني پښتانه له تاريخ سوري هسي نقل کا چي: اسعد سوري په غور کي اوسيده او هلته د سوري خاندان په پادشاهۍ کي ډېر عزتمند ؤ شيخ اسعد د محمد زوی و چي په کال سنه ٤٢٥هـ په بغنين[١] کي وفات شو شيخ اسعد ډېر ښه اشعار ويل نقل کا، چي سلطان محمود غازي پر غور باندي د امير محمد سوري سره جګړه وکړه او په اهنګرانو[٢] کي يې محصور کا په دې وخت شيخ اسعد هم د اهنګران په کوټ کي و، هغه وخت چي سلطان محمود امير محمد سوري ونيو او بندي يې بوت غزني ته نو امير محمد سوري چي خورا زړه ور او عادل او ضابط امير و، له غيرته د بند مړ شو او شيخ اسعد چي دوست وه د امير محمد سوري پر مرګ يې ساندي وهيلې[٣]..."

په دې ډول اسعد سوري د پټې خزانې په قول په اهنګران کي اوسيد او وفات يې د زمينداور په بغني کي دی دا شاعر لکه د سوري له ټبره چي و د پادشاهانو په دربارو کي معتبر هم و او د امير محمد سوري سره يې اشنايي او دوستي لرله امير محمد سوري د غور له مشهورو شاهانو څخه دی چي قاضي منهاج سراج يې احوال داسي راوړي:

"چون تخت بامير محمود سبکتگين رسيد امارت غوريان بامير محمد سوری رسيده بود ممالک غور را ضبط کرده گاهی سلطان محمود را اطاعت نمودی و گاه طريق عصيان سپردی و تمرد ظاهر کردی تا سلطان محمود بالشکر گران بجانب غور آمد و در قلعهٔ اهنگران محصر شد و مدتها ان قلعه نگاه داشت و قتال بسير کرد و بعد از مدتها بطريق صلح از قلعه فرود آمد و بخدمت سلطان محمود پيوست و سلطان او را با پسر کهتر او که شيش نام بود، بجانب غزنين برد چون بحدود گيلان (نزديک غزنه) رسيد امير محمد سوري برحمت حق پيوست بعضي چنان روايت کنند: که او چون اسير شد از غايت حميت که داشت طاقت مذلت نياورد، خاتمي داشت در زير نگين زهر تعبيه کرده بود آنرا بکار برده در گذشت."[٤]

د پټې خزانې او طبقات ناصري روايت د امير محمد سوري د مرګ له بابته يو راز دی. بيهقي هم ليکي چي سلطان محمود په ٤٠٥هـ د بست او جنوبي خوا پر غور حمله وکړه او ويې نيو.[٥]

ابن اثير وايي: دا جنګ په ٤٠١هـ و چي د سلطان محمود له خوا د هرات حاکم التونتاش او د طوس حاکم ارسلان چاذب پر اهنګران راغلل او ابن سوري له لسو زرو لښکرو سره د دوی سره سخت جنګ وکړ، څو په پای کي دی ونيول شو او په زهرو يې ځان مړ کړ.[٦] حميد الله مستوفي هم ليکي، چي سوري د غور پاچا له سلطان محمود سره جنګ وکړ څو په پای کي دی مړ شوی و.[٧] د پارسي شاعر عنصري هم په يوه قصيده کي چي د سلطان مدح کوي دې جګړې ته داسي اشاره کوي:

گرفتن پسر سوري و کشادن غور   هر انيه نتوان کرد در سخن مضمر

---

١. بغنين اوس بغني بولي د زمينداور او غور تر منځ.

٢. اهنګران د غور يوه مشهوره کلا وه تر اوسه يې هم خرابې شته.

٣. پټه خزانه ص ٣٧.

٤. طبقات ناصري ص ١٨٢.

٥. تاريخ بيهقي ص ١١٧.

٦. الکامل ج٩ ص ٩١.

٧. تاريخ گزيده ص ٤٠٦-٤٩٧.

د مؤرخانو له دغو روایاتو ښه ښکاري چې محمد سوري په غور کې د سلطان محمود لوی معاصر رقیب او پایتخت یې اهنګران و او زموږ د پښتو ډیر مقتدر او لوی شاعر اسعد هم د دې پاچا سره هورې اوسید او دغه پاچا د دربار یو قصیده ویونکي شاعر و. د پټې خزانې مؤلف د لرغوني پښتانه په ذریعه له تاریخ سوري څخه یوه بولله (قصیده) را نقلوي چې شیخ اسعد سوري د امیر محمد سوري په ویرنه (رثاء) کې ویلې وه او هغه دا ده:

د محمد سوري په ویرنه کې یوه بولله

د فلک له چارو څه وکړم کوکار[1] زمولوي[2] هر ګل چه خاندي په بهار
هر غټول[3] چه په بېديا غوړيده وکا رېژوي ئې پاڼي کاندي تار په تار[4]
ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا ډېر سرونه کا تر خاورو لاندي زار
د واکمن[5] له سره خول پرېباسي مړ سي د بې وزلو ويني توی کاندي خونخوار
چه له برمه[6] ئې زمری رپي[7] زنګلو کي له اکوبه[8] ئې ډاري[9] تېرو[10] جبار
هم ئې غشي سکڼی[11] ډال د ژوبلورو[12] رستمان ځني ځغلا[13] کاندي په ډار
چه ئې ملاوي نه کړېږي په غښتلی دا فلک پر وکا څه کاري ګذار؟
په يوه ګردښت ئې پرېباسي له برمه نه ئې غشي، نه ليندۍ وي نه ئې سپار[14]
څه تېری څه ظلم کاندي اې فلکه! ستا له لاسه ندی هيڅ ګل بېله خار

---

۱. کوکار: فریاد.

۲. زمولوي: پژمرده کوي.

۳. غټول: لاله.

٤. نار په نار هم ویل کیږي.

٥. واکمن: مقتدر، شاه.

٦. برم: دبدبه.

۷. رپي: رپیږدي.

۸. اکوب: جلال.

۹. ډاري: ویریږي.

۱۰. تیرو: تیري کړونکي او ظالم.

۱۱. سکڼي: غوڅوي.

۱۲. ژوبلور: جنګي، سپاهي.

۱۳. ځغلا: تښته.

۱٤. سپار: سپاره یا سپر.

په ویرژلو[١] لور[٢] نه کړې په زړه کراړیۀ[٣] — پر نتلیو اوروې د غم ناتار[٤]
هیڅ روغي[٥] مې په زړه نسته ستا له ځوره — بېلوې په ژړا ژړ[٦] مین له یار
له تېریو دي اوښی څاڅي له اوریځیو — ځنې ژاړی په ورتې ورتې[٧] ستا له شنار[٨]
نه به لاس واخلې له ځوره نه به لورې[٩] — نه به ملا[١٠] کړې له بې وزلو[١١] له ترار[١٢]
نه به زړه وسوځوې په هیچا باندي — نه به پرېوزې له گردښه له مدار
نه به وصل کړې مین له بل مینه — نه به درملې[١٣] تپونه[١٤] د افگار
ستا له لاسه دي پراته ژوبل زگېروي[١٥] کا — هر پلو ته تپي[١٦] زړونه په ځار ځار[١٧]
کله غوڅې کاندي مراندي[١٨] د زړگیو — کله تېر باسې وگړي هوښیار
کله تکی[١٩] واچوې پر نازولیو — کله څیري کړې گریوان د نمنځی[٢٠] چار
کله غورځوې واکمن له پلازونو[٢١] — کله کښېنوې په خاورو کی بادار

---

١. ویرژلي: غمجن.
٢. لور: پیرزوینه.
٣. زړه کراړي: سخت زړه.
٤. ناتار: تاراج.
٥. روغي: سلامتي.
٦. ژړا ژړ: شور و فریاد.
٧. ورتې ورتې: د ژړا حال.
٨. شنار: دا کلمه اوس نه ده مستعمله. ښایي معنا یې ظلم وي.
٩. نه به لوري: نه به پیرزو کوي.
١٠. ملا: ملگري.
١١. بی وزله: بیچاره.
١٢. ترار: مضطرب.
١٣. نه به درملي: علاج به نه کوي.
١٤. تپ: زخم.
١٥. زگیروي: د مریض فریاد.
١٦. تپي: زخمي.
١٧. ځار ځار: فغان او ژړا.
١٨. مراندي: د زړه رگونه.
١٩. تکه: صاعقه.
٢٠. نمنځي: زاهد او عابد.
٢١. پلاز: تخت.

زموږ پر زړونو دي نن بیا یو غشی وهیشت   و دې ژوبلله[1] په دي غشی هزار
پر سوریو باندي ویر پریوهت له پاسه   محمد واکمن چه ولاړي په بل دار
یوهار سو اسیر په لاس د مېرڅمنو[2]   انتقال ئې وکړ قبر له بل وار
په سماؤ[3] ئې ودان آهنگران ؤ   په تېکنه[4] ؤ پر درست جهان اوڅار[5]
د محمود د ژوبلورو[6] په لاس کښېوت[7]   چی غزنه ته ئې باتلی[8] په تلوار
ننگیالیو لره قید – مړنیه[9] ده څکه: سه[10] ئې والوتله هسک ته پر دې لار
تر نړی ئې غوره خاوري، هدیره کا   د زمریو په بېړیو[11] کله وی څوار[12]
په دې ویر د غور وګړی تور نمری[13]شول   په دې ویر، رڼا تیاره سوله د ښار
گوره څاڅي رڼي اوښي له دې غرونو   دا کړونګي[14] ساندي[15] لی[16] په شورهار
نه هغه زرغا[17] د غرونو، د بېدیا ده   نه د رزکیو په مسا[18] دی کتهار
نه غټول بیا زرغونېږي په لاښونو[19]   نه بامي[20] بیا مسېده کا په کهسار

---

۱. ژوبلل: زخمي کول. اوس مستعمل نه دی.
۲. میرڅمن: دښمن.
۳. سما: د سم له ریښې څخه اوس مستعمل ندي ښایي معني یې پخوا اصلاح او انصاف و.
٤. تېکنه: ښایي د تېک له ریښې څخه به پخوا د عدالت په معني و.
۵. اوڅار: ظاهر او ښکاره.
٦. ژوبلور: جنګي سپاهیان.
۷. کښېوت: گرفتار شو.
۸. باتلي: د بوتلي قدیم شکل دی د بوتلل له مصدره.
۹. مړینه: مرگ.
۱۰. سه: سا، روح.
۱۱. بیړۍ: زولانه.
۱۲. څوار: دا کلمه اوس نشته، ښایي معني یې صبر وي.
۱۳. نمري: لباس، تور نمري: سیاه پوش.
۱٤. کړونګي: ابشار.
۱۵. ساندي: نوحه.
۱٦. لي: لولي، وایي.
۱۷. زرغا: سر سبزي، دا کلمه اوس نشته.
۱۸. مسا: خنده زیر لب.
۱۹. لاښ: د غره کمر.
۲۰. بامي: ښایي د یوه گل نوم و.

نه له غرجه[١] بیا راځي کاروان د مشکو — نه را درومي غور ته بیا جوپې[٢] د شار[٣]
د پسرلی اوره تودې اوښي توینه — مرغلرۍ به نیسان نکړي نثار
دا په څه چه محمد ولاړ له نړیه — په ویرنه[٤] ئې سو غور ټول سوګوار
نه ښکارېږي هغه سور د سور[٥] په لتو[٦] — نه ځلېږي هغه لمر پر دې دیار
چه به نجلیو په نڅا[٧] پکې[٨] خندله — چه به پېغلو کا اتڼ قطار قطار
هغه غور په ویر ناتار د واکمن کښېوست — هغه غور سو د جاندم[٩] غندي سوړار[١٠]
لاس دي مات سه اې فلکه چه دی وکا — محمد غندي زمرۍ د مړینې ښکار
شین زړګی فلکه! ولي لا ولاړ یې؟ — اې د غور غرونو په څه نسوئ غبار؟
مځکې! ولي په ریږدلو[١١] نه پریوزې؟ — لاندي باندي سه! چه ورک سي دا شعار:
چې زمری غندی واکمن ځی له جهانه — چې څوک نکړي په نړۍ باندي قرار
سخ[١٢] په تا اې محمده د غور لمر وې! — په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار[١٣]
ته پر ننګه وې ولاړ په ننګ کي مړ سوې — هم پر ننګه دي په ننګه کا ځان جار[١٤]
که سوري دي په تګ ویر کاندي ویرمن[١٥]سول — هم به ویاړي ستا په نوم ستا په ټبار[١٦]
په جنت کي دي وه تون[١٧] زموږ واکمنه — هم په تا دي وي ډېر لور[١٨] د غفار

---

١. غرج: غرجستان.
٢. جوپه: قافله.
٣. شار: د غرجستان د مشرانو لقب و.
٤. ویرنه: ماتم.
٥. لومړی سور د خوښۍ په معني او دوهم د سوري قوم نوم دی.
٦. لته: سرزمین ناحیه.
٧. نڅا: رقص.
٨. پکسي: پګښي.
٩. جاندم: دوزخ.
١٠. شوړ یا سوراړ: وچ او تود دښت.
١١. زیږدله: دا کلمه اوس ژوندۍ نه ده؛ خو د ریږدل څخه د زلزلې معنی لري.
١٢. سخ سا: خوشا ستا په حال.
١٣. سار یا ساري: همسر.
١٤. جار: قربان.
١٥. ویرمن: غمګین.
١٦. ټبار یا ټبر: خاندان.
١٧. تون: ځای.
١٨. لور: مهرباني.

تحليلي کتنه

د پښتو د قدماوه په ادب کې شيخ اسعد سوري لومړی سړی موږ ته معلوم دی، چې د ده شعر د پارسي معاصرو شاعرانو له آثارو سره نژديوالي او ادبي رابطه او قرابت لري. دا خو ښکاره ده چې د ٤٠٠هـ په حدودو کې د پارسي ادب د ساماني شاهانو په دربارو کې په ښه ډول روزل شوی و او بيا د غزنويانو په دربارو کې چې د پارسي شاعرانو مجمع او ټولتون و هم لا پسې روزل کيده. په دې وختو کې سلطان محمود په غزني کې سلطنت کاوه؛ نو ډير نوموړی پارسي شاعران په غزني کي را ټول شوي او د قصيده سرايۍ د عروج وخت و.

که د عنصري او فرخي او عسجدي او نورو هغو پارسي شاعرانو چې د غزني په دربار کې وه آثار او اشعار وکتل شي؛ نو دا ښکاري چې په دغه وخت کې شعر او عموماً قصيدې ويلو ته مخه کړې وه او هم په دغه وخت دغه ادبي فن بشپړ او پوخ شو، غزني او د غور لتي سره نژدې دي او دغو دوه د ادب او مدنيت مرکزونو ضرور روابط سره درلود نو ځکه موږ لکه په غزني کې چې په دغو وختو کې ډير قصيده سرايان وينو په غور کي هم د دې ادبي ميلان او ذوق اثر ښکاره دی که تاسو د اسعد سوري دغه غرا د مرثيې قصيده له نورو هغو پښتو آثارو سره چې هم په دغو وختو کې په غور او دښتو کې ويل شوي دي، څنګ پر څنګ کښيږدي نو بې له کتني او پلټنې څخه دا لاندي نتايج لاس ته راځي:

۱. د وزن او عروض کيفيت له پلوه دا قصيده د پښتو له خپلو اوازانو سره ډيره فرق لري او کټ مټ د پارسي د اوږدو قصايدو په ډول ويله شوې ده.

۲. شاعر د پارسي قصيدو په ډول لومړی له فلکه شکوه کوي او فلک غندي، بيا نو خپل مطلب ته گريز کوي چې د محمد سوري وير دی او دا گريز کټ مټ د پارسي قصيده ويونکو په ډول دی.

۳. په دې قصيده کې ډير پارسي او عربي کلمات راغلي دي او دا ښکاره کوي چې په دغو وختو کې د غور پښتو خالصه نه وه؛ بلکي ډير پارسي لغت ور سره گډ شوي وه.

٤. سره له دې چې په دې قصيده کې ډير عربي او پارسي کلمات شته، بيا هم ډير نادر او پخواني پښتو لغات لري او دا ځني ښکاري چې تر دغه وخته لا پښتو ژبه په غور کي د لغاتو او کلماتو له پلوه ارته او غني ژبه وه او پس له دې دورې يې ډير مغتنم ادبي مواد له لاسه ايستلي دي او ما دغه نادر لغات تر قصيدې لاندي د معناوه سره وليکل.

٥. دا قصيده په سلاست، بلاغت او ادبي ښيگڼو کې د پښتو له لومړۍ درجې اشعارو څخه ده او دا ښکاره کوي چې اسعد يو ډير مقتدر او زبردست شاعر و، چې په خورا ښه ډول يې د محمد مرگ تصوير کړی او د خپل وير تأثرات يې هم په استادۍ او مهارت په دې قصيده کې ځاي کړي دي.

وگورئ شاعر د قصيدې په آغاز کې فلک په غايب ډول غندي او د ده ظلمونه بيانوي، بيا له (څه تيري څه ظلم کاندې ای فلکه!) بيرته له غيابه حاضر او مخاطب ته رجوع کوي او له مغايبې څخه مخاطبې ته التفات کاندي، دا مخاطبه تر هغه ځايه ده چې د گريز (تخلص) موقع دی، وايي: زموږ پر زړونو دي نن بيا يو غشي وهيشت الخ...

د مرثيو په قصايدو کې د غزنويانو له عصره دا رسم و چې شاعر به کوښښ کاوه چې د خپل مړه ممدوح صفات او ښيگڼې په داسي ډول وښيي چې د هغه مقام د خلکو په نظر کي ډير لوړ ثابت شي او د ده د مرگ د وير اسباب او علل هم وښيي. استاد ابو الحسن علي بن جولوغ سيستاني د سلطان محمود په مرثيه کې د غزني د ښار حسرتناک منظر او د خلکو وير او ناورين داسي څرگندوي:

شهر غزنين نه همانست که من ديدم پار چه فتاده است که امسال دگرگون شده کار

خانها بینم پر نوحه و پر بانگ و ز خروش نوحه و بانگ و خروشي که کند روح فگار
کویها بینم پر شورش و سر تا سر کوی همه پر جوش و همه جوششس از خیل سوار
رستها بینم پر مردم و در های دکان همه بر بسته و بر در زده هر یک مسمار
کاخها بینم پرداخته از محتشمان همه یک سر ز ربض[1] برده به شارستان بار
مهتران بینم بر روی زنان همچو زنان چشمها کرده ز خونابه برنگ گلنار
حاجبان بینم خسته دل پوشیده سیه گله افگنده یکی از سرو دیگر دستار
لشکری بینم سرگشته سراسیمه شده چشمها پرنم و از حسرت و غم گشته نزار
این همان لشکریانند که من دیدم دی وین همان شهر و زمین است که من دیدم بار
مگر امسال ملک باز نیامد زغزا دشمنی روی نهاده است برین شهر و دیار
مگر امسال ز هر خانه عزیزی گم شد تا شد از حسرت و غم روز همه چون شب تار
تو نگوی چه فتاده است بنگر گر بتوان من نه بیگانه ام اینحال ز من باز مدار[2]

د اسعد سوري په بولله (قصیده) کي هم د محمد د مرگ پر وخت د غور ویرجن او غمناک منظر په ښه ډول تصویر شوي دی له هغه بیته چي وایي:

"په دې ویر د غور وګړي تور نمري شول الخ..." اسعد خپله استادي په دې قصیده کي ښه ښکاره کړې ده دی د غور د ویر او ناورین مناظر هسي تصویر کوي، چه په مقابل کي پخواني د خوښۍ او مسرت او نشاط رنګین تصاویر هم ښيي، وایي: په هغو غرو کي چي به مستي زرکي په مسا کتهار کاوه او د غور پیغلو نجونو به نڅاوي او اتڼونه پکي کول، اوس هلته ماتم او ویر پروت دی. هیڅ هغه نشاط او خوښي نشته د فرخي او اسعد سوري د شاعرانه تخیل او تصویر تر منځ دوني فرق دی!

چه فرخي د غزني د ښار والو غمګین منظر ښودلي دی، د حاجبانو، عاملانو او درباریانو او لښکرو د ویر حالت یې تصویر کړی دی، چي یوه ناري غلبلې وهلې، نورو دکانونه تړلي وه او له یوه خولۍ ورکه وه او د بل پګړۍ، په غاړه کي کلاوه شوي وه او له میرزایانو څخه مشوانۍ ورکي وې، سرونه یې له دیوالو وهل او ځینو پر سرونو لاسونه نیولي او بعضو خلکو خپل لاسونه چیچلي وه!!!

په یوه ښار کي د ویر او ماتم مناظر هم دغه وي چي فرخي تصویر کړي دي مګر که دا شاعرانه تصویر او ترسیم د اسعد سوري له دې بیتو سره مقابله کړئ و به ویني چي د غزنوي په تصویر کي د جمال او ښکلا هیڅ برخه نشته او د غور زیبایي او ښایست د ویر او غم پر وخت هم ترسیم شوي دی او دا د شاعر استادي او مهارت او جمالدوستي ده چي په تصویر او محاکات کي یې ډېر قوت پیدا کړي دی.

ګوره څاڅي ربي اوښي له دې غرونو دا کړونګي ساندي لی په شورهار
نه هغه زرغا د غرونو، د ښېدیا ده نه د رزکیو په مسا دی کتهار
نه غښول بیا زرغونېږي په لاښونو نه بامي بیا مسېده کا په کهسار
نه له غرجه بیا راځي کاروان د مشکو نه را درومي غور ته بیا جوپې د شار

---

۱. ربض: د ښار چاپیر شارستان د کلا دننه.

۲. دیوان فرخي ص ۹۲.

د پسرلی اوره تودې اوښې توینه		مرغلرئ به نیسان نکړي نثار

اسعد د بوللي په پاي کي د خپل وير احساسات په خورا قوت ښکاره کوي، اسمان ته وايي چي ولي ولاړ يې.

اې د غور غرونو ولي نه غبار کيږئ		اې مځکي ولي په زلزله نه کښيوزئ

دا خطابونه په يوه داسي ډول کوي، چي د محمد د مرگ د واقعې اهميت او غمجن توب ښه ښکاره کيږي او دا هم د شعر يو ډول کمال دی چي مخاطب ته هسي احوال تصوير کړه شي.

د قصيدې په پاي کي اسعد د پښتنو د هغه ملي روح ترجماني کوي، چي د دوی ټول اشعار په ډک دي، که څه هم د محمد پر مرگ ډير وير کوي او دا ماتم دوني دروند گڼي چي بايد مځکه چاودلي او اسمان نسکور شوي واي؛ مگر چي دی د ننگ او ناموس په لاره مړ شوی دی، نو يې په نامه هم وياړي او په داسي مرگ چي ننگ او ناموس په لار کي وي، افتخار هم کوي:

که سوري د دي په تگ وير کاندي ويرمن شول		هم به وياړي ستا په نوم ستا په ټبار

که دا لنډئ ولولئ تاسو ته په ښکاره شي چي دا فکر څنگه په ملي اشعارو کي تل موجود و:

جانان مي سر پر وطن کښيښود		په تار د زلفو په کفن ورله گنډمه

جانان مي ټپ پر ټټر وخوړ		په جنگ مغزي د کليو پيغلو کي گرځمه

په دې ډول اسعد خپله قصديده په افتخار تماموي او د محمد مرگ هم د ټولو سوريانو لپاره د افتخار وړ بولي؛ مگر فرخي خو ډيري نارې غلبلې وهي، د قصيدې په منځ کي بيا يو عارفانه تجاهل لري او له ځانه سره وايي چي محمود به نه وي مړ خو لکه چي د شپې د خمار په سبب ويده دي:

فال بد چون زخم اينحال جزاينست مگر		زنم ان فال که گيرد دل از آن فال قرار

مير مى خورده مگر دى و بخفته است امروز		دير برخاستر مگر رنج رسيدش ز خمار

دهل و کوس همانا که همی زان نزند		تا بخشيد خوش و کمتر بودش بر دل بار

ای امير همه ميران و شهنشاه جهان		خيز و از حجره برون آی که خفتی بسيار

اسعد خو خپله قصيده تر فرخي دمخه ويلې ده ځکه چي محمود خو په ٤٢١هـ مړ شوی دی مگر د دواړو شاعرانو د تصوير هدف بيل دی او اسعد خپله قصيده د قوم په افتخار ختموي، خو فرخي بيا هم د ځان په غم کي دی او وايي:

شعراء را بتو بازار افروخته بود		رفتي و با تو بيکبار برفت آن بازار

په دغه ډول تاسو هر وخت په پښتو اشعارو کي د يوه اجتماعي او قومي احساس اثرونه ليدلای شواي چي د فرخي په قصيده کي نه ليدل کيږي او د شاعرانو د بازار د سړيدلو په غم کي دي.

دا يوه شخصي تحت الشعوري داعيه ده چي د فرخي په قصيده کي بي ارادې ښکاره شوې ده که څه هم د ممدوح ادب پالنه ځني څرگنديږي؛ مگر د شاعر طمع هم ښکاره کوي او له دغي مطالعې څخه تاسو حکميت کولای شي چي د پښتو ادب هدف کوم دی او نور ادبيات موکومي خوا ته بيايي.

۹. شيخ تيمن کاکړ

د ٥٥٠هـ حدود

شيخ تيمن د کاکړ نيکه زوی د پښتو له پخوانو شاعرانو څخه دی چي د پټي خزانې مؤلف د ده احوال او اشعار د

شیخ بستان بړیڅ له بستان الاولیاء[۱] څخه را نقل کړي دي. وايي چي شیخ تیمن د کاکړو له سیمي (کاکړستان) د غور خوا ته ولاړ او هلته میشته شو او د ده اولاده تر اوسه هم په غورکي شته او په تیمني قبیلې اړه لري، پخپله تیمن زاهد او عابد سړی وکله کله به له غوره ږوب ته تي او د خپل پلار کاکړ لیدنه به یې کوله، په غورکي دی په کجران کي اوسید، چي د غور جنوبي برخه ده او د زمینداور شمال شرقي خوا ته ده او مؤرخانو هم کجوران یا کجران لیکلي دی.[۲]

د بستان اولایاء په روایت چي پټې خزانې را نقل کړی دی شیخ د علاوالدین خان حسین سام معاصر و چي د دې پاچا د سلطنت وخت د ۵۵۰هـ حدود دی او هم د دغه پاچا په عصر په کجران کي وفات شوی دی.[۳]

د پټې خزانې مؤلف وايي: ځما پلا داود خان په بستان الاولیاء کي د شیخ تیمن دغه لاندي شعر لوستلي و او ما له خپله پلاره واورید، دا شعر په پښتو قدیمو اشعاروکي ښه عشقي نخښه ده او د وزن او الفاظو او کلماتو له پلوه خالص او سوچه پښتو شعرګاڼه شي:

گهیځ رڼا د لمر خپره شوه — زما پر کور د ویر ناره سوه
د بیلتون ورځ توره تیاره سوه — ږغ سو ناڅاپه چي بیلتون راغي
زړه مي له دې ویرني[۴] شین دی — په ژړا ژاړم څه ناورین[۵] دی
زرغون له اوښو مي سادین[۶] دی — په نول[۷] نولیږم چي تاخون[۸]ن راغي
نه به بیایم نه به بیا راسي — نه به تیاره شپه زما رڼا سي
نه به شهیٔ[۹] راته پخلا سي — بیلیږي پیر[۱۰] یې اوس د یون راغي
د څښتن[۱۱] پار دي هیر مي نه کړې — اغلیه[۱۲] مخ چي په یانه[۱۳] کړې
اوربل[۱۴] دي پریښوي واته کړې — پر ما د بل اورکړودن[۱۵] راغي

---

۱. د شیخ بستان احوال په دې کتاب کي وروسته وګورئ.
۲. مثلاً طبقات ناصري او د البیروني قانون مسعودی.
۳. پټه خزانه ص ٦١.
٤. ویرنه: ماتم.
٥. ناورین: غم.
٦. سادین: شدیاره کړې مځکه.
٧. نول: پریشاني، نولیږم: پریشان کیږم.
٨. تاخون: جګرخوني.
٩. شهیٔ: معشوقه.
١٠. پیر: نوبت.
١١. څښتن: یعني د خدای روي دی.
١٢. اغلي: ښکلي.
١٣. یون، یانه: تګ.
١٤. اوربل: مسکن.
١٥. کړودن: پر اور سره ګرزول.

د شیخ تیمن دا لوړ شعر چې په سوچه پښتو او وزن دی له هغو اشعارو څخه ګڼل کیږي، چې غنایي lyric او د موسیقیت خوا هم لري او له عشقي تغنی او ږغولو سره یې اړه ده او لکه پښتو اکثر عوامي اشعار په خوږه او خاص ږغ ږغول کیږي.

د تیمن نور حال موږ ته نه دی معلوم، فقط له دغه یوه شعره دوني ښکاري چې تیمن به یو عاشق مشرب سړی و او کله کله به یې د خپلو عاشقانه جذباتو په شور او هیجان کې خواږه شعرونه ږغول، د ده د شعر ژبه سپیڅلې، پاکه او سپینه ده او اشعار یې هم روان، سلیس او خواږه دی او د قدماوه په ډله کې د تیمن د شعر مقام کښته نه دی.

۱۰. ښکارندوی غوری

د ۵۸۰هـ حدود

د پښتو له پخوانو قصیده سرایانو څخه یو ډېر مقتدر او د غښتلي قریحې خاوند ښکارندوی دی، چې د غور و او پلار یې احمد د غور د فیروز کوه کوټوال و، داسې ښکاري چې د ښکارندوی کورنۍ د خپل عصر عزتمن او معتبر خلک وه او د غور د پاچاهانو په دربار کې په درنه سترګه لیدل کیده، پخپله ښکارندوی به کله په غور کې ژوند کاوه او کله کله به په غزنه او بست کې هم اوسیده، د ده شرح حال هم د پټې خزانې مؤلف له لرغوني پښتانه څخه را نقل کوي، چې د دغه کتاب خاوند هم هغه له تاریخ سوري څخه را اخیستي دئ او دی وایي: ښکارندوی د خپل عصر عالم او شاعر پښتون و او د سلطان شهاب الدین محمد سام شنسباني په حضور کې ډېر عزت او اعتبار درلود او د دغه پاچا او هم یې سلطان غیاث الدین غوري په ستاینه کې ډېرې قصیدې ویلي وې او د غور د سلاطینو د دربار پښتون شاعر و، داسې ښکاري، چې ښکارندوی به تل د غور سلاطین په پښتو قصیدو ستایل او محمد بن علي د تاریخ سوري مؤلف لیکلي دي چې ما په بست کې د ښکارندوي د اشعارو او بوللو غټ کتاب ولیدي.[1]

دا د پښتو قدیم قصیده ویونکي شاعر به تل د غور له سلاطینو سره په جګړو او جنګي سفرو کې ملګري و او هم د دیوان خاوند دی چې د ده له دیوانه د تاریخ سوري څخه شیخ کټه پخپل لرغوني پښتانه کې وکښله او له لرغوني پښتانه څخه محمد هوتک په پټه خزانه کې وساتله. دا قصیده چې اوس زموږ په لاس کې ده، ښکارندوی د محمد سام په ستاینه کې ویلې ده او د هغه سلطان د هند یو سفر تصویر کوي چې څنګه د سلطان لښکر هند ته ځي او څنګه پر اټک تیریږي.

ښکارندوی د پخو قصیده سرایانو په ډول لومړی یو غرا او ډېر لوړ او خوندور تشبیب لري د بهار مناظر د غرو او رودو دلچسپ او زیبا تصاویر په دغه تشبیب کې ترسیم کوي، وروسته نو د سلطان معزالدین (شهاب الدینة ستاینې ته ګریز کوي او په خورا استادۍ او اقتدار د ده د لښکرو یرغلونه مصور کوي او دا قصیده کټ مټ د غزني د دربار د پخو شاعرانو فارسي قصایدو ته ورته ده. دلته به لومړی د ښکارندوی قصیده راوړو او وروسته به یې تحلیل ته هڅه وکړو:

---

۱. پټه خزانه ص ۴۷-۴۹.

د ستايني بولله[1]

د پسرلی ښکلونکي[2] بيا کړه سنگارونه — بيا ئې ولونل[3] په غرونو کښي لالونه

مځکه شنه، لاښونه شنه، لمني شنې سوې — طيلسان[4] زمردی واغوسته غرونه

د نيسان مشاطي لاس د مچيدو دی — مرغلرو باندي وښکلل[5] بڼونه

د غښولو[6] چنډی[7] خاندي و ريدی ته — زرغونو بټو کي ناځي زلمی جونه

لکه ناوې چه سور ټيک[8] په تندي وکا — هسي وگاڼل[9] غښولو سره پسولونه

مرغلرئ چه اوره[10] وخونوليه[11] — په ځلا[12] ئې سوه راڼه خپاره دښتونه

زرغونو مځکو کي ځل کا لکه ستوريه — چه پر هسک باندي ځلېږي سپين گلونه[13]

سپيني واوري ويلېده کاندي بهېږي — لکه اوښي د مين په گريوانونه

هر پلورنې والې بهاندي خاندي — له خوښيه سر وهي له سينگړونه[14]

هر پلو د گلو وېږم دی لونلئ[15] — ته وا راغله له ختنه کاروانونه

د مسيح په پو به مړو ژوندون بيا موند — پسرلی مگر مسيح سو په پوکړونه[16]

له مړو خاورو ئې آغلی[17] گل را ويوست — وچ بېديا او غر ئې کړله جنتونه

---

١. بولله: قصيده.
٢. ښکلونکي: آراينده.
٣. ولونل: وپاشل.
٤. طيلسان: قبا.
٥. وښکلل: ښکلي يې کړه.
٦. غښول: لاله. :
٧. جنډی: گل.
٨. تيک: د تندي پسول.
٩. وگاڼل: په کېڼه يې آراسته کړل.
١٠. اوره: اوريځ.
١١. وخونوليه: نثار او خوني يې وکړه.
١٢. ځلا: ځليدل.
١٣. سپين گلونه د اول مصراع له ځل سره اړه لري.
١٤. سينگړ: سنگلاخ.
١٥. لونلي: پاشلي.
١٦. پوکړونه: پو کول، دميدن.
١٧. آغلی: ښکلي.

سړی جاجي[١] چه را مشت کړ را مشتگرو[٢] گهیځ چوڼي[٣] چه په بڼ وکا ږغونه
په بربڼ[٤] چه ږغ د چوڼیو نغوړېده[٥] سي ته وا چندی[٦] سره پېودي[٧] اشلکونه[٨]
د زلما ټاپی[٩] راغلي دی پر جنډیو لکه پېغله غوټي کاندي مکیزونه[١٠]
د پوپلو[١١] مخ سور کړئ پسرلی دی یو د بل په غاړه اچوي لاسونه
د هنداور په څېر غرونه سپین وړنگن[١٢] دی چه پر واورو باندي ځل وکا لمرونه
په غورځنگ غورځنگ له خولې ځگونه باسي لکه شڼ[١٣] هاتی شڼا کاندي سیندونه
نه به چوڼی[١٤] په ستایه د گلو موړ سي نه به موړ سم د سلطان په صفتونه[١٥]
د شنسب[١٦] د کهاله[١٧] ختلی لمر دی د پسرلی په دود ودان له ده رغونه[١٨]
د ښندو اورو[١٩] ئې درست ایواد[٢٠] زرغون کړ له قصدار[٢١] تر دیبله[٢٢] ئې یونونه[٢٣]

---

١. جاجي: فکر کؤي. اوس دا فعل نسته.

٢. رامشت: ساز او سراود را مشتگر سازنده.

٣. چوڼي: بلبل.

٤. بربڼ: لوړ باغ، خیابان.

٥. نغوړیده: اوریده.

٦. چنډی: ښایي چي د شاعر معني به لري.

٧. پیودي: نظم کوي.

٨. اشلکونه: اشعار.

٩. زلما: اوس نه ده مستعمله، ښایي د ځوانئ په معني به وه له زلمي څخه، اما ټاپي اوس معین وخت ته وایي.

١٠. مکیز: د ناز مسل.

١١. پوپل: ښایي د یو گل نوم به و اوس دا نوم پر سړیو اینبود کیږي.

١٢. وړنگن: ښایي د وړانگي څخه جوړ شوي صفت وي د مشمشع په معني.

١٣. شڼ او ښڼا: ښایي د مست او مستئ په معني و؛ خو اوسل نشته.

١٤. چوڼي: ښایي د چوڼیدل څخه به د بلبل په معني و.

١٥. دلته تشبیب تامیږي او تخلص شروع کیږي.

١٦. شنسب د غوریانو د لوی نیکه نوم و (طبقات ناصري) د پښتو شین اسپه به وي.

١٧. کهول: خاندان.

١٨. راغه: د غره لمن او دښت.

١٩. یعي د ښندلو وریځو.

٢٠. ایواد: اوسني هیواد دی.

٢١. قصدار: په اوسني بلوچستان کي یو ښار و چي اوس یې خضدار بولي.

٢٢. دیبل: د بحیره عرب پر غاړه یو ښار و اوسني کراچی ته نژدې.

٢٣. یون: تگ.

په زابل چه د برى پرنيلي[١] سپور سي   په لاهور ئې د مېړني گزارونه
نه ئې څوک مخ ته دري[٢] د مېړځمنو   نه ئې تورى ته ټينگېږي کلک ډالونه
د اسلام د دين شهاب د نړۍ لمر دى   تور ستهان[٣] ئې کړ رڼا په جهادونه
هر پلا چي دى پر هند و سند يرغل کا   رڼوى توره نړۍ په شهابونه
په پسرلي چه ئې تېرون[٤] په اټک وکا   غاړه غاړه ئې ترې[٥] سولله زړونه
نه به ده غوندي روڼ ستورى په هسک ځلي   که څه پورته سي له غوره ډېر مېړونه
نه به راولي جگړن[٦] د سيند په لورى   نه به برى[٧] څوک د هند چناره ښهرونه
نه به څوک زلمي د غور سره را غونډ کا   د داور[٨] توري به چېرې کا ځلونه[٩]
يو خاوند شهاب الدين دى چه ئې وکا   په هر لورى هر ايواد ته يرغلونه
په جوپو جوپو جگړن ئې هند ته يون کا   چې د غور بادار همت وکا زغلونه[١٠]
نن په سيند باندي تېرېږى يرغل کاندي   په پرتم[١١] ئې زمرى رېږدي په زنگلونه
څپان سيند ئې هم له ډاره ايلائى[١٢] کا   پر اوږو وړى د غوريانو ښه ايړونه[١٣]
په هر کال اټک د ده ښه راغلې کاندي   غوړوى په څنډو خپل پاسته سالونه[١٤]
پښتونخوا ښکلى ځلمى چه زغلي هند ته   نو آغليه پېغلي کاندي اتڼونه
زرغونې ختي[١٥] اغوستى وي دې غرونه   بټ[١٦] بېديا هم پسوللى[١٧] وي ځانونه

---

١. نيلي: بوز آس.
٢. دري: درېږي قديم شکل.
٣. ستهان: ستان، ځمکه، سرزمين، په سنسکريت کي هم شته.
٤. تيرون: تيريدل، عبور.
٥. ترې: ښايي له تيريدل څخه پخوا به په بله معني و خو اوس نشته.
٦. جگړن: ظاهراً له جگړې څخه د جنگي په معني خو اوس نشته.
٧. برى: فتح کوي. د بري څخه. خو اوس د برل مصدر نشته.
٨. داور: اوسنى زمينداور.
٩. ځلونه: د ځل جمع ده، ځليدل.
١٠. زغلونو: د زغل جعع ده، تاخت و تاز.
١١. پرتم: دبدبه.
١٢. ايلايي: د ايل څخه د اطاعت په معني.
١٣. اير: يوه دسته کښتۍ.
١٤. سال: سرمه ريگ.
١٥. ختي: البسه، اوس خت کميس ته وايي.
١٦. بټ بيديا: تود بيابان.
١٧. پسولل له پسول (زيور) څخه قديم مصدر دى چي اوس يې فعلي مشتقات نه ويل کيږي.

هر گهيځ[١] چي لمر څرکيږي[٢] له خاتيځه[٣] — څو چي يون کا د لويديځيه[٤] په څنډېونه
که بريځر[٥] وي، که غرمه وي که برمل وي — که لرمل[٦] که لمر لوېد[٧] که ترملونه[٨]
د شهاب جگړن به نه کښېني له زغلو — نه به پرېږدي دا زلمی خپل بهيرونه[٩]
زمری کله کاږي[١٠] ځان له يرغلگريو[١١] — څو ئې نکا مات متېونه[١٢] ورمېږونه[١٣]
يا به جنگ کا د بريو[١٤] رپی[١٥] په هند کي — يا به پرېږدي[١٦] هم په دې چاره سرونه
يا به وران کا بودتونونه[١٧] د بمبڼو[١٨] — يا به سره کاندي په وينو ايوادونه[١٩]
په رڼا اوسې ته تل د دين شهابه! — نوم دي تل[٢٠] وه پر دريځ[٢١] په نمزدکونه[٢٢]
څو رانه سي ستا په توره د هند لوريه — څو چي نست[٢٣] کړې له نړيه بودتونونه

---

١. گهيځ: سهر.

٢. څرکيږي: له څرک (طلوع) څخه؛ خو اوس يې فعلي ډول نه دی مستعمل.

٣. خاتيځ: پخوا د مشرق په معني و، د ختلو ځاي، خو اوس عام نه دی.

٤. لويديځ: پخوا د مغرب په معني و، خو اوس عام نه دی، لويدل ځاي.

٥. څنډه: اوس افق او کنارې ته وايي، خو څنډېونه نشته.

٦. بريځر: ضحي.

٧. ١٨، ١٩، ٢٠ دا درې کلمې اوس نه وايو، ښايي برلم ماپښتين او لرمل مازيگر او ترمل ماښام وي، مل به د مهال مخفف وي چي اوس وخت ته وايو، نو بايد مل (لوړ مهال) لرمل (کوز مهال)، ترمل (تور مهال) وي.

٨. ترمل: تور مهال.

٩. بهير: قطار.

١٠. ځان کښل: تيښته.

١١. يرغلگري: متهاجم.

١٢. مټ: بازو.

١٣. ورمېږ: مغزي.

١٤. بری: فتح.

١٥. رپي: ښايي د رپيدل له ريښې څخه پخوا د بيرق په معني و، خو اوس نشته.

١٦. اوس په داسي ځاي کي د پريږدي پر ځاي کښېږدي وايو، سر به پر کښېږدي.

١٧. بودتون: بتکده اوس دا کلمه نشته خو پخوا وه په قديمه پښتو بود بت و او تون ظرفيت ادات دي.

١٨. بمبڼ: د هندوانو پير.

١٩. اواد د هيواد قديمه امال ده، سرزمين.

٢٠. نوم دي تل: دعائيه ده، بادا.

٢١. دريځ: اوس دا کلمه نشته پخوا وه د امير کروړ په شعر کي هم راغلې ده ښايي منبر ته يې ويله. دريدل ځاي لکه خاتيځ لويديځ.

٢٢. نمزدک: ښايي پخوا يې مسجد ته ويل اوس نشته، په قديمه پارسي هم مزگت مسجد و.

٢٣. نست: نابود.

ستا په زېرمه[1] دی خاونده لوی څښتن وي   موږ خو ستا په مرسته یونه ځو چې یونه[2]

کتنه او څېړنه:

د ښکارندوي دا قصیده د پښتو ادب یو ښهکار دی او د شاعر مهارت او استادي او د قریحې غښتلوالي او سپیڅلتوب ځني ښکاریږي. لومړی مزیت چې په دې قصیده کي لیدل کیږي د کلام سلاست او رواني او بلاغت دی، چې هیڅ تعقید او ابهام نه لري او شاعر په خورا مهارت خپل مقاصد په ساده او سپیڅلو عباراتو ادا کوي.

که څه هم ښکارندوی ښاروال او درباري سړی و؛ خو کلام یې د غرو د ژبي کلکوالي او استحکام لري او ډېر د پښتو نادر لغات او مواد په کي شته چې پخوا ژوندي وه او ما د کتاب په حاشیو کي در وښودل. دا لغات موږ ته دا راښیي، چې پښتو خورا وسیعه ژبه وه او اوس یې ډېر پخواني کلمات له رواجه لویدلي دي؛ لکه خاتیځ، لویدیځ، لرمل، برمل او نور چې اوس یې په عوض کي موږ عربي یا پاړسو کلمات وایو.

ښکارندوی چې د قصیدې د نشبیت کي د پسرلي کوم زیبا او ښکلی منظر تصویر کړی دی، د وطن له ښکلیو دښتو او غرو څخه یې الهام اخیستي دی د ده حساسه قریحه د مناظرو په تصویر کي ډېره ګړندۍ ده، د پسرلی زرغونتوب د ګلو غوړیده د نسیم نڅا او ښه بوی، د غوټېو لویدل او هغه لکه هینداره ځلول د سیندونو مستي او غورځنګ دا ټول د وطن د پسرلي طبیعي او ښکلي مناظر دی، د پښتونخوا د جمال نخښې دی چې شاعر یې په ترسیم او محاکات کي استادي او مهارت ښکاره کړی دی.

له دغي بوللي (قصیدې) څخه چې د ښکارندوی اوستاد له دیوانه موږ ته پاته ده معلوهلای شو، چې دا شاعر په ادبي فنونو او د بلاغت په اساسونو کي هم پوخ و او د ده اشعار له ښکلیو تشبیهاتو او استعارو ډک دی او اسلوب یې کلک او پوخ دی؛ مګر دا خبره هم باید هیره نه کړو، چې لکه د پښتو نور اشعار د ښکارندوی قصیده هم له سره تر پایه پر نیچر او طبیعت بنا ده او لکه د پاړسي بعضي اساتید، پخپل شعر کي د هیئت، نجوم، فلسفې او نورو علومو اصطلاحات نه ګډوي[3] او په کلام کي هیڅ راز دروندوالي او تکلیف او بي خوندي نشته او په دې مزیت کي دی منوچهري ته ډېر ورته دی، چه هر کله طبیعي او حسي او د نیچر په لمن کي نغښتي او اشعار وایي.

په دې قصیده کي د غور د سلطان د لښکرو عبور پر سیند باندي تصویر شوی دی او شاعر په دغه پسرلي کي د سیند څپان توب او د پیغلو اټڼونه او د دنیا زیبایي او د غرونو زرغونیدل په داسي ډول راوړي دي، چې دا ټول د دغو زلمو په استقبال کي دی او اټک هم هر کال خپل پاسته سالونه (رېګ) پر مځکه غوړوي، چې د سلطان د لښکرو زلمي پر تیر شي.

څپان سیند هم سلطان ته ایل دی، او د غوریانو کښتۍ پر واړو وړي، که څه هم له دې یرغله د زمریو زړونه په زنګلو کي رپیږي؛ مګر بیا هم د خلکو مینه له دې سلطانه سره دوني ده، چې زړونه یې د تیریدلو لپاره پلونه کړي دي. تاسي قصیده سر تر پایه وګورئ، ټوله طبیعي پیرایه لري او له مافوق الطبیعه مبالغو او حشویاتو څخه پاکه ده، او دا د یوه شاعر

---

۱. زیرمه: حمایت.

۲. پټه خزانه ص ۴۹-۵۷.

۳. مثلاً لکه عنصري چې وایي:

وګر حدیث بقول منجمان راني   بحکم اختر و ایام و طالع و دوران

بصد دلیل عیانست پادشاهي او   که کد خداي جهانست و پادشاه قرآن

قدرت او مهارت ثابتویل چي د طبیعت په لمن او دایره کي خپل مقاصد بیله غیر طبیعي مبالغو ادا کړي او خپل ممدوح که هم ستايي د یوه انسان په ډول يې ستايي او د هغه اصلي او حقیقي مقام ساتي.

موږ د ایشیا په ادب کي تر ښکارندوی دمخه کټ مټ یوه دغسي واقعه لرو، چي یوه پادشاه د جیحون د تیریدلو پر وخت د یوه درباري شاعر له خوا ستایل کیږي که څه هم شاعر استاد دی او په ستاینه کي مهارت ښکاره کوي، مگر که تاسي دغه مدح د ښکارندوی له اداء، اسلوب او مضمون آفرینۍ سره مقایسه کړئ؛ نو به درته ښکاره شي، چي پر دې شاعر د فطرت او نیچر په لمن کي مضمون دریدلي و او له ناچارۍ يې مافوق الطبیعه ته لاس اچولي دی او غواړي چي پاچا په بې حقیقتو ستاینو خوښ کړی.

هغه وخت چي د سلطان محمود لښکر پر جیحون تیریږي فرخي وايي:

پیمبران را از آن بیش معجزات نبود	که شاه دارد، واین سخت روشنست و عیان
بر آب جیحون پل کردن و گذاره شدن	بزرگ معجزه اي باشد و قوي برهان
ملک بوقتي کز آب، رود جیحون بود	چو اسمان، که مراورا پدید نیست کران
بر آب جیحون در هفته اي یکي پل بست	چنانکه گفتي کز دیر باز بود چنان[1]

په دې بیتو کي ستایونکي خپل ممدوح سپکوي او د صفت پر ځای يې په معجزو لوړوي، او حال دا چي پر جیحون پل تړل او تیریدل چندان عجیب کار او خرق عادت نه دی او نه دا معجزه گڼله شي، ځکه چي دا معجزه د هر ماښو کار دی، ربښتیا خو دا ده، چي د طبیعت په دایره کي پر ده خبره دریدلې وه؛ نو يې داسي بیځایه او له حقیقته لرې مدح پوري نښلولې ده، چي ده ته د پیمبرۍ مقام ورکړي.

اما په تشبیب کي چي کوم تصویر ښکارندوی کښلی دی، دا د هغه عصر د اکثرو استادانو رویه او ادبي سنت و، د اکثرو قصیدو په اغاز کي په پسرلي یا کوم عشقي موضوع تشبیب کیده؛ لکه د منوچهري دا تشبیب:

نوروز، روزگار نشاطست و ایمنی	پوشیده ابر دشت بدیباي ارمنی
خیل بهار و خیمه بصحرا برون زند	واجب کند که خیمه بصحرا برون زنی
درست ناخریده و مشک است رایگان	هر چند بر فشاني و هر چند بر چني...
شاخ بنفشه بر سر زانو نهاده سر	مانندۀ مخالف بو سهل روزني[2]

وگورئ تشبیب یو راز دی، د دواړو شاعرانو موضوع بهار دی مگر فرش يې دوني دی، چي ښکارندوی د غرو او دښتو بهار تصویر کوي او منوچهري د ښاروالو د عیاشۍ مناظر په بهار کي ښيي؛ خو د دواړو د قریحې د جولان او شاعرۍ د کمال مظهر طبیعت دی او په دې ډول د ښکارندوی قصیده د خپل عصر د ادبي روح نمایندگي په ښه توگه کوی او د پښتو شعر خصوصیات هم ښه خوندي کوي.

۱۱. ملکیار غرشین

د ۵۸۰هـ حدود

غرشین د پښتنو یو مشهور ستانه قوم دی، چه پخوا يې یو وچ غر سر سبز او اباد کړی و؛ نو ځکه دوی غرشین

1. دیوان فرخي ص ۲۵۲.
2. د دې قصیدې یو څو بیته نمونه ولیکله شوه او تر دې بیت وروسته د بو سهل زوزني مدح ته گریز دی چي د غزني یو وزیر و.

بولي، دا قوم د کندهار خواوه کي اوسي او په شمير ډير لږ دي.[1]

ملکيار له دغه قومه يو خورا ستانه او مشهور سړی دی، چي د پښتنو مؤرخانو د ده ذکر پخپلو مشاهيرو کي راوړی دی، نعمت الله هروي ليکي، چي ملکيار د شيخ ابو بکر طوسي معاصر و او په ډيلي کي يې يو ځای درلود چي سلطان شهاب الدين غوري د ملتان د يرغل پر وخت ده ته بخښلی و او د ده مرقد هم هورې دی.[2]

دا روايت چي نعمت الله کښلی دی څو سوه کاله دمخه سليمان ماکو هم دغسي راوړی دی او ځني ښکاري چي د ملکيار د ژوند وخت د سلطان معزالدين غوري عصر و او دی په جګړو کي د سلطان ملګری هم و؛ ځکه چي سلطان لومړئ پلا پر ملتان په ۵۷۱هـ حمله کړې وه؛ نو د ده حيات زمانه هم په دغو وختو کي تخمين کولای شو.

سليمان ماکو د ده په احوال کي هسي ليکي: "نقل کاوه شي چي په روزګار د غازي شهاب الدين چي په ډيلي کي هغه ستر[3] واکمن ټاټوبي[4] ور وښانده او هم هورې مړ شو. نقل کاوه شي چي په جوبله[5] کي مسلمانان تر شا ولاړه او کفارو برې وکړ، ليري نه وه چي مسلمانان شي د کفارو په کټارو[6] پوپنا[7] او دښنه برې وکړي، ناڅاپه شيخ ملکيار راغي او پر دښمن يې يرغل وکاوه او ډير زښت يې وهژل، نورو مسلمانانو هم د ملکيار تر اړخ توري وکښې او سره ومړوړل يې دښنه، ستر څښتن دوی ته په ميړانه د شيخ ورکړه لو سوبه[8] او برې چي پخوا هم نه و په برخه شوی د چا، هيڅکله په هيڅ ځای کي."[9]

د سليمان ماکو له دغه بيانه ښکاری چي ملکيار يو غښتلی او توريالی سړی هم و او د توري او ادب له څښتنانو څخه و چي د سلطان سره يې په جهاد او جګړو کي ملګري کړله، داسي ښکاری چي ملکيار تر جنګيالي توب او توريالي توب علاوه، ادبي ذوق هم درلود، پخپله هم شاعر و او د نورو پښتنو شاعرانو اشعار يې تل لوستل، لکه چي سليمان ماکو د شيخ اسماعيل سړبني شعرونه د ملکيار له خولې را نقل کړي دي[10] د زهد او تصوف او عرفان له پلوه هم ملکيار ښه شهرت لری او مؤرخان د ده له نامه سره پران هم ليکي او د ده عرفاني شهرت دوني ډير و، چي تخميناً دوه نيم سوه کاله وروسته سلطان فيروز شاه (۷۲۵-۷۹۰هـ) ډهلي ته نژدې فيروز آباد بنا کړ؛ نو هلته دې پاچا د شيخ ملکيار پران په يادګار يو سراي هم جوړ کړ چي د هغه عصر مؤرخ ضياءالدين برني يې په ۷۵۸هـ کال ذکر کوي[11] لکه چي مؤرخان تصريح کوي، ملکيار په ډهلي کي اوسيده او هم هورې مړ شو او په دغه ښار کي د شيخ ابوبکر طوسي له مزاره سره يو

---

۱. حيات افغاني ص ۱۵۲.
۲. قلمي مخزن افغاني.
۳. ستر: لوی، واکمن، مختار.
٤. ټاټوبي: قرارګاه.
۵. جوبله: جنګ.
٦. کټاره: نيزه.
۷. پوپنا: نيست و نابود.
۸. سوبه: فتح.
۹. د سليمان ماکو تذکرة الاوليا.
۱۰. د اسماعيل احوال به وروسته راشي.
۱۱. تاريخ فيروز شاهي ص ۱۳٤.

ځاي ښخ دی[1] او سليمان ماکو د ده يو شعر داسي را نقل کړي دي:

په هغه ميدان کي چي شيخ ملکيار د سلطان معزالدين د لښکرو سره يو ځای جنګيدی او نژدې و چي د سلطان لښکر ماته وکړي؛ نو دې توريالي اديب او عارف يوه د ننګ او جنګ سندره وهيله او لښکريان يې همت او شجاعت او توريالیتوب ته تشويق کړل، څو په پای کي بريالي شو، او د جنګ پر ډګر يې سوبه په برخه شوه، سليمان ليکي: په جوبله کي ملکيار دا پاړکي[2] وهيل، چي غازيان وپاريدل[3] او په څير د زمرو ور توي شول:

ښتن مو مل دی اوس مو يرغل دی هيواد د بل دی
غازيانو ګورئ څښتن مو مل دی
توري تيرې کړئ دښن مو پرې کړئ منګولي سرې کړئ
څله به تښتو ښتن مو مل دی
که ټينګ کړو زړونه پر بري يونه چي زمري يونه
اسلام را څخه دی ښتن مو مل دی
غازيانو راشئ ټول شاو خوا شئ د شهاب په ملا[4] شئ
دښن مو غوڅ کئ ښتن مو مل دئ[5]

د ملکيار دا شعر چي د قديمو اقوامو د حماسياتو او رجز رنګ لري، له هغو سندرو څخه دی، چي پخوانو پښتنو به د جګړې پر ميدان ويلې او مقصد يې دا و چي د زلمو احساسات تاوده کړي او پر جنګ يې ښه وپاروي. د دې شعر عروضي کيف او الفاظ او کلمات سوچه دي او لکه نورو ګړني (عوامي) اشعار يو تکراريدونکي کسر (غبرګ) هم لري، چي د هر بند په پاي کي ويل کيږي او د پښتو د مخصوصو اشعارو يو ښه خاصيت دی. شاعر په حقيقت کي يو مبلغ هم دی او په هر ځاي او هر موقع کي د خپلو وينا وو د اغيزمنولو لپاره د بيان طرز او اسلوب داسي ټاکي چي د ده وينا پر اوريدونکيو باندي اغيزه وکړي او د شعر مقصد حاصل شي.

په دې پاړکي کي هم ملکيار د غوري سلطان د جنګياليو د پارولو لپاره دوی ته داسي خطابونه کړي دي چي بايد په اوريدلو يې متاثر شوی وی او په دوی کي يو ملي او ديني هيجان پيدا شوی وی. دا پاړکي بې له نومو نور ټول سوچه پښتو دی او په اخر پاړکي کي ملا د ملګرئ او همراهئ په معنی هغه زړه کلمه ده چي د اسعد سوری په قصيده کي هم راغلې وه (نه به ملا کړي له بې وزلو له ترار) او له دې څخه هم ښکاري چي دا پاړکي د پښتو ژبي په قديمه دوره اړه لري او په دغه وخت کي لا داسي قديم کلمات مړه نه وه او له استعماله نه وه لويدلي. د پښتو په پخوا اشعارو او د قدماوه په دوره کي چي ګورو د جهان پهلوان امير کروړ سوري تر شعر وروسته دا لومړی جنګي اثر دی؛ مګر فرق يې دوني دی چي امير کروړ په خپل شعر کي د يوه زبردست او غښتلي قايد رنګ لري او د يوه نامور اتل (قهرمان) په ډول شعر وايي؛ خو ملکيار دلته د يوه مبلغ په دود خبري کوي او غواړي چي ملي احساسات په ديني تبليغ وخوځوي او له خپل عرفاني

---

١. د سليمان ماکو تذکره او مخزن افغاني.

٢. پاړکي: پخوا بې د شعر قطعې ته پاړکي ويل.

٣. پاريدل: تنديدل.

٤. ملا: د مل څخه د ملګري په معنی.

٥. د سليمان ماکو تذکره او پښتانه شعراء ج١ ص ٥٦.

مقامه هم کار واخلي او د شعر په وسیله د لښکرو روح تقویه کړي؛ نو ملکیار په پخوانو شاعرانو کي هم عارف و، هم شاعر و هم جنګیالی او دا دري سره خواوي يې په شعر کي شته.

۱۲. تايمني

د ۵۸۰هـ حدود

د تایمني په نامه موږ د پښتنو یو پخواني ادیب او شاعر پیژنو مګر دا نه ده ښکاره چي د دې شاعر نوم تایمني و که د تایمني قوم ته منسوب و چي دا قبیله په غور کي اوسي.

د غوري شاهانو په عصر کي لکه نور مشهور پښتانه شعراء چي تیر شوی دی یو له هغه څخه تایمني دی، چي د ده ځني اشعار تر اوسه هم د زمینداور په غرو او رغو کي د خلکو په یاد دي، د غوري سلطان غیاث الدین معاصر و او ځکه چي د ده یو شعر په زمینداور اړه لري او هم په زمینداور کي اوسید ځکه چي د دغه سلطان پاچاهي د ۵۸۰هـ په حدودو کي وه؛ نو د تایمني ژوند هم په دغه عصر کي و، تر دې زیات نو د ده احوال نه لرو.

په ۱۳۱۰ش کال چي زه د هلمند په کلیو او لتو کي ګرځیدم په یوه کلي کي د شپې د زلمو بنډار و او د نشاط او مسرت بزم تود و هلته به ځینو په خواږه بږغ ناري کولې او ځینو به نڅل او بعضو به بدلي او سندري ویلې د دې بنډار په یوه خوا کي یو سپین ږیري ناست و که څه هم زمانې نتلي و او ویښتان يې تک سپین و؛ خو خوش ارواح سړی و او زړه يې ځوان و.

دې سپین ږیري د زمینداور په غرو کي د زلمي توب ښې شپې ورځي تیري کړي وې او د هلمند پر غاړو يې د میني په دنیا کي خپله ځواني خاوري کړې وه، د سترګو دید يې لږ شوی و؛ خو زړه يې بینا و، غوږونه يې درانه وه؛ خو سد يې پر ځای و، زلمو ده ته په درنه سترګه کتل او ده هم پخپلو خوږو سندرو، بزمونه تودول، د خپل زلمي توب کیسې به يې کولې او د هلمند د غاړو او د لور د ودانۍ او مدنیت زړې افسانې چي ده ته له تیرو نیکونو څخه رسیدلي وې بیانولې به يې. دې سپین ږیري پخپلو سندرو کي د تایمني په نامه دا شعر په ملي وزم او خوږه لهجه ولوست، چي د پښتو یو زړه ادبي ټوټه ده:

نن زه بږغیږم په صفت د سلطان	چي دی بادار غازي ملک د جهان
د فیروزکوه او غور رڼا له ده ده	هم د تیرو، تورو بریښنا له ده ده
چي توره وکاږي چړتون[1] کي خالي	غلیم يې کله کړي په توره سیالي
غیاث الدین د غور زمری عالیشان	د اسلام دین د ده په توره روښان
ما د داور په مځکه ولید ارم	دا د جنت په څیر و بڼ ښه خورم
د فیروزکوه په دود وران دی نا	ښکلي هر ګل څه ښه خندان دی نا
دلته کړونګي[2] دي بږغونه کوي	اوبه بهیږي سرودونه کوي
هر سړی ګوري چي ولاړ وي اریان	کړي ننداري د خداوند د بستان
غیاث الدین د جهان لمر دی نا	عالم له ده ډیر بهرهور دی نا

---

۱. چړتون: نیام، د توري پوښ.

۲. کړونګي: د اسعد سوری پهي قصیده کي هم د ابشار په معنی راغلی دی.

هند يې روښانه په اسلام کي نا — له ځاني خوښ خير الانام کي نا
چي يې په غور کي نيلي زين کي نا — پر کافرانو يې ناورين کي نا
تل دي برى وي د غازي پر ميدان — زه تايمني ستاينه کړم د سلطان[1]

د تايمني له اشعارو څخه فقط دغوني موږ ته پاتى دى او په دې کې دى زميندارو ستايي او د دې ځاي تاريخي وداني او مدنيت بيانوي، دى په زميندارو کي د ارم باغ ستاينه کوي او وايي چي د فيروزکوه په ډول ودان دى او د تاريخ له پلټني ښکاري، چي دغه ارم په داور کي يو باغ و د غوري عصر يو مؤرخ منهاج سراج جوزجاني هم د دې باغ ارم ياد داسي کوي:

"ثقات چنين روايت کرده اند که سلطان غياث الدين در اول جواني معاشر عظيم بود و شکار دوست و از حضرت فيروزکوه که دارالملک او بود تا بشهر زمين داور که دارالملک زمستاني بوده هيچ افريده را مجال نبودي که شکار کردي... در زميندار باغى ساخته بود آنرا باغ ارم نام نهاد و الحق در ميان دنيا مثل نزاهت و طراوت آن باغ هيچ پادشاهي را نبود و طول او بقدر دو ميدان وار زيادت بود..."[2]

منهاج سراح د غوري عصر يو مشهور سړى دى چي د غوري شاهانو په دربار کي اوسيد، د باميان فيروزکوه، هرات، زمين داور مدنيتونه يې پخپلو سترګو ليدلي دى، د تايمني پښتون شاعر دغه بدله هم د دغه مؤرخ د بيان تاييد ښه کوي او دا دوه معاصر ادبأ د غوريانو د ثقافت نمايندګان دي. د تايمني دغه شعر روان او ساده دى او ضمناً حماسي خوا هم لري او لکه د پښتو افواهي اشعار په وزم هم ويل کيږي، که څه هم ظاهراً د عروضي اشعارو په تقليد د قافيي تر اصولو لاندي دى؛ مګر د پښتو د پخوانيو او اوسنيو ازادو سندرو رنګ لري او د اکثرو بيتو په پاي کي د ترنم (نا) راغلي دى او دا خاصيت د ملي اشعارو دى چي په ترنم ويل کيږي.

داسسي ښکاري چي تايمني په شعر کي د پخوانو او خاصو وطني اسلوبو تابع و، مګر بيا هم د ماحول اثر پرې شوي او ښايي د پارسي ادب اغيزې پرې لويدلي وي، چي د ده له دغه يوه شعره ښه ښکاري.

۱۳. قطب الدين بختيار

۶۰۰هـ

قطب الدين د احمد زوى د موسى لمسى په قوم پښتون بختيار او د خپل عصر له نومياليو عرفاوه څخه و، چي تر اوسه هم په هند کي لوى شهرت لري. پرديو مؤرخانو دا سړى نه دى پيژندلي او د ده د پښتونوالي ذکر يې نه دى کړې؛ مګر د پښتنو مؤرخانو دى د پښتنو په عرفاني مشاهيرو کي راوړى دى. نعمت الله په مخزن کي د ده مناقب په تفصيل راوړي او داسي وايي: "حضرت خواجه قطب الدين بختيار کاکي قدس اللّٰه سره، نام پدر ايشان احمد بن موسى است ساکن اوش بود که از توابع بغداد است و تولد آن بزګزيده، در سنه پانصد و هفتاد و پنج اتفاق افتاد، چون سال عمر ايشان به بيست و پنج رسيد حضرت معين الدين سجزى بآن مکان تشريف آورد خواجه قطب الدين بختيار دست انابت بذيل هدايت ايشان در آورده مريد شد... بعد برفاقت شيخ جلال الدين متوجه هندوستان شدند، در بلدۀ ملتان

۱. پښتانه شعراء ج۱، ص ۵۸.
۲. طبقات ناصري، ج۱ ص ۴۲۹.

بغوث العالم شیخ بهاءالدین زکریا ملاقات نمودند...»[1]

په دې ډول نعمت الله د پښتنو مورخ، قطب الدین بختیار د خپل کتاب په ډیرو ځایو کې ''اقطب افغان'' بولي او د ده د نورو هم قومانو مشاهیرو نومونه هم راوړي. لکه خواجه یحیي بختیار، شیخ شهاب بختیار، شاه ابو بکر بختیار او نور... دا خو ښکاره ده، چې بختیار د پښتنو یو خورا مشهور او ستانه قوم دی، چې تر اوسه هم د سلیمان غره په شاوخوا کې پوندګي او سوداګري کوي ځکه چې پردي مؤرخان د پښتنو په دغه قوم نه وه خبر، نو یې قطب الدین پښتون نه دی لیکلي، تش د ده سره بختیار لیکي، فرشته وایي، چې دی په اوش کې زوکړی دی چې د ماوراء النهر له ښارو څخه و[2] ابوالفضل علامي هم دی د فرغانې د اوش بولي.[3]

اوش یا اوچ خو دوه زاړه ښارونه وه، چې د سیحون پر هغه بله غاړه ودان وه.[4] ابن خردادبه وایي: دا یو لوی کلی و چې له قبا څخه اوه فرسخه لرې و او اوزګند ته لس فرسخه پروت وه.[5] یاقوت هم دا دوه کلي بیل بیل یادوي اوش له فرغانې څخه او اوچ د سیحون پر غاړه ګڼي[6] نو که موږ د نورو مؤرخانو دغه قول چې قطب الدین په اوش کې اوسید نو ځکه چې د ده پښتونواله پښتنو مؤرخانو تصدیق کړې ده؛ نو دا ویلاي شو، چې د ده نیکه یا پلار به هغې خوا ته تللي او قطب الدین به هلته زوکړی وي. دلته دا خبره هم د غور وړ ده، چې زموږ پښتون مؤرخ سلیمان ماکو خپله تذکره کې د دې قطب الدین ذکر داسې کړی دی:

''نقل کاوه شي چې: بختیاری ستر ستانه و، له ده څرګنده شوې دې هغه کرامات چې موږ وکښل او وهیل، موسی چې ستر پلار و د قطب، تللي و له بختیارانو څخه او میشت و پر ایواد چې سیند باله شي.''[7] دا روایت خو د قطب الدین د نیکه تګ له خپله وطنه ثابتوي؛ مګر د ماوراء النهر پر ځای سند ښیي که موږ دقت وکړو، په سند کې هم په دغو وختو یو ښار ودان و چې اوچ یا اوچه بلل کیده، مؤرخان یې د سلطان معزالدین غوري په فتوحاتو کې د ملتان سره یو ځای راوړي[8] او دا ښکاري چې اوچ د سند یو مشهور ښار و؛ نو که د قطب الدین پلار او نیکه په دغه ښار کې اوسیدلي وي؛ ځکه چې د قطب او د ده د پلار نور عرفاني معاصران هم په ملتان کې و؛ نو به د سلیمان ماکو قول اصح وي، په هر صورت قطب الدین خو پښتون و، چې نیکه یې له خپله قومه بختیارانو څخه تللي یا د سند په اوچ یا د ماوراء النهر په اوش کې اوسید او روهسته لکه دمخه چې وهیل شوه په هند کې شهرت موندلي دی.

قطب الدین د مخزن افغاني او آیین اکبري او مخبر الاصلین په قول د لومړۍ خور په ۱٤ په هجري کال ٦٣٣ او فرشته ٦٣٤هـ د عمر پر ٥٨کال وفات او په ډهلي کجې ښخ شو، چې تر اوسه یې مزار ډیر مشهور دی.

---

۱. مخزن افغاني خطي.
۲. تاریخ فرشته ص ۳۲۸.
۳. آیین اکبری ج۲ ص ۱٦۹.
٤. حدود العالم ص ۲٤.
٥. المسالک و الممالک ص ۳۰-۲۰۸.
٦. معجم البلدان ج۱ ص ۳٦۸.
۷. د سلیمان ماکو تذکره.
۸. وګورئ تاریخ معصومی ص ۳۳، تاریخ مبارکشاهی ص ٥، ٦، طبقات اکبري ج۱ ص ٦۱.

د قطب الدین اشعار:

د قطب الدین علمي او عرفاني شهرت خو له تیرو لیکنو څخه تاسي ته ښکاره شو، چي د نوموړی بختیاري پښتون په عرفاني دنیا کي څوني لوړ مقام لری او اکثر د اولیاوه تذکره نگاران د ده احوال ذکر کوي؛ مگر دا عارف د پښتو یو خورا ښه شاعر هم دی، چي سلیمان ماکو یې پخپله تذکره کي د مناقبو تر شرحي وروسته یوه عشقي سندره هسي را نقل کوي او ځکه چي سلیمان د ده معاصر دی، نو یې قول د منلو وړ هم دی.

"بختیار په پښتو سندي کړینه، او ښې تویوینه، خدای ته ناريې کړي، غلبلې کړي، پاړکي لرینه، چي یو دا دي:

ویر مي زړه سوری سوری کړ — راته وگوره ملوکي!
په بیلتون کي دي وباسم: — له خوږمنه زړگي کوکي[1]
راته وگوره ملوکي! راته وگوره ملوکي!
د بیلتون اورونه بل دي — هر گړی مي زړگی سوځي
لینونی یمه د میني — سوځم زه لکه پیلوځي[2]
راته وگوره ملوکي! راته وگوره ملوکي![3]
غوړولی دی وربل[4] دی — اور زما په زړگي بل دی
زه بختیار خاوري ایرې سوم — په اور سوی مي گوگل دی
راته وگوره ملوکي! راته وگوره ملوکي![5]

په دې اشعارو کي د پښتو شعر زوړ اثر اوس لا شته، یوه پردۍ کلمه پرې گډه نه ده او د اداء ډول یې هم ساده، اما ډیر بلیغ دی. د میني واردات او د مین د زړه احساسات یې ښه پکي ښرگند کړی دی، دا شعر لکه اوسني عامیانه اشعار تکرار کیدونکي عبرگ کسر هم لري.

داسي ښکاري، چي قطب افغان د میني په دنیا کي تاوده جذبات لرل او سلیمان ماکو، چي د ده معاصر دی دغه عشقي احساسات په داسي ډول بیانوي:

"تل ژاري، او نارې، غلبلې کړی او د عشق سندري لولي" له دغو عشقي نارو او سندرو څخه یوه لوړه سندره اوس موږ ته پاتي ده، چي د شاعر د زړه درد او سوزناکه جذبات ښکاره کوي.

قطب یو فارسي لوی دیوان هم لري، چي ټول عشقي غزلیات دي او له هغو څخه هم د ده عشقي جذبات ښکاري؛ مگر په پارسي کي د ده اشعار ډیر ښه او بلیغ او روان نه دي؛ ځکه چي اصلي او مورنۍ ژبه یې پښتو وه؛ نو یې په پارسي هغسي اشعار نه دي ویلي چي د پارسي له لوړو شاعرانو سره مقابله وکړي په اکثرو پارسي اشعارو کي تعقید او شعري عیوب شته لکه دا شعر:

هر کرا بر سر کوی تو مقامش باشد — شربت وصل تو هر لحظه بکامش باشد

---

۱. کوکي: د ژړا نارې.
۲. پیلوځي: د اور بلولو خاشې.
۳. ملوکي: محبوبه.
٤. اوربل: دلته د پیکي معني لري.
٥. د سلیمان ماکو تذکره.

چي په لومړۍ مسرۍ کي (را) او بیا د مقامش (ش) بیخونده دی او دا دواړه په یوه جمله کي په دغه ډول سره یو ځاي کول د بلاغت له اصولو سره نه ښايي، که دا لاندي ابیات هم ولولي؛ دغه خبره به ښه څرگنده شي او هم به مو د ده د پارسي کلام نمونه لوستلې وي:

اي خاک درت بفرق سرتاج — محتاج تو هم غني و محتاج
هستي وجود عاشقان را — کردی به کرشمهٔ تو تاراج
از دولت عشق تو دل من — چون بحر عمیق گشته مواج
از مملکت وجود عشقت — هر چیز که بود کرد اخراج
خامی که زند دم از انالحق — بر دار ز نیش همچو حلاج
محتاج تو قطب دین نه تنهاست — باشد بتو کاینات محتاج

که د دغه پارسي دیوان انتساب قطب افغان ته ثابت شي؛ نو به موږ وهایو چي دا په رښتیا د یوه غیر پارسي زبان سړی کلام دی، چي پارسي یې خپله ژبه نه ده او یو پښتون به هم داسي ماته گوډه پارسي وایي، که څه لوړه غزل د ویونکي د فکر پوخوالي هم ښيي؛ خو ژبه یې هغومري پخه او سوچه او خوږه نه ده.

اوهم څپرکي
نثر او لیکوال
تر ۶۰۰هـ پوري

لکه چي تاسو د دې کتاب په لومړي ټوک کي ولوستل د آریایي ژبو او اقوامو پخواني کتب او ادبي آثار ټول منظوم دی، ویدا، اوستا او سنسکریت زاړه کتابونه لکه مهابهارته او راماین او نور ټول یو راز ازاد نظم دي، چي ښايي د تغني او ترنم په ډول به ږغول کیده، دا خبره چي نظم تر نثر په ادبي آثارو کي دمخه دی یوازي په ارین ژبو پوري لا هم اړه نه لري، په اکثرو ژبو کي دغسي وي، که څه هم اساساً ژبه منثوري خبري دي؛ خو داسي منثوري خبري د خلکو لږ په یاد پاتیږي او تش په لیک او تحریر سره خوندي کیږي؛ مگر منظومي ویناوي خلک په یادوي او پښت پر پښت یې انسان خپلو نوه نسلونو ته سپاري، له هم دغه جهته تر هغه وخته چي لیک او تحریر په یوه قوم کي ډیریږي؛ نو د دوی ادبي آثار هغه منظومي ټوټې دی، چي د خلکو په یاد وي او له یوې سیني بلي ته ور نقلیږي څو په پاي کي د لیک په ډول خوندي شي او کتابونه ځني جوړ شي، په هم دغو سببو سره د اکثرو اقوامو پخواني آثار او ادبي نخښې منظومي دی او نثر تش د کتابو په ذریعه د لیکلو له اوقاتو څخه ساتل شوی دی، د پښتو پخواني ادب آثار هم دغسي دی او خورا زړې سندري او ادبي ټوټې چي زموږ لاس ته راغلي دی، منظومي دی او د منثورو آثارو بولگه یې ډیره لږ پاتي ده او لکه تر ۶۰۰هـ پوري چي موږ منظوم آثار لرو، هغسي منثور آثار نه دی را معلوم او که څه وه هغه هم زمانې له منځه وړي او ورک شوي دی.

د ځینو مؤرخانو له اشارو څخه ښکاري، چي د اسلام په ابتدايي پیریو کي هم په پښتو ځیني کتابونه کښل شوي وه او لکه خلکو چي په دې ژبه اشعار ویل کتابونه یې هم پکي کښل؛ مگر تر ۶۰۰هـ وروسته پر خراسان او پښتونخوا د مغولو هسي یو مدهش تاړاک راغي، چي ډیر مدني آثار یې له منځه یوړل نو ښايي چي په دغه تاړاک کي د پښتو کتب او آثار

تباه شوی وی؛ نو ګویا د اسلامي دورې لومړۍ پنځه پیړۍ هسي وختونه دي چي موږ د پښتو کوم منثور کتاب نه شو پکي موندلای او فقط له یوه کتابه چي په پښتو کښل شوي و لږ معلومات لرو.

د سالو وږمه

د ۲۹۰هـ حدود

د دې کتاب په درهم څپرکي کي تاسي د ابو محمد هاشم د زید سرواني د زوی اشعار ولوستل او د ده شرح حال هم هورې ولیکل شو، دا سړی د پښتو پخواني شاعر او هم عالم دی چي مخصوصاً یې په عربي ادب کي لوی لاس درلود او د عربو د مشهور استاد ابن خلاد شاګرد و او په کلو کلو په عربي ممالکو کي اوسیدلي و.

هاشم په ۲۹٤هـ له عراقه راغي او په بست کي یې یو کتاب د عربو د اشعارو د بلاغت او فصاحت په بیان کي وکیښ چه نوم یې د سالو وږمه و یعني د ریګستان نسیم[1] چي په پښتو سال ریګ ته وایي او وږمه د نسیم په معني ده. زموږ د اوسنیو معلوماتو له قراره دا د پښتو ډېر پخواني کتاب دی چي تر اوسه موږ ته معلوم دی او د پټې خزانې مؤلف یې د لرغوني پښتانه په حواله نوم اخلي او د هاشم سرواني له مؤلفاتو څخه یې ګڼي.

نور نو موږ معلومات نه لرو چي د دې کتاب نثر څنګه و او څوني و خو فقط د پټې خزانې د مؤلف له دغي مجملې نوشتې څخه داسي نتیجه اخیستلای شو، چي په پښتو ژبه قدماوه کتابونه لیکل او دا رسم موجود و.

اتم څپرکی
د قدماوه دورې ته عمومي کتنه یا
د لومړۍ برخي لنډون

تاسو په دغه لومړۍ برخه کي ولوستل چي د پښتو ژبې لومړي ادبي اثر او شعر د هجرت د دوهمي پیړۍ په ابتدایي کلو اړه لري او د دې ژبې خورا پخواني شاعر چي تر اوسه موږ ته معلوم دی د سوریانو د کورنۍ پهلوان امیر کروړ د امیر پولاد زوی دی، چي په ۱٥٤هـ کال په فوشنج کي مړ شوی دی او بل هم د لویکانو یو بیت دی، تر دې وروسته نو د پښتو شعر نخښې ډیري دي او ډېر شعراء دي چي د سلیمان په غره او د پښتونخوا په نورو ځایو کي اوسیدل او ځیني په ملتان او هند کي وه. د دې لومړنۍ برخي له عمومي کتني څخه موږ دا نتیجه اخلو چي پښتو د اسلام په اولو کلو کي تر ٦۰۰هـ پوري په ټوله پښتونخوا کي له بادغیس او هراته را نیولې په غور او زابل او د هلمند او ارغنداو په ورشوګانو او د سلیمان غره په لمنو او په پیښور او ننګرهار کي تر ملتانه ویله کیده او د دې ژبې ویونکي په دغو ورشوګانو کي له بادغیس تر اباسینده پوري خپاره وه او مهم مراکز یې غور او د سلیمان غره لمني وې، په دې لومړۍ دوره کي چي موږ یې د پخوانیو او قدماوه دوره بولو او تر ٦۰۰هـ پوري را رسیږي، په پښتو ډول ډول اشعار ویل شوی دی، چي د مضمون له پلوه حماسي او عشقي آثار پکي ډېر دي او د ستایني او مدح او ویرني او رثأ او پند او نصیحت او اخلاقي تلقیناتو ځیني شعري ټوټې هم شته.

۱. پټه خزانه ص ٥۹.

دا اشعار چې د ۵۰۰هـ کلو د مختلفو ادبي تمايلاتو او جذباتو نمايندګي کوی اکثر د پښتو ژبې د مخصوصو عروضو او اوازنو په ډول چې سندري او پاړکي يې بولي، ويل شوی دی؛ مګر تر ٤۰۰هـ را وروسته ځيني داسي اشعار هم شته چې د عربي او پارسي عروضو او قافيو ته نژدې دی، لکه ځيني قصايد چې د غور په دربار کي ويل شوی دی او په پښتو يې بولله، جمع بوللي بولي.

عموماً د قدماوه په دوره کي د شعر ژبه خالصه پښتو وه او اکثر زاړه اشعار د نورو ژبو کلمات هيڅ نه لري او که په ځينو کي څه پردي کلمات وي، هغه هم ډېر لږ دی. هغه اشعار چې په غرو او رغو کي ويل شوی دی، د نورو ژبو له اثره خالي دی؛ مګر ځيني اشعار چې تر ٤۰۰هـ را وروسته په ښارو او مدني ځايو او دربارو کي ويل شوی دی، لږ لږ د نورو ژبو د کلماتو ګډون پکي ښکاري او دا هغه د محيط کلک اثر دی چې تل پر ادب باندي لوېږي.

عموماً ټول د لومړۍ دورې منقول اشعار د پښتنو د روحياتو او د دوی د محيط د اثر او د غرو او رغو د مناظرو او د دوی د اجتماعي شعور او ملي جذباتو نمايندګي کوی او هغه اخلاق او افکار او احساسات او مناظر تصويروی، چې د پښتنو په محيط کي موجود وه.

په دغو اشعارو کي د پښتو ډېر داسي کلمات او لغات هم شته چې اوس ژوندي نه دی او په اوسني پښتو کي نه استعماليږي، دا لغات اسمأ او صفات هم دی او ځيني مصادر يا افعال هم شته چې اوس يې څوک نه وايي.

د قدماوه د دورې اشعار اکثر د پښتو ژبې د فصاحت او سلاست له پلوه خورا سليس او روان دی، تعقيدات نه لري، ابهام او تکلف نه پکي ليدل کيږي، پيچلي او نغښتلي عبارات نه لري، د اداء طرز او اسلوب يې نهايت ساده او روان او د سهل ور دی.

د قدماوه د شعر يوه مهمه ښيګړه دا ده چې د شعر مضمون يې سره نښتي او پيودلي او مسلسل دی، تر دې دورې وروسته چې نور شاعران په پردو اشعارو روږد شول، دغه خاصيت يې بايلود. د پارسي شعر د خراسان پر سبک چې د سامانيانو او غزنويانو او سلجوقيانو په دوره کي کوم شعرونه ويل شوی دی هم دغه ښيګړه لری؛ مګر وروسته دغه د شعر د مضمون تسلسل له منځه وهت.

د پخوانو شاعرانو په تصوير او تخيل کي عموماً د محيط اثر دوني ټينګ دی، چې اکثر تشبيهات او استعاري يې طبيعي او محيطي دی، د بڼ تازګي او د اوبو شورهار د پسرلي ښکلا او د غرو او رغو زيبا ننداري د پيغلو اتڼونه د زرکو کتهار او نور داسي محيطي الهامات دي چې د پخوانيو د شعر د شمزۍ کړی دی او هر شاعر يې هم په ستاينه، هم په رثاء، هم په عشقي جذباتو او سندرو او هم په تبليغ کي تصوير کوي.

دوهمه برخه
له ۶۰۰هـ تر ۱۰۰۰هـ

يوه تاريخي کتنه

د هجرت د شپږمي پيړۍ له ابتداء بيا تر اخره پوري په پښتونخوا کي دوې لويي سلطنتي کورنۍ وې چې په اوايلو کي د غزنوي شاهانو لويي کورنۍ سلطنت کاوه، دوی په پښتنو ګډ شوي وه او د شرقي پښتونخوا پښتانه يې ملګري وه، بيا نو د غوريانوه د کورنۍ شاهان غالب شول او پر تخارستان، باميان، خراسان، زابل، غور، هرات او شرقي پښتونخوا

د دوی لاس بر و، دوی په هند کي هم ډېر فتوحات وکړل او د غور شاهنشاهي يې له خراسان او آمو څخه د ګنګا تر څنډو پوري ورسوله.[1] غوريانو د پښتو ادب ته توجه کوله او د دوی په دربار او مملکت کي مشهور شعراء تير شوی دی، خو د سپړمي پيړۍ په اواخرو کي دغه کورنۍ ضعيفه شوه او پس له ۶۰۰هـ وه چي د مغولو د تاړاک لومړۍ څپې پر بلخ او غور او خراسان راغلې د ۶۱۸هـ حدود وه چي د مغولو څخه د چنګيز خان وحشي لښکر تر آمو را واوښتل، په دغو وختو کي د پښتونخوا شمالي خواوي لکه تخارستان، بلخ، باميان، غرستان (غرجستان) خورا معمور وه، مشهور ښارونه يې لرل. بادغيس، مرو، هرات، غور داسي ښکلي او ودان ښارونه درلودل چي په هغو وختو کي د منځنۍ آسيا د تهذيب او علم مرکزونه وه، خلک په ډېره هوسايۍ پکي اوسيدل، علما، شعرا، اديبان او پوهنوال ډېر وه؛ مګر د چنګيز خان وحشي لښکر او د ده د زامنو مدهشه قواء پر دې ودانو ښارو او ښکليو مدنيتونو هسي را توی شول چي له لويو ښارو څخه يې يوه لوټه روغه نه پرېښوه او ښکلي ښارونه يې وران کړل، کتب خانې يې وسوې، ځمکي يې په وينو ولړلې او اکثر خلک يې مړه کړل، پاته غرونو ته وختل.

پښتانه په دغو وختو کي ډېر د شرقي پښتونخوا په غرو کي وه، د سليمان د غره په شاوخوا او د کابل په جنوبي خوا او ننګرهار کي اوسيدل، خپله ژبه او خپل تهذيب يې د مغولو له تاړاکه خوندي کړي و او خپل استقلال يې ساتلي و؛ خو د پښتونخوا سيمي مغولو نيولي وې، په دغو وختو کي پښتو اديبان لرل او خپله ژبه يې روزله، لکه د مغولو چور چي د پارسي ژبي پر ادب اغيزه وکړه او د اديباتو افکار او د بيان طرز يې ور واړاوه، دغسي هم دې خونړۍ واقعې پر پښتو ادب خپله اغيزه وکړه چي زه به يې د دې کتاب په يوه بيل څپرکي او دريم ټوک کي بيان وکړم. د مغولو سلطه او اقتدار څلور پنځه پيړۍ اوږد شو، د چنګيز خان د کورنۍ مدهش تاړاکونه لا نه وه ساړه شوي، چي له دې خاندانه يو بل سفاک سړی د ۷۷۱هـ په حدودو کي راوهت، دا ګوډ تيمور و، چي ده هم پر دې ځمکه خپل تاړاکونه شروع کړه او په کلو کلو يې دا خواوي سره وريږدول؛ دا اور لا نه و مړ شوی او هري خوا ته يې دودونه ښکاريدل، چي بيا يو بل خونکار او ډېر د لوی زړه خاوند هم له دغه تېره را وهت او د ۹۱۰هـ په حدودو کي بيا پښتونخواه سره ونښتيځله او د ويني تويولو او تاړاک سلسله يې هسي جاري وساتله، دا سړی بابر و چي مخصوصاً يې د پښتنو سره دښمني وه او د دوی سرونه يې ور کوټل.

په دې ډول له هغه وخته چي د پښتنو غوريانو د عظمت جنډۍ تر ۶۰۰هـ وروسته کښته شوه، بيا نو دې قوم د مغولو له لاسه ښه ورځ نه وليده او څلور پيړۍ يې په دغه اړودوړ سره تيري کړې، ويې وژل، وهژل شوه، وجنګيدل، جنګونه ور سره وشوه کله به يې د چنګيز د لښکرو په وينو خپل غرونه لړل، کله به تيمور د دوی پر کورو په زابل او ننګرهار کي غدۍ اچولې، کله به بابر او اکبر او نورو په دوی پسي توري را کښلي وې. په دې مدهش او خطرناک حال کي هم پښتنو خپل ځانونه ساتلي وه، دوی د خپلو زلمو په وينو خپله مځکه او خپل غرونه خوندي کول، څو پيړۍ زلمو غشي او توري له لاسه نه واچولې، دوی پر خپل استقلال مين وه او دغه مرغلره يې ساتله، څو يې وس و، پر دې غرو به د دوی د زلمو ټټرونه سپر وه او تل به د خپل وطن لپاره په وينو کي رغښتل، په دې ملي حشر کي لکه د زلمو توري چي ځليدې، د اديبانو ژبي هم هغسي چليدې، دوی خپل قوم ويښاوه او د وطن دفاع او استقلال ساتلو ته يې زلمو ته بځپلو اشعارو د وطن ساتني تبليغ کاوه او توري به يې وهلې، نو د مغولو دورې لکه نور ضعيف اقوام دوی مړه نه کړل؛ بلکه ژوندي يې کړل، دوی يې زمول نه کړل، بلکي د زمرو په څير يې خروړي کړل، چي دا روح د دوی په ادب کي ښه ځليږي

---

۱. طبقات ناصري ج۱.

او د مغولو دوره په يوه ادبي دفاعي تبليغ امتياز مومي؛ ځکه چي د دې دورې ادبي مميزات او خصايص بيل بيل پر خپل ځاي راوړل کيږي؛ نو به تر دغي تاريخي لنډي کتنتي وروسته په مقصد پيل وکړم.

نهم څپرکي
شعراء

۱٤. شيخ متي
٦٣٣-٦٨٨هـ

دا مشهور عارف او متقي شاعر د پښتنو غورياخيلو څخه دی، چي د ده لوی نيکه خرښبون هم د پښتو اديب او شاعر و او دمخه يې احوال او آثار تاسو ولوستل.

شيخ متي د عباس زوی و، چي عباس د عمر او عمر د خليل زوی و خليل د غوريا او غوريا د کمند بن خرښبون زوی و. دا مشهوره کورنۍ د خرښبون تر مرگ وروسته په ارغسان، پښين او پيښور کي سره خپره شوه او شيخ متي دوه نور وروڼه هم درلودل چي حسن او امران نوميدل د امران مزار تر اوسه د کوړک پر غره دی، چي هغه غر د ده په نامه د خواجه امير غر هم بلل کيږي او يوه خور يې بي بي خالا چي قبر يې تر اوسه هم په پښين کي مشهور دی او په کلات کي د ترنک پر غاړه د خالا کلی هم د دې په نامه تر اوسه باله شي، چي دا به په ژوند هلته اوسيده. شيخ متي په ٦٢٣هـ زيږيدلي او د ٦٥ کالو په عمر د ترنک پر غاړه په ٦٨٨هجري کال وفات شوي دی، د ده مزار تر اوسه هم د کندهار شمال شرقي خوا ته تقريباً ٥٠ ميله ليري پر يوه غونډۍ واقع دی، چي کلات يې بولي او دی په کلات بابا مشهور دی، ده خپل ژوند هم د ترنک پر غاړو او د غونډان په غره او د کلات په حدودو کي تير کړی دی.[1]

د شيخ متي کورنۍ په خليلو غورياخيلو کي خورا مهشوره ده، دوی د پيښور له رغو څخه بيرته د کندهار خواوه او د ترنک غاړو ته ولاړل، په علم او عرغان معروف وه او د پښتنو مؤرخانو يې ذکر ډير راوړی دی، نعمت الله په مخزن کي (ص ۳۰۲ قلمي) او اخوند درويزه پخپله تذکره کي (ص ۸۷) او حيات افغاني (ص ۱۵۹) او نور مؤرخان د دې کورنۍ احوال په تفصيل ذکر کوي او د دغي عرفاني کورنۍ خلک تر اوسه هم د کندهار د ناکودک په کلي کي اوسي، په دوی کي شعراء، مؤرخان، عارفان ډير تير شوی دی، چي په دغه کتاب کي به د دوی احوال پر خپل ځاي راوړل شی. تر خرښبون وروسته هم ښايي، چي دوه قرنه په دې معروفه کورنۍ کي ډير مشاهير او شعراء تير شو ی وی، چي زمانې د دوی آثار سره مروړلي او پريولي دی؛ خو دوه قرنه وروسته د پښتو شعر يو خورا ښاغلی او عارف اديب موږ پيژنو، چي د مغولو د تاړاک په منځ کي دنيا ته راغلی او هغه نو شيخ متي دی.[2]

---

۱. پټه خزانه ص ۲۳.

۲. مت يا متې په پښتو قدرت او توان او متانت ته وايي، متره قوت او قلبي جرائت او طاقت دي... متې او متېنه هغي محکي ته وايي چي د خاورو اجزا يې درانه او ټينگ وي. متار مضبوط او کلک لرگی دی؛ نو متي هم له دغي ريښې څخه د کلک متين او جراتمند او جدي په معني دی.

د ده اخلاقی او عرغانی شهرت:

شیخ متي په پښتنو کي لوړ اخلاقي او عرفاني شهرت لري او لکه ځيني خورا لوړ مشاهير دی هم د بابا په لقب يادېږي او دا لقب پښتانه هر چا ته نه ورکوي، فقط هغه کسان په دې نامه بلل کيږي، چي په دوی کي د علم يا عرغان يا بل لوړ خدمت له رويه ومنل شي او گرده خلک يې په بابايي قبول کړي. نعمت الله هروي پخپل مخزن افغاني کي د سړبنو په اولياء او عرفاني مشاهيرو کي دی داسي ستايي:

"آن طالب حقايق و کاشف معاني زبدۀ ابرار، خلاصۀ احرار، شيخ متي خليل، صاحب عبادت و رياضت بود، ايشانرا سر حلقۀ دوازده سړبن ميگويند و افغانان بسيار ارادت مياوردند و مريد ميشدند، چنانچه غلغلۀ کرامت ايشان در تمام منتشر شد..."[1] د پټي خزانې مؤلف وايي، چي: "شيخ متي لوي زاهد او عابد او پر خداي مين سړی و، عالم او د دين مرشد و او روحاني ژوند يې کاوه".[2]

د دې مشهور عارف په خصوص کي لا ډيري کيسې او روايات تر اوسه هم خلق نقل کوي، د ده کرامات بيانوي، په پټه خزانه کي له افضل الطرايق[3] څخه يو حکايت د ده د ښو اخلاقو په باب کي را نقل شوي دی، چي دلته يې لنډ راوړم:

"يوه ورځ شيخ متي پر لار تيريدي، چي هلته ډيري ډبري پرتې وې او لار يې بنده کړې وه، چي دغه ځاي يې وليد؛ نو څو شپې متواتر راغي او له هغي لاري څخه يې ډبري او کاڼي هيسته کړل، يوه دهقان د سپې خپله ځمکه اوبوله، ده ته يې وهيل: ته د خدای دوست يې او ټول خلک ستا احترام کوي؛ نو دوني زحمت ولي پر ځان تيروې او دغه لار پاکوې. شيخ متي هسي ځواب ورکړ، چي يوه گړۍ د خلکو خدمت تر هر څه ښه دی."[4]

د ده اولاد او کورنۍ

شيخ پخپله کورنۍ کي علم او زهد او تقوی او ادب په ارث پريښول او تر ده وروسته له دغي کورنۍ څخه عارفان، شاعران او مؤلفان راوهتل، چي د هر يوه ذکر او تفصيل به پر خپل ځای راوړم؛ خو دلته به لنډه د دوی معرفي وکړم:

په پښتنو کي د شيخ متي کورنۍ په متي زي شهرت لري او د ده له زامنو څخه حسن او يوسف ډير مشهور دی، چي د يوسف زوی شيخ کټه يو لوی ولي او د پښتو مؤلف د ۷۵۰هـ په حدودو کي تير شوی او د لرغوني پښتانه کتاب يې ليکلي دی، بل مشهور عارف له دې خاندانه شيخ قدم بن محمد زاهد بن ميرداد بن سلطان دی، چي سلطان هم د شيخ کټه له زامنو څخه و، شيخ قدم په سر هند کي وفات شوی او هورې ښخ دی، د ۹٦۲هـ په حدودو کي ژوندی و، د ده زوي شيخ قاسم هم مشهور ولي او مؤلف دی، چي په ۹٥٦هـ زيږيدلي او د تذکرۀ اولياء افغان مؤلف دی، د دې شيخ قاسم له زامنو څخه شيخ کبير بالا پير هم په تقوی او عرفان مشهور و، چي د ده زوی شيخ امام الدين په ۱۰۲۰هـ زوکړی او تاريخ افغاني او اولياي افغان د ده ليکلي آثار دی، له دې علمي کورنۍ څخه اخرنی مؤلف او شاعر ميا نعيم دی، چي

---

١. مخزن قلمي ص ٢٥٤.

٢. پټه خزانه ص ٢٣.

٣. دا کتاب په پښتو منظوم دی چي پير محمد هوتک د ۱۱۳٥هـ په حدودو کي نظم کړ، د کتاب په دوهم ټوک کي به يې شرح راشي.

٤. پټه خزانه ص ١٣٣.

د ۱۲۳۰هـ په حدودو کي يې د کندهار په ناکودک کلي کي ژوند کاوه.[1]

د متي اشعار او آثار

شيخ د پښتو يو خورا لوی صوفي او عرفاني شاعر دی، چي ده په عونړان (د کندهار د کلات يو غر) کي يو کتاب کنبلي و، چي نوم يې و د خداي مينه او د پټې خزانې مؤلف وايي چي دا کتاب په کلات کي د ده پر مزار پروت و او زايرانوبه لوست، اکثر عرفاني اشعار او مناجاتونه وه او په داسي ډول ويل شوي وه، چي پر خلکو به يې ډير اغيزه کړله او زړونه به يې ويلي کول[2] د دې صوفي او مقتدر شاعر اشعار متاسفانه زموږ په لاس کي نشته؛ خو د پټې خزانې مؤلف يې دغه يوه عارفانه خوږه او مهيجه منظومه له خپله پلاره اوريدلې او داسي يې را نقل کړې ده:

پر لويو غرو هم په دښتو کي　　　په لوي سهار په نيمو شپو کي
په غاړه[3] ږغ او په شپيلکو کي　　　يا د ويرژليو[4] په شپيلو کي
ټول ستا د ياد نارې سوری دي
دا ستا د ميني نندارې دي
جنډي[5] زرغون که په بيديا دی　　　د بربن[6] خوا ته په خندا دی
ترنک چي خړ دی په ژړا دی　　　دا ټول اغيز[7] د ميني ستا دی
ټوله ښکلا دي ستا له لاسه
ای د پاسوالو[8] پاسه پاسه!
که لمر روښانه مخ يې سپين دی　　　بيا د سپوږميه تندي ورين دی
که غر دی ښکلي پرتمين[9] دی　　　لکه هنداره مخ د سين[10] دی
ستا د ښکلا[11] دا پلوشه ده
دا يې يو سپکه ننداره ده

---

۱. د پټې زخزانې تعليقات ص ۲۱۱.
۲. پته خزانه ص ۲۳.
۳. غاړه: به پښتو مجازاً د نل نغمه ده.
٤. ويرژلي: غم جن.
٥. جنډي يا زونډي: قدماوه گل ته ويل، خو اوس د گل په معني ندي او ځيني پښتانه يې د نامه په ډول جنډي خان يا جنډو خان يا زونډي خان وايي، چي معني يې هغه گل ده. دا کلمه په لم جنډي کي پاتي ده؛ ځکه لم جنډي هم د لم گل دی.
٦. بربن: لوړ باغ، خيابان، اوس دا کلمه نه ده ژوندۍ.
٧. اغيزه: اغيز، اثر.
٨. پاسوال: ساتونکي، حافظ. دا کلمه اوس نه ده ژوندۍ، خو پخوا ويله کيده ايي پاچا هم پاسوال بلل کيده.
٩. پرتمين: د پرتم خاوند؛ مگر اوس پرتمين نه وايي خو پرتم د شکوه او جلال په معنی شته.
١٠. سين: د سند مخفف دی، د دريا په معنی.
١١. ښکلا: د ښکلي له ريښې ځخه د جمال په معنی.

دلته لوي غرونه زرغونيږي   د ژوند وږمې پکي چليږي
بوراوي شا و خوا کړيږي[1]   سترگي ليدو ته يې هيښيږي[2]
لويه خاونده! ټوله ته يې!
تل د نړۍ په ښکليده يې
خاونده! ښکلی ستا جمال دی   ښکاره يې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پيړۍ، کال دی   ستا د قدرت کمکي مثال دی
ستا د لورونو[3] يوه رڼا ده
دلته چي جوړه تماشا ده
زړه مي دا ستا د ميني کور دئ   سوی د عشق په سوځند[4] اور دئ
رپ[5]يې و تا ته ستا پر لور دئ   بې له دې هيڅ دی ورک يې پلور[6] دئ
ستا جمال په ليدو ښاد دئ
که نه وي دغه نور برباد دئ
په غرو کي ستا د عشق سپيلکي دي   د دې نړۍ په عشق سمی[7] دي
که غټ، که وړ ، که پنډ نری دي   ستا د جمال ځری[8] هر شي دي
چي پر دنيا مي سترگي پرې سوې
ستا د جمال په ننداري سوې
نه هسک[9] به مځکه وه تورتم و   تياره خپره وه ټول عدم و
نه دا ابليس، نه يې ادم و   ستا د جمال سوچه پرتم[10] و
چي سو ښکاره ښکلي دنيا سوه

---

١. کړيدل: چاپير گرځيدل، طواف.
٢. هيښ: حيران.
٣. لورنه: مهرباني.
٤. سوځند: سوزان.
٥. رپ: تپش، رپيدل.
٦. پلور: قيمت.
٧. سمی او سما: د سم له ريښې څخه پخوا ويل کيده، صلاح او سموالي.
٨. ځری: قاصد.
٩. هسک: اسمان.
١٠. پرتم: دبدبه.

د پنځ[1] پر لوري يې رڼا سوه

زه چې څرګند پر دې دنيا سوم　　　د ښکلي مخ په تماشا سوم
ستا پر جمال باندی شيدا سوم　　　له خپلې ستېې[2] را جلا سوم
په ژړا ژاړم چې بيلتون دئ
يمه برديسي بل مي تون[3] دئ
وګړيو! ولي متي ژاړي　　　سورې[4] يې اورئ غاړي غاري[5]
څه غواړي څه وايي څه باړي[6]　　　خپل تون او کور و کلي غواړي
چوښي[7] چې بيل سي نيمه خوا سي
تل يې د بڼ په لور ژړا سي

د شيخ متي دا لوړ شعر په پښتو اشعارو کي خورا ډېر اهميت لري او دا يوه داسي نمونه ده چې د عرفاني او تصوفي شعر په ديباچه او پيل کي دريږي.

د منځنۍ آسيا په پاړسي اشعارو کي عرفاني رنګ د غزنويانو له عصره ښکاري سنايي، شيخ فريد الدين عطار او مولانا بلخي (رومي) د دې ډلي مشران دي. د ٦٠٠هـ په حدودو کي پارسي شعر د تصوف يو غوره او غټه ذخيره لري.

داسي ښکاري چې شيخ متي د خپل عصر پر تصوف واقف سړی و او د ده دا شعر ثابتوي، چې ده په عرفان او تصوف کي پاخه افکار درلوده او د پښتو د متصوفو شاعرانو امام ګڼل کيږي، چې تر ده وروسته په دغه فکر او دغه ډول ډېر اشعار د روښانيانو او عبدالقادر خان خټک او رحمان بابا اونورو له خوا ويلي شوي دي، مګر د شيخ متي اشعار په عرفاني دنيا کي يو مخصوص خوند، رنګ او قيمت لري، چې په نورو عرفاني او تصوفي اشعارو کي نشته؛ ځکه چې دی مخصوصاً په خپل شعر کي جمالی افکار او نظريات څرګندوي او دی کايناتو ته د ښکلا او جمال پلټلو په سترګه ګوري.

شيخ متي له هغو لومړيو خلکو څخه دی، چې پښتو شعر ته يې يو فلسفي ښکلی رنګ ورکړي او د جماليت ټکي يې ښه روڼ کړي دي؛ مګر د ده فکر تل له مادي خوا څخه معنوي او الهي افکارو ته ميل لري، له مادي اشعارو څخه تل معنوي او مافوق الطبيعه نتايج اخلي او يوازې د ماديت په ستاينه کي ځان نه ډوبوی.

له خورا پخوانۍ زمانې څخه؛ بلکه له هغه عصره چې انسان لومړۍ پلا پر دې دنيا سترګي غړولي دي؛ نو ده ته د کايناتو د ليدني او کتني خوند پدا شوي دی او پر دې نړۍ يې ډېر ښکلي موجودات ليدلي دي.

---

١. پنځ: پنځيدل پخوا د خلقت او پيدايشت په معني و، نو پنځ بايد مخلوقات او جهان وي.
٢. ستېه: بيخ.
٣. تون: ځاي.
٤. سوري: نارې.
٥. غاړي، غاړي: کران تا کران.
٦. باړل: اوس نسته ښايي پخوا د نفع غوښتلو په معني و.
٧. چوښي: بلبل.

دې ښکلا انسان تر خپل اثر لاندې نیولي دی او د ده د فکر او عقلیت په سلسله کې د ښکلا خوښوني او جمالیت جذبه پیدا شوې ده، له هغه وخته چې فلسفي میلان او د شیانو په حقایقو کې فکر کول، په انسانانو کې ډیر شوي دي؛ نو له افلاطون او ارسطو څخه را نیولې، بیا تر کانټ او هوم متاخرو فیلسوفانو پورې ټولو د aesthetica پر جمالیاتو بحثونه کړي او مخصوصاً کانټ په علمي ډول دغه مباحث ترتیب کړه (۱۷۹۰ع) دی وایي: چې جمال یو مستقیم او بې غرضانه لذت او هسې یو خوند دی، چې د بل مقصد او غرض لپاره نه دی، بلکه پخپله دې مقصد دی او فنون هم د حسن او ښکلا د اظهار وسایل دي، مثلاً د خبرو فنون او د رقص او پیښو فن او رسامي او نور هر یو ځانته د ښکلا او جمال ترجماني کوي.[1] د کانټ په علمي تعبیر، جمال یو بې غرضانه اوسیده سم خوند دی، چې انسان مستقیماً په فطري ډول رابطه ور سره لري؛ مگر هغه وخت چې نظر پوخ شي او د انسان کاته په غور او تدقیق وشي؛ نو د ښکلا او جمال څخه ښکلوهنکي ته میل کوي او په مادي ښکلا کې یو ابدي او جاویدان نور اوغیر فاني رڼا پلټي، د عرفان په دنیا کې د انسان دا لومړی قدم دی او هغه وخت چې له اثره او مؤثر او له موجوده موجد ته لار ومومي نو د الله نور السموات و الارض پر اساس د جمال په ننداره بوخت شي او د مینې په دریاب کې هسې لاهو شي چې بې له هغه نور بل څه نهویني او وایي "در هر چه بنگرم تو پدیدار بوده اي" مولوي په دغه ډول دغه نور ته د انسان ور پاموي:

اندرین گردون مکر رکن نظر — زانکه حق فرمود "ثم ارجع البصر"

یکنظر قانع مشو، زین سقف نور — بارها بنگر ببین "هل من فتور"

د شیخ شعر هم اساساً پر دغو جمالي او عرفاني افکارو بنا شوی دی، دی وایي: که لمر او سپوږمۍ روښانه دي، که پر دښتونو باندې گلان خاندي، که په پسرلي د ځمکې مخ زرغونیږي، که په غرو کې د مینې شپیلۍ ږغیږي که بوراوې پر گلو کړیږي، دا ټول د یوه ابدي او غیر فاني جمال مظاهر دي او انسان تل د دغه جمال په مینه ژوندی پاتي او هر شي د جمال یو ځری دی. انسان پخپله هم د قدرت له فیاض او ښکلي منبعه را وتلي دی؛ نو په دې دنیا کې هم پر ښکلا مین دی او تل میل لري، چې بیرته خپل پرېښي وطن او ښکلي مرجع ته ولاړ شي؛ نو شیخ متي هم کټ مټ دغه فکر تصویر کوي او د مولانای روم په ډول خپلي روحاني مرجع ته میل کوي، مولانا وایي:

بښنو از نی چون حکایت میکند — و ز جدایی ها شکایت میکند

کز نیستان تا مرا ببریده اند — از نفیرم مرد و زن نالیده اند

هر کس کو دور ماند ز اصل خویش — باز جوید روزگار وصل خویش

مولوي

د شیخ متي له دغه یوه شعره د ده لوړ عرفاني او فکري او فلسفي مقام ښکاري، دی هم لکه پاخه عرفاء هغسي فکر کوي او په جمالي فکر کې د کایناتو له مناظرو او ښکلو مزایاوه څخه عرفاني او روحاني نتایج اخلي او د جمال منبع فیاض ته رجوع کول غواړي، هغه چې انساني روح له هغه منبع فیض مومي چې "و نفخت فیه من روحي" علاوه پر دغو عرفاني لوړو افکارو چې شیخ متي پخپل شعر کې ځرگند کړي دي، د ده د افادې طرز او ژبه خورا خوږه ده، په روانو، سلیسو او خوږو اشعارو کې یې لوړ او مغلق فلسفي مطالب هسې ځای کړي دي، چې د ده د ساده او خواږه شعر په ترڅ کې هسې ښکاري؛ لکه خورا معمولي او سهل مطالب.

دا چې شیخ متي د جمالیت مقاصد په خوږه او جمیله ژبه ویلي دي، د ژبې او وینا ښکلا ده، په شعر کې د ږغ

---

۱. د فلسفې کیلي ص ۱۱٦ د آس والډ کلپې تالیف.

ښکلا یعني موسیقیت هم پټ دی او د ده شعر اساساً د پښتنو د بدلو پر وزن په خواږه ږغ ویل کیږي؛ نو ده ګویا د ښکلا ډیر فنون په دغه شعر کي سره یو ځای کړي دي، اصل شعر پر جمالي فکر او نظریاتو باندي بنا دی، ژبه یې هم ښکلې او جمیله ده او د شعر وینه او تغني هم په ږغیزه ښکلا او موسیقي پوري اړه لري.

۱۵. بابا هوتک

٦٦١-٧٤٠هـ

دا سړی هم د ترنک د وادي له مشهورو پښتنو څخه دی، چي هم د عرفان او هم د مشرتوب صفات لري او د دغو ښیګړو سره د پښتو ژبي یو ډیر نامي شاعر هم دی د مؤرخانو په قول دی د بارو زوی او د تولر لمسی و او تولر هم د بابا غلجي له کورنۍ څخه دی، چي دا کورنۍ هم په پښتنو کي مشهوره ده او د بیټ نیکه له معروف خاندانه را وتلې ده، چي ډیر ادباء او مشران پکي تیر شوی دی او د ٦٠٠هـ په حدودو کي د ترنک د غاړو د پښتنو مشرتوب په دغي کورنۍ اړه درلوده.[1] بابا هوتک له دغي کورنۍ څخه یو نومیالی مشر و، چي په ٦٦١هـ په اتغر کي زیږیدلي دی او دا ځای اوس هم په دغه نامه مشهور او د کلات جنوب شرقي خوا ته د هوتکو او توخو مسکن دی؛ څکه چي د بیټ نیکه کورنۍ په صلاح او تقوا مشهوره وه؛ نو هوتک هم عمر په عبادت او صلاح تیراوه او په پښتنو کي د ده کرامات مشهور وه او د سردارۍ او باداري مقام یې هم درلود. بابا هوتک د مغولو په دوره کي لومړی پښتون شاعر دی چي د خپل وطن دفاع یې کړې ده او د مغولو په جګړو کي یې لاس درلود، د ده د رشد او زلمیتوب عصر د ٧٠٠هـ حدود دي چي دغه وختونه د مغولو د خپورتیا او د دوی د سلطنت د ارتقاء دوره ده، دا هغه وخت دی چي د غوریانو عظمت کښته شوی او د فیروزکوه د لوړتیا زمانه تیره شوې ده، په هرات کي آل کرت او په سیستان او خراسان کي نور محلي امراء له مغولو سره اوبه غلبیلوي او شپه او ورځ ور سره تیروي، پښتانه چي اکثر د مغولو له تاړاکه غرو ته ختلي دي، یا د ارغنداو او ترنک په ورشوګانو کي ژوندي کوي، له دوی سره جنګونه کوي او خپله خپلواکي او آزادي ساتي، دا د آزادۍ جګړې د پټې خزانې مؤلف هسي بیانوي:

"نقل دی، چي: په هغه وخت کي به هر ځل مغولو د ارغنداو پر غاړو لوټ کاوه، اتغر او اولان او کلات به یې تالا کول. بابا هوتک خپل قومونه را ټول کړل او د سره غره[2] سره یې پر مغولو شخړه بوتله، په دې جګړه کي مغول تالا شول او پښتنو ګړندیو ډیر وهژل، ما ته خپل پلار داود خان داسي نقل وکا، چي: سور غر په دغه ورځ د مغولو په وینو داسي لژند شو، چي پلوشو د لمر به بریښانده کا..."[3]

بابا هورک له مغولو سره ډیر جنګونه کړي دي، تل یې د ارغنداو پر غاړو د دوی د تالاو دفاع کوله او پښتانه چي په اتغر او مرغه کي پراته وه، د ده تر مشرتابه لاندي د وطن په دفاعي جګړو کي شامل وه، دا دلاور مشر او سپین ږیری د عمر پر نهه اویایم کال په سنه ٧٤٠هـ وفات شوی دی.[4]

د پښتو شعر په ادبي تاریخ کي بابا هوتک لومړی شاعر دی چي د مغلوالي پر خلاف یې شعر ویلي دی او دی د

---

١. پټه خزانه ص ٧، حیات افغاني، مخزن افغاني.

٢. سور غر او اولان اوس هم په دغو نومو د کلات شرقي شمالي خوا ته واقع دي.

٣. پټه خزانه ص ٧.

٤. پټه خزانه ص ١١.

هغو ټولو شاعرانو پیشوا ګڼل کیږي، چې په وروستیو دورو کې د مغولو مخې ته دریدلي او په قلم یا توره یې په وطني دفاع کې برخه اخیستې ده.

د بابا هوتک یو حماسي تود شعر چې په ملي وزن بدغول کیږي، د پټې خزانې مؤلف د خپل پلار له خولې په هسې ډول را نقلوي.

''د مغولو په یوه شخړه کې پښتانه لږ او بې قوته وه، چې د سرو مغولو پیښه راغله د بابا هوتک یو ځو خپلوان ومړل، ده په لوړ بدغ دا حماسي سندره وهیله او خپل زلمي یې په جګړه کې تادوه کړل، ځو دوی په دښمنانو باندي برى وموند، هغه سندره دا ده:''

پر سور غر بل راته نن اور دی — وګړیه جوړ راته پیغور دی
پر کلي کور باندي مغل راغي — هم په غزني هم په کابل راغي

غښتلیو ننګ کړئ دا مو وار دی — مغل راغي په تلوار دی
په پښتونخوا کي یې ناتار دی — پر کلي کور باندي مغل راغي

آ د مرغي غښتلیو راسئ — پر ننګ ولاړ د پښتونخوا سئ
توري تیرې غشي تر ملا سئ — پر کلي کور باندي مغلل راغي

زلمو په غشیو کړئ وارونه — د تیرو تور ګوزارونه
ور وړاندي کړئ خپل ټټرونه — پر کلي کور باندي مغل راغي

زما د زلمو ویني بهیږي — مځکه او غرونه په سره کیږي
میرڅي زغلي او ترهیږي — پر کلي کور باندي مغل راغي

پښتنو هلئ پر غره جنګ دی — سور غر په وینو د دوی رنګ دی
مهال د توري دی د ننګ دی — پر کلي کور باندي مغل راغي

زلمو پر ننګ ځانونه مړه کړئ — دښن په غشیو مو پییه کړئ
د پښتونخوا مځکي ساته کړئ — پر کلي کور باندي مغل راغي

د دې نظم ژبه خوږه او له تکلفه تشه ده؛ خو لکه د قدماوه په ډول مړه او نادر لغات نه لري، وزن یې هم د ملي بدلو دی، مکرر کسر لري؛ خو د قافیې او نیم عروضي وزن التزام یې کړی دی، د شاعر فکر هم ډیر ساده او د حماسي دورې نماینده دی. د هغې زمانې د پښتنو وطني احساس او د میني د ساتني تاوده احساسات ځني ښکاري، چې دغه افکار هم د مغولي دورې د پښتو شعر شمزۍ ده او تر ۱۰۰۰هـ پورې په پښتو شعر کې په ښه ډول خوندي شوی دی.

۱٦. شیخ ملکیار هوتک

د ۷٤۹هـ حدود

شیخ ملکیار د بابا هوتک مشر زوی و او له خپله پلاره يې ادب، توره او مشرتوب په ارث وړی و، دی هم لکه خپل پلار د پښتو شاعر او هم د خپل قوم مشر و، چې د پلار تر مرګ وروسته يې د مشرتانه بګړۍ پر سر کړې وه.

د ده د تولد کال ۷۱۵هـ دی چې د پلار د وفات پر وخت د ۲۵ کالو زلمی و، دی جسماً هم قوي او غښتلي پهلوان و له لسو سړو سره به يې يوازې مقابله کوله او د بابا هوتک تر وفات وروسته د ملي دفاع وظیفه هم د ده پر غاړه لویدلې وه او د مغولو د یرغلګرو لښکرو په مقابل کې د پښتنو ملي مشر ګڼل کیده.[1]

ملکیار د کلات د سیوري په لتوکي د خپل قوم سره اوسیده او هغه ځای دی چې تر اوسه هم هوتک پکې اوسي. ده په سیوري کې خپل قوم زراعت او ودانۍ ته را وباله، کاریزونه يې وکښل؛ نو مغولو چې د دې ځای زراعتي عمران ولید، پر سیوري يې هم یرغل وکړ او د پښتنو میني يې ور وراني کړې، دلته هوتک او د دوي مشر ملکیار مجبور شول چه مرغې او ږوب او وازي خوا یعني د سیوري شاو خوا ته سره متفرق شي، مګر ملکیار چه وطن خواه او توریالی او پوهاند مشر و، د مغولو مخې ته ودریده، او له دوي سره ئې د خپلواکۍ جهاد جاري ولاره څو چه په پاي کې پر مغولو بریمن شو، او سیوری ئې بیرته ونیو، او دغه ځای يې بیا ودان کړ.[2] دا کورنۍ د ترنک په ورشوکانو کې تر اوسه لا هم شهرت لري، د ملکیار تره چې د بابا هوتک ورور و، توخي نومیږي، او د توخي زوی نور بابا هم د ملکیار معاصر او ملګری و. دوی لکه خپل پلرونه روحاني ژوند هم درلود او تل په پښتنو کې په صلاح او تقوي مشهور وه او په آخر کې تر ۱۰۰۰هـ وروسته د توخي له کورنۍ سلطان ملخي مشهور مشر راوهت، چه د اورنګزیب معاصر دي، مګر د بابا هوتک له پښته هغه مشهور ملي قاید او آزادیخواه پښتون پیدا شو، چې موږ ئې حاجي میر خان نیکه (میرویس خان) بولو، او ده د ۱۱۲۰هـ په حدودو کې د پارس د صفوي خاندان له اسارته خپل قوم وژغوره، او په قندهار کې د پښتنو استقلال بیرغ لوړ کړ، او وروسته د ده اولاد تر اصفحانه پاچهي وکره.

د ملکیار په خصوص کې دا نقلونه پټه خزانه لیکي:

یوه ورځ ملکیار بابا د خپل تره توخي کور ته ولاړ، او د خپل تره زوی نور بابا ئې ولید، چې غشي تیره کا، ملکیار ځني پوښتنه وکا، چه تربوره دا څه کړې؟ هغه ویل: د مغولو په جګړو کې ستا ملاتړ[3] یم. ملکیار بابا دعا وکړه ورته، چې تربوره تل سوبمن[4] اوسې وايي: چه هر وخت به نور بابا په جګړه کې بری موند او ماته ئې د هیچا په یاد نه ده.

---

۱. د ملکیار د وفات او دفن ځاي نه دی معلوم، خو د خوګیانو د سپین غره د یوه تنګي په خوله کې د ملک فقیر د کلي سره نژدې یو قدیمي زیارت دی، چې خواجه ملکیار يې بولي، احتمال لري چې همدا ملکیار دی (خادم). دغسې هم په پښین کې هم د ملکیار په نامه یو ځاي شته.

۲. پټه خزانه ص ۱۵.

۳. ملاتړ: معاون.

٤. سوبمن: فاتح.

هسي نقل کا: چي يوه ورځ د مغولو تاړاک[1] پر سيوري راغي او هغه وخت د ملکيار بابا په کلا کي څوک نه و، پرته له ښځمنيو[2] نور باب چي خبر شو ژر ئې ځان هغه کوټ ته ورساوۀ او په يو تن يې مغول وشړل، او ډير يې مړه کړل، دا ټول د ملکيار بابا د دعا برکت ؤ...[3]

له دې رواياتو څخه د پښتنو ذهنيت او فکر نسبت د دې کورنۍ او د ملکيار شخصيت ته ښکاري چي خلقو په څه احترام ورته کتل او د ده مقام ئې څوني لوړ گاڼه.

د ده اشعار

داسي ښکاري، چه ملکيار د ميني ډک زړه درلود او د عشق او ميني پر لار ئې قدم واهه او کله کله به ئې عشقي سندري هم ويلې. پټه خزانه د ده يوه داسي عشقي سندره را نقلوي چي په پښتو اشعارو کي، د وزن او بحر او مضمون له پلوه ډير قيمت لري، او خاص د يوه ساده او عشقي پښتني فکر نمايندگي کوي داسي سندري د پښتو په عامي شعر کي خورا ډيري دی، او په يوه خورا مست او طنان بړغ ويلي کيږي چه د پښتنو د مخصوصو الحانو او موسيقي يو خوږ ترنم او لحن دی.

ملکيار د طبيعت په سپيڅلي لمن کي دا عشقي سندره د رود پر غاړه د سپيني سپوږمۍ په ښکلي رڼا کي بړغولې ده د ده خطاب غورځند رود او ډک سين ته دی چي د ده او محبوبا تر منځ حايل شوی دی، د ميني اور ده ته قرار نه ورکوي او دی داسي تصور کوي چي دا اور ځکه چي ډير تيز دی؛ نو د سين څپې او طوفان او د سيل زيږې اوبه به وچي کړي.

د سين پر غاړه ناست دی، نه شي تيريدلای؛ نو د محبوبا کلي ته د سپوږمۍ په ذريعه خپل احترام نقديم کوي او په پاي کي دې خروشانه سيل ته د ميني په قوت خطاب کوي او تر اوړي.

د ملکيار دا د عشق شپه او د ميني ويناوي د پټې خزانې خاوند داسي نقل کوي:

هسي نقل کا، چي: په سنه ۷۴۹هـ کي په پسرلي ترنک ډير ډک شو، په سختو نيزو[4] او په يوه مياشت يې چړ[5] نه وموند او خورا ډک غاړي غاړي بهيدي، ملکيار بابا چي د ترنک څنډونه ته راغي هسي سندري يې وهيلې:

ترنک بهيږي	ترنک بهيږي	غاړي تر غاړي
زما زړگي خو	خپل لالي غواړي	
که روده، روده!	د ترنک روده!	خاوند دي وچ کا
چي زړگي مومي	زما څپله سوده[6]	
که نيز دئ نيز دئ	نيز د بيلتون دئ	زړه تيزه وړی[7]

---

۱. تاړاک: تاراج.

۲. ښځمني: زنانه.

۳. پټه خزانه ص ۱۵.

٤. نيزو: سيل.

۵. چړ: پاياب چي ډبري ولري.

٦. سوده: اطمينان.

۷. تيزه وړي د سيلاب خس و خاشاک.

په وير ژړلی	په غم زبون دئ	
که اور دئ اور دئ	په زړه مي اور دئ	دا اور به وچ کا
د وير نيزونه	بل ډېر په زور دئ	
نمنځه يوسه	سپيني سپوږميه	ورته وهايه
چي ترنک ټال کړم	ستا له خولگيه	
که خړو خړو	اوبو سوان[1] کړه	بيل ملکيار دئ
پاته له يار دئ	سوب[2] يې جانان دئ	

۱۷. زمينداوری اکبر

د ۷۸۰هـ حدود

د پښتنو له نوم ورکو شاعرانو څخه دی، چي د ده آثار هم ورک دي او فقط يو څو پاڼې په زمينداور کي ما ميندلي وې چي دا نوم ورکي شاعر د هغو پاڼو په مرسته وپېژاند شو.

لکه تاسي چي د دې کتاب په مختلفو برخو کي ولوستل، داور زموږ د وطن يو معروف ولايت او ډېر عمر د اسلام له ابتداء څخه بيا د مغولو تر تاړاکه د مدنيت او ثقافت مرکز و مشهور ښارونه يې لرل او اکبر هم په دغه ځای کي پيدا شوي و.

دا شاعر هم د مغولو د دورې په ابتداء کي ژوندی و او د هغو شاعرانو له مخکښانو څخه دی چي دوی پخپلو اشعارو کي د مغولو له تاړاکه شکوې کړي دي، يا يې د هغو مظالم ليدلي دي، دی په دې بيت کي هسي وايي:

د مغولو لوتمر[3]هسي په اور وسوم چي به هير په دې ماتم زمينداور کړم

له دې بيته ښکاري چي دی د گوډ تيمور معاصر دی؛ ځکه چي تمر د تيمور قديمه املا ده او دې پاچا له ۷۷۱-۸۰۷هـ پوري سلطنت کړي دی؛ نو د اکبر د ژوندانه عصر هم په دغو کلو کي د ۷۸۰هـ حدود ټاکلای شو؛ ځکه چي امير تيمور په ۸۰۰هـ د افغانستان نور ځايونه فتح کړل او له کابله يې د هند خوا ته حرکت وکړ.[4]

د اکبر اشعار

د اکبر ډېر لږ اشعار د زمانې له انقلابه ساتلي پاتي دي، فقط له څو زړو پاڼو څخه موږ يقين کولای شو، چي دی د ديوان خاوند و او په شعر کي يې غزل او مثنوي موږ ته پاتي دي. اکبر که څه هم په عروضي ډول لکه فارسي غزليات ويلي دي؛ خو په وطني وزن هم د ده د شعر يو څو نمونې شته او د ده دغه مخصوص ډول پښتو اشعار او نور عروضي غزليات دواړه سليس او خواږه دي. په دې مثنوي کي اکبر د ميني د دنيا ډېر نازک حالونه او احساسات تصور کړي دي:

---

۱. سوان: سهولت او رعايت.

۲. سوب: حاضر.

۳. تمر: د تيمور قديمه املا ده.

٤. د علی يزدي شرقنامه قلمي.

مثنوي

زه عاشق یم یار هم نیز — نور څه نه لرو تمیز!
یو پر بله عاشقان یو — پخپل عشق کي صادقان یو
یو په بل پسې رنځور یو — چه نزدې نه یو مهجور یو
عشق که ښه دئ که بلا دئ — پیدا کړی زموږ مولا دئ
که بېغ نکا عاشقان څوک — مړه سي دوی پر دا جهان څوک
خو به دواړه شهیدان وی — که رښتیني مسلمان وی
زه که مخ په اوښو سور کړم — زړه کباب صورت تنور کړم
لایق دا چي دا زه وکړم — څه تهمت به پر یار نه کړم
ولي هر ځاي زه بیلتون کړم — بیا د سرو اوښو، رڼون کړم
هم اشنا خوار کړم هم ځان — بیا تهمت کړم پر دوران
که نژدې که پر هیواد یم — زه د ده په خیال و یاد یم
چي غه[1] ښه دیدن یې یاد کړم — په تش خیال یې خاطر ښاد کړم
زه چي ژاړم مراد مي دا دئ — چي اشنا له ما جلا دئ
که موږ بیا سره خوشحال سو — چي محکوم زموږ وصال سو
زه د یار سم، یار مي خپل سی — زه بلبل سم، یار مي گل سی
په سپین مخ باندي تپیږم — چه دی خاندي ترې جاریږم
د لیدو شربت یې نوش کړم — غم د هجر فراموش کړم

سره کښېنو په خندا سو
په دا تیر احوال گویا سو

چي تیر سوي په هجران دی — خوشحال شوي غمازان دی
له غه پسه به صحبت کړو — زده زړونه به راحت کړو
چي غماز پاڅي له میانه — همنشین شم له جانانه
چي غماز له میانه دور سي — نور که شپه وي هم به نور سي
ولي یار زما خواهان دئ — بیا په عشق کي پهلوان دئ
ډیر نفرت کا له غمازه — رب دی دي کا سرفرازه
زه هر څو چي باندي چور یم — خو د ده په پند مامور یم
که زلمی دی خو عاقل دئ — بیا د عشق په کار کامل دئ
تر ما زیات د عشق په کار دئ — هم معشوق هم مینه دار دئ

خو پخپله ترې جلا شوم
مدام سر په واویلا شوم

---

۱. غه: د هغه مخفف دی.

په دې مثنوي کي اکبر د عشق او مینې هغه نازک او خوندور حالونه تصور کړي دي، چي عاشق او معشوق دواړه یو له بله سره غواړي، یوه د انجذاب او ائتلاف قوه په ټولو کایناتو کي ساري ده، چي هغه عرفاء عشق بولي او نور پوهان يې د جاذبې په نامه يادوي.

د کایناتو په اتومي ذراتو کي، چي دا عالم ځني جوړیږي، یوه قوه پرته ده چي تل دوی سره نښلوي، دغه قوه په انساني افرادو او بیا په اجتماعاتو کي هم تاثیر لري. عرفاء له دغه تجانس او مجاذبې څخه چي عشق يې بولي، دا نتیجه اخلي چي بدن او مواد خو په مادي دنیا کي یو له بله علاقه سره لري او یوه بله غواړي؛ مگر د انسان روح یوه بل تر مادي لوړ مرجع ته میل کوي، ولي چي د روح په ابتداء کي هم له هغې خوا راغلی دی.

مولانای بلخي څه ښه ویلي دي او کټ مټ دغه د اکبر د مثنوي موضوع ده، چي په دې بیتو کي راغلې ده؛ خو دوني شوی دی، چي اکبر په یوه مادي رنگ کي دغه معنوي کیف ښودلی دی.

هیچ عاشق خود نباشد وصل جو   که نه معشوقش بود جویای او
لیک عشق عاشقان تن زه کند   عشق معشوقان خوش و فربه کند
چون درین دل برق مهر دوست جست   اندران دل دوستی میدان که هست
هیچ بانگ کیف زدن آید بدر؟   از یکی دست تو بی دست دیگر
تشنه می نالد که کو آب گوار   آن هم نالد که کو آن آب خوار
جذب آبست این عطش در جان ما   ما از آنِ او، و او هم ز آنِ ما
حکمت حق در قضا و در قدر   کرد مار را عاشقان همدگر
جمله اجزای جهان ز آن حکم پیش   جفت جفت و عاشقان جفت خویش
هست هر جزوی ز عالم جفت خواه   راست همچون کهربا و برگ کاه
آسمان گوید زمین را مرحبا   با تو ام چون آهن و آهن ربا
میل هر جزوی به جزوي مي نهد   ز اتحاد هر دو تولیدی جهد
هر یکی خواهان دگر را همچو خویش   از پی تکمیل فعل و کار خویش

تر دې وروسته مولانا خپله عرفاني نتیجه له دې علمي بحثه هسې اخلي:

خاک گوید خاک تن را ناز کرد   تر جان گو سوی ما آهمچو گرد
گوید آری لیک هن پا بسته ام   گر چه همچون و ز هجران خسته ام
چونکه هر جزوی بجوید ارتفاق   چون بود جان غزیز اندر فراق
گوید ای اجزای پست فرشیم   غربت من تلخ تر من عرشیم
میل تن در سبزه و آن روان   زان بود که اصل او آمد از آن
میل جان اندر حیات و در حی است   زانکه جان لامکان اصل وی است
حاصل آنکه هر که او طالب بود   جان مطلوبش برو راغب بود

کهربا عاشق بشکل بی نیاز　　　　　کاه میکوشد دران راه دراز[1]

اکبر پخپل مثنوي کي دا خبره چي عشق په حقیقت کي معاشقه او جذب یوه مجاذبه ده په ښه ډول ادا کړې ده او د مولانای روم سره همنوا شوی دی کوم ځای چي وایي:

زه چي ژاړم مراد مي دا دی　　　　　چي اشنا له ما جلا دی

ځکه چي مولانا هم هر ژړا او ناره په "از جادبی ها شکایت میکند" تعبیر کړې ده.

د اکبر له حیاته او احواله مونږ نه یو خبر؛ خو فقط له یو څو اشعارو څخه د ده د فکر ډول معلومیږي او ښکاري چي د خپل عصر په ادب پوه سړی و او هغه ادبي تمایلات او اذواق چي د ده په عصر کي وه، ده ته ښکاره شوي وه او په عین دغو ادبي جریاناتو کي ده مخصوصاً د پښتنو شاعرانو روحي میلان او ذوق هم ساتلي و، چي د ده له دغه خورا مستي پښتو بدلي څخه ښکاري:

زه چي په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم　　　　　زه د هجران د بیلتانه د تورو جنګ لره ځم

زه اپوته[2] یم په هجران سره قرار نه لرم　　　　　هجر مي اوږد شو د وصال د امید کار نه لرم

بیلتون په خوله را کړي څاپیړي زه لا عار نه لرم　　　　　وام د معشوق پر سینه پروت زه تور لونګ لره ځم

ځیني ئې ولي څوک عاشق ځورنګ[3] په توري کاندي　　　　　پر خوار مین د شها هومره هوري ژوري[4] کاندي

بي نیازه نکا چي پلو له مخه لیري کاندي　　　　　چي را و پاځي په اخلاص چي خپل ځورنګ لره ځم

اول خو ته نجلۍ په عشق باندي اقراره سولې　　　　　اور دي راپوري کئ نور کنبینستې قراره سولې

هیڅ ګفتګوي له عشقه نه کوې بیزاره سولې　　　　　یو وار خو، وهایه قرار چي د یار څنګ لره ځم

د اکبر دوې غزلي

د خپل ځان له حیرانۍ څه ویل کړم　　　　　د عشق ویر به تل پخپله پټول کړم

ما مدام لکه بورا پر ګلو ګنبت کړ　　　　　اوس به ځم په سر تور سر فراق د ګل کړم

د غماز لړمون به زه په لمبه کنبیږدم　　　　　ځیني هیر به د یار بزم ګل او مل کړم

زما د یار د میني اور په زړه کي بل دی　　　　　زه به سر او مال ښندم دید به حاصل کړم

د بیلتون له ویره ژاړم اوښکي وینیق　　　　　زه اکبر پر خپل اشنا د سر ښندل کړم

چي مدام زه ستا و مخ وته نظر وړم　　　　　د بیلتون له بیړي زړه زیر و زبر وړم

---

۱. مثنوی مولانا بلخی ص ۲۰۹ دریم دفتر.

۲. اپوته: پریشان.

۳. ځورنګ: زخمي.

۴. هوري ژوري: ظلم

که په ما دی حکم وشي چي خادم شه | دغه ستا د نغری سور انګار پر سر وړم
چي جمال په مهر او مینه را ښکاره کي | شین توتي شم په هوا د میني پر وړم
چي ګفتار دی په ښه مینه راته وسی | نو بډای سم کوتي کوتي دُر ګوهر وړم
که مي وژني که مي پیرې رضا ستا ده | ستا و عشي ته مدام موخه[1] ځیګر وړم
چي جمال دی په هجران کي را په یاد شي | هغه دم په تصور شمس و قمر وړم
ستا د تورو څڼو خیال هسي طویل دئ | تل په زړه کي دغه فکر زه اکبر وړم[2]

۱۸. سلطان بهلول لودي

جلوس ۸۵۵هـ ۸۹٤ هـ وفات

د دې کتاب په یوه دمخه څپرکی کي تاسي د لودیانو کورنۍ احوال ولوست، چي دې کورنۍ تر غزنوي سلطنت دمخه په ملتان کي پښتو ژبه او پښتني ثقافت خپور کړي و، که څه هم هغه کورنۍ د سلطان محمود په لاس له منځه لاړه او د ٤٠١هـ په شاوخوا کي یې کمبله ټوله شوه؛ مګر د لودي قوم بقایا په هند کي وه او له دوی څخه ډېر حربي مشاهیر را وهاته[3] او په ۸۵۵هـ کابل بیا له دې لودیانو پښتنو څخه ابو المظفر بهلول شاه د پښتنو د سلطنت اساس کښېښنو او هغه رڼا یې بیا خپره کړه، چي څلور نیم قرنه دمخه د لودیانو په هبوط پټه شوې وه.

د هندوستان په پاچاهانو کي یو معروف سړی خضر خان د ملک الشرق ملک سلیمان زوی دی، چي په ۸۱۷هـ د دهلي پر پاچاهي کښېناست[4] او د ده له کورنۍ څخه څو تنو تر ۸٤۷هـ پوري پاچاهي وکړله، چي دوي خضر خانیه پاچاهان بولي، د خضر خان زوی معزالدین مبارکشاه په ۸۷٤هـ پر تخت کښېناست، ځکه چي دا کورنۍ د پښتنو پاچاهانو سره محشوره او هم د پښتونو د مځکي خلق وه؛ نو د دوی په سلطنت کي پښتنو او خاص بیا لودیانو ډېر اعتبار درلود او ملک سلطانشه لودي د مبارکشاه په زمانه کي د سر هند امیر و او د دغه پاچا له خوا په ۸۳۱هـ د اسلام خان په نامه هم مخاطب او سر لوړی شوی و او له مشهورو خلکو څخه ګڼل کیده.[5] د سلطان شاه (اسلام خان) ورور ملک کالا (کالو) نومیده، چي دی هم لکه خپل ورور د عصر له مشهورو سپه سالارانو څخه و او په مبارکشاهي عصر کي یې په اکثرو جګړو کي برخه لرله او یو مشهور سړی و.[6] د ده زوی ملک بهلول هم له خپله پلاره او اکا سره تربیه شو او ځکه چي سلطانشاه لودي ډېر لوی امیر او په هند کي د غټ اقتدار خاوند و؛ نو ده خپل وراره ملک بهلول ښه وروزه او تر خپل مرګ وروسته یې په هند کي پریښودي.

ملک بهلول دلاور او مدبر او پوه پښتون و، د اکا تر مرګ وروسته یې استقلال وموند او د هند پښتانه یې سره را غونډ کړل او دوی ته یې د لودیانو تیر شوی شوکت ور په یاد کړ او ویې غوښته چي بیا د لودي سلطنت مشال روڼ کړي،

---

۱. موخه: هدف.
۲. پښتانه شعرا ج۱، ص ۷۰.
۳. مثلاً دولت خان لودی چي په ۸۱۵هـ یې له تغلقیانو څخه پاچاهي ونیوله. سلطانشه لودي، ملک کالا او نور.
٤. دا کورنۍ سیادت ته منسوب ده؛ مګر فرشته او سهرندي او نور مؤرخان د دوی سیادت نه مني او وایي چي پښتانه وه.
٥. تاریخ مبارکشاهي ص ۱۸۱–۲۰۰ او دول اسلامیه ص ٤٦۷.
٦. تاریخ مبارکشاهي.

لومړی ده د پښتنو په ملګرۍ سر هند او ټول پنجاب ونیول، وروسته یې دهلي هم فتح کړ او د ۸۵۵هـ په ربیع الاول یا محرم کي د هند پر پاچاهۍ کښیناست او پښتانه سرداران لکه قطب خان لودي او دریا خان لودي او نور یې د ځان ملګری کړل او د هند هري خوا ته یې ښکاره فتوحات وکړه، دی د سلطنت په وخت کي ابو المظفر بهلول شاه بلل کیده، تر ۳۸ کالو سلطنت وروسته په دهلي کي قصبه جلالي ته نژدې په ۸۹۴هـ وفات شو او تر ده وروسته یې زوی سلطان سکندر پر ځای کښیناست او دې کورنۍ تر ۹۳۲هـ پوري په هند کي پاچاهي کوله.[1]

د ده شعر: سلطان بهلول لودي لکه د توري او تدبیر خاوند چي و، دغسي هم ده ادبي ذوق درلود او کله کله به یې شعر هم وایه او د ده په دربار کي به په پښتو خبري او معاشرې کیدې او دا لودي سلطان لکه خپل اسلاف د ملتان لودیان د پښتو ژبي شاعر هم و او د ده یو شعر د پټي خزانې مؤلف هسي ضبط کړی او د ده احوال یې هم داسي کښلي دي.

"په مخزن افغاني کي نعمت الله هسي کښلي دي چي ملک بهلول د ملک کالا زوي و، په هندوستان یې د سلطنت لو اهسکه کړه او دغه ملک له لودي طایفې څخه و له ډیري زمانې دې لودي ټبر سلطنت کا په هند کي، ملک بهلول په سرهند د اسلامخان تر وفات را هیسي استقلال وموند او تر جنګو په وروسته یې پر دهلي خطبه او سکه وهله، پاني پت، لاهور، هانسي او حصار او تاګور یې د ملتان تر څنډو پوري ونیول او د هندوانو د راجګانو سره یې سخت جنګونه وکړل او اته دیرش کاله یې پر هندوستان سلطنت وکا او ډیر عادل او عالم پادشاه و په ۸٦٤هـ کال وفات شو لکه چي وایي:

به هشت صد و نود چهار رفت از عالم   خدیو ملک ستان و جهانکشا بهلول

د سلطان بهلول علیه الرحمه وفات په تبه د جلالي په قصبه کي و..."[2]

تر دې وروسته د پټي خزانې مؤلف د محمد رسول کلاتوال د بیاض په حواله لیکي چي خلیل خان د سلطان بهلول د دربار شاعر یوه پښتو رباعي د سلطان په ستاینه کي ویلې وه، چي دغه رباعي به زه وروسته د خلیل خان په احوال کي راوړم. دی وایي چي سلطان هغه رباعي وارویدله، په جواب کي یې دا رباعي سم دستي وهیله:

ملک به زرغون کړم په ور کړه راسه   ګوره اویځي د داد له پاسه

خول مي د عدل په درو روڼ دئ   جهان به زیب مومي زما له لاسه[3]

تاسي چي وروسته د خلیل خان رباعي هم ولولی؛ نو به د سلطان بهلول د ارتجالي شعر کمال درته معلوم شي، علاوه پر ادبي ښیګړو له دې یوې رباعي څخه موږ د دغه پښتانه سلطان فکر هم څرګندولای شو، چي ده د مملکت د ودانۍ او عمران فکر درلود او په انصاف او عدالت یې حکمراني کوله.

خلاصه: سلطان بهلول د پښتنو د لودي ټبر د شوکت او لوړتیا داستان دوهمه پلا تازه کړ او هم دی د پښتو ژبي مربي او شاعر او ادیب و چي متأسفانه نور آثار یې ورک دي او فقط یوه رباعي د یوې یتیمي مرغلري په ډول په پټه خزانه کي مومو.

---

۱. تاریخ سلاطین افاغنه او مخزن افغاني او تاریخ مبارکشاهي.

۲. پټه خزانه ص ۵۷.

۳. پټه خزانه، ص ۷۷.

۱۹. خلیل خان نیازی

د ۸۹۰هـ حدود

نیازي د پښتنو یوه قبیله ده چي د لودیانو یوه پښته شمیرله کیږي، دوی د لودیانو سره یو ځای په هند کي خپاره شوی دي، په افغانستان کي لږ دي، یو څو کوره یې په قندهار او غزني او شیوکي او لغمان کي شته. له دوي څخه هم په هند کي مشهور جنګیالي او مشران را وتلي دی، د لودیانو او سوریانو په دوره کي یې ډیر مشاهیر درلوده مثلاً هیبت خان نیازی د شیر شاه سوري په وخت کي د اعظم همایون په خطاب د لاهور حکمران و[۱] او نیازیان د لودیانو او سوریانو غښتلي ملګري وه او تر اوسه یې هم بقایا په هند کي شته. له دې قبیلې څخه یو سړی، خلیل خان، دي چي دی د سلطان بهلول لودي د دربار معتمد او ادیب و او پټې خزانې د ده یوه مدحیه رباعي راوړې ده، په دې ډول:

"محمد رسول کلاتوال پخپل بیاض کي هسي کښلي دي، چي په هندوستان د برسات په موسم خلیل خان نیازي هسي رباعي انشا کړه او د سلطان بهلول پادشاه په مخه کي یې وهیله."

رباعي

خړي اوریځي ژاړي له پاسه کویله[۲] ږغ کا، بیلتون له لاسه
په هغه لوني[۳] ګوهر په خول ستا دا مرحبا که ستا، زموږ مواسه[٤]

د خلیل خان د دې رباعي په خواب کي پښتون شهنشاه هغه رباعي ویلې ده، چي دمخه د ده په احوال کي راغله. د خلیل خان نور آثار متأسفانه زموږ لاس ته نه دي راغلي او داسي ښکاري، چي د سلطان بهلول د دربار پښتون شاعر و.

په لوړه رباعي کي خلیل خان په ډیر ښه صورت د خپل ممدوح ستاینه د رجوع په صنعت کي کړې ده، لومړی د اوریځي ژړا او د کویلي د بیلتانه ږغ بیانوي، بیا په دوهم بیت کي رجوع کوي او د لومړي بیت مطالب نقض کوي، د ستاینې لپاره په بل رنګ هغه مقصد وایي.

۲۰. زرغون خان نورزی

د ۸۹۰هـ حدود

نورزی د پښتنو یوه لویه طایفه ده، چي په فراه، نوزاد، کدني او دهراوت کي اوسي او زرغون خان په دوی کي یو لوی اوجنګیالي او ادیب سړی تیر شوي دی، د پټې خزانې مؤلف د دوست محمد کاکړ د غرغښت نامې په حواله لیکي، چي زرغون خان اصلاً د نوزاد (زمین داور) و او د قوم مشرتوب یې کاوه، په دغو وختو کي چي د ماوراء النهر شیباني خان پر هرات او سیستان هجوم وکړ؛ نو زرغون خان د وطن له مدافعینو څخه ګڼل کیده او له متهاجمینو سره یې سختي جګړې

---

۱. حیات افغاني ص ۲۹۸.
۲. کویله: په هند کي یو خوش آوازه مرغه دی.
۳. لوني: پاشي او نثاروي.
٤. مواس: محافظ اونګهدار. پټه خزانه ص ۷۷.

کړي وي، زرغون خان په ۸۹۱هـ د هرات او خراسان او عراق (پارس) سفر وکړ او چي شيباني خان پر سيستان راغي، نو زرغون خان د خپل قومه سره له وطنه دفاع کوله او خپله آزادي يې ساتله.[۱]

داسي معلوميږي، چي زرغون خان يو ملي قايد او د وطن آزاديخواه مدافع او جنګيالی سړی و، علاوه پر دغه د قلم او علم خاوند هم و، لکه د آزادۍ د جګړو پر ډګر چي په ميړانه درېده، دغسي هم د علم او ادب په ميدان کي پوخ شهسوار و، لکه پټه خزانه چي د دوست محمد کاکړ له روايته ليکي: زرغون خان خورا ډېر عمر ژوندی و او د نهايت ضعيف او سپين ږيرتوب پر وخت په ۹۲۱هـ د قندهار په دهراوت کي وفات شوی دی.[۲]

د زرغون خان ديوان او اشعار:

زرغون خان د پښتو ژبي ښه شاعر او د ديوان خاوند دی، چي د ده ديوان په کجران[۳] کي په ۹۱۲هـ له ملا ايوب تيمني څخه و او په دغه کال چي دوست محمد کاکړ هرات ته تي، هلته يې دا ديوان کتلي و، چي ۳۰۰ پاڼي يې درلودې او دغه سړی پخپل کتاب غرغښت نامه کي له هغه ديوانه د دوه يخ (مثنوي) نقل کړي دي چي د پټې خزانې مؤلف هم له هغه کتاب را اخيستي دي.[٤]

ساقي نامه

ساقي پاڅه پياله راکړه — مرور يار مي پخلا کړه
اوبه تويي په لنبو کړه — اور مي مړ په دې اوبو کړه
پسرلی سو، غنچه ګل کا — زلفي تاوي د سنبل کا
بلبلان شور و فغان کا — کړيدن[٥] په ګلستان کا
زاهد وزي صومعې څخه — شراب پيوي[٦] ميخانې څخه
هر سړی په ميو مست دئ — دې بهار کي ګلپرست دئ
په راغو کي سرې لمبې دي — د غټولو[۷] ننداري دي
جهان ټول سور او زرغون سو — وچ راغه ښکلي ګلګون سو
سړي ټول شور و شغب کا — ياراني کاندي طلب کا
بهار وقت د ياراني دئ — ښه موسم د پيماني دئ
نو ساقي پاڅه بهار دئ — نن ژوندون سبا رفتار دئ

---

۱. پټه خزانه ص ۸۱.
۲. پټه خزانه ص ۸۳.
۳. کجران: د غور د جنوبي خوا کجوران يو تاريخي ځاي دی چي د قندهار د دهراوت پر شمالي خوا تر اوسه هم په دغه نامه مشهور دی.
٤. پټه خزانه ص ۸۳.
۵. کړيدن: طواف و ګردش.
٦. پيږي: ميخرد.
۷. غټول: لاله.

دنیا پاته موږ به ځونه — تورو خاورو کې به یونه
پیمانه ډکه له مې راکړه — بزم تود په پیاپې کړه
چې یو دم سمه آزاد — ناښاد زړه مي سینه[1] ښاد
ساقي پاځه وقت د گل دئ — په جوشش کي خم د مل دئ
وقت د میو د ویشو دئ — د پیالو د ډکیدو دئ
هغه څوک اوس د پیغور دئ — چې یې جام تش او نسکور دئ
مستان گرځي په باغو کي — مستي کاندي په راغو کي
لاس په لاس دي یاراني کا — یو په بل ناز و نخرې کا
مجنون وصل له لیلا دئ — د جمال په تماشا دئ
نه غمجن سته، نه بیلتون سته — نه مهجور، نه ځیگر خون سته
تر تا وگرزمه[2] راسه — ساقي یو گړی پخلا سه
ما ته جام د ربل و لور[3] را — چې یو تش سي ډک یې نور را
اور مي بل د زړه په کور کړه — له هر چا، هر څه یې تور کړه
چې بل څه نه وي الفت وي — ټوله مهر و محبت وي
ټول اخلاص وي او صفا وي — تیاره ورکه سي رڼا وي
له زړه کم غش او دغل سي — جهان ټوله گل او مل شي
ساقي ستا مهر مطلوب دئ — نو بهار ځکه مرغوب دئ
که ستا لور پیروز نه وي — نو بهار به په څه ښه وي؟
خوند به نه کا رنگ د گلو — بې مستیو، بې له ملو
لنه به بزم په شور تود سي — نه نغمې نه به سرود سي
جام به تش د آرزو سي — ورک به مهر او بیرزو سي
نو ساقي پاځه بهار دی — بزم تاله امیدوار دی
یاران ناست ستگي څلور دي — ستا د جام په امید نور دي
ته هم راسه عنایت کړه — بزم تود د محبت کره
له سرو ملو څخه ډک جام کړه — د یارانو یې انعام کړه
چې سوږ بزم په مي تود سي — د رندانو غوږ و سرود سي
د جهان ویر و غم هیر کا — یو دم ښه په عشرت تیر کا
چې په مخ کي مو بیلتون دئ — له جهانه سبا یون دئ[4]

---

۱. سینه: شي نه.
۲. یعني تر تا قربان شم.
۳. ربل: رواداري، لور مهرباني.
۴. یون: کوچ.

د زرغون خان دغه د ساقي نامې مثنوي، د نهمي هجري پیړۍ له هغو آثارو څخه ده، چي په ښه ډول د پښتو ژبي اختلاط له پارسي سره ښکاره کوي. په دغه پیړۍ کي هغه پښتانه چي په سمو او ښارو کي ژوند کاوه، په پوره ډول د پارسي ادب تر اثر لاندي راغلي دی؛ لکه د دې مثنوي کلمات چي اکثر پارسي او عربي دی، دغسي هم تخلیل او د شاعر د اداء طرز او د کلام نوعیت هم پوره پارسي ته ورته دی او په دغو وختو کي چي کوم ادبي جریان په منځنۍ ایشیا او خراسان کي و، دا ساقي نامه بې ښه نمایندګي کولای شي، د پارسي ژبي په پخوانو شاعرانو کي مخصوصاً له غزنوي دورې څخه یعني د ۴۰۰هـ له حدودو، بزمي اشعار او خمریات ډېر شوي دی، اکثر شعراء لکه عنصري او منوچهري او عسجدي او نور د خپلو قصایدو تشبیب او نسیب په بزمي او خمري مضامینو سره کوي، وروسته سنایي او نور متصوف شعراء د عرفان په کټوریو کي د وحدت شراب څښي او دا نشه او کیف په عرفاني ډول پخپلو اشعارو کي نغاړي:

طلب اي عاشقان خوشرفتار	طرب اي نیکوان شیرین کار
تا کي از خانه، هین ره صحرا	تا کي از کعبه، هین در خمار
زین سپس دست ما و دامن دوست	بعد ازین گوش ما و حلقهٔ یار
در جهان شاهدی و ما فارغ؟	در قدح جرعه ئی و ما هشیار؟

سنائي

دا عرفاني کیف په ډېرو بزمو کي، د میو او رنګینو جامونو په نشه هم اوړي، او دغسي خمري اشعار په مثنوي کي په ښه ډول ځای مومي، نظامي ګنجوي ډېري ساقي نامې لري، عمر خیام پخپلو رباعیاتو کي د خمري اشعارو یوه بهترینه نمونه دنیا ته پرېښودي او په پای کي ساقي نامه په سپک مثنوي کي ویل یو بیل فن ګرزي او په پارسي ادب کي یو مخصوص رنګ مومي او شعراء یې تقلید کوي.

عبدالنبي فخر الزماني چي د پارسي ژبي ساقي نامې سره یو ځای کړې دي (۱۰۲۸هـ) یو غونډ کتاب یې د میخانې په نامه ځني ترتیب کړی دی او د نظامي، عراقي، خسرو او دهلوي، او خواجو او حافظ، او جامي او نورو پارسي شاعرانو ساقي نامې سره یو ځای کوي چي ځیني له دغو ساقي نامو بیل بیل کتابونه ګڼل کیږي او د ظهوري تهراني (متوني ۱۰۲۵هـ) ساقي نامه تقریباً زر بیته ده.

په دغو ساقي نامو کي د شعراوه لار دا وه چي دوی به له ساقي څخه د سرو میو آرزو کوله، د ساقي او د جام او صراحي او میو صفات به یې بیانول، د دنیا بې وفایي او یو څو ورځي ژوندون په خوښۍ سره تیرول او بزم په میو تودول، د ساقي نامو عمومي مضمون و. شاعر به په سپک مثنوي کي دا مطالب لیکل او اثرناک الفاظ او کلمات به یې پکي استعمالول.

حسن طلب او حسن تعلیل او رشیق عبارت او روان بیتونه د ساقي نامو ادبي مزایا وه. مثلاً د شیراز خواجه حافظ خپله ساقي نامه هسي شروع کوي:

بیا ساقي آن آتش تابناک	که زردشت میجویدش زیر خاک
بمن ده که د کیش رندان مست	چه آتش پرست و چه دنیا پرست
بیا ساقي آن بکر مستور مست	که اندر خرابات دارد نشست
بمن ده که بدنام خواهم شدن	خراب مي و جام خواهم شدن

په دې ډول ساقي ته متواتر خطابونه کوي او په ډول ډول غوښتنو او الفاظو له ده څخه مي غواړي:

بده ساقي آن مي که شاهي دهد	بیا کي او دل، ګواهي دهد

بیا ساقي آن مي که حال آورد　　　کرامت فزاید کمال آورد
بیا ساقي آن کیمیای فتوح　　　که با گنج قارون دهد عمر نوح

شعراء د میو سره رقص او سرود وجد او پاکوبي، رندي او هوسناکي هم لازم ګڼي او خواجه حافظ بزم ته هسي معني او رامشګر را غواړي او د دنیا بې ثباتي هم څرګندوي:

مغني بزن آن نوائین سرود　　　بگو با حریفان بآواز رود
مغني نواي طرب ساز کن　　　بقول و غزل قصه آغاز کن
درین خون فشان عرصۀ رستخیز　　　تو خون سراحي و ساغر بریز
بمستان نوید سرودی فرست　　　بیاران رفته درودی فرست
معنی دف و چنگ را ساز ده　　　بائین خوش نغمه آواز ده
فریب جهان قصۀ روشن است　　　ببین تا چه زاید شب آبستن است

لنډه يې دا چې د عربو د خمریه اشعارو تقلید د عجمو شعراوه وکړ او ورو ورو د ساقي نامې ویلو سبک په پارسي ادب کي پیدا شو، د نورو ایشیایي ژبو شاعرانو يې هم تعقیب وکړ، مګر په ساقي نامو کي د شاعر مهارت او استادي دا وه، چي د مستۍ احوال تصویر کړي او د مستانو په شان خبري وکړي، د استادانو ساقي نامې ټوله له مستۍ او وجد او ذوقه ډکي دي او هغه شعراء چي په ساقي نامه کي مستي نه کوي او عقلاوه په ځیر ګډ وي، د دوي ساقي نامې د ادب له پلوه ښې نه ګڼلي کیږي.

په پارسي ساقي نامو کي که څه هم د ظهوري ساقي نامه خورا مفصله او هم خوږه ده او د مستۍ او میخورۍ مختلف مناظر ښیي؛ مګر کلام يې د مستانو په ځیر نه دی او لکه ځیني اهل ذوق چي وایي، د ده دا اول بیت:

ثنا میکنم ایزد پاک را　　　ثریا ده طارم تاک را

د مستانو خبرو ته نه دی ورته او د یوه نارمل سړی وینا ده؛ نو ځکه د ده ساقي نامه هم عمومي مقبولیت نه لري او د ده زر بیته د خواجه حافظ تر ٦٠ بیتو نه درنیږي!

زرغون خان هم په دې پښتو ساقي نامه کي د استادانو پر لار تللي او مستانه وینا يې کړې ده د ده شعر روان او خبري يې هم د مستانو په ځیر دي؛ ځکه نو ده ته یو کامیاب او پوخ ساقي نامه ویونکي وایو او دا ساقي نامه هم د پښتو له پخو اشعارو څخه ګڼو؛ ځکه چي ده په خپل شعر کي د احساساتو رقت، حسن طلب او هم د عباراتو رواني او رشاقت او خوږ سلاست سره یو ځای کړي دی او په دې ټولو شیانو کي کامیاب دی.

۲۱. زرغونه کاکړ

د ۹۰۰هـ حدود

د پښتو شعر په تاریخ کي دا لومړۍ ښځه ده، چي موږ يې پېژنو او د شاعرانو په ډله کي په اول صف کي درېږي.

دا شاعره میرمن د قندهار د پنجوایي وه، د پلار نوم يې ملا دین محمد کاکړ و او دې د خپل عصر مروج علوم زده کړل، د فصاحت احکام يې ولوستل او د فصحاوه اشعارو او آثار يې وهیل. زرغونه د سعد الله خان نورزی په نکاح کي وه او د علم او هنر او توري خاوندان زامن يې درلوده، دې میرمني د خپل عصر په شاعرانو کي شهرت درلود او د دې اشعار به يې لوستله. زرغونې په ۹۰۳هـ د شیخ مصلح الدین سعدي پارسي بوستان په پښتو شعر ترجمه کړ او دا علاوه پر شعر او ادب د ښه خط خاونده هم وه او د خط ډېر اقسام يې لیکلاي شو، داسي خوش خطه وه چي کاتبانو به يې له خطه

زده کړه کوله او لکه د پټې خزانې مؤلف چې ليکلي دي: دې پخپل ښه خط خپل پښتو کړی بوستان کښلي و چې مرغلرو يې و ته عاجزي کوله.[1]

اشعار: د پټې خزانې په روايت زرغونې غزليات او د اشعارو نور اقسام هم درلوده، چې په فصحاوه کې مشهوره وه، مګر متأسفانه له هغو څخه اوس کومه نمونه نه لرو، فقط له هغه پښتو بوستانه يو حکايت د پټې خزانې مؤلف را نقل کوي، چې د زرغونې د کلام سلاست او متانت ځنې ښکاري.

که موږ په پښتو ادب کې د اخلاقي شاعرانو لپاره يوه مخصوصه ډله ومنو نو به زرغونه د خپله بوستانه سره د هغو په سر کې ولاړه وي، ځکه چې تر دې دمخه يو اخلاقي شاعر چې مستقل اثر ولري، موږ ته نه دی معلوم او زرغونه د شيخ سعدي د بوستان په منظومه ترجمه د اخلاقي شاعرانو له ډلې څخه بللای شو.

هغه حکايت چې د زرغونې له زرغونه بوستانه پاتي دی، دا دی:

حکايت د پښتو (له بوستانه)

اوريدلې مې قصه ده — چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار — بايزيد چې و رويدار
له حمامه را وتلي — په کوڅه کې تيريدلي
ايرې خاوري چا له بامه — را چپه کړلې ناپامه
مخ او سر يې سو ککړ — په ايرو په خاورو خړ
بايزيد په شکر کښنو سو — د خپل مخ په پاکيدو سو
چه زه وړ يم د بل اور — چې په اور کې سم نسکور
له ايرو به څه بد وړمه — يا به لړ شکوه کومه
هو، پوهانو ځان ايري کړ — له لويني[2] يې ځان پرې کړ
ځوک چې ځان ته ګوري تل — خداي ته نه سي کړای کتل
لويي تل په ګفتار نه ده — لو خبره په کار نه ده
تواضع به دی سر لوړ کا — تکبر به دی تل ځور کا[3]

۲۲. رابعه

د ۹۲۰ هـ حدود

بله شاعره ميرمن رابعه ده، چې هم په هغه عصر په قندهار کې اوسيدله او د دې شاعرې نور احوال موږ ته نه دي ښکاره، د پټې خزانې مؤلف يې په لنډ ډول هسي معرفي کوي: ”حال د دې شاعرې ما ته نه دی معلوم سوی؛ خو لږ څه چې ښکاره ده، هغه هسي ده چې دا شاعره د قندهار وه او په دوران د محمد بابر پادشاه يې ژوند کاوه.“

پټه خزانه رابعه د ډيرو اشعارو خاونده ګڼي؛ بلکه يو ديوان يې هم درلود چې متأسفانه د دې له اشعارو څخه بله نمونه

---

۱. پټه خزانه ص ۱۹۱.
۲. لوينه: تکبر.
۳. پټه خزانه ص ۱۹۳.

نه ده ليدله شوې، فقط د هغه کتاب مؤلف د خپل رفيق طاهر جمرياڼي له خولې دغه رباعي را نقلوي:

آدم يې مځکي وته را ستون کا په اور د غم يې سوی لړمون کا

دوزخ يې روغ کا، پر مخ د مځکي نوم يې د هغه، دلته بيلتون کا

له دغي يوې رباعي څخه چي د رابعې له کلامه موږ ته پاتي ده، دونې معلومولای شو، چي رابعه د پښتو د منځنۍ دورې ښه شاعره ده او په کلام کي يې جزالت او سلاست دواړه ليدل کيږي او ښايي چي اشعار به يې هم عشقي وه او ديوان به يې د پښتو له ښو آثارو څخه و.

۲۳. دوست محمد کاکړ

د ۹۲۰هـ حدود

دوست محمد د بابړ خان کاکړ زوی دی، چي د کاکړستان په ږوب کي اوسيده، د ده پلار هم عالم او شاعر سړی و، چي يو کتاب يې د تذکرهٔ غرغښت په نامه نظم کړي و، دوست محمد هم علم او ادب له پلاره په ارث وړی و او د کاکړو د علمي او ادبي عشيرې يو پخوانی اديب دی.

دی په ۹۱۲هـ له ږوبه هرات ته ولاړ او هلته يې د کاکړ بابا زيارت وکړ[1] په ۹۲۹هـ يې خپل يو کتاب غرغښت نامه نظم کړهاو د غرغښت نيکه احوال ئې پکي په مثنوي وليکه.

لکه پټه خزانه چي ليکي، دوست محمد کاکړ، غرغښت نامه، هغه حکايات وه چي بابړ خان د تذکرهٔ غرغښت په نامه نظم کړي وه؛ ځکه چي هغه کتاب ورک شوی و؛ نو دوست محمد د غرغښت نامې په نوي نامه بيا وپيودله. دا کتاب په لږ وخت کي د پښتنو په ادبي محافلو کي مشهور شو او ځکه چي اخلاقي منظومې يې لرلې؛ نو يو درسي او کلاسي کتاب ګڼل کيده او پښتنو هلکانو به درساً لوست. په قندهار کي د پټې خزانې د مؤلف کورنۍ چي يو باذوقه ادبي کهول و، دوی هم د دې کتاب نسخې د کوړک غره په توبه کي ميندلي وې او درساً به يې په کورنيو مکتبو کي په هلکانو لوستې[2] داسي ښکاري، چي غرغښت نامې د غرغښت نيکه له احواله زيات ځيني نور مضامين هم درلوده؛ ځکه چي د زرغون خان ساقي نامه چي دمخه ذکر شوه، هم د پټې خزانې مؤلف له غرغښت نامې څخه را نقل کړې وه او هم لاندي حکايت په کاکړ اړه لري چي د غرغښت له اولادې څخه دی؛ ځکه چي اوس د دغه کتاب نسخه نشته؛ نو تر دې زيات نور څه نه شو ځني ويلای.

غرغښت نامه د پښتو ژبي په اخلاقي شاعرۍ کي د زرغونې تر بوستان را وروسته ډېر پخوانی کتاب دی، له دغه يوه حکايته چي پټې خزانې ځني را نقل کړی دي، معلوميږي، چي لنډ مثنوي و او ژبه يې هم سليسه او روانه وه.

حکايت له غرغښت نامې څخه

له نيکانو روايت دی هسي توګه[3] حکايت دی

نور محمد کاکړ راوي دی چي يې فيض تل جاري دی

---

۱. د کاکړ مزار د هرات د لويي جامع په اړخ کي مشهور دی.

۲. پټه خزانه، ص ۸۷.

۳. توګه: طور او طرز.

د نیکونو له خولې وايي
چي منښت[1] یې راته ښايي

چي کاکړ نیکه زاهد و
لوی څښتن له تل عابد و

تل تر تل بې[2] عبادت کا
پر دې لیار یې ریاضت کا

شپې یې روڼې په لمانځو وې
په ژړا او په نارو وې

نه یې خوب نه یې خوراک و
عبادت یې ژوند و ژواک و

چه به کښیناست په لمانځنه[3]
یا به کښیوهت په ستاینه

ورځ یې ټوله په قعده وه
شپه یې هم یوه سجده وه

تل یې سیر د لاهوت کا
په یوه گوله یې قوت کا

غرق به تل پل ذکر الله و
هر سبا او هر بیگاه و

یوه شپه یې عبادت کا
پر گناه یې ندامت کا

سترگي پټې سوې له خوبه
په شپو شپو یې و ویښتوبه

هسي خوب یې ولید گرانه!
چي غرغښت ښیي ښهانه[4]

وايي: اې کاکړه زویه
له تا خوښ یمه نیکخویه!

ستا قدم زما پر لار دئ
ماسوا کي دي قرار دئ

شپه و ورځ دي ده لمانځنه
د څښتن عبادت کړنه

ولي پاته له تا نور دي
شپې او ورځې دي په کور دي

ځه جهاد کړه پر تا فرض دئ
دا هم ستا د غاړي قرض دئ

یوه ورځ جهاد افضل:
تر کلو کلو لمانځل[5]

څوک چي تل لمنځ و روژه کا
په جهاد به یې پوره کا

لومړی شرط د دین همدا دئ
بیا خدمت د خلق الله دئ

له تا پاته دواړه دي نه
ځان خبر کړه ښه له دینه[6]

توره واخله مجاهد شه
د لوی خدای د دین قاصد شه

د خدای نور پر جهان خپور کړه
دا خدمت یې په ځان پور کړه

چي دي بشپړ عبادت سي
ځان دي خلاص له معصیت سي

چه له خونه ویښ کاکړ سو
د غزا پر خوا نومړ[7] سو

---

۱. منښت: منل او قبلول.
۲. بې: د به یې مخفف.
۳. لمانځنه: عبادت او لمونځ کول.
٤. ښهانه: نیکي.
٥. لمانځل: لمونځ او عبادت کول.
٦. یعني له دین څخه یا له دې خبري څخه.
۷. نومړ: نامزد.

زغره خول یې آراسته کړل	د غزا غشي[1] تیره کړل
هرات خوا ته په تلو تلو سو	د سلطان غیاث له ملو سو
وې کړه هوري جهادونه	د سلطان مل سو په ملونه[2]
څو هورې تر دنیا تیر سو	د غازیانو په ټول شمیر سو
چي یې هلته هم وفات سو	ښخ په خاورو د هرات سو[3]
میړه هسي ژوندون کاندي	مري د خدای په رضا باندي

دا یوه ټوټه چي له غرغښت نامې څخه زموږ په لاس کي ده، د پښتو د اخلاقي شعر غوره نمونه ګڼله کیږي. د منځنۍ ایشیا په شاعرۍ کي اخلاقي برخه له قدیمه ګڼه ده، هر شاعر که څه هم اساساً بزمي یا رزمي وی، په شعر کي اخلاقي پنګه لري، د پارسي شاعرانو په لومړنیو اشعارو کي هم اخلاقي ټوټې شته، مثلاً بادغیسي حنظله چي د ۲۰۰ او ۳۰۰هـ په منځ کي ژوندی و وایي:

مهتري گر بکام شیر دراست	شو خطر کن ز کام شیر بجوي
یا بزرگي و ناز و نعمت و جاه	یا چو مردانت مرگ روبا روی

له اکثرو پخوانو شاعرانو لکه ابو سلیک (د ۲۷۰هـ حدود) شهید بلخي (د ۳۰۰هـ حدود) رودکي (د ۳۰۰هـ حدود) او نورو څخه اخلاقي ټوټې او اشعار را نقل شوی دي، د فردوسی شهنامه هم غوره اخلاقي پنګه لري، اما په مستقل ډول د پارسي پخواني شاعر چي اخلاقي مستقل کتاب یې نظم کړ، ابو محمد بدیع بلخي دی، چي د سلطان محمود معاصر دی، د (٤۰۰هـ حدود) دې سړي د انو شیروان پند نامه په پارسي نظم کړه[4] او تر ده وروسته سنایي غزنوي، نظام ګنجوي، ناصر خسرو علوي او نور ډیر شاعران راغله، چي پخپلو اشعارو کي اخلاقي برخه ډیره کړه، د سنایي غزنوي حدیقة الحقیقه د اخلاقو او تصوف پوخ او بې مثاله اثر دی، د ناصر خسرو روشنایي نامه او سعادت نامه هم په فلسفي اخلاقي رنګ کي د پارسي ژبې بهترین آثار دي؛ مګر د شیراز شیخ سعدي پخپلو دوه کتابو، ګلاستان او بوستان، دا بڼې هسي ښکلي او تازه کړ، چي د اخلاقي شاعرۍ دوه شهکاره ګڼل کیږي!

په پښتو شعر کي هم یو اخلاقي مستقل کتاب ښایي چي دغه غرغښت نامه وی او د دې کتاب له وجوده موږ څرګ ایستلای شو، چي د پښتو اخلاقي شاعري هم په پخوانو کي رواج درلود او له دې پلوه هم دا ژبه بې پنګې نه ده، ځکه چي عموماً د پارسي ژبې اخلاقي اشعار د مثنوي په ډول دي، نو د غرغښت نامې مؤلف هم خپل کتاب په مثنوي کي پیودلي دی او وروسته چي په پښتو کي هم ځیني مستقل اخلاقي کتب نظم شوي دي، په مثنوي دي، چي د دې کتاب په دریم ټوک کي به در وښودل شي.

---

۱. د غشي یې مخخف دی.

۲. ملونه د مل جمع ده، چي اوس یې په مله سره جمع کوه، یا به مصدري معنا لري؛ لکه ملتیا او ملګري، دلته سلطان هغه معروف عیاث الدي غوري دی، چي د هرات په اطرافو کي یې لوی جنګونه کړي دي؛ ځکه چي دغه جنګ د دیني جهاد په نامه یاد شوی دی، ښایي چي مقصد به هغه جهاد وي، چي په ۵۸۸هـ سلطان غیاث الدین غوري د سلطان شاه جلال الدین محمود خوارزمشاه سره وکړ او د خوارزمشاه لښکر اکثراً نا مسلمانه خطائیان و (طبقات ناصري او نور).

۳. د کاکړ بابا قبر تر اوسه د هرات په لو جامع کي مشهور دی او خلک یې زیارت له ورځي.

٤. شعر العجم، ج۵، ص ۱٦۵.

له دغي يوې نمونې څخه چې له غرغښت نامې څخه پاتې ده، داسي ښکاري، چې د کتاب ژبه ډېره روانه وه او مقاصد يې هم لنډ لنډ اداء شوي دي، حشو او زوايد نه لري، له ابهامه خالي شعر دی او دا هم ښکاره کوي، چې په دغو وختو کي ډېر پارسي او عربي کلمات د پښتو په ادب کي داخل شوي او د تابعيت حق يې پوره موندلي و.

د زرغون خان ساقي نامه خو تاسي ولوستله، هغه د هلمند او ارغنداو د غاړو او ورشوگانو ژبه وه او ځکه چې له پارسي ژبي سره نژدې او کاونډۍ وه، بايد هم د پارسي اثر پر لويدلی وی؛ مگر غرغښت نامه په ږوب او د سليمان د غره په لمنو کي نظم شوې ده، خو سره د دې هم د هغې ساقي نامې له ژبي سره څه ښکاره فرق نه لري او له دې څخه نتيجه اخلو چې په دغو وختو کي د پښتنو اختلاط ډېر شوی او ژبي يو متحد او مثبت ادبي معيار موندلی دی.

او دغه ادبي رنگ او عمومي معيار دی چي د متأخرينو په دوره کي تر ۱۰۰۰هـ را وروسته د شعر او ادب محور دی او اکثر شعراء او ادباء هم په دغه ژبه شعر وايي او ليک کوي، چي د دې خبري تفصيل به د کتاب په نورو برخو کي څرگند شي.

۲٤. شيخ عيسی مشوانی

مشوانې د پښتنو يو قوم دی چي د کاکړو يوه پښنه گڼله کيږي او يوه برخه يې د کابل په کوهدامن کي اوسي او نور شاوخوا سوداگري کوي او له قديمه د هند په لتو کي هم خپاره شوي دي.[1]

شيخ عيسی هم له دې قومه د پښتو د متوسطينو د دور يو شاعر دی، چې د شير شاه سوری پښتانه شهنشاه معاصر و، نعمت الله هروي په مخزن افغاني کي د ده د ژوندانه بيان ليکي چې د هند په دامله کي اوسيد او هلته يې مځکي او پټې درلوده، شير شاه ته چا وهيل، چې شيخ عيسی شراب خوري؛ مگر د شير شاه سړی چي ورغي په صحراحي کي شيدې وې.[2]

د شيخ عيسی احوال د پټې خزانې مؤلف هم کټ مټ له مخزن افغاني څخه نقل کوي او وايي چي دی لوی ولي و او د خداي په توحيد کي په پښتو، فارسي او هندي شعرونه ويل.[3]

د ده نور احوال موږ ته نه دي معلوم، خو ځکه چي شير شاه سوري په ۹٤۷هـ د هند پر تخت کښينستلي دی؛ نو موږ د شيخ عيسی د ژوندانه وخت پس له ۹۰۰هـ ټاکلای شو.

د ده اشعار:

مخزن افغاني د شيخ عيسی پښتو او پارسي او هندي يو يو شعر را نقلوي؛ خو متأسفانه دغه اشعار کاتبانو مسخ کري دي، په ښه ډول نه ويل کيږي، د پټې خزانې مؤلف هم له مخزنه د ده يو پښتو شعر هسي را نقل کړی دی:

پخپله کار کړې! پخپل انکار کړې   کله بادار يم[4] کله مي خوار کړې!

ته خو قادر يې! په صفتونو[5]   کله مي نور کړې کله مي نار کړې!

---

۱. حيات افغاني ص ٤٤١.

۲. مخزن افغاني قلمي.

۳. پټه خزانه ص ۷۵.

٤. د مخزن په قلمي نسخه کي هسي ويلي کيږي: جگ پر هوا يم.

۵. مخزن: ته ښه قادر يې صفت دي دا دی.

عیسی حیران دی په دې شیونو[1]   کله مي یار کړې! کله اغیار کړې!

له دغو بیتو څخه ښکاره ده، چي عیسی د پخو متصوفینو څخه و او په هغه شان وینا لري؛ لکه د هرات خواجه انصاري او نور عرفاء چي له خدایه سره راز او نیاز کوي.

د نعمت الله له لیکني څخه معلومیږي، چي شیخ عیسی یوه رساله درلوده، چي د درو ژبو اشعار یې پکي لیکلي وه، چي له هغه څخه یو پښتنو لوړ شعر او یو پارسي بیت او څو هندي اشعار یې دی په مخزن کي نقل کوي او په دې ډول شیخ عیسی له هغو پښتنو څخه دی، چي خپله ژبه یې په هند کي هم ساتلې وه او په دغه دور کي د یو ګډ افغاني او هندي ثقافت ممثل و.

۲۵. شیخ بستان بړیځ

د ۹٦۰هـ حدود

شیخ بستان د پښتنو له ادبي او روحاني مشاهیرو څخه دی او پلار یې د قندهار په ښوراوک کي اوسیده، چي نوم یې محمد اکرم او روحاني سړی و، دی قوماً بړیځ و او له ښوراوکه ولاړ، د هلمند پر غاړه یې درویشانه ژوند کاوه او په عبادت به بوخت و. بستان له خپله پلاره فیض وموند او د ځوانۍ په سن کي هند ته ولاړ او په سیر او سیاحت مشغول شو.[2]

دې سیر آفاق زموږ شاعر پوخ کړ او د فطرت په مطالعه بوخت شو. شیخ بستان د پښتو ژبي شاعر او لیکوال او مؤلف دی، چي مؤرخان یې ښه پیژني او د ده روحاني شهرت هم تر ادبي خوا لږ نه و، نعمت الله مؤرخ لیکي:

''په ځوانۍ کي له روهه هندوستان ته راغي او په سمانه کي میشت شو او د تجارت په لباس کي یې ځان پټاوه، تل به یې سترګي د اوښکو ډکي وې او پښتو اشعار به یې په حزین صورت ویل او خلک به یې په دردناک حالت ژړول.''[3]

د مخزن له دې بیانه زموږ د شاعر اخلاقي هویت ښه ښکاري او دا څرګندوي چي شیخ بستان سیاح او ګرزند سړی و او د عمر تر اخره هم په سیاحت بوخت و، نعمت الله د عمر په اخر کي د بستان ملګری و او له ده څخه یې خوارق لیدلي وه، دی وایي چي: د دریاب په سفر کي د بستان مل وم، چي د ګجرات احمد آباد ته راغلو، شیخ راته وهیل، چي: زما عمر تمام دی او هم دلې د جمعې په ورځ چي د ربیع الثاني ۱۱ وه، په ۱۰۰۲هـ کال د اسهال په مرض د ماپښین تر لمانځه وروسته مړ شو او هم هورې ښخ شوي دی.[4]

تالیف او اشعار:

شیخ بستان که څه هم پر کور ناست سړی نه و او عمر یې په سیر او سیاحت تیراوه؛ خو بیا هم کوم وخت چي د جهان له مطالعې فارغ شوي دی؛ نو یې قلم را اخیستي او په پښتو یې ښه آثار لیکلي دي.

تر مرګ څلور کاله دمخه دی په ۹۹۸هـ کال خپل وطن ته راغي او د خپلو مطالعاتو نتایج یې په یوه کتاب کي را

---

۱. مخزن: په دې صفت کي.

۲. پټه خزانه ص ٦۵.

۳. قلمي مخزن افغاني، ص ۲۵۰.

٤. قلمي مخزن افغاني، ص ۲۵۰.

ټول کړه، چې نوم يې بستان الاولياء و.[1]

د پټې خزانې له بيانه ښکاره ده، چې دا کتاب هم د روحاني خلکو تاريخ و او هم د پښتنو رجالو او مشاهيرو اشعار او احوال پکې وه، لکه چې محمد هوتک د خپل پلار په روايت چې دغه کتاب يې د ښوراوک د حسن خان په کور کې ليدلی و، د شيخ تيمن اشعار او احوال له بستان الاولياء څخه را نقل کړي دي (۵ څپرکي ته رجوع وکړئ). نو دا خبره ښه ښکاري چې بستان الاولياء د پښتو شاعرانو احوال او اشعار هم درلوده او علاوه پر دې شيخ خپل اشعار هم پکې راوړي وه او په دې مقصد د پټې خزانې مؤلف هم تصريح کوي؛ نو بستان د خپل عصر شاعر او مؤلف او مؤرخ سړی و چې په پښتو يې اشعار ويل او روحاني ژوند يې کاوه د عشق او مينې په سوي گرفتار و. محمد هوتک د خپل پلار له خولې د شيخ بستان يوه بدله را نقلوي، چې په عامي او وطني وزن ده او له دې څخه ښکاري، چې د بستان په شعر کې (لکه نعمت الله چې هم ليکلي دي) د تغنی او ترنم خوا غالبه وه.

کسر	بدله
د مينې اور دې زما زړگي وريت په انگار کې نا	ښې تار و نار کې نا
خود به ويليږم چې مې زړه پر تا مفتون کې نا	ځان مې زبون کې نا
اوښکې مې څاڅي پر گريوان يو وار نظر که پر ما	راسه گذر که پر ما
وکه نظر زما پر حال چې پروت رنځور يمه تل	په وير ناسور يمه تل
له زړه مې څاڅيويني، سور په وينو خپل يمه تل	په اور جلبل يمه تل
اوښکې مې څاڅي پر گريوان يو وار نظر که پر ما	راسه گذر که پر ما
له درده سوزه تل نارې او غلبلې وهمه	کرډۍ[2] سورې وهمه
يو آن مې چپري نه آرام نه ټيکاونه[3] وينم	ته راحت کړنه وينم
اوښکې مې څاڅي پر گريوان يو وار نظر که پر ما	راسه گذر که پر ما
د خوږو زړو له حاله ته يې اې باداره آگاه	يې د بې وزلو همراه
د خپل عزت په روي "بستان" ته کړه د مهر ښندل	کړې له گناهه گوانښل[4]
اوښکې مې څاڅي پر گريوان يو وار نظر که پر ما	راسه گذر که پر ما[5]

دا بدله د پښتو د ملي شعر يو خاص وزم را ښيی، چې مکرر کيدونکي کسر هم لري او په ملي وزمو کې يو د تغني او

---

۱. پټه خزانه ص ٦٥.

۲. کرډي: فرياد و صيحه.

۳. ټيکاونه: آرام، راحت.

٤. گوانښل: منع کول.

۵. پټه خزانه، ص ٦٧.

ترنم خاص مزيت څرګندوي. داسي اشعار د ږغ د پوره کولو او د موسيقيت لپاره کله کله د کلماتو په پای کي ځني صوتي وروستيزونه لری چي هم د شعر سلايبل بشپړ کوي او هم د ترنم لپاره ږغ ته دوام ورکوي چي په پښتو عروضو کي دغه کيفيت ډير ليدل کيږي. د دې بدلي په لومړی بند کي د بيت آخر ته د معني د تکميل لپاره فقط (کي) کافي وه؛ خو د ترنم لپاره (نا) ور سره نښتی دی. دا وروستيز د ګرامر له رويه بالکل زايد دی؛ خو د عروض او موسيقيت له پلوه ضروري ګڼل کيږي.

۲۶. على سرور لودی

د ۹٦۰هـ حدود

على سرور په قوم شاهوخيل لودی و، چي د هندوستان له هغو لودی ادباوه او عرفاوه څخه ګڼل کيږي، چي دمخه موږ ذکر کړل.

د ده احوال او خوارق مخزن افغاني بيانوي او د پټې خزانې مؤلف يې هم د تحفهٔ صالح کتاب په حواله احوال راوړي او داسي ښکاري، چي دی متقي او پارسا او متصوف سړی و او د خپل عصر رهبر بلل کيده او په ملتان کي به يې ژوند کاوه.

على سرور د ارشاد او تدريس حلقه درلوده او ډير خلک يې مريدان وه د ده عمر په وعظ او ارشاد کي تير شوي دی او د لسمي پيړۍ په پاي کي ژوندی و.

نعمت الله مؤرخ وايي، چي: على سرور د ملتان د کهرور (کرور) په قصبه کي اوسيده، مستجاب الدعواب و او ديرش کاله آوږد، ونه غځيد او نه شو بيده، يوه ورځ يوه نايي سر ور خرايه وې ويل، چي: شيخ نجم الدين کبري به په يوه کتنه خلک د کشف خاوندان کول، علي سرور ورته وهيل، چي: دا خو آسانه کار دی؛ نو چي نايي له خپله کاره فارغ شو، بل حال پر راغي او د کشف و درجې ته ورسيده او په عبادت او رياضت مشغول شو.[۱] له دې قصې څخه د علي سرور د حيات ډول او د خلکو نظر چي ده ته يې درلود، ښه ښکاري او د تحفهٔ صالح له روايته څرګنديږي، چي دی د خلکو مرجع و او عرفاني او علمي مشکلات به يې د ده په فکر حل کول.

د ده اقوال او اشعار:

پټې خزانې د تحفهٔ صالح[۲] په حواله د علي سرور لودی يو تقرير هسي را نقل کړی دی. يوه ورځ سوال ځني وشو چي:

پس ترا هر لحظه مرگي رجعتي است　　　مصطفى فرمود دنيا ساعتي است

څه مقصد لري؟ زموږ مرګ و رجعت کله دايم او مستمر دی؟ او که دا مرګ و رجعت دايم او مستمر وي؛ نو به حيات بعد الممات متعدد شي او د تناسخيانو عقيده به شي.

هغه عارف رباني هسي جواب ورکا، چي: ذات ماسوا دی له بدنه، ذات دايماً ثابت او بدن متحلل دی، هسي چي وايي: "انت انت لا ببدنک فان بدنک في التحلل و ليس عندک منه خبر، فانت وراء هذه الاشياء" دغه مرګ و رجعت بدني دی، نه ذاتي او هر کله چي تحليل وموند سابقه ذراتو؛ نو يې پر ځای دريږي لاحقه ذرات او همدغه تجدد دی، چي

۱. مخزن افغاني قلمي، ۳٦۸.

۲. د دې کتاب د پيژندلو لپاره وګورئ ۹ څپرکي ۱٦ عنوان.

د دنیا عدم تحقق ثابتوي او هغه چی مصطفي علیه السلام وهیل: ''الدنیا ساعة'' رشتیا کوي.[1]

په دې تقریر کي د علي سرور پاخه د تصوف افکار ښکاري او د تصوف او فلسفې یوه پخوانۍ عقیده وه چي د اجسامو اتومي ذرات مسلسلاً فاني کیږي او په ځای یې نوي نوي دریږي؛ ځکه چي د فاني او نورو ذراتو دغه تسلسل تل جاري دی او نوي اجزاء د پخوانو ذراتو ځای ډکوي؛ نو څوک د جسم په فنا نه پوهیږي. صوفیان وایي چي مادي دنیا د الهي اسماوه مظهر ده او موجودات د خدای تعالی د کمالاتو د تجلي مظاهر دي؛ ځکه چي په تجلي کي تکرار نشته او پر یوه شي مکرراً یو راز تجلي نه کیږي (کل یوم هو في شأن) نو جلالی اسماء تل له موجوداتو څخه ''وجود'' قلع کوي او جمالي اسماء یې تر خپلو تاثیراتو لاندي راولي او بیرته ''وجود'' ورکوي او دغه مسئله ''تجدد امثال'' بلله کیږي.

شیخ ابو طالب مکي وایي: ''لا تجلی فی صورت واحدة لشخص و احد مرتان و لا في صورة واحد للاثنین.''[2]

صوفیان له دې پله پسې فنا څخه دا نتیجه اخلي، چي دغه فنا په حقیقت کي د اثابت او وجود بنسټ ده؛ ځکه هر کله چي لومړی صورت فنا کیږي؛ نو دوهم صورت یې په مترقي ډول پر ځای دریږي او که دغه فنا نه واي؛ نو به وجود هم نه و تکمیل شوي؛ نو گویا عدم او فنا د ارتقاء او تکامل وسیله ده. له علي سروره چي د کوم پارسي بیت پوښتنه شوې وه، هغه د مولانای بلخي رومي له مثنوي څخه دی، چي مولانا هم دې عرفاني خبري ته هسي شرح ور کوي:

تو ازان روزیکه در هست آمدی	آتشی یا خاکی یا آبی بُدی
گر بران حالت ترا بودی بقا	کی رسیدی مر ترا این ارتقا
از مبدل هستی اول نماند	هستی دیگر بجای او نشاند
همچنین تا صد هزاران هست ها	بعد یکدیگر دوم به زابتداء
این بقاها از فناها یافتی	از فنا پس رو چرا در تافتی؟
در فناها این بقاها دیده ئی	بر بقای جسم چون چسپیده ئی
تازه میگیری کهن را می سپار	زانکه امسالت فزون آمد ز پار
پس ترا هر لحظه مرگ و رجعتی است	مصطفی فرمود دنیا ساعتی است
هر نفس نو می شود نیا و ما	بی خبر از نو شدن اندر بقا

مثنوي

د مثنوي شارح لیکي، چي په دې بیتو کي د تجدد امثال بیان دي، چي د کایناتو صورت هر گړي اوړي، یو صورت معدوم کیږي او بل صورت په (وحدت عین) موجود کیږي، مگر چي زایل صورت د حارث صورت سره شبیه وي؛ نو یې د اوښتلو حس نه کیږي او داسي گومان کیږي، چي هغه مستمر صورت دی.[3]

د علی سرور په تقریر کي هم تاسي د دې عرفاني، خبري شرح وینئ او د ده عرفاني مقام او علمي منزلت ځني ښکاري، ده د خبري د څرگندولو لپاره د حضرت شیخ الاشراق شهاب الدین سهروردي مقتول ۵۸۷هـ له اقوالو څخه ځیني عربي جملات را نقل کړی دی، چي هغه هم دغه مسئله بیانوي.[4]

---

۱. پټه خزانه ص ۱۰۷.

۲. قوت القلوب.

۳. بحر العلوم د مثنوي شرح.

۴. د تفصیل لپاره وگورئ هیا کل النور دوهم هیکل ص ۱۲ د مصر طبع.

اوس چي د علي سرور د عرفاني تقرير وضاحت د نورو عرفاوه د بيان په ترڅ کي وشود؛ نو به د ده يو غزل را نقل کړو، چي د پټي خزانې مؤلف هم له تحفۀ صالح څخه اقتباس کړې ده او ښه عرفاني رنګ لري.

غزل

محبت پياله مي نوش کړه په مجاز کي — د حق نور وينم په سترګو د اياز کي
درست وطن راته درياب شو بې ديدنه — ديد مي نه شي مګر خداى مي سبب ساز کي
که زه مړ شم هم له ګوره کړم سر پورته — ناګهان چي مي دلبر پورته آواز کي
که مي سر غوڅ د رقيب په تيره تيغ سي — هم به ځم که دلبر غوښت په مهر و ناز کي
زه و يار مداماً ناست يو، يو له بله — پر غماز دى باري کاښي د غم ساز کي
ګران بيلتون به د هغو مينو وينه — چي تل ناست وي په خلوت کي سره نياز کي
اى سروره غمازان شوه بې حسابه — پاک الله دي صورت تش بې مغزه پياز کي[1]

۲۷. ميرمن نيکبخته
د ۹٦۰ هـ حدود

د پښتو له شاعراتو ميرمنو څخه ده، د دې کورنۍ د پيښور په اشنغر کي اوسيده او پلار نيکه يې روحاني خلک وه او د ممن زيو مرشدان ګڼل کيده، د دې پلار شيخ الله داد مموزى د خپل عصر عالم او مرتاض سړى و او لکه شيخ امام الدين چي پخپل کتاب اولياي افغان کي کښلي دي، نيکبخته هم عارفه او زاهده ميرمن وه، ديني علوم يې لوستلي او عمر يې په رياضت او عبادت تيراوه، دې کورنۍ د خپل وخت له يوې بلي عرفاني او ادبي کورنۍ سره چي د پيښور په لتو کي مشهوره وه خوينبي وکره، دا کورنۍ د مرحوم شيخ متي اولاد او احفاد وه، چي نيکبخته په ۹۵۱هـ د شيخ متي يوه لمسي ته په نکاح ورکړه شوه، چي شيخ قدم نوميده او د محمد زاهد متي زي زوى و، نيکبختي په ۹۵٦هـ ميا قاسم افغان وزيراوه، چي د پښتنو له عرفاني او علمي رجالو څخه دى او د دې کتاب په دريم ټوک کي به يې احوال وليکل شي.

د پټي خزانې مؤلف د اولياء افغان په حواله ليکي، چي نيکبختي په ۹٦۹هـ يو کتاب د ارشاد الفقراء په نامه وکيښ، چي د پښتو اخلاقي او تلقيني اشعار پکي وه او د فقير مشربو خلکو لپاره نصايح او وعظونه وه.[2]

لکه چي موږ وينو په پښتو ادب کي تر ۱۰۰۰هـ وروسته يوه ډله ناظمان او ليکوال شته، چي د دوى د منظوماتو مضامين فقط وعظونه او ديني نصايح دى.

ډير کتب په دې ډول نظم شوي دى، چي د دغو ديني منظوماتو ډيره پخوانۍ نمونه موږ د نيکبختي په منظوماتو کي مومو.

دغه ډله نظم کونکي عموماً واعظين او ملايان او ديني مرشدان وه، چي د عباداتو او اخلاقو په خصوص کي به يې لنډي لنډي منظومې جوړولې او د نيکبختي منظومات هم داسي دي، چي د نمونې په ډول يې دلته را نقلوم، دا نمونه د

۱. پټه خزانه ص ۱۰۳.

۲. پټه خزانه ص ۱۸۳.

پټې خزانې مؤلف له ارشاد الفقراء څخه را اخیستې ده:

نصیحت

د خدای حق ته غاړه کښیږده	نوري نوري وینا پریږده
دنیا پاته له هر چا ده	په اخلاص کي ځني لیږده
څو قوت لري په ځان کي	سر د یار په رضا کښیږده
ځان له بده خویه ژغوره	زړه په ذکر د یار بلیږده[1]
کال دنیا به دي دښنه شي	اوس له بیري ځني ریږده
ټوله غواري حسابونه	که دي اوښي، که دي میږده
دنیا ترک وهه که پوه یې	د بقا پر لوري پښې ږده[2]

۲۸. شیخ محمد صالح الکوزی

د ۱۰۰۰هـ حدود

شیخ محمد صالح په قوم الکوزی اود قندهار په جلدک کي اوسیده، چي دغه ځای د قندهار شمال شرق ته تقریباً ۳۰ میله لیري د کابل پر لار واقع دی او تر اوسه هم هلته د الکوزو ټبر اوسي.

شیخ صالح موږ د پټې خزانې په کومک پیژنو او دغه کتاب د ده د اشعارو نمونه هم موږ ته رارسولې ده، داسي وایي، چي شیخ یو عالم او عابد سړی و او په علم او تقوی یې په خلکو کي شهرت درلود، اوقات یې په تدریس او د خلکو په ارشاد تیرول. منزوی او په گوښه کي ناست سړی و، علمي او روحاني استغنا دی له دنیوی جولانه منمع کاوه او همیشه د خپلو شاگردانو او مخلصانو د مجلس څراغ و، د تدریس حلقه یې د شاهانو تر دربار او عزت خوښه وه؛ نو ځکه تل د تدریس او ارشاد په حلقه کي له دني۹ي مزخرفاتو څخه فارغ او مستغنی و.[3]

داسي معلومیږي چي شیخ صالح تر ۱۰۰۰هـ دمخه زیږیدلي و او په دغه وخت کي د ده د علمي شهرت او د تقوی او فضیلت ږغ لوړ و، چي پر قندهار نه بلکي پر ټولي پښتونخوا د دوه لویو امپراطوریو یعني د هندي تیموریانو او صفویانو جگړې پله پسې جاري وې او پښتنو آرام نه درلود، د شیخ صالح په وخت کي د قندهار صوبدار (والي) شاه بیگ خان کابلي و، چي په ۱۰۰۳هـ کال یې د جلال الدین اکبر پاچا په امر قندهار ونیو او تر ۱۰۱٤هـ پوري هم په قندهار کي حکمران و.[4]

پټه خزانه د شاه بیگ او شیخ صالح داستان داسي را نقلوي:

نقل دي، چي شاه بیگ خان د قندهار صوبدار، شیخ محمد صالح وغوښت، چي کابل ته ولاړ شي او هلته خلکو ته

---

۱. بلیږده: وپیچه.

۲. پټه خزانه، ص ۱۸۳.

۳. پټه خزانه، ص ۹۹.

٤. اکبر نامه، تزک جهانگیري، منتخب اللباب.

فیض ورکړي او په تدریس د علومو طالبانو ته هدایت وکا، شیخ محمد صالح ورته وکښل، چي "ما له طمع د عزت نشته او په دنیا پسې تګ نه غواړم، زما داسي مقصد دی، چي دنیا ماته راشي، نه چي زه ولاړ شم دنیا پسې؛ که زما عزت غواړې، ما پرېږده او په دنیا پسې مي مه مسافر کوه..." چي دغه خط ورسید شاه بیګ خان وهیل: "زما هم ستا عزت مقصود و، نه بې عزتي..."[1]

له دې روایته موږ د شیخ صالح د ژوندانه طرز او د ده د تفکر صبغه معلومولای شو، چي عزت نفس، پوهه، تقوا، استغنا ټول ورسره وه او دغه صفات او مزایا ده په دغه غزل کي سره یو ځای کړي دي، چي شاه بیګ صوبدار ته یې لیږلي وه:

د لیلي د میني فیض هر سبا وړم	بیهوده منت به ولي د نور چا وړم؟
چي اشنا د شپې ناڅاپه په لاس کښیوت	روښان زړه په کوګل پټ لمر په سما وړم
پر دنیا که تجارت څوک د دنیا کي[2]	زه د زړه په بازار بار د عشق سودا وړم
د لیلي لیدل دي رب په بهانه کي[3]	خزانې که د دې کل جهان په شا وړم
که پر تخت مي د سلیمان سپور کړې سرېه!	عاقبت خاورو ته ښه عمل پیشوا وړم
بې له عشقه خوشحالي پر ما حرامه	زه صالح که په خوله خوښ په زړه ژړا وړم[4]

د ده اشعار او اقوال

داسي ښکاري، چه شیخ صالح د شاګردانو او مخلصانو یوه لویه حلقه درلوده او د ده اشعار او اقوال او احوال به هغو لیکل، د پټې خزانې مؤلف یوه کتاب ته حواله ورکوی، چي تحفهٔ صالح یې نوم و او دا کتاب د شیخ یوه شاګرد ملا الله یار د ده په نامه کښلی و او په دې کتاب کي د شیخ صالح احوال او اشعار او اقوال را ټول شوی وه او د ده د اشعاروه یوه مجموعه وه، چي محمد هوتک له هغو اشعارو څخه لوړه غزل او هم دا لاندي پښتو غزل را نقل کړی دی:

چي په زړه یې غشي څرخ[5]سي د چشمانو	روغ به نه سي په دارو د طبیبانو
چي نور تن له رنځه خلاص په زړه رنځور وي	دا د زړه دارو جوړ نه کړه حکیمانو
مګر الله چي حبیب دی هم طبیب دی	کار سازي کا د خوارانو رنځورانو
هیڅ اثر را باندي نه کاندي عالمه!	ښه ویل دُر و ګوهر د ناصحانو
نصیحت زړه غواړي، زړه نسته ګوګل کي	زړه مي وړی په منګولو خوبرویانو
که صالح غوندي د زړه په وینو پایئ؟	نور دولت پر دنیا نسته طالبانو[6]

---

۱. پټه خزانه ص ۹۹
۲. کړي.
۳. نه کړي.
٤. پټه خزانه ص ۹۹.
۵. څرخیدل: ننوتل، جګیدل. عبدالقادر خان وایي:

خوب یې باندي نه شي لټ په لټ وبله اوړي	ګل ئي د نهالۍ په نازک بدن څرخیږي

٦. پټه خزانه ص ۱۰۱.

د شیخ صالح له دغو دوه غزلو څخه ښکاري، چې دی د پښتو ژبې یو متوسطه درجه شاعر دی، کلام یې ساده او روان او د قندهار د پښتو محاورې یوه نمونه ده.

لسم څپرکی
نثر لیکونکي او مؤلفات او کتابونه

لکه چې دمخه مو وهیل د پخوانو آریائیانو او اکثرو نورو اقوامو، زاړه ادبي آثار منظوم وه او منثور آثار یې ډیر لږ پاتي دي.

ویدا او اوستا، دواړه منظوم وه، د سنسکریت زاړله کتب هم اکثر منظوم دي؛ نو له دغه جهته د آریائي اقوامو د نظم تاریخ تر نثر دمخه دی، په دې کي هیڅ شک نشته چې د ژبې اساس پر نثر ایښول کیږي؛ مگر څکه چې بشر خپل پخواني ادبي اثار په حافظه کي ساتل او د لیک او تحریر فن لا نه و ایجاد شوی؛ نو د حافظې د ساتلو لپاره نظم تر نثر آسانه و او هر کله به د آریائي اقوامو ریشیانو (شاعرانو) خپل دیني او اجتماعي مطالب نظم کول او حماسي شاعرانو به خپل جنگي او حماسي اشعار په منظوم ډول پیودل، د ویدا قدیم آثار د دغو ریشیانو د قریحی نتایج دي. اوستا هم د زرتشت او د ده د اتباعو گیتونه او سندري دي، د زاړه یونان ایلیاډ او اودیسه هم د هومر حماسي سرودونه دي.

د پښتو ژبې په ادبي تاریخ کي هم موږ ته تر اسلام را وروسته، لومړی منظوم اشعار لاس ته راغلي دي او د قدماوه په دوره کي تر ٦٠٠هـ دمخه کوم منثور اثر درک نه لرو، فقط د هاشم سرواني د سالو وږمه یو کتاب په نامه راته معلوم دی؛ مگر منظوم اشعار لکه چې تاسي ولوستل خورا ډیر دی، چې لکه پخواني آریایي متون سینه په سینه را نقل شوي او وروسته په کتابو کي ضبط شوي او تر موږ پوري را رسیدلي دي؛ څکه چې پښتو ژبه د قدیمو منظوماتو په شهادت موجوده وه؛ نو طبعاً به یې نثر هم درلود مگر ښایي چې د لیک او تحریر د نه والي په سبب (نثر) نه وي ظبط شوي او که څه هم و، هغه به د زمانې څپو ورسره وړي وی.

په دغه علت نو موږ د قدماوه په دوره کي تر ٦٠٠هـ پوري د پښتو د نثر نمونه نه شو موندلای او تر دغه وروسته د متوسطینو په دوره کي چې څلور پیړۍ ده د نثر نمونې لرو او نثر لیکونکی پښتانه پیژنو چې کتب یې تالیف کړی دی.

د مغولو تر تاړاک دمخه، یعني تر ٦٠٠هـ پخوا، د پښتو ژبې ادبي مراکز غور، د هلمند او ارغنداو او ترنک ورشو گاني وې؛ څکه چې دغه مراکز د مغولو خونخوارو لښکرو وران کړل او د مدنیت یوه بولگه یې نه پکی پریښوده، نو ښایي چې د پښتو کتب او آثار هم رو سره تباه شوی وي.

یو ټینگ دلیل شته، چې تر ٦٠٠هـ دمخه هم د پښتو نثر موجود و او د پوخوالی او متانت درجې ته رسیدلی و او هغه حجت دا دی چې د ٦٠٠هـ په حدودو کي چې د نثر کومه نمونه موجوده ده، هغه ډیره پخه او متینه او خوږه ده، د یوې ژبې نثر چې دې درجې ته را رسیږي، طبعاً یې باید دمخه ابتدایي مراحل طی کړي وي، څو د طفولیت له مراتبو څخه د رشد او پوخوالي درجې ته راغلی وي.

نو له دې خبري څخه استدلال کوو، چې باید ډیر دمخه اقلاً دوې درې پیړۍ پر پښتو نثر تیري شوي وې، څو د پنځمي هجري پیړۍ متانت او پوخوالي یې میندلی وی. پس له دې لنډې کتني څخه به په لاندي کرښو کي زه هغه نثر

ليکونکی او مؤلفان او مؤرخان در سره معرفي کړم کوم چي تر اوسه ما ته معلوم دی.

(۱) سليمان ماکو

د تذکرې ليکوال ٦١٢هـ

د پښتو ژبې له پخوانو ليکوالو او نثر ليکونکو څخه چي تر اوسه معلوم شوی دي يو غټ او مقتدر ليکوال سليمان ماکو دی.

دی د بارک خان صابزی ماکو زوی دی، چي د قندهار په ارغسان کي اوسيده د ماکو قوم تر اوسه هم لږ تعداد هورې اوسي او په ابداليو (درانو) کي شامليږي. سليمان له دې قومه يو پوه ليکوال راوتلی دی او د پښتونخوا په غرو کي يې سياحتونه کړي او د خپل عصر مشهور روحاني او ادبي رجال يې ليدلي دی.

دی پخپله وايي، چي په ٦١٢هـ تللي وم او د پښتونخوا په غرو او رغو گرځيدم او د لويانو مراقد مي ليدل او پلټل، داسي ښکاري، چي سليمان تر دغه مفيد او گټور سفر وروسته مؤفق شو چي د پښتنو د نومورو بزرگانو په احوال کي يوه تذکرة الاولياء وليکی او د دوی ويناوی او اشعار په دې کتاب کي خوندي کړی؛ دا کتاب متأسفانه اوس ورک دی؛ خو لومړي اوه مخه يې ما تر ۱۳۱۹ش کال دمخه په قندهار کي وموندل او د هغو مخو عکسونه مي د کابل په سالنامه او په پښتانه شعراء لومړي ټوک کي خپاره کړل.

سليمان ماکو د پښتنو پخواني مؤرخ او نثر نويس دی او د ده د نفيس او گټور کتاب دغه څو مخه د پښتو ژبې او رجالو د تاريخ لپاره داسي مفيدي ثابتي شوې چي د ادب او پښتنو تاريخ يې تر ابده مرهون دی.

سليمان ماکو مؤرخ

د سليمان تذکره د پښتنو مشاهيرو او ادبي رجالو يو مفصل تاريخ دی، چي دی د هر سړی احوال بيانوي، د هغه علمي او روحاني مقام ښيي او بيا يې اشعار او ويناوي را نقلوی.

د تذکرې يو څو پاڼي چي پيدا شوی دی، دا ځني معلوميږي، چي سليمان د پښتنو مشاهيرو احوال په داسي ډول ليکله چي د هغو د ژوندانه وقايع ثبت شي او دا خبره هم څرگنده شي، چي پلاني سړی څنگه ژوند کاوه، چيری اوسيده، پلار نيکه او کورنۍ يې کومه او چيری وه؟ او له هغه سړی څخه د خلکو په خولو، زړو کي کومه وينا او کوم شعر پاتي دي؟ دی په خپل سياحت کي د کاملانو حضور ته رسيدلي او کوم مشاهير چي مړه وه، د هغو مراقد يې موندلي او ليدلي دی او د تاريخي وقايعو په ضبط کي يې ډېر وقت کړي دی، د تذکرې په ديباچه کي پخپله وايي:

"په سن دوهلس او شپږ سوه د هجري تللی وم او د پښتونخوا په راغو او کليو گرځيدم او مراقد د اولياوه او واصلينو مي پلټل او په هر لوری مي کاملان موندل او د دوی په خدمت خاکپاي وم او هر کله په سلام ورته ولاړ، چي له دې سفره په کور کښينستم او تناکي وچاودلې د پښتو، بيا پاځيدلم او له څښتنه مي مرستون شوم، چي احوال د هغو کاملانو وکاږم او دوی چي هغه ويناوی پاته کړي دي او پښتانه يې لولي اوس."[۱] له دې څخه ښکاري، چي سليمان په تذکره کي خپل مشاهدات او د سياحت ليدل شوي او کتل شوي معلومات کښلي دي او لکه پاخه مؤرخان د خپلو ليدلو او کتلو څخه حکايت کوي او يا هغه روايت ليکي، چي د پښتنو څخه يې په ټينگه اوريدلي دي.

---

۱. قلمي تذکرة الاوليا.

د سلیمان تذکره د پښتنو پخوانو شاعرانو په احوال او آثارو کي زموږ یو پخوانی تاریخي او پوخ مأخذ دی، هغه اوه مخه چي له دې تذکرې څخه لاس ته راغلي دی[1] د دغو شاعرانو احوال پکي شته چي موږ په دې کتاب کي هر یو پر خپل موقع لیکلي دي: (۱) بیټ نیکه (۲) ملکیار غرشین (۳) د شیخ اسماعیل پاړکي (٤) قطب بختیار. دا خبره هم باید هیره نه کړو، چي سلیمان د پښتنو رجالو په تاریخ لیکلو کي هغه سبک نه دی تعقیب کړی کوم چي د شیخ عطار په تذکرة الاولیاء کي ټاکلی شوی و، ځکه چي شیخ عطار یوازی د اولیا د زهد او تقوی حکایات سره را ټول کړی دی؛ مگر سلیمان د رجالو د ژوندانه احوال او د دوی اخلاق او کورنۍ او هم ادبي موقعیت ښیي او په دې ډول یو پوه سړی او سترگه ور مؤرخ ښکاري؛ نو د ده تذکره په حقیقت کي د تصوف کتاب نه دی؛ بلکه د شعر او ادب یوه گرانبها مجموعه ده.

د سلیمان په عصر کي د پارسي ژبي تذکرې لیکلي شوي دي، چي مشهوري یې هغه د شیخ عطار تذکرة الاولیاء او بله د شاعرانو تذکرة لباب الالباب ده، چي محمد عوغي د ٦١٨هـ په حدودو کي کښلې ده، د شیخ عطار تذکره خو تاریخي ډول کورټ نه لري، اما تر عطار دمخه کشف المحجوب د صوفیانو مقامات او ملفوظات او اخلاق او اقوال بیانوي؛ خو لږ لږ تاریخي احوال هم لري، د سلیمان تذکره لږ څه دغه د علی هجویری عزنوی کتاب ته ورته ده.

اما لباب الالباب چي د پارسي ژبي د شاعرانو تذکره ده، هم د دوی احوال او دقیقانه تاریخي کوائف نه لري؛ بلکي زیاته برخه یې د دوی د اشعارو په نمونو ډکه ده.

د سلیمان تذکره دا مزیت لري، چي هم د رجالو اخلاق او احوال وایی او هم یې د کلام نمونې لری او هم د دوی روحاني مقامات او د تصوف برخه څرگندوی. له دې جهته موږ د سلیمان تذکره د تذکره اولیاء او تذکره شعراء تر منځ یوه جامعه نسخه گڼو او سلیمان یو بصیر او مدقق مؤرخ او تذکره نگار بولو.

د سلیمان ماکو نثر:

تر سلیمان دمخه د پښتو نثر کومه منثوره نمونه موږ ته نه ده معلومه چي پخوا به د پښتو نثر څنگه و؟ او څه سبک او ډول یې لاره؟ خو د سلیمان د نثر پوخوالی او متانت دا راته څرگندوي، چي د دغه عصر نثرونه به دغسي پاخه وه او لکه د پارسي نثر چي هم په دغو غزنوي او غوري دورو کي متین او پوخ او خوږ و، د پښتو نثر به هم ښه او د فصاحت اصولو ته نژدې و.

د سلیمان ماکو نثر که په تحلیلي سترگه ولیدل شي، تر دغو لاندي درو عواملو لاندي یې نشو و نما راته ښکاره کیږي او په هغه ادبي محیط کي چي دې نثر وجود موندلي و هم دا درې عوامل موجود وه.

۱. د پښتو ژبي خپل اثر چي سلیمان پښتون و او د پښتو ژبي ویونکي و؛ نو طبیعي ده، چي دغه عامل به د ده د نثر پر ادبي بنیه او جوړښت پوره اثر درلود او ښایي چي تر ده دمخه چي کوم نثاران موجود وه، د هغو د لیکلو سبک به هم پر ده دروند اثر لاره.

۲. په پارسي ژبه کي چي کوم ادبي حرکت موجود و او د سلیمان ماحول یې نیولی و، ضرور به یې د ده پر نثر هم اثر کړی وي.

---

۱. دا اوهه مخه ما لومړی پلا په ۱۳۲۰ش د پښتانه شعراء په اول ټوک کي د ٦٤-٦٥ مخ تر منځ کټ مټ نشر کړه او په اصلي خط یې له اصلو پاڼو څخه عکس چاپ شو.

۳. په دغه عصر کي پارسي نثر رشد موندلی و، هم په غزني، هم په خراسان او هم په هند کي خپل عروج ته رسيدلي و. تاريخ بيهقي او زين الخبار او د محمد عوفي لباب الالباب او جوامع الحکايات او تاريخ سيستان او بيا طبقات ناصري او نور کتب د دغه عصر مهم منثور آثار دي؛ ځکه چي پښتو هم د دغه ادبي چاپير په منځ کي ژوند کاوه؛ نو يې اغيزي هم طبيعي دي.

په دغه عصر کي عربي ادب او عربي ژبي هم پوره او بشپړ اثر کړی و. پخپله پارسي نثر هم په ابتداء کي تر دغه اثر لاندي نشونما وکړه. د ۵۰۰هـ په حدودو کي چي کوم پارسي منثور کتب وليکل شوه، د عربي ژبي اغيزې پکي ښکاره دي؛ ځکه چي پښتانه هم د عربي ثقافت سره په دغه زمانه کي پوره ارتباط لری پر پښتو هم د عربي اثر شوی دئ.

د سليمان ماکو په حياتي محيط کي دغه درې سايقه موجود وه، چي هر يو پر ادبي تحول او د ليک او نثر پر ډول باندي طبعاً اثر کوي او زه هم تر دغو درو عواملو لاندي د سليمان نثر تحليل کوم.

۱. د ده پښتو

د سليمان نثر د پښتو ژبي له خوا، دوه اړخه لري، چي دواړه هم په ادبي تدقيق او پلټنه کي خورا مهم دي، يو اړخ يې دا د طرز او جمله بندئ او د عباراتو تلفيق او سره نښلول دی، چي دی څنګه خپل مطالب ادا کوي؟ څنګه جملې ليکي؟ او د کلام عمومي سياق او سباق يې څنګه دی؟

دوهم د ده د نثر کلمات او الفاظ او لغات څنګه دی؟ آيا د ده په پښتو کي هم لکه پخواني شعراء ځيني متروک او مړه کلمات شته که يه؟ نو پخپله د پښتو ژبي له پلوه که د ده نثر وسپړل شي، روان دی، اغلاق او تعقيد نه لري، اوږدې او پيچلي جملې نه استعمالوي او د طبيعي مکالمې رنګ لری.

سليمان د عباراتو په تلفيق او سره نښلولو کي استاد دی او عبارت يې لنډ لنډ او واضح دی، جملې سره پريکوي او هري مبتدا ته بيل خبر ورکوی، د متعددو معطوفو مبتداوه دپاره په يوه خبر اکتفا نه کوی او هم له دې جهته يې نثر وضاحت او سلاست لری او جزيل کلام باله کيږي.

د پښتو ژبي اصلي او طبيعي رنګ هم دغه دی، چي خبري يې پرې پرې او هر کلام ځانله مشتقل وي او ډير معطوفات و نه لري او يوه پر بله بار شوي جملې نه وي، چي په پخوانئ پارسي کي هم د نثر ليکلو مقبول سبک دغه و؛ مګر وروسته چي د مغولو د دورې ناوړه نثر رواج شو، دغه وضاحت او جزالت او خوږوالي يې بايلو.

لاندي د دواړو ژبو څخه مثالونه وګوري. د ابو الفضل بيهقي سره پريکړي او واضحي جملې:

"پس روسل بر پای خاست و منشور و نامه را بر تخت نهاد و امير بوسه داد، و بو سهل زوزنی را اشارت کرد تا بيستد و خواندن گرفت".[۱]

د عطا ملک جويني اوږده او سره نغښتلي معطوف عبارات چي څو قرنه تر بيهقي وروسته د مغولو د دورې په سبک ليکل شوي دي:

"بسبب تغير روزگار، و تاثير فلک دوار، و گردش گردون و اختلاف عالم بوقلمون، مدارس درس مندرس، و معالم علم منطمس گشته، و طبقهٔ طلبهٔ آن در دست لگد کوب حوادث، پايمال زمانهٔ غدار و روزگار مکار شدند، و بصنوف

۱. تاريخ بيهقي ص ٤٨.

صروف فتن و محن گرفتار، و در مغرض تفرقه و بوار معرض سیوف آبدار شدند و در حجاب تراب متواری ماندند“.[1]

په پخوانۍ پارسي کې د بیهقي او د ده معاصرینو لیک له طبیعي محاورې څخه لیري نه دی، اما د مغولو تر دورې وروسته اکثر لیکونه د محاورې له ډوله دوني لیرى دی، چې فرق یې په لومړي نظر سړی ته نه ښکاري.

د سلیمان ماکو پښتو نثر هم د پارسي د پخې انشاء رنګ لري، کوم نثر چې په غزنوي دوره کې له ٤٠٠ تر ٥٠٠هـ پورې مروج وه، لاندې جملات د نمونې په ډول د سلیمان ماکو له تذکرې څخه راوړلې کیږي:

”نقل کاوه شي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې پر کفر یرغل و، شیخ ملکیار چې غرشین ستانه و، هم ملګري و د شهاب الدین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن ټاټوبې وروښانده او هورې مړ شو.“[2]

خلاصه

د سلیمان نثر د عمومي محاورې څخه لیري نه دی، جملې یې پرې پرې دي، وضاحت لري، مقاصد لنډ لنډ ادا کوي، د یوې جملې خبر په بله پورې معلق نه پرېږدي او ځیني هسې زاړه تعابیر او ادبي مصطلحات هم لري چې اوس نشته.

مثلاً: ”تېاکي وچاودلې د پښتو“ چې مقصد یې پخپل مسکن کې آرام کول او هوسایې ده.

”ډیر زښت یې وهڅل“ چې په اوسنۍ اصطلاح له لومړیو دورو کلمو څخه یوه کافي ده او دواړې نه وایو او دا ”زښت – زخت“ هغه د دري پارسي سخت دي، چې د تاکید لپاره په ساماني او غزنوي پارسي کې ډیر مستعمل و او اوس هم موږ په پښتو کې کله کله وایو، مثلاً ”سخت یې وهاهه“ بل ځای وایي ”پر نړۍ یې د ستن بړغو وه“ یعني پر دنیا یې د روحانیت او ستانه توب آوازه وه، چې اوس نه د ”ستن“ او ”بړغو“ کلمات شته او نه داسې تعبیر څوک کوی او ښایي چې دا د هغه وخت تعابیر وی، چې اوس له ژبې څخه وتلي او مهجور دی.

دغسې نور ډیر کلمات په دې یو څو مخو کې مومو چې اوس یې په ژبه کې استعمال نادر دی او مړه ګڼل کیږي، مثلا ګروهیدل (ګرویدن) مصدر پخوا موجود و او د متقد مینو په دوره کې اصلي عنصر او ماده ګروه د عقیدې معني درلوده، لکه چې تاسې د دې کتاب په لومړۍ برخه کې د شیخ رضي او نصر لودي په اشعارو کې د ګروه کلمه ولوستله، دلته د سلیمان ماکو په نثر کې د دې مادې څخه وګروهید په فعلي ډول راغلي دی، چې معني یې ګروید و عقیده کرد ده. دا کلمه په وروستیو ادباوه کې هم مستعمله وه، مثلاً خوشحال خان خټک وایي:

نه یې زړه په ما نرمیږي نه ګروهیږي   خدایه څه مي سریکار شو له کافره

بمیا (بومیا) پخوا د رهبر او مرشد په معني و، سلیمان ماکو لیکي: ”څو چې بمیا شو د وګړیه“ یعني د عوامو رهنما شو، چې اوس دا کلمه متروکه او مړه ده.

دغسې دی: پاړکي (قطعهٔ شعر)، ستر څښتن (خداي بزرک)، ګڼون (شمار)، کول (خاندان)، دښن (دشمن)، جوبله (جنګ)، او نور کلمات چې اوس نه دي مستعمل او اکثر دغه کلمات تر ۱۰۰۰هـ پورې لا هم په شعري دیوانو کې لیدل کیږي اما له محاورې څخه وتلي دي.

---

١. جهانکشاي جویني ج١، ص٤.

٢. سلیمان ماکو تذکره.

۲. د پارسي اثر

د پارسي ژبي د نثر اثر هم د سليمان په انشاء کي ښکاري او دا د محيط يوه طبيعي اغيزه ده، چي ژبه هيڅکله ځان نشي ځني ژغورلای، ځيني تراکيب او جملې د سليمان په نثر کي شته چي خاص د پارسي تراکيبونه رنگ لري، مثلاً مضاف اليه دمخه کول لکه ''او تنباکي وچاودلې د پښو'' چي دغه ترکيب بايد داسي وي: ''د پښو تنباکي وچاودلې'' او نور دغسي تراکيب چي د پارسي ژبي اثر په کي ښکاره دی.

سليمان که څه هم د پارسي کلمات ډېر نه راوړي او اکثر پښتو سوچه الفاظ ليکي؛ خو بيا هم د ده نثر د پارسي کلماتو له خلطه ندی خالي او دغه محيطي اثر يې قبول کړی دی. وگورئ دی د روزگار کلمه کټ مټ هغسي استعمالوي؛ لکه د پارسي ژبو پاخه پخواني ليکوال.

بيهقي ليکي: ''و بروزگار سلطان ماضي چون ميدان والي مکران گذشته شد...''

سليمان وايي: ''په روزگار د غازی شهاب الدين چي پر کفر يرغل و'' بل ځای ليکی: ''په روزگار د شيخ بيټني کي د ده ورور سړبن نوميد.''

دغه نور خالص پارسي کلمات هم د ده په نثر کي شته؛ لکه درخواست، سپاس، درود، خاکپاي، خدای مهربان او نور...، چي د پارسي ادبي اغيزې د سليمان په نثر کي را ښيي او دا اغيزې په يوه مشترک چاپېر کي د ژبو تر منځ يو طبيعي او حتمي امر دی، مخصوصاً د پښتو او پارسي تر منځ چي له يوې ريښې څخه دوې آريايي ژبي دی.

۳. عربي اثر

د سليمان په نثر کي تر پارسي د عربي ژبي اثر هم ډېر او درونډ ښکاري او د دې علت همدا دی، چي عربي په دغو وختو کي د پښتنو درسي او ديني ژبه وه او که به چا له علمه سره مينه درلوده، هغه طبعاً عربي زده کوله؛ ځکه چي علم يوازي په عربي ژبه کي موجود و او داسي هم ښکاري، چي سليمان يو متدين او تصوف ته مايل او د ديني علومو طالب سړی و؛ ځکه چي دغه ټول په عربي وه؛ نو به سليمان عربي کتب لوستلي وي او د ده د حيات په چاپېر کي به د عربي او ادبي او ديني او تصوفي اثر خورا کلک او هم ډېر و.

د عربي اثر يوازي په پښتو نثر کي نه دی؛ بلکي د ساماني او غزنوي دورې د پارسي نثر په شهکارونو لکه د بلعمي تاريخ او تفسير طبري او د بيهقي تاريخ آل سبکتگين او نورو ټولو کي د عربي نثر هسي واضح او ښکاره اثرونه لري، چي د پارسي په نثر کي په څرگند ډول معلوم دی؛ نو پښتو نثر خو له يوې خوا مستقيماً د عربي تر اثر لاندي و او له بلي خوا يې له پارسي نثره استفاده کوله، چي هغه هم د عربي له اغيزو څخه خالي نه و؛ نو له دغو دوه جهتو څخه د سليان په نثر کي د عربي اثرونه خورا څرکند او ښکاره دی.

يو پښتون معاصر ليکوال د سليمان پر نثر هسي ليکي:

''غټه خبره چي په دې نثر کي نظر ته راځي دا ده، چي: په دې کي د عربي رنگ معلومېږي، جمله بندي او اداء يې د عربي تر تاثير لاندي دی. زه دا نه شم ويلای چي هغه وخت گوندي د پښتو طبيعي آهنگ دغسي و؛ بلکه کيدای شي، چي په خپله سليمان د عربي تعليم يافته اوسي؛ نو ده چي د پښتو نثر ليکلي دی، طبعاً د عربي تر اثر لاندي راغلي دی. د سليمان په عربي تعليم باندي دا خبره هم دلالت کوي، چي د ده په نثر کي عربي الفاظ لکه قطب، قدرة الواصلين، مراقد او داسي نور شته او صحيحه خبره دا ده، چي په دغه وخت کي پرته له عربي څخه بله د تعليم ذريعه وه هم نه!

دا چي موږ وهيل چي د ده په نثر کي د عربي اثر معلومېږي د لاندي جملو څخه ښه څرگندېږي:

۱. وایم حمد او سپاس د لوی خاوند.
۲. نقل کاندي چي شیخ بیټني هوسید په غره د کسي باندي.
۳. سړبنن نه درلود زامن.
٤. خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دوني زامن چي اوس تر وس تیر سو ګڼون د هغو.
٥. ډکه شوه مزکه د پښتنخا د دوی په کول.

په پورته جملو کي د عربي رنګ څرګند دی، څوک چي د عربي سره اشنايي لري، هغوي پخپله پوهیږي زه نه غواړم چي د نحو او جمله بندئ د اصولو په بیان چي یو رقم تحصیل د حاصل دی، خپل مضمون اوږد کړم. هو دومره قدرې به وهایم، چي دغه جملې نن ورځ موږ په پښتو کي څه رنګ ادا کوو، وګورئ:
۱. د لوی خدای حمد او سپاس وایم.
۲. داسي نقل کاندي چي شیخ بیټنی د کسي په غره اوسیده.
۳. سړبن زامن نه درلودل.
٤. مهربان خداي د اسماعیل په برکت سړبن ته دوني زامن ورکړه چي اوس د هغوی ګڼون تر وس تیر سو.
٥. د دوی په کول د پښتونخوا ځمکه ډکه شوه."[1]

اوس که موږ د سلیمان ماکو دغه څو جملې په غور وګورو؛ نو په ټولو جملو کي فعل تر خپلو متعلقو مفاعیلو دمخه راغلي دی، چي دا د عربي اثر ښکاري، مثلاً که لومړئ جمله په عربی وی نو به (احمد الله العظیم) وي چي د پقتو جملې رنګ یې همدغسي دی او د عربي د تقلید اثر پکي ځلیږي او دا د عربي ژبي د جمله بندئ تقلید له ٤۰۰هـ څخه په پارسي کي هم مروج و، چي د بیهقي دا جملې یې ښه څرګندوي:
"امیر گرد بر گرد قلعه بگشت، جنگ جایها بدید، ننمود پیش چشمش و همت بلند و شجاعتس آن قلعه و مردان بس چیزي."

بل ځاي وايي: "امیر نشاط شراب کرد و ننمود بس طربي که دلش سخت مشغول بود."

په پښتو جملو کي چي د سلیمان له نثره را واخستلی شوې، کټ مټ دغه اثر څرګند دی؛ لکه چي هم تاسي ته ښکاره شوه، دغسي هم "نقل کاوه شي یا هسي نقل کاندي" د عربي "نقل و حکي" اثر دی چي لیکوالو به د عنعنې پر وخت راوړ او دا رسم هم په پښتو او هم په پارسي کي پاتي شوی دی.

د سلیمان د نثر ممیزات:

اوس چي د پښتو د لومړی نثر اساسي عناصر یعني د پښتو او پارسي او عربي اغیزي وڅیړل شوې، یو څو نور مهم ادبي ممیزات هم لاندي ذکر کیږي، چي په دې نثر کي لیده شي:

۱. ایجاز: د سلیمان نثر یو څرګند مزیت د جملو ایجاز دي، چي دغه ممیزه یې د پارسي له قدیمه نثره سره شریکه ده، تر غزنویانو دمخه تر ٤۰۰هـ پخوا د پارسي نثر نهایت موجز او جملې یې لنډي لنډي دي، چي دې مطلب ته ما دمخه اشاره وکړه.

۲. توصیف او توضیح: د سلیمان په نثر کي ځیني جملې داسي شته چي فقط د توصیف او ښو څرګندولو لپاره

---

۱. د ښاغلي خادم لیک د کابل کالنۍ ۱۳۱۹ ش ۳٤۲.

راوړلي شوي دي. دا مزيت د پارسي په ساماني سبک کي لږ و؛ خو د غزنوي دورې ليکوالو ښه پسې ډير کړ او د مطلب د روښانولو لپاره يې ځيني پله پسې جملې راوړلي چې مقاصد ښه پسې واضح شي[1] مثلاً:

''په وياله د ارغسان هوسيږم او په دې ځمکو پائيږم'' بل مثال: ''شيخ بيتني هوسيد په غره باندي او هلته ډيره و''. بل مثال: ''د دوی په خدمت خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ'' چې په دغو مثالو کي دوهمي جملې د توصيف او توضيح لپاره راغلي دي.

۳. د افعالو تکرار: د پارسي پخواني ليکوال تر غزنوي دورې دمخه د هري جملې لپاره د فعل ذکر لازم گڼي، که څه هم يو فعل په څو جملو کي مسلسلاً تکرار لا هم شي، د افعالو تکرار لکه وروسته چې يو ادبي عيب وگڼل شو، د ساماني عصر په نثر کي عيب نه و؛ بلکي د الفاظو تکرار او د جملو تکرار هم کيده او دغه تکرار په اوستا او پهلوي ژبو کي هم و چې پارسي ژبي ته راغلي و او دا يو قديم ادبي سنت گڼل کيده[2] مثلاً رودکي د ځوانۍ د غاښو په صفت کي داسي وايي:

سپيد سيم رده[3] بود و در و مرجان ستارۀ سحري بود، و قطره باران بود

چي بود څلور واره پکي تکرار شوی دی. يا مثلاً لکه دا جملې چې د ۳۴۰هـ د حدودو دي:

''من خواستم که کتابي بنا کنم، هر چه شايسته اندر و ياد کنم... و پس قوتهای شان پيدا کنم...''[4] د سليمان په نثر کي هم دغه د افعالو تکرار شته، چي د قديمو نثرو اثر دی او کله دوني ډير افعال ذکر کوي، چي په يوه ليک کي څو مکرر فعلونه راوړي مثلاً:

بختيار په پښتو سندري گړينه، اوښي تويوينه، خداي ته ناري کړي، غلبلې کړي، پاړکي لرينه. وگورئ پينځه فعله په يوه سطر کي سره يو ځاي شوی دی، چي دوه کټ مټ تکرار هم دي.

دلته بايد دا هيره نه شي، چي د ژبي دغه طبيعي او روان سبک ډير ښه دی او د افعالو د حذف او عطف ناروا دود وروسته رواج شوی دی، چي کله کله د کلام رنگ او خوند ورواړوي. موږ بايد په اوسني نثر کي دغه د افعالو د حذف بدعت رواج نه کړو او د قديم طبيعي او خوږ سبک پيروی وکړو.

٤. د روابطو حذفول: لکه دمخه چي مو وهيل قدماوه د فعل تکرار عيب نه باله او يو فعل يې مکرر هم د څو جملو په پاي کي راوړ؛ خو تر ٤٠٠هـ را وروسته په غزنوي دوره کي ليکوالو په متعاطفو جملو کي په قرينه سره د ځينو روابطو حذف رواج کړ او کلام ته يې يو راز نوی بلاغت وباخښه. مثلاً د بيهقي په دې جملو کي (است) رابط فعل محذوف دی: ''خيمه مسلمانی ملک است و ستون پادشاه و طناب و ميخها رعيت'' وروسته (ماند) فعل درې ځايه حذف شوی دی ''پس چون نگاه کرده آيد، اصل ستونست و خيمه بدان نپايست، و هر گه وی سست شد و بيفتاد، نه خيمه و نه طناب و نه ميخ'' هم چي بايد داسي واي: نه خيمه ماند، نه طناب ماند، نه ميخ ماند.[5]

د سليمان نثر لکه د تکرار افعال زوړ خاصيت چي لري، دغسي هم د غزنوي دورې د پارسي رنگ پکي ښکاري او اکثراً فعلي روابط حذفوي او له تکراره يې ځان ژغوري، مثلاً ''وايم حمد و سپاس د لوی خاوند او درود پر محمد

---

۱. سبک شناسي ۲/۶۹.

۲. سبک شناسی ۲/۵۵.

۳. رده: صف او قطار.

٤. الابنيه عن حقايق الادويه، د ابو منصور علی هروی ليک.

۵. سبک شناسی ۲/۷٤.

مصطفي (ص) چي دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو...''، چي يو (وایم) له درووده سره او بل (دی) له رحمته سره محذوف دي.

۵- د ترنم حروف: د سلیمان د نثر یوه بله مهمه ممیزه دا ده، چي د افعالو په پای کي د ترنم یو نون زیاتوي او دا هغه خاصیت دی، چي وروسته د پیر روښان او درویزه په سبک کي خورا ډېر شوی او یو فني رنگ یې موندلي دی، یعني د مسجعو جملو په پاي کي د ترنم يو (نه) زياتيږي، دا ترنم د پښتو د لنډيو په آخرنيو سلايبلو کي عام دی؛ لکه خورينه، کوينه، راوړينه د خوري او کوي او وري حالي افعالو پر ځای، مثالونه: سندري کړينه، يا اوښي تويوينه يا پاړکي لرينه چي دلته د کړي، تويوي، لري، حالي افعال کافي دی او (نه) زايد دی.

سجع او موازنه: پخوانو ليکوالو به کله په جملو کي د سجع او موازنې په ډول کلمات راوړل، چي د پارسي نثر په ساماني او غزنوي دوره کي دا رعايت لږ و؛ مگر وروسته چي فني نثر د عربي په تقليد پيدا شو، دا کار ډېر مبتذل او عام شو، بيهقي هم کله داسي اسجاع لري مثلاً: ''فصلی خوانم از دنیای فریبنده، بیک دست شکر پاشنده، و بدیگر دست زهر کشنده...''[۱]

د سليمان نثر که څه هم مسجع ندی؛ خو لکه بيهقي او نور کله داسي موازن او مسجع کلمات لري او لکه چي وهيل شوه، د افعالو په پاي پوري يو (نه) د ترنم لپاره نښلوي، چي مسجع هم شي. دا جملې هم دغسي رنگ لري: او مراقد د اولياو او واصلينو مي پلټل او په هر لوري مي کاملان موندل (يا) په جوبله کي ملکيار دا پاړکي وهيل: چي غازيان وپاريدل، او په څير د زمريو ور توي شول.

دا د سليمان د نثر مهم مميزات، چي په لنډ ډول راوړل شوه او له دې څيړني څخه نتيجه اخلو، چي د سليمان په نثر کي ځيني داسي اثرونه شته، چي د پارسي د ساماني او غزنوي دورې د ليکوالو سره نژدې کيږي او کوم ادبي جريان چي تر ده دمخه درې څلور قرنه په منځنۍ آسيا کي موجود و، سليمان هم له هغه څخه متاثر ښکاري، اما دا زموږ استنتاج او څيړني چي فقط د ده د کتاب پر يو څو مخو باندي شوي دي، په کامل ډول د هغه عصر د نثر عمومي مميزات نه شي ښوهلای، البته که بل يو منثور اثر له دغه عصره زموږ په لاس کي واي؛ نو به مو د ختم او يقين په ډول څه ويلي واي، له دې جهته هم د دغه بحث او پلټني تکميل هغه وخت ته پريږدو، چي د پښتو نثر نوري زړې نمونې پيدا شي او ښايي چي دا کار زموږ آيندگان پای ته ورسوي او دغه اوسني آراء او منتج معلومات يا نقص کي يا تاييد.

د سليمان په نثر کي ځيني ناوړه ترکيبونه:

تر اوسه موږ د سليمان د نثر ښيگړي در وښودلې او د پارسي او عربي کومي اغيزي چي پکي ښکاري، تحليل شوې، په دې نثر کي ځيني غوټه او سره نغښتلي عبارات او تراکيب هم شته، چي ناوړه او غير مستحسن ښکاري؛ ځکه چي د کتاب بشپړه نسخه نشته او هم دا څو پاڼي چي پيدا شوي دي، په خورا بد خط دي؛ نو سړی نه شي ويلای، چي دغه تعقيدات او ناوړه تراکيب پخپله د مؤلف دی او که د ناسخ او ليکونکی تصرت يا سهوه ده؟ موږ چي د دغو څو پاڼو عمومي سياق او سباق ته گورو؛ ځکه چي د مؤلف نثر سهل او روان او خوږ دی؛ نو دا ويلاي شو، چي دغه يو څو جملې او مغلق تراکيب به د ناسخ سوء تصرف يا سهو وي. دا لاندي تعابير څرگند او خواږه او د بلاغت له اصولو سره سم په نظر نه راځي: ''موسی چي ستر پلار و د قطب، تللی و له بختيارانو څخه او ميشت و پر ايواد چي سيند باله شي، لرغونې

---

۱. سبک شناسی ج۲، ص ۷۳.

برخه ځوی د موسی شیخ احمد ته لوی ستانه ورکړ شوې، د سنزر لاس ونیو وګروهید او پر نړۍ د ستن ږغو وه...“ له لرغوني څخه بیا تر پایه جملې مغلقې او ناڅرګندې دي.
تاسي دمخه د قطب الدین بختیار په احوال کي ولوسته، چي د احمد زوی او د موسی لمسی و او د حضرت معین الدین سجزي مرید و، د دغو تاریخي حقایقو په سیوري کي باید لوړ تعابیر او تراکیب داسي وي:
”شیخ احمد د موسی زوی ته لرغونۍ برخه قطب ورکړ شوی و چي لوی ستانه و او د سنزرې! د سجزي[1] لاس یې ونیو او وګروهید او پر نړۍ یې د ستن (ستانه توب) ږغ و.“ یا به (ږغو) په هغه وخت کي یو پښتو لغت و، د اوازې او صیت په معنا.

د سلیمان د نثر نمونه له تذکرې څخه:
”وایم حمد او سپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفي صلي الله علیه و سلم، چي دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو لوی لوی رحمتونه دي وي د هغه استازي پر آل او یارانو، چي دواړه جهانه په دوی دی روښان.
اما بعد: زه غریب خاوري سلیمان زوی د بارک خان کاکو صابزي چي په ویاله د ارغسان هوسیږم او په دې مزکو پاییږم په سن د وهلس، شپږ سوه د هجري تللي وم او د پښتنخا (پښتونخوا) په راغو او کلیو ګرځیدم او مراقد د اولیاء او واصلینو مي پلټل او په هر لوري مي کاملان موندل او د دوی په خدمت خاکپای وم، او هر کله په سلام ورته ولاړ، چي له دې سفره په کور کي کښینستم او تناکي وچاولې د پښو، بیا پاڅیدلم او له ځښتنه مي مرستون شوم، چي احوال د هغو کاملانو وکاږم او دوی چي هغه ویناوي پاته کړي دي او پښتانه به لولي اوس.“[2]

بله نمونه
ذکر قدوة الوصلین شیخ مشایخ بیټني چي د خدای په پیژندګلوۍ تر ټولو، لوي و او بزرګ، نقل کاندي چي شیخ بیټني هوسید په غره د کسي باندي او هلته دیره و او ده به هر کله ځښتن باله او روزه به و، په شپو به د خدای په عبادت بخت به و.
نقل هسي کاندي یارانو، چي په روزګار د شیخ بیټني کي د ده ورور چي سړبن نومید، پر شیخ هم خورا ګران ؤ، سړبن نه درلود زامن او هر کله به (ئې) ویل، خپل ورور ته بیټني خپل ځوی اسماعیل ورکاوه او لوی سو د سړبن په کاله، خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دوني زامن چي اوس تر وس تیر سو ګڼون د هغو، د اسماعیل مرقد مبارک واقع دی د کسي پر غره چي زه هلته تللي وم.
نقل کاندي: چي بیټني سپین ږیری سو؛ نو ده به هر کله ځښتن باله او رب ته به (ئې) درخواست کاوه، چي زما په کاله او د سړبن او غرغښتي په کول (کهول) کي برکت کښیږده، بادار قبول کړ د ده درخواست او ډکه سوه مزکه د پښتنخا (پښتونخوا) د دوی به کول.[3]

---

۱. دا کلمه په اصل کي سنزري ده، چي صحیح یې سجزي دی یعني سیستاني.
۲. د تذکرې له مقدمې څخه عیناً د قلمي نسخې په املا لیکلي شوی ده.
۳. عیناً د قلمی نسخې په املا، پښتانه شعراء ج۱. د قوسینو تر منځ کلمات په اصل کي نشته.

(۲) د شيخ متي د "خداى مينه"
د ٦٥۰هـ حدود

د شيخ متي احوال مو دمخه ولوست، دې د پښتو لوړ او جمالي شاعر په يوه مجموعه کي کښلي و، چي نوم يې د خداي مينه وه.

دا کتاب د محمد هوتک په قول، شيخ متي په غونډان کي وکښلی او خپل شعرونه او مناجاتونه يې پکي را ټول کړل، هغه وخت چي شيخ وفات شو؛ نو د ده ارادتمندانو هغه کتاب د ده پر مزار کښيښنو، چي د کلات د غونډئ پر سر واقع دی، کوم خلک چي د ده د مرقد زيارت له به ورتله؛ نو له هغه کتابه به يې د شيخ اشعار لوستل، هغه وخت چي مغول راغلل؛ نو يې دا کتاب واخيست او وروسته نه شوه څرګنده، چي څه شو؟[1]

د شيخ متي دا کتاب اوس ورک دئ او فقط يو الهامي شعر له هغه څخه په پټه خزانه کي موږ ته پاته دی، چي د دې کتاب په ۲ برخه ۸ څپرکي کي تاسو ولوست داسي ښکاري، چي د خداى مينه يوه مجموعه وه، چي ډير مؤثر اشعار پکي غونډ شوي وه او محمد هوتک وايي: وګړيو به هغه پاړکي ږغول او هر چا به ويل؛ نو به يې ژړل.[2]

لکه د مغولو تاړاک چي ډير علمي او ادبي ذخاير زموږ له لاسه ايستلي دي، دا کتاب هم د هغه عصر له ضايعاتو څخه دی او که محمد هوتک پخپله خزانه کي نه واى ياد کړى؛ نو اوس به يې نوم هم ورک و.

(۳) محمد بن علي البستی د تاريخ سوري ليکوال
د ٦٥۰هـ حدود

دا پښتون مؤرخ له هغو نوموړکو مؤلفانو څخه دی، چي د مغولو د تاړاک په ابتداء کي به ژوندی و، د ده له احواله نور هيڅ معلومات نه لرو، پرته له دې چي دی د هلمند د غاړو يو سړی و او د تاريخي بست اوسيدونکي و، د پلار نوم يې علی و او ده يو کتاب ليکلي و، چي د سوريانو پاچاهانو احوال يې له قديمه پکي ضبط کړي و، تاريخ سوري اوس ورک دی، فقط د پټي خزانې مؤلف يې د شيخ کټه متي زي د لرغوني شعراء په حوالت نوم اخلي او داسي ښکاري، جي دا کتاب د شيخ کټه په لاس کي و او په لرغوني پښتانه کي ډير مواد له دغه کتابه را نقل کړي وه.[3] د تاريخ سوري يو څه ابحاث او محتويات موږ ته په دوه واسطو الس ته راغلي دي، شيخ کټه په لرغوني پښتانه کي ځني را نقل کړي دي او له لرغوني پښتانه څخه د پټي خزانې مؤلف محمد هوتک پخپل کتاب کي را اخيستي دی او هغه مواد او پاتي آثار دا دي:

۱. د امير کروړ احوال او د ده يو قديم حماسي شعر او وياړنه.[4]

۱. پټه خزانه، ص ۲۳-۲۹.
۲. پټه خزانه، ص ۲۹.
۳. په دې څپرکی کي د شيخ کټه احوال وګورئ.
٤. په دې کتاب کي د لومړۍ برخي ۲ څپرکی وګورئ.

۲. د اسعد سوري احوال او د ده قصیده.[1]
۳- د ښکارندوي احوال او د ده قصیده.[2]

له دغو پاتي آثارو څخه ښکاري، چي محمد بن علی په تاریخ او د پښتو په ادب کي ښه او ثقه معلومات درلوده او لکه لرغوني پښتانه چي له ده څخه روایت کوي، دی ادیب او پلټونکی سړی و او په بست کي یې د ښکارندوي د قصایدو یو غټ دیوان موندلی او له هغه څخه یې د ده یوه غرا قصیده پخپل تاریخ سوری کي را نقل کړې ده، چي دمخه تاسي د ښکارندوي په احوال کي ولوستله.

داسي ښکاري، چي د محمد بن علی تاریخ سوری مشهور و او شیخ کټه هم دا کتاب د غور په بالستان (والستان) کي موندلي و[3] او تر دغه عصره د ۷۵۰هـ حدود لا دا کتاب موجود و؛ ځکه چي همدغه کتاب د شیخ کټه له ماخذو څخه دی؛ نو دا ویلای شو، چي بستي به تر ۷۰۰هـ دمخه ژوند کاوه او باید د ده د ژوندانه وخت د اټکل په ډول له ۵۸۰ تر ٦٥۰هـ پوري وټاکو، ځکه چي د ښکارندوي عصر هم د ۵۸۰هـ حدود دی او د دې شاعر احوال او اشعار ده په تاریخ سوری کي ضبط کړي وه.

د تاریخ سوري په خصوص کي د پټې خزانې له لیکنو څخه دغوني ښکاري، چي یو په پښتو لیکل شوی تاریخ و او د سوریانو د کورنۍ احوال یې له قدیمه بیاناوه، اما یوازي د حربي او سیاسي پیښنو تاریخ نه و؛ بلکي ادبي رنګ یې هم درلود او بستي ډیر با خبره او سترګور مؤرخ و؛ ځکه چي ده د پاچاهانو احوال او حربي او سیاسي وقایع را نقل کړي او هم یې د دوی د کلام نمونې را وړي وې او هغه قصیدې یې پخپل کتاب کي ساتلي وې، چي د غوري پاچاهانو په دربارو کي په پښتو ویلي کیدې، له دې څخه ښکاري، چي تاریخ سوري د سوریانو او غوریانو د عصر یو ادبي او سیاسي او حربي تاریخ و، که څه هم د دغه تاریخ نسخه اوس نشته؛ مګر د پټې خزانې له یادونو څخه یې اهمیت ښه ښکاري او دا د پښتو ژبي یو خورا قیمتي کتاب و.

دا خبره هم باید هیر نه کړو، چي راورټي مستشرق د احمد شاه بابا تر عصر وروسته یو تاریخ میندلی و، چي نوم یې تذکرة الملوک و، د دې کتاب په مأخذو کي یو کتاب تاریخ سلاطین سوریه هم دی[4] مګر دا نه شو ویلای، چي دغه تاریخ سوریه هغه د محمد بن علی تاریخ دی که بل؟

٤. احمد لودی د "اخبار اللودی" لیکوال
٦٨٦هـ

احمد د سعید زوی او د لودیانو له لیکوالو او ادیبانو او مؤرخانو څخه دی، چي د اوهمي هجري پیړۍ په منځ کي ژوندی و، محمد هوتک لیکي، چي: کامران خان سدوزي په ۱۰۳۸هـ یو کتاب د کلید کامراني په نامه وکیښ او په دغه کتاب کي یې د احمد لودي له کتابه د ملتان د لودی پاچاهانو احوال نقل کړ.[5]

---

۱. وګورئ اوله برخه نهم څپرکی.
۲. وګورئ اوله برخه پنځم څپرکي.
۳. پټه خزانه، ص ۹.
٤. د راورټي د پښتو ګرامر ص ۳۹.
۵. د دې کتاب اوله برخه ۳ څپرکي وګورئ.

شیخ احمد د سعید لودی زوی په ۶۸۶هـ یو کتاب کښلی ؤ، چې نوم یې اعلام اللوذعي في اخبار اللودی ؤ، هغه وخت چې کامران خان کلید کامراني لیکه دغه کتاب یې هم پلاس کښې و او د پښتنو لودی پاچهانو احوال او اشعار یې له دې کتابه نقل کړل، چې د پټې خزانې مؤلف هم له کلید کامراني څخه پخپله خزانه کې وساتل او موږ دمخه په دې کتاب کې د لودیانو په احوال کې مفصلاً وکښل.

داسې ښکاري، چې احمد لودي په خپل کتاب کې د دغو لودیانو د پاچاهي کورنۍ احوال لیکلي و او د دوی پښتو اشعار یې هم راوړي و، په شرقي مؤرخانو کې محمد قاسم فرشته هم د شیخ حمید کورنۍ لودیان پښتانه بولي او د دوی جګړې له سلطان محمود سره لیکي.[1]

ځکه چې محمد قاسم پخپل کتاب کې خپل مأخذ نه دي ښودلي؛ نو دا نه وه معلومه چې د دې کورنۍ پښتونوالي په کوم تاریخي سند ثابت دی؟ لکه چې ځینو د دې عصر مؤرخانو د شیخ حمید د پښتون ګلوۍ څخه انکار کړی او وایي چې دغه کورنۍ د جلم بن شیبان عربي نژاد حکمدار له نسله ده، چې تر ۳۴۰هـ وروسته د ملتان لومړی قرمطي پاچا و[2] مګر د پټې خزانې مؤلف د کلید کامراني په ذریعه د دې کورنۍ پښتو اشعار له اخبار اللودی څخه راوړي دی، چې دا کتاب د دغې کورنۍ په تاریخ کې یو ټېنګ او زوړ سند ګاڼه شي. بې له دې انتخابه چې په لوړ دول له اخبار لودي څخه موږ ته را رسیدلی دی، د دې کتاب پته نشته او نه یې نسخه تر اوسه پیدا شوې ده؛ خو د پټې خزانې له ذکره څخه دوني نتیجه اخیستلای شو، چې تر ۶۰۰هـ را وروسته چې د پښتو د نثر لیکلو کومه سلسله شروع شوې وه، هغه د دغه قرن تر آخره پوري هم جاري وه او احمد لودی هم د پښتو له دغو پخوانو لیکوالو څخه دی، چې کتاب یې د کامران خان سدوزي تر عصره په یوهلسه هجري پیړۍ کې لا هم موجود و.

(۵) شیخ کټه

د ۷۵۰هـ حدود د لرغونی پښتانه لیکوال

دا مدقق مؤرخ او د پښتو ژبې لوی لیکوال د مرحوم شیخ متي له علمي او ادبي کورنۍ څخه دی، چې د شیخ یوسف زوی او د شیخ متي لمسی و. شیخ متي (کلات بابا) خپلې کورنۍ ته علم، تقوی، عرفان او ادب په ارث پرېښوهل او ډېر علماء او مؤرخان او عارفان پکې پیدا شول، چې د شیخ یوسف تر مړیني وروسته له ده څخه اوهه زامن پاتي شول او شیخ کټه په دی کې ډېر مشهور و، د شیخ مور بي بي (مراد بخته) نومیده، چې په ختّه زمنده وه.[3]

دې نوموړي عالم د پښتو د رجالو او مشاهیرو په تاریخ کې یو نفیس کتاب وکیښ چې نوم یې لرغوني پښتانه و، دا کتاب پښتو و او د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک ډېر ځله دا کتاب یادوي او داسې ښکاري، چې د دغه مؤرخ یګانه مهم مأخذ هم دغه و او د پټې خزانې د لیکلو پر وخت یې په لاس کې و.

د شیخ کټه د ژوندانه وخت یقیناً نه دی معلوم؛ خو د پټې خزانې په روایت د ده نیکه شیخ متي په ۶۸۸هـ وفات شوی دی؛ ځکه چې د مؤرخانو په اتفاق یوه پیړۍ د درو پښتو دپاره مقرره ده؛ نو باید د شیخ کټه د ژوندانه وخت هم د ۷۵۰هـ شا و خوا وګڼل شي. د شیخ کټه اولاد که څه هم د پیښور په شمالي برخو کې پراته وه؛ مګر داسې ښکاري، چې

---

۱. تاریخ فرشته ص ۱۷-۲۷.

۲. مرحوم سلیمان ندوي، تعلقات هند و عرب ص ۳۲۸.

۳. قلمي مخزن افغاني، ص ۳۰۵.

پخپله دی سیاح سړی و؛ ځکه محمد هوتک په ښکاره لیکي، چي شیخ کټه د محمد بن علي البستي کتاب تاریخ سوري په بالشاتن کي لیدلي و.[1] بالشتان یا والشتان خو د غور مشهور ښار و، چي په ۱۳۹هـ امیر پولاد سوري نیولي و او د بیهقي په ضبط گوروالشت[2]، او د منهاج سراج طبقات ناصري په یوه نسخه کي غوروالشت راغلی دی[3] او دا ښار د تکیناباد (د هلمند او قندهار حدود) او د غور د مندیش تر منځ پروت و او د سیستان په تاریخ کي واستان ضبط شوی دی.[4]

نو چي شیخ کټه والستان ته راغلی و او د غور دغه ښار یې لیدلی و، ښکاریږي چي د پښتونخوا غربي او جنوبي خواوي به یې هم کتلي وي او هم له دغه جهته به د ده معلومات د پښتنو د تاریخي رجالو پر احوال ډیر شوي وي.

د شیخ کټه نفیس تاریخي کتاب لرغوني پښتانه چي له نامه څخه یې هم د کتاب اهمیت ښه ښکاري اوس نشته؛ لکه چي و موهیل، دا کتاب د محمد هوتک څخه و او د پټې خزانې غوره ادبي برخه له دې کتابه اقتباس دی او محمد دا هم لیکي، چي د شیخ یو مهم تاریخي مأخذ تاریخ سوري و، چي دمخه یې ذکر وشو.

شیخ کټه د اولاد په خصوص کي خواجه نعمت الله هروي مفصلاً معلومات را کوي چي ده اته زامن درلوده، د زلو مغدورزئ له نسه: سلطان، ثابت، حاجي سلیمان ممي، له دوهمي ماینې څخه چي دغه هم زلو نومیده په ختِه اکازئ یوسفزئ ابراهیم، ملک پاجي[5] هغه مقتسبات چي د پټې خزانې مؤلف له لرغوني پښتانه څخه کړي دي، داسي ښکاره کوي، چي لرغوني پښتانه د ادبي او سیاسي او نورو نومورو پښتنو یو عمومي تذکره وه، د پاچاهانو، پوهانو،شاعرانو او جنگیالیو خلکو احوال او اشعار پکي ذکر شوي وه او دا کتاب چي د پښتو د نثر او نظم یوه غوره ذخیره وه، متأسفانه اوس ورک دی او نسخه یې چا نه ده لیدلې، مگر په ۱۱۴۲هـ لا د محمد هوتک څخه و.

د لرغوني پښتانه څخه د پټې خزانې په ذریعه دغه مغتنم مواد موږ ته پاتي دي:

۱. د امیر کروړ احوال او اشعار، چي شیخ کټه هم له تاریخ سوري څخه اقتباس کړي دي.[6]

۲. د شیخ اسعد احوال او اشعار، چي شیخ کټه هم له تاریخ سوري څخه اقتباس کړی دي.[7]

۳. د ښکارندوي احوال او اشعار، چي شیخ کټه هم له تاریخ سوري څخه اقتباس کړي دی.[8]

٤. د هاشم سرواني بستي احوال او اشعار.[9]

خلاصه: شیخ کټه متي زی غوریاخیل د پښتنو یو عارف او زاهد او مؤرخ او نثر لیکونکي مشهور سړی دی، چي د ادبیاتو په تاریخ کي به تل د ده نوم ژوندی وی. که څه هم د یوه لیکوال او مؤلف په ډول دی موږ له پټې خزانې څخه

---

۱. پټه خزانه ص ۲۹.

۲. تاریخ بیهقي ص ٧٦.

۳. د راورتي حواشي پر طبقات ناصري.

٤. تاریخ سیستان ۲۰۸۱۳۰٦.

٥. قلمي مخزن افغانی ص ۳۰٦.

٦. لومړي برخه ۲ څپرکي وگورئ.

٧. لومړئ برخه ٥ څپرکي وگورئ.

٨. اوله برخه ٥ څپرکي وگورئ.

٩. اوله برخه ۲ څپرکي وگورئ.

وپيژاند؛ مګر د يو مشهور عارف او ملي سړی په ډول دمخه نعمت الله هروي هم دی په خپل مخزن کي معرفي کړي و.

(٦) شيخ ملی

د ۸۳۰هـ حدود د "دفتر" ليکوال

دا سړی د پښتنو يو معروف قايد او ليکوال او مؤرخ او مفتن دی چي نوم يې آدم ملي و[١] او داسي ښکاري، چي ملی د ده فاميلي نوم دی[٢] د ده د پلار او نيکه نومونه داسي دي: آدم معروف په شيخ ملی د يوسف زوی دی يوسف د مندی بن خښي بن کندين خرښبون زوی دی[٣] چي دغه خرښبون هم د پښتنو له ادبي او مشهورو رجالو څخه دی او په لومړۍ برخه کي مآثر ذکر شول.

شيخ ملی د خپل پلار په نامه يوسفزی ياديږي او د يوسفزيو په خورا لوی ټبر کي تر اوسه لا هم شهرت لري. اخوند درويزه او افضل خان خټک او نور مؤرخان او هم د عامو خلکو عنعنه دا وايي، چي د شيخ ملی نيکونه د قندهار په ارغسان کي اوسيده او له هغه ځايه دوی د ننګرهار او پيښور لتو ته راغلي دی.[٤]

يوسفزی پښتانه تر اوسه هم وايي، چي مونږ له غوړي مرغې څخه راغلي يو. مرغه خو هم لوی ځای و، چي اوس يې يوه برخه په ارغسان او بله په کدني اړه لري. ګويا مرغه د کوږک د غره شاوخوا ته تر ږوبه رسيده.

دغه لښنه مؤرخان د مرزا الغ بيګ په عصر کي ګڼي (۸۱۲-۸۵۳هـ)؛ مګر داسي ښکاری، چي له قديمه د پښتنو دغه تګ راتګ شروع شوی و او ښايي چي دغه وروستنۍ لښنه اوبون وي؛ ځکه محمد هوتک کنبلي دی، چي د کند او زمند اولادو لا دمخه په لښنه پيل کړی و.[٥] د يوسفزو په ټبر کي د شيخ ملی کورنۍ درنه او معززه وه او ټول يوسفزي د دوی تر امر لاندي تله، دوه مشهور مشران يې درلوده چي يو پخپله شيخ ملی و او بل شيخ احمد نوميد، دوی له کابله لغمان او حصارک او ننګرهار ځمکو ته ولاړل او ورو ورو يې د سوات او پيښور، ميرې ونيولې او هلته ميشته شول، شيخ ملی هوښيار او جنګيالی او د قلم او توري خاوند مشر و، د ده تقوی او پوهي شهرت درلود څپل اولس ته يې ښه خدمتونه وکړل، دوی يې د ځمکو په کرهڼه بوخت کړل، ځمکي يې په عادلانه ډول وهيشلې او د پښتنو په منځ کي د امنيت او اعتماد او تساند روح پيدا کړ. وايي چي د ده اولاد تر اوسه هم په ميني کي شته.[٦]

ظاهراً د يوسفزو نوم او د سکونت ځاي د کونړ پر غاړو او باجوړ کي ډير قديم دی او داسي ښکاري، چي د سکندر د

---

١. تذکرة الابرار و الاشرار.

٢. ملی يامولی پښتو نوم دی، چي ريښه يې داسي تحليل کوي مولی مرداف دئ له مونی سره، د منل له ريښې څخه چي معنا يې منونکي او پارسا او متدين ده، په سنسکريت کي هم موني دغه معاني لري. سکياموني د مشهور بودا لقب دی. يعني د سکيا د قوم پارسا او عالم؛ نو د منلو له مصدري مادې څخه ملی او بيا مولی جور شو او په پشه يي ژبه کي هم له دې ريښې څخه موليک مصدر د دانستن په معنا شته، نو ملی، مولی، ملا، مولا د عالم او پارسا په معنا وه له دغي پښتو ريښې څخه دی (د کابل کالنۍ ١٣٣٤).

٣. حيات افغاني، تاريخ مرصع.

٤. تاريخ مرصع، تذکرة الابرار، حيات افغاني.

٥. پټه خزانه، ص ٢١.

٦. حيات افغاني، ص ٩٥.

يرغل پر وخت هم دوی د دغه کونړ په سیمه کې د سکندر د یرغل پر وخت هم دوی د دغه کونړ په سیمه کې د سکندر سره ډغرې وهلې دی؛ ځکه چې اریان Arrian یوناني مؤرخ د ۱۷۵م حدود پخپل کتاب Anabasis یعني لشکر کشي Expedition کې وایي:

"اسکندر دلته پخپله د لښکر قیادت په لاس کې واخیست او د اسپه زي Aspasii پر سیمه یې یغل وکړ..."

دی د Euaspla رود پر غاړه چې د اسپزي د مشر ځای و پر مخ ولاړ... او هم په دغو جګړو کې زخمي شو.[1] دغه اسپزي د سترابو هیزي Hippasii دی[2] او ځکه چې تر اوسه هم پخپله یوسفزي ځانونه ایسب زي او اسب زي بولي؛ نو ښکاري چې دغه نوم او تلفظ ډېر قدیم دی؛ ځکه چې دغه دا یوه سپله رود چې آریان ذکر کړي دی، د یوناني جغرافیا والو لکه سترابو او ارسټوټل په قول Khospas خواسپس و او د دې نوم لومړي توري Kho دغه د پښتو (خه) او د یوناني Ev دی او دوهم جز یې اسپه ده. یعني خه آس والا او دغه نوم د کنړ پر رود باندي تطبیق کیږي، چې هیروډټ Karun را وړي دی.[3]

نو ښایي، چې دغو اسپزو تر پینځمي مسیحي پیړۍ دمخه په کندهاریو قبیلو کې قندهار ته هجرت کړی وي[4] او بیا بیرته د الغ بیګ په عصر کې د ننګرهار او پېښور سیمو ته تللي وي، چې د دې لیږدون تفصیل په توزاریخ حافظ رحمت خاني کې راغلی دی[5] او د پېښور تاریخ لیکي چې شیخ ملی د خرښبون بن سړبن یوهلسم لمسی او کاسی و.[6]

شیخ ملي د قاید او مقنن په ډول:

شیخ د لوی شخصیت او لوړې پوهې خاوند و، د ده په ذات کې د قیادت لازمه صفتونه ټول یو ځای شوي وه، د توري او قلم وینا خاوند و، د خلکو ویسا او اعتماد یې پر ځان راوستلای شوای، په زهد او تقوی مشهور و، مؤرخان ډېر قصص او روایات لیکي، چې موږ د شیخ لوړ شخصیت ځنې معلومولای شو او یو څو دا دي:

د شیخ او یوسفزو تر یون دمخه د پېښور په میرو کې دلازاک پراته وه، که څه هم په جنګ او توره یوسفزو ځمکې نیولی شوای؛ خو د شیخ شخصیت دوني لوړ و، چې دلازاک یې په خپله خوښه د یوسفزو کومک او ملګرۍ ته راوستلي وه. اخوند درویزه وایي: شیخ په دلازاکو کې هم په صلاح او دینداري مشهور و او خلکو یې احترام کاوه، یوه ورځ چا یوه حلاله کړې مرغۍ ورته راوړه، ده پوښتنه وکړه، چې دا دې چیري نیولې ده؟

هغه سړي وهیل چې: په هغه پلاني ځای کې شیخ ویل دا زه نه خورم؛ ځکه چې د دغه ځای وګړي په غلا او حرامو خوړلو او لار نیولو مشهور دی، ښایي، چې دې چوغکې د دغو غلو او حرام خورو له لاسه دانه خوړلې وي!!![7]

---

۱. څلورم فصل ص ۲۳-۸۲.

۲. پټهان ص ۵۵.

۳. تاریخ هیروډټ ۱- ۱۸۸ او ٤-٤۹.

٤. د افغانستان نژادونه د پیلو لیک ص ۲۲.

۵. د برتانیا موزیم خطي نسخه نمبر ٤٤۸۸ چې مؤلف یې پیر معظم شاه ولد پیر محمد خان د پېښور د پیر سباک دی او په ۱۱۸۱هـ کې لیکل شوی دی.

٦. تاریخ پشاور د هستنګز او ګوپالداس تالیف ص ٤۵٦ د لاهور طبعه.

۷. تذکرة الابرار.

شيخ د خپل قوم په سمولو او اصلاح کي کوښښ کاوه، په جگړو کي يې قيادت کاوه، په اولسي معاملاتو او شخړو کي د دوی حکم او قاضي و، يوسفزي او هغه نور قبايل، چي له دوی سره له کابل، لغمان او ننگرهاره تللي وه، د پېښور په علاقو او سوات کي خپاره شول او دغه ميرې يې ونيولې، دوي ټول د شيخ تر قيادت لاندي وه؛ نو شيخ د دوی لپاره د مځکو يو ويش وکړ او ځيني د تقسيم قوانين يې وضع کړل، چي په هغو تر اوسه عمل کيږي او په قوم کي معتبر دي، اخوند درويزه هسي نقل کاندي، چي هر کله يوسفزو سوات ونيو؛ نو شيخ ملي چي د دوی مشر و، هسي مصلحت يې وکړ، چي د ټول اولس وارړه، غټ، ښځي او نر وشميري او په دغه ډول سره سوات دوي ته وهيشي؛ نو اکوزي د عيسی زيو سره شپږ زره شول. مندړ هم دوهلس زره وخاته، ننگرهاري او لغماني او کابلي خلک چي د دوی سره يو ځاي راغلی وه، هم ور سره حساب شول او په دغه ډول يې ويش وکړ؛ خو پخپله د سوات خلک په دې ويش کي گډ نه شول.[1]

شيخ د خپل اولس قيادت او مشرتوب په ملي او اولسي ډول کاوه، وايي چي د ځنکدن پر وخت يې د مجلس حاضران پر خپل احوال شاهدان کړل او ويې ويل: د اولس اداره او غم خواري چي ما کړې ده، خاص د خدای دپاره او د خپلوۍ او شفقت په لحاظ ده، نه دا چي د زمانې د رئيسانو غوندي مي له چا څخه پيسې خوړلي وي او د هغو لپاره مي کار کړی وي، هو يو درهم مي ياد دی چي په خپل عمر مي لاس ته راغلي دی؛ مگر هغه هم خدای حاضر دی چي په تمه او توقع سره زما لاس ته نه دی راغلی؛ نو که زه په دې وينا کي رښتيني اوسم، له څښتني اميد لرم چي زما رسم او دستور او ويش به تر اوه پښتو پوري زما له اولس څخه ولاړ نه شي او که دروغجن اوسم خدای تعالی به يې ژر تر ژره ورک کاندي اخوند درويزه وايي: دغه وجه ده، چي ترا اوسه پوري هيڅ سردار او مشر په دغه ويش کي تغيير نه شي کولای.[2]

له دغو ټولو رواياتو څخه د شيخ لوړ شخصيت او اولسي وقعت او اعتبار او هم د ده تقوی ښه ښکاري.

د شيخ ملي دفتر:

شيخ ملي چي علاوه پر نورو صفاتو اديب او ليکوال سړی هم و، د يوسفوز د يون او فتوحاتو احوال د پېښور او سوات په علاقو کي او د دغه اولس تاريخ وقايع يې په يو کتاب کي وکښل چي دا کتاب د شيخ ملي په دفتر مشهور و. دفتر يوازي تاريخي خوا نه درلوده؛ بلکه د ځمکو د ويشلو کوم قوانين چي شيخ وضع کړي وه، هم پکي بيان شوي وه.

دفتر په يوسزو او سوات کي ډېر متداول کتاب و، تر يوهلسمي هجري پيړۍ پوري لا هم دا کتاب هلته موجود و او خلکو عمل پرې کاوه، لکه چي خوشحال خان خټک د دې کتاب شهرت ته داسي اشاره کوي:

په سوات کي دي دوه څيزه که جلي دي که خفي ''مخزن'' د ''درويزه'' دی يا ''دفتر د شيخ ملي''

د ناروې مشهور مستشرق مارگن سترن وايي، چي راورټي (مشهور انگليسي پښتو پوهاند) کښلي دي، چي شيخ ملي خپل دفتر په ۱٤۱۷ع ۸۲۰هـ وکيښ او دا کتاب ما موندلي دي. د پښتو ژبي يو خورا قديم کتاب دی.[3] محمد عبدالسلام خان هم د شيخ ملي د دفتر ذکر کوي او داسي ښکاري، چي ده به هم له راورټي څخه استفاده کړې وي.[4] د شيخ ملي د دفتر نسخه اوس کميابه ده او موږ نه ده ليدلې. د خوشحال خان له اشارې څخه هم ښکاري، چي يوسفزو دا

---

۱. تذکرة الابرار ص ۹۱.
۲. د ښاغلي خادم ليک، کابل په کالنۍ کي ص ۳٤۵ د ۱۳۱۹ کا د تذکرة الابرار په حواله.
۳. د هند د زوړ آثارو مجله ۱۹۳۹ع.
٤. نسب افاغنه، ص، ۱۱۳.

قانوني کتاب له ځانه سره خفي ساته، تقریباً سل کاله دمخه راوړتې د هغه نسخه موندلې او لیدلې وه. یوسفزي تر اوسه هم خپل ارثي جایداد او ځمکې چې د شیخ ملي له ویشه دوی ته رسیدلي دي د شیخ دفتر بولي او په سوات کې لا تر اوسه هم په غرنیو سیمو کې (دوتر) معتبر ګڼل کیږي او لکه چې ما پخپله د مردان له سپین ږیرو څخه اوریدلي دي، د شیخ ملی زرعي قوانین هم داسې مفید او مشهور و، چې شیر شاه سوري هم خپل زرعي اصلاحات د شیخ ملي د دفتر پر اساس ایښي وه.

دفتر د پښتو یو د نثر کتاب و، چې متأسفانه اوس یې کومه نمونه نشته؛ مګر د دفتر ځمکو ویشلو اصول لږ لږ معلوم دي او لکه یو ملي قانون د یوسفزو په منځ کې جاري او معمول و، د دې قانون له امله معلومات لرو، چې شیخ ځمکې د یوسفزو او د دوی ملګرو اقوامو په منځ کې داسې وهیشلې، چې اول قوم او بیا تپه او بیا دفتر و. دفر کښته (برخه) وه او تر برخي لاندې پټي و، د پټي خاوندانو ته یې برخه خواره ویل، یوه برخه هم د خلکو او د کورنۍ د تعداد په اندازه پر څلرمه یا پنځمه یا شپږه ویشله کیده؛ نو د دوی په اصطلاح ارثي جایداد "دفتر" و او د هر سړي ونډه معلومه وه که به د چا اولاد ډیر و او ځمکه به لږ له پلاره ور پاتي شوه او ګوزاره به یې نه پرې کیدله؛ نو د کلي جرګې به له ورشو (چراګاه) څخه هم هغه ته برخه ورکوله. ځمکي ویشنه د جرګې کار و، دوی به په "پړي" د اوبو په محاذات ځمکه ونډه ونډه کره او د عمومي ګټو لپاره به یې له هري ونډې څخه د (سیرۍ) په نامه یو یو ټوګر بیل کړ، دا ځمکې د عمومي منافعو لپاره موقت وې او وروسته به نو د هیسک یعني قرغې په ذریعه ونډې د خلکو لپاره وټاکلي شوې. دا ویش به پس له لسو یا دولسو کلو بیا نوی نوی کیده او د کلو د کورنیو د بالغو خلکو پر سرو به په لوړ ډول ځمکه ویشل کیده.

دغه ویش ته یې "بګړۍ ونډه" وایه او د هر سړي برخه به په هر نوی ویش کې ټاکل کیده "متې" muti یې بلله.

د هستوګنې ځایونه هم داسې ویشل کیده، چه هري محلې ته به یې چم یا کندي وایه او هر چم پر کنډرو ویشل کیده چې هر کنډه کوټه او غولی درلود، د هر چم یو مسجد او یو برج او یوه حجره سره مشترک وه. هری کورنۍ یو کنډر درلود او دا کنډر یې له خپلي برخې ځمکې سره په تصرف کې و، که به چا خپله ځمکه خرڅوله؛ نو به دغه کنډر هم ور سره و.

د پیښور تاریخ چې تقریباً یو قرن دمخه لیکلي شوی دی، د شیخ ملي دفتر او زرعي قوانینو شرح داسې کوي، چې: لومړۍ پلا ټولې ځمکې پر سپږ تپې ویشلي کیدې.[1]

۱. د یوسفزو تپه.

۲. د محمدد زو تپه.

۳. د ګګیانړو تپه.

٤. د داودزو تپه.

۵. د خلیلو تپه.

٦. د مومندو تپه.

دغسې هم هر کلي په کنډر او هر کنډر پر ټل ویشل کیده او پس له لسو کالو به بیا دغه مځکې د هیسک (قرغه) پر اساس داسې ویشلي کیدې، چې یو لرګي ۵ فټه دوه اینچه اوږد به یې پرې کاوه او په دغه به یې ځمکې د سړو پر سرو ویشلې. نرو، ښځو او اولادو ته برخې ورکولې کیدې او علاوه پر دغو شپږو اساسي تپو ځیني فرعي تپې هم وې او هر ځای د برخو اندازه معلومه وه او که به چا اولاد نه درلود؛ مګر د ښځي خاوند به و، هغه ته به د آینده پیدا کیدونکي اولاد

---

۱. د پیښور تاریخ تر ٤٠٢-٤٣٣ وروسته.

برخه بیله ور کوله کیده.

کوم وخت چي به پسله لسو کالو ځمکي تبدیلیدي؛ نو به یو پوخ بدل و، چي بیا تر معینه وخته نه اوښتي؛ مګر بل خام بدل هم و، چي ژر تبدیل کیدلای شوای او د شیخ ملي تر ویش وروسته چي کومي ځمکي آبادي شوي وې، هغه یې ''بانډه'' بلله.[1]

په دې ډول د شیخ ملي زرعي سیستم داسي و، چي پس له لسو کالو به ټوله ځمکه بیا د ټول اولس ملکیت و او نوی ویش به په عادلانه ډول د کورنیو د نور ضروریاتو سره کیده او اجتماعي تعادل به قایم و او په پښتنو کي به لوی لوی ملاکان نه پیدا کیدل او هر سړی به پخپله برخه قانع و.

په ۱۸۶۹م کال چي د پرنګیانو استعمار بریمن شو؛ نو دوی دغه قدیم تنظیم وران کړ او هر چا ته یې د نوي بند و بست مطابق د مالکیت حق ورکړ، چي وروسته نو په دغه سیمي کي لوی لوی زمینداران او د پټي خاوندان او نوابان پیدا شول او عام پښتانه فقط د بزګرانو او دیګانانو په ډول پاتي شول.

که موږ په غور د شیخ ملي دغه اصول او مفید قوانین وګورو؛ نو به را ښکاره شي، چي د پښتنو دغه مصلح او مقنن شپږ پیړۍ دمخه د احتماعي عدالت او سوشل ریفارم اساسونه ایښي وه او شیخ ملي حقیقتاً یو سوشل ریفارمر (احتماعي مصلح) و.

د شیخ ملی مدفن:

د شیخ ملی په نامه ډیر نور پښتانه هم بلل شوي دي او د هغو قبرونه د شیخ ملی په نامه مشهور دي، مثلاً یو قبر د کوم بل شیخ ملی په نامه د تیرا په باړې کي شته؛ مګر تحقیق خو دا دئ، چي د دغه مشهور مصلح او پیشوا قبر اوس هم په کښته سوات کي د ملک احمد آرامګاه ته نژدې شته د الله ډنډ کلی ته نژدې د احمد مزار دی؛ مګر د شیخ ملي مزار په غوربندي کي دی، چي خلک یې پیژني او زیارت ته یې ورځي.[2]

(۷) د زرغون خان دیوان

۸۹۰هـ

د منځنیو په دوره کي دا کتاب د پښتو ژبي یو غوره ادبي اثر دی، چي دمخه مو د اتم څېرکي په ۷ نمبر کي در وښو، دا کتاب ۳۰۰ پاڼي و او په ۹۱۲هـ په کجران کي لیدل شوی و.[3]

(۸) کجو خان رانیزی

د پښتنو د تاریخ لیکوال ۹۰۰هـ

مارګن سټیرن مستشرق لیکي، چي: راورټي د پښتو ډکشنرۍ په مقدمه کي کښلي دي، چي له ده څخه د خان کجو رانیزي یو پښتو تاریخ شته چي په هغه کي د پښتنو تاریخي حوادث او وقامع لیکي دي.

---

۱. د پیښور تاریخ تر ٤۰٦-٤۳۳ وروسته.

۲. د اولف کیرو پټهان، ص ۱۸۳.

۳. په ۸ څپرکي کي د زرغون خان احوال وګورئ.

د دې تاريخي کتاب د ليکني وخت راورټي ۱٤۹٤م ۹۰۰هـ ښوهلي دی[۱] خو داسي ښکاري چي خان کجو د شيخ ملي تر عصر وروسته د ښنتنو مشر و، تر اوسه د دې کتاب په خصوص کي نور څه معلومات نه لرو؛ خو دوني ويلای شو، چي په سوات او اطرافو کي له يوسفزو څخه يو اقوم تر اوسه رانيزي پراته دي. د حيات خان په قول تر اوسه له دغو يوسفزو څخه درې کورنۍ مشهوري وې چی يوه له دغو درو څخه ازي خيل دي، چي ازي د علي زوی او علي بن رانې بن اکو بن يوسف دی. د ازي خيلو دغه مشهوره کورنۍ (کجو کور) بولي چي پخوا د دوی نفوذ او اقتدار خورا ارت و؛ مگر اوس په پاسني سوات کي شپږ زره کوره په دوی اړه لري، چي د ۱۲۸۰هـ په شاوخوا کي د دغي کورنۍ مشر صحبت خان نوميده او بل ځاي حيات خان وايي، چي خان کجو د شير شاه معاصر و[۲] چي دغه خبره هم صحيحه ښکاري؛ نو دغه مشهور کاجو يا کجو خان د پښتنو يو خورا نوميالي مشر و، چي لکه شيخ ملي د علم څښتن هم و او د ده يو تاريخي کتاب راورټي ليدلي او موندلي و، چي اوس متأسفانه ورک دی او ښايي چي د بريتانيا په موزيمو کي پيدا شي؛ ځکه چي د راورټي ټول کړي کتابونه تر ده وروسته نه دي ضايع شوي او اکثر د لندن په موزيمو کي خوندي دي وايي چي خان کجو په خپل عصر کي تر ټولو لوی او مقتدر او غښتلی ملک و او هغه جنگ چي په شيخ ټپور (زاړه نوښار) کي واقع شوی و، خان کجو يې قايد و او په پښتنو کي تر شيخ ملی او شيخ احمد وروسته خان کجو ډير شهرت پيدا کړی و.[۳]

که څه هم د خان کجو کتاب موږ نه دی ليدلی؛ خو دوني ويلاي شو چي دا کتاب به د شيخ ملی د دفتر په ډول يو تاريخي او قانوني کتاب و، چي د خان کجو له خوا د دفتر د تکميل لپاره ليکل شوی او د پښتو ژبي يو تاريخي او قانوني منثور اثر و.

خان کجو د ټولو خښبي، محمد زو، اتمان خيلو، گدون او ترکلاڼو قبايلو مشر و او د شيخ ټپور په جنگ کي يو لک زلمي له دغو قبيلو څخه په ۹۵۷هـ کال حاضر کړي وه او تر دې دمخه په ۹۲۳هـ کال دوی باجوړ او د يوسفزو اوسنۍ سيمه ټوله نيولې وه او دلازاک يې له دغو سيمو څخه ايستلي او د شيخ ملی قوانين يې د ځمکو په ويش کي جاري کړي وه.[٤]

د خان کجو آرامگاه تر اوسه هم د سوابۍ او مردان تر منځ پر يوه لويه غونډۍ چي په سرميره کي پرته ده او کجو غونډۍ يې بولي د شاه منصور څخه شپږ ميله ليري واقع ده او خلک يې اوس گجو خان بابا يا گجوان تلفظ کوي او دا د يوسفزو د سيمي ډير مشهور زيارتگاه گڼل کيږي. وايي چي د گجو خان کورنۍ د بيزاد خيلو له فرعي قبيلې څخه وه او د ده اولاد تر اوسه هم په کلابټ کي شته او د پلار نوم يې قره خان و.[٥]

د گجو خان يا کجو خان په وخت چي کوم جنگونه د پښتنو قبايلو په منځ کي شوي دی، دا ښکاره کوی، چي د شيخ ملي مسالمت آميز تحريک او روغي او سمې ړغ خاموش شوی او د يوسفزو او دلازاکو او غوريا خيلو تر منځ د روغي او ميني پر ځاي جگړې لويدلي وې.

دلته نو موږ د شيخ ملی مؤثر او مصلح شخصيت، د خان کجو له يوازي حربي او خاني شخصيت څخه بيلولاي

---

۱. د هند د زړو اثارو مجله، ٥٦٦ص ج ۱۱.
۲. حيات افغاني ص ۱۷٤-۱۹۰.
۳. حيات افغاني، ص ۱۸۲.
٤. د سر اولف کيرو پټهان تر ۱۸٤ ص وروسته.
٥. يوسفزي افغان د الله بخش يوسفي تاليف ۳۲٦ ص د کراچي طبع ۱۹٦۰.

شواي.

(۹) بابړ خان

د تذکرۀ غرغښت لیکوال د ۹۰۰هـ حدود

د ړوب اوسیدونکي او په قوم کاکړ و، د ده زوی دوست محمد لیکلي دی، چې: "بابړ خان یو کتاب په شعر کښلی و، چې نوم یې تذکرۀ غرغښت و، هغه وخت چې بابړ خان وفات شو؛ نو هغه کتاب ورک شوی و او چا ضایع کړی" وروسته د دغه کتاب مضامین چې هر څه وه، د دوست محمد په یاد وه، هغه یې بیا په بیل کتاب کې سره را ټول او نظم کړل[1] چې لاندې به ذکر شي. پرته له دغول لنډو معلوماتو نور څه د بابړ خان او د ده د کتاب په خصوص کې اوس نه لرو.

(۱۰) د زرغونې بوستان

۹۰۳ هـ

لکه په ۸ څپرکي کې ۲۱ نمبر کې چې وهیل شوه؛ زرغونې نومې پښتنې میرمنې د شیخ سعدی بوستان پښتو کړی دی، شرح او تفصیل یې په هغه څپرکي کې ولولئ.

(۱۱) د رابعې دیوان

۹۳۰هـ حدود

د دې عصر له پښتو کتابو څخه یو د رابعې میرمنې دیوان دی، چې شرح یې د ۸ څپرکي په ۲۲ نمبر کې تیره شوه، هلته رجوع وکړئ.

(۱۲) د دوست محمد غرغښت نامه

۹۲۹هـ

لکه د ۸ څپرکي په ۲۳ نمبر کې چې تیره شوه غرغښت نامه هم د پښتو ژبې د لمسې پیړۍ له اخلاقي ښو کتابو څخه و. د شرحې لپاره نومړي څپرکي ته رجوع وکړئ.

(۱۳) د نیکبختې ارشاد الفقراء

۹٦۹ هـ

دا هم د پښتو ژبې یو اخلاقي او د موعظې منظوم کتاب و، چې د نیکبختې میرمنې له خوا په ۹٦۹هـ نظم شوی و او شرح یې په ۸ څپرکي نمبر ۲۷ کې وګورئ.

---

۱. پټه خزانه ۸۷–۸۸ ص.

(١٤) شيخ قاسم د تذکرۀ اولیاء لیکوال
د ۹۹۰هـ حدود

په دې کتاب کې تاسي ته ښکاره شوه، چې د پښتنو د علم، عرفان او ادب یو روڼ ستوری شیخ متی خلیل غوریا خیل دی، چې د ده کورنۍ متي زی بولي او په متی زو کي ډیر عارفان او ادیبان او مؤلفان تیر شوي دي.

له دې کورنۍ څخه یو معروف مؤرخ او لیکوال شیخ کته دی چې د شیخ له نسله یو بل خورا معروف عارف او لیکوال شیخ قاسم پیدا شوی دی، په دې ډول قاسم د شیخ قدم زوی د محمد زاهد لمسی، د میر داد کړوسی او د شیخ سلطان کوسی و چي دغه سلطان د مرحوم شیخ کته له زامنو څخه و.[1]

د شیخ قاسم مور نیکبخته نومیده، چي د پښتو شاعره او عارفه ښځه وه، دا په ۹۵۱هـ کي شیخ قدم متي زی ته ور واده شوه او په ۹۵٦هـ یې شیخ قاسم وزیږاوه، دا شیخ لکه خپل پلار او نیکه په علم او عرفان او ادب کي یو روپ ستوری شو، چي وروسته یې د اسلافو نوم او د خپلي کورنۍ روایات ښه وساتل.

نعمت الله لیکي، چي شیخ قاسم په پسرلي د بدنۍ رود پر غاړه (د پیښور مشرق ته) په ۹۵٦هـ زوکړي[2] او په هغو لتو کي د خپل نبوغ بیرغ پورته کړي و.

شیخ قاسم د خپلي کورنۍ په علمي او روحاني چاپیر کي ښه وروزه شو، په معرفت او روحانیت مشهور شو او ډیر کلک نفوذ یې وموند. د میرزا محمد حکیم گورگاني بن همایون مامورین ځني وبیریده او ویي غوښتل چي دا پښتون عالم او عارف مړ کړي، شادمان خان هغه وخت د پیښور حکمران و او د شیخ قاسم د وژلو نیت یې وکړ، شیخ مجبور شو له پیښوره قندهار ته ولاړ او له دې ځایه د حرمینو په زیارت شرف شو او په قادریه طریقه کي یې لاس نیوی وکړ. تر دې سفر وروسته بیرته د پیښور دواوي ته راغي او خپل علمي او روحاني اقتدار یې ټینگ کړ او په شیخ قاسم سلیماني مشهور شو.

د مغولو پاچاهانو بیا دا شیخ نه پرېښود، د عیسي نومي په چوغلۍ اکبر پاچا دی لاهور ته وغوښت، خو شیخ قاسم په لاهور کي تر پیښور لا زیات نفوذ وموند؛ نو جهانگیر دی د چنارگړ په کلا کي بندي کړ او هم هورې د دغه پاچا په ظلم کي په ۱۰۱٤هـ تر دنیا تیر شو او مزار یې تر اوسه هم هورې مشهور دئ.[3]

شیخ قاسم علاوه پر خپلو لوړو عرفاني مراتبو د ادب او لیک خاوند هم دی؛ لکه شیخ کته مؤرخ سړی هم و او د پښتنو روحانیونو او عرفاني خلکو او صوفیانو او اولیانو په احوال کي یو تذکرة الاولیاء لیکلې وه.[4]

دا کتاب متألسفانه اوس ورک دی او کومه نسخه یې نه ده لیدلې شوې او فقط دوني راته معلومه ده، چي شیخ قاسم د پښتنو مؤرخ او لیکوال او د خپل عصر معروف او مقتدر او متنفذ عارف او زاهد و.

شیخ قاسم ډیر مشهور او عارفان زامن پرېښوهل چي تر ده وروسته یې د علم او عرفان مشال بل وساته چي له هغه څخه دا ډیر شهرت لري:

شیخ کبیر المشهور په بالا پیر چي خورا مشهور عارف و، د پنجشنبې په ماخستن د شوال په ١٤- ۹۹٤هـ د پیښور

---

١. قلمي مخزن افغاني ص ٣٠٦.

٢. قلمي مخزن افغاني ص ٣٠٧.

٣. مخزن افغاني او تذکرة الابرار.

٤. تذکرة الابرار ١٨٣-١٨٤ ص.

په بدنۍ کي زيږېدلي او د روژې په ۱۲ په ۱۰۵٤هـ! کال وفات شوی او هديره يې د هندوستان په قنوج کي ده.[۱]

نور زامن يې شيخ واصل (متولد ۱۰۰۷هـ) او نور (متوفي ۱۰٦۱هـ) او فريد (متولد ۱۰۰۰ هـ) دي[۲] وايي چي د شيخ قاسم سليماني اولاده تر اوسه هم د جالندهر د متهو صاحب په کلي کي شته او هلته يو افغاني غوندي کلا لري.[۳]

(۱۵) شيخ بوستان بړيڅ

د بستان الاولياء ليکوال ۹۹۸هـ

دا عارف او اديب هم له پښتنو ليکونکو څخه دی چي د دغه احوال او اشعار دمخه د ۸ څپرکي په ۲۵ نمبر کي ذکر شول، ده د اولياوه په احوال کي يو کتاب په ۹۹۸هـ کښلي و، چي بستان الاولياء نوميده او شرح يې دمخه تېره شوه.

(۱٦) د الله يار تحفهٔ صالح

الله يار د شيخ صالح الکوزي معاصر و، د قندهار په حدودو کي اوسيدي، د ژوندانه زمانه يې تر ۱۰۰۰هـ دمخه ده، دی د شيخ صالح مخلص او مريد و، د خپل استاد په نامه يې يو کتاب وکيښ، چي نوم يې تحفهٔ صالح و، په دې کتاب کي ده د خپل استاد شيخ صالح د ژوندانه احوال او د ده اقوال او اشعار سره را ټول کړي وه او د نورو پښتنو شاعرانو او مشاهيرو احوال هم پکی وه. دا کتاب موږ ته نه دي را رسيدلي؛ خو د پټې خزانې د مؤلف مأخد دی او محمد له تحفهٔ صالح څخه د شيخ محمد صالح او علی سرور لودی احوال او اشعار پخپله په پټه خزانه کي را نقل کړي دي.[٤]

الله يار د پښتو ژبي د متوسطينو له ډلي څخه يو ليکوال او مؤرخ او متصرف سړی دئ؛ ځکه چي د ده استاد په قوم الکوزی و او د قندهار په جلدک کي اوسيده؛ نو ليري نه ده، چي د الله يار قوم او مسکن هم دغه وي.

(د دې مبحث د تکمل لپاره د شيخ صالح احوال په ۸ څپرکي کي ۲۸ عنوان او د علی سرور احوال په ۲٤ عنوان کي ولولئ).

---

۱. تذکرة الابرار، مخزن، د ميا نعيم متی زی د ديوان مقدمه.

۲. مخزن ۳۸ ص.

۳. جريده سيف لاهور ۲۸-اگست ۱۹۵۲.

٤. پټه خزانه ۹۹-۱۰۱ص.

يولسم څپرکی
پیر روښان او د ده د نثر مکتب
د پښتو فني نثر

۱. تیري دورې ته کتنه او د نثر تحول:

په ۹ څپرکي کي تاسي د پښتو د نثر او نثر لیکونکو لنډه تاریخچه ولوسته، چي تر ۶۰۰هـ را وروسته د پښتو نثر څنګه و؟ او کومي د نثر نمونې چي له سلیمان ماکو څخه پاتي دي، څه خواص او مزایا او څنګه ادبي ښیګړي یا عیوب لري؟

ځکه چي بی له سلیمان ماکو د بل چا نثر تر اوسه موږ ته نه دی را رسیدلي؛ نو موږ دلته له ۶۰۰هـ تر ۹۰۰هـ پوري د نثر دوره د سلیمان ماکو په مکتب یادوه او دا هغه دوره ده، چي د پښتو نثر پر طبیعي لاره روان و او هم ساده او غیر مصنوع ګڼل کیږي.

د سلیمان ماکو ادبي مکتب د پښتو د نثر په تاریخ کي لومړنی مکشوف حرکت دی؛ ځکه چي تر دغه دمخه بل کوم اثر تر اوسه لاس ته نه دي راغلي؛ نو اوس موږ د دغه د پښتو لومړنی د نثر ادبي مکتب ګڼو او تر دې وروسته د ۹۰۰هـ په حدودو کي د پښتو نثر تحول کوي او یو فني او مصنوع رنګ مومی، چي دغه ته موږ فني نثر وایو او د دې سبک د مؤسس په نامه یې د ''پیر روښان'' مکتب بولو.

۲. فني نثر څنګه دی او ولي پیدا کیږي؟

یو کلام او یوه وینا که نظم وي که نثر، تل دوې برخي لري او له دوه عنصرو څخه جوړیږي، چي یو لفظ او بل یې معنا ده.

د ژبو په طبیعي ویناوه کي تل معنا په ساده او بسیطو الفاظو ادا کیږي او دې ته مرسل او طبیعي نثر وایو. یعني په وینا کي تل د ویونکي یا لیکونکي دا مقصد وي، چي مافي الضمیر او معنا په الفاظو سره تصویر کړي او د دغو الفاظو تزئین او اوډلو ته یې توجه نه وي. دا نو موږ د ژبي اصلي او طبیعي وینا ګڼو او په ټولو ژبو کي هم دغسي وینا دمخه ده. هر څوک په ساده او ناپیچلو الفاظو خپله معنا ادا کوي.

اما که د معنا په ادا کولو کي الفاظو ته هم ډېره توجه وشي، یعني د الفاظو د اوډلو او اسلوب، جمال، د معنا پر کمال غالب وي، یا دا چي د لفظ رونق او ښکلا د معنا له جماله سره ساري وي، دې ته نو فني نثر وایي.

په ژبو کي چي لومړۍ پلا نثر لیکنه رواج مومي؛ ځکه چي د لیکوال هدف دا وي، چي معنا اداء او ښه ښکاره کړی؛ نو دوني د الفاظو اوډلو ته نه ګوري؛ بلکي د معنا مختلف انواع او اقسام په ساده او سپیڅلو الفاظو تصویر کوي؛ مګر هر څوني چي د نثر لیکل ډیریږي ورو ورو او په تدریج د لفظ تناسب ور سره پخیږي او په وصفي او نقلي نوشتو کي لیکونکي دې ته میل کوي، چي الفاظ هم مرتب او سره اوډلي او ښکلي وي او د ''صنعت'' په ګینه ښایسته شوي وي.

دغه کیفیت ورو ورو ډیریږي؛ لکه معنا چي تل د ځان لپاره الفاظ مومي او د ځان تابع کوي يې، دغسي هم چي لفظ ته توجه ډیره شي؛ نو کله کله لفظ هسي غلبه وموميي، چي ''معنا'' هم په ځان پسې بيايي.

په ''فني نثر'' کي تل ليکوال دا سعی کوي، چي خپل الفاظ هسي ډول اوډلي او مرتب او يو له بله سره متناسب وليکي، چي سجع ولري او د ''فني نثر'' اصطلاح هم له عربي ادبه راغلې ده. عربو چي کوم نثر د جاهليت په دوره کي درلود او بيا د اسلام په ابتداء کي د دوی نثر ساده او طبيعي و، دوی له مسجعاتو څخه ځانونه ژغورل او نثر يې ساده او مرسل و. حشو او مترادفات يې نه درلودل، لنډي لنډي خبري به يې کولې او د وينا اسلوب پر دې ادبي اساس بنا و چي ''ډير مقصدونه په لږو خبرو کي ځای که.''[1]

وايي چه عمار ياسر يوه ورځ ډيره لنډه وينا وکړه، چا ورته وهيل له دي وينا اوږده کړې وای ښه به و، عمار وهيل: ''امرنا رسول الله ﷺ باطالة الصلوة و قصر الخطبه''. [2]

له دغو ټولو روايتو څخه ښکاري، چي د اسلام په ابتداء کي د نثر وينا ساده او لنډه او بې له حشوياتو او مترادفاتو وه؛ مگر چي د عربو ليکوال په دوهمه هجري پيړۍ کي د نورو ملتو په کتابو او نوشتو روږد شول او د هند، فارس، يونان کتب يې وکتل؛ نو ورو ورو د عربي په نثر کي له سادگۍ او بساطت څخه د تکلف او لفاظۍ او صنعت خوا ته ولاړه، يعني معاني يې د الفاظو تابع کړل او الفاظو پر معناوه او مقصدو غلبه وموندله. ليکوالو کوښښ کاوه، چي د عربو شاعرانو له اشعارو څخه ځيني سجعي او اوډلي الفاظ پخپلو نثرو کي راولي، يو عربي نقاد د سعيد حميد په خصوص کي وايي: ''که د ده ويناوي خپلو خپلوانو او اصلي مرجع ته ولاړي شي؛ نو به څه نه شي ورپاته.''[3] يعني ده پخپلو ويناوه کي د نورو شاعرانو مسجع کلمات دوني گډ کړي دي، چي خپل همځ نه لري.

په دې ډول د سجع او تکرار او موازنې اثر د عربو پر نثر لويدلي دی او په دريمه هجري پيړۍ کي کله کله مسجع کلمات او مترادف الفاظ د عربو په نثر کي ليدل کيږي او په پوره ډول د هجرت څلورمه پيړۍ د ''فني نثر'' او ''ادبي صنعت'' وخت بلل کيږي. پوهان وايي، چي د عربو په نثر کي صنعت او سجع په څلورمه پيړۍ کي پوره رواج شوه او د دې عصر مشهور ليکوال او د فني نثر يو معروف مؤسس عبدالحميد بن يحيي دی، چي د اموي آخر خليفه مروان حمار معاصر و، د ۱۳۰هـ حدود.[4]

محققانو پلټنه کړې ده، چي د آريايانو قديم کتابونه لکه ويدا او اوستا او بيا د پهلوي کتب اکثر په يو صنعتي رنگ نوشته شوي وه او د عبدالحميد کاتب مشهور ''فني مکتب'' هم په عربي ادب کي تر آريايي اثر لاندي جوړ شوي و، جهشياري وايي، چي هشام عبدالملک خپل ليکوال روح بن زنباع داسي ستايه، چي د ده ليک پارسي اسلوب لري او ابو هلال عسکري په ښکاره وايي: د عبدالحميد کاتب ادبي مکتب د پهلوي ادب اغيزې منلي دي.[5]

ځکه چي دغه فني رنگ په آريايي پخواني نثر کي هم موجود و؛ نو هغه وخت چي پارسي نثر د سامانيانو او غزنويانو په دورو کي د خپل بساطت او سادگۍ دوره طي کړه؛ نو خورا په آسانۍ يې فني ډول قبول کړ، که څه هم د

---

۱. ادب الکاتب د ابن قتيبه ۱٦-۱۷ ص.
۲. البان و الثبيين، ج ۱-۲۰۱ص.
۳. د ابن نديم الفهرست، ۱۷۹ ص.
٤. سبک شناسي، ج۲، ۲۳۸ص.
۵. د آموزش او پرورش مجله، د کتاب الوزراء و الصناعتين په حواله.

پارسي لومړي ليکوال لکه بلعمي او بيهقي او نور په فني نثر بلد نه وه او لکه دمخه چې مي وهيل، د ټولو ژبو په ډول د دوی نثر ساده او طبيعي او له سجعو او تکالفاتو څخه تش و؛ خو بيا هم ژر تر ژره د آريايي ادب او د عربي د "فني نثر" په تقليد، پارسي ليکوالو سجع او موازنې ته ميل وکړ؛ نو په دغو وختو کي خواجه عبدالله انصاري ډير مسجع مناجاتو او ملفوظات په هروي لهجه وهيل او بيا قاضي حميد الدين بلخي د بديع الزمان او حريري د مقاماتو پيروي په مصنوع نثر وکړه. دغسي نصر الله غزنوي وزير کليله و دمنه وليکله او نورو معروفو ليکوالو "فني نثر" ته ډيره ترقي ورکړه اود دې "ادبي مکتب" پيروان په پارسي ادب کي تر ۵۰۰هـ را وروسته خورا ډير دي او ډير تاريخ او علمي او ادبي کتابونه په دغه ډول کښل شوي دي.[۱]

۳. په پښتو کي د فني نثر پيدا کيده:

د غزنويانو له عصره عربي اسلامي علومو په منځنۍ ايشيا کي يو ښکاره نهضت کړی دی، چې خراسان هم د دغه حرکت مرکز و، شاوخوا ته هم په بخارا، پارس او هند کي د عربي علومو مدارس زيات وه؛ مگر مرو، هرات، رخج، غزنه، باميان، طخارستان، بلخ، جوزجان او د خراسان نوري ځمکي د مدرسو، کتابخانو څخه ډکي وې او ډير مشهور علماء په دغو ښارو کي اوسيدل، چې دوی اسلامي ثقافت او عربي علوم لکه تفسير، حديث، فقه، ادبيات او فلسفه په عربي ژبه خپرول، بو ريحان بو علي سينا، فخر رازي، سعد تفتازاني او جامي د دغه محفل ځراغان دي.

`مخصوصاً له ۶۰۰هجري را په ديخوا چې دوه درې قرنه پښتانه د خراسان او پښتونخوا په ښارو او رغو کي خپاره شول، دوی له هغو خلکو سره تماس وموند، چې په پارسي او عربي کي به اديبان او عالمان وه، له هراته تر پيښوره د پښتنو مهاجرتونه او د ښاروالتوب يعني تمدن حرکات شروع شول.

په دغو اوقاتو او دغو ظروفو کي طبعاً د پارسي او عربي ژبي د بيان او ليک طرز دوی وليد او پوهان او ليکوال يې له خپلو گاونډيو پوهانو سره چې په پارسي او عربي ژبو به يې څه ليکل محشور شول.

دې امتزج او گډون د دوی پر ټولو اجتماعي حالاتو اثر وکړ او د گاونډيو خلکو له ثقافت او پوهني سره اشنا شول. د غزني لويه شهنشاهي، د غوريانو ارت سلطنت او د تيموريانو علم او صنعت پالنه دوی پخپله پښتونخوا کي وليدل، د پښتونخوا لمر خاته ته هم د اباسين پر هاخوا د خلجيانو (غلجيانو) پښتنو او لوديانو او سوريانو سلطنتونه وه، چې دوی ټول پښتانه وه او پښتنو له دوی سره تگ راتگ درلود او د هندوستان لويه ځمکه د دوی جولانگاه وه، هلته هم اسلامي او عربي علومو او پارسي ژبي په هند کي نشو و نما وکړه.

دغه ټول طبيعي عوامل وه، چې د پښتنو پر ثقافتي ژوندون يې اثر کاوه او ځکه چې په دغو دوروکي هم په عربي، هم په پارسي ژبو کي "فني نثر" ډير رواج درلود، نو پښتنو هم وغوښتل، چې په خپله ژبه کي د "فني نثر" په ډول کتب او آثار ومومي او هغه خوږ او روان نثر چې د ۶۰۰هـ په حدودو کي موجود و، د عربي او پارسي ژبي د "فني نثر" په ډول کاندي.

اساساً دا حرکت يو طبيعي او د ژبي لپاره ميمون او محمود حرکت نه و؛ ځکه چې د پارسي ژبي پخواني روان او سليس نثر هم په دغه فني حرکت کي کرغيړن شوی و، د بيهقي او منهاج سراج خواږه او روان نثرونه چې لکه قند داسي شيرين وه او د ۴۰۰-۶۰۰هـ د پارسي نثر ښې نمونې دي، يا د سعدي شيرازي د گلستان ښکلي نثر په هم هغه شيراز کي

---

۱. سبک شناسي ج۲.

د تاریخ اوصاف ۷۰۲هـ په کرغیړن او درانه او مکروه نثر تبدل شو او په هند کي تر ۶۰۰هـ را وروسته منهاج سراج په دهلي کي طبقات ناصري غوندي خوږ او روڼ او سلیس نثر وکیښ خو هم په دغه وخت کي حسن نظامي خپل تاج الماثر (۶۰۲هـ) او بیا خواجه محمود گاوان ۸۱۳-۸۸۴هـ د بهمني شاهانو وزیر او منشي ریاض الانشاء په داسي ناوړه او ثقایله انشاء په پارسي ولیکل چي ویل یې گران دي.

پښتو ژبه د هند او ایرن تر منځ محصوره وه او له هري خوا ادبي حرکاتو اثر پر کاوه، تر ۶۱۲هـ پوري چي سلیمان ماکو خپله تذکره لیکله، د پښتو نثر لکه د پارسي ژبي پخواني نثر خوږ، روان او سلیس و؛ مگر وروسته چي "فني نثر" پر پارسي په ایران او هند کي مستولي شو؛ نو د پښتو نثر هم تر دغه اثر لاندي راغي او په پښتونخوا کي پیر روښان، بایزید انصاري د پښتو ژبي د "فني نثر" عَلَم پورته کړ.

لاندي به زه د پارسي ژبي د روان نثر او بیا د فني ثقیل نثر نموني راوړم چي دغه فرق ښاغلو لوستونکو ته ښه څرگند شي، وروسته به نو د پښتو خوا ته هڅه وکړم.

د پښتونخوا لمر لویده ته په ایران کي:

شیراز: د شیخ سعدی روان نثر ۶۵۶هـ بر بالین تربت یحیی پیغامبر علي السلام معتکف بودم در جامع دمشق که یکی از ملوک عرب که به بی انصافی منسوب بود اتفاقاً بزیارت آمد و نماز و دعا کرد و حاجت خواست... آنگاه مرا گفت: از آنجا که همت درویشانست و صدق معالمت ایشان خاطری همراه من کنید که از دشمن صعب اندیشناکم گفتمش: بر رعیت ضعیف رحمت کن تا از دشمن قوی زحمت نبینی![1]

شیراز: دوصاف الحضرة عبدالله شیرازي ثقیل نثر ۷۰۲هـ غازان خواست که تتمیم اساس عدلي را که ممهد فرموده و ارشاد طریقه تقویت اسلام که مدت سلطنت خود را مصروف آن ساخته بود آیندگان را نصیحتی و تذکیری واجب دارد و هدیت و صیتی ازرانی فرمایند...فرمود: ما را محقق است بنور یقین و دیدهٔ حقیقت بین، که ازین مرحلهٔ فاني بمنزل باقی و مصاحبت حور عین نقل خواهم کرد و ازین غار مردم خوار بجوار ملک حبار پیوست، همگي همت و قصوای امنیت آن بوده که چند روزی که مقالید ملک مجازی در دست ما نهاده اند و حوالت تمشیت عالمیان بما فرموده هر چه نه صفت لفیفت و عدل داشته باشد که نظام عالم بی این دود عامه قایم نیست در حوالی خاطر راه ندهیم.[2]

د پښتونخوا لمرخاته ته په هند کي:

دهلي: د منهاج سراج روان نثر ۶۵۸هـ بدانکه چون امیر المؤمنین مامون بمرو آمد و کفایت و شهامت پسران اسد سامان بدید، در باب ایشان عاطفت وافر فرمود و ایشانرا بزرگ گردانید و درجهٔ ایشان بلند کرد، و چون امیر المؤمنین مامون مراجعت فرمود، غسان بن عباد را امیری خراسان داد و بلاد خراسان از ماوراء النهر بامارت او اضافت کرد، غسان بن عباد هر یک را از اولاد اسد امیری ولایت داد، و شهرها بدیشان تسلیم کرد...[3]

جنوبي هند: د محمد گاوان مغلق نثر مولانا جامي ته د ۸۸۰هـ حدود: این مکتوب محبت سطر و ملفوظ اخلاص

---

۱. گلستان، ۱۹ص.

۲. تاریخ وصاف، ص۴۵۷.

۳. طبقات ناصري، ج۱، ۲۴۲ص کوئیتي طبع.

مُصدر از دارالحرب سنگبسر محرر و مقرر گشت، همت قضا اثر خورشید نظر، رفیق این سفر گردانند تا این اراضی که از زمان ماضی الی هذالعهد به کواکب هدایت مناقب اهل اسلام منور نگشته است و ارتفاع قلاع فلک شکوه و احقاع ارباع بیشه و کوهش، مسیر اقدام هم اعاظم سلاطین و ممر مواکت مواکب آیین پادشاهان دین نیامده...با بسر وجوه مسخر گردد...[۱]

دا وې د پښتونخوا په شرق او غرب کې د پارسي ژبې د ''فني نثر'' نمونې او دا ځنې ښکارې چې له ۷۰۰ څخه تر ۹۰۰هـ پورې د پارسي نثر څنګه مغلق او درونږ شوی دی؟ او د ایجاز پر ځای اطناب، د سلاست پر ځای اغلاق، د سادګۍ او وضاحت پر ځای ثقل او تکلف، په نثر کې لیدل کیږي.

پر پښتو هم دغه ادبي حرکت اثر وکړ، تر ۹۰۰هـ وروسته چې کوم منثور آثار زموږ لاس ته راغلي دي، د سلیمان ماکو له نثره سره ډېر تفاوت لري او داسې ځنې څرګندیږي، چې د پښتو پخواني نثر ساده، بسیط، واضح، خوږ او څرګند و؛ مګر وروسته چې د هند او ایران فني نثرونه خلکو ولیدل؛ نو په پښتو کې هم یو راز درونږ او اوږد او مکروه نثر شروع شو، چې اسجاع او مترادفات او اوږدې اوږدې جملې یې درلودې او هغه پخوانی وضاحت او سادګي او حلاوت یې بایلو.

دا فني نثر، چې د ژبې د بیان ډول یې بل راز کړ د ژبې لپاره اساساً مفید نه و، مګر ډېر منثور آثار او کتب یې په پښتو کې موجود کړل. له دې جهته نو غنیمت هم دی او موږ د دې ''ادبي مکتب'' استادانو او شاګردانو ته په ښه سترګه ګورو؛ ځکه که دوی څه نه وای لیکلي؛ نو به اوس موږ د پښتو له ډېرو تاریخي او دیني آثارو څخه محروم وه. د ''فني نثر'' پیچیدګي او اغلاق او عدم وضاحت پر پښتو نثر داسې اثر کړی دي، چې قطعاً له مخکني نثره سره نه شي تطبیق کیداي، پخواني نثر ساده او روان او د ژبې له محاورې سره سم و؛ مګر فني نثر مغلق شو، جملې یې اوږدې شوی او د جملو په آخر کې د سجع التزام وشو، او ده لیکوالو سره دا فکر و، چې نثر د نظم خوا ته نژدې کړي؛ بلکې اکثرو لیکوالو خپل نثرونه، نظم هم بلل، اخوند درویزه لیکي:

چې روښان په ښبتو ژبه شعرونه جوړ کړل او ما هم د ده په جواب کې د مخزن اسلام شعرونه وهیل[۲] حال دا چې نه خیر البیان شعر دی اونه مخزن؛ بلکې دا دواړه کتابونه یو راز مسجع او مغلق نثر دي.

له لاندې نمونو څخه تاسې د پخواني نثر او د پیر روښان او درویزه د نثر فرق او تفاوت ښه معلومولای شي.

د سلیمان ماکو نثر ۶۱۲هـ: نقل هسې کاندې یارانو چې په روزګار د شیخ بیټني کې د ده ورور چې سړبن نومید، او پر شیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به یې ویل خپل ورور ته بیټني خپل ځوی اسماعیل ورکاوه او لوی سو، د سړبن په کاله خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دوني زامن چې تر وس تیر سو ګڼون د هغو...[۳]

د پیر روښان نثر ۹۵۰هـ: هادي ویلي دی رحمت د خدای پده دا کلام + هر چې چارکه د نوس په هوس او په نغوته د شیطان + ترو بې ګمراه کړم لکه مي ګمره که آدم علیه السلام + و عصی آدم ربه فغوی بیان دی په قرآن.[۴]

---

۱. ریاض الانشا، ۱۵٤ص، د حیدر آباد طبع ۱۹٤۸.

۲. مخزن اسلام قلمي.

۳. پښتانه شعراء، ج۱، ٦٤ص.

٤. د خیر البیان له قلمي نسخې څخه.

د اخوند درويزه نثر (۱۰۰۰هـ): امام عمر نسفي هسي ويلي مبرهن دي + چي صوفيان د حق دوستان دي، هم د زړه په پاک کردن دي + دوی پر يبني غيره مينه، اشنايي يې ده له خدايه، موافق ځما له کتابه آراسته د پاک رسول پر ښه سنن دي + پاک الله دي په دوستي واړه نيولي چي له خلقه تبرا دي، هم چي نغښتي د رسول د شريعت په پيراهن دي + په دا فساده زمانه کي هر څوک لاف د درويشۍ کا، دوی دوللس فرقې شوي، يوه طايفه ناسته د پاک رسول پر ښه سنن دی...[1]

(٤) پير روښان او د ده کورنۍ او کارنامې

د پيدا کيدو عصر:

د پښتنو د عظمت ستورى په هند کي لومړۍ پلا د ملتان لوديانو وځلاوه او لکه تاسي چي د دې کتاب په اولو برخو کي ولوستل، هلته شيخ حميد لودی د پاچاهي اساس کيښود، وروسته چي د غور پښتانه په خراسان کي لوړ شو؛ نو دوی له اباسينده تر گنگا پوري ټول هند ونيوه او د پښتنو د شهنشاهۍ بېرغ يې په ټوله ايشيا کي لوړ کړ. بيا وروسته دوهمه پلا لوديانو دغه تللی عظمت نوی کړ او په دهلي کي يې د لوديانو دوهه شهنشاهي جوړه کړه.

د لوديانو دوهمي شهنشاهۍ د پاني پت په جنگ په ۹۳۲هـ کي سقوط وکړ او بابر د هند د مغولو لومړی پاچا، سلطان ابراهيم لودی وهاژه، په دغه وخت کي چي پښتونخوا د بابر له خوا، ټوله پامال شوه او د لوديانو سلطنت په وروستنيو سوگليو (سلگيو) کي و او د پښتنو تاريخي عظمت له منځه تئ او له هره لوري د دې قوم استقلال ته خطرات متوجه وه، د هند په جالندهر کي يو پښتون پيدا شو، چي نوم يې بايزيد و، دی د شيخ عبدالله زوی و، چي په اوه پښته شيخ سراج الدين ته رسيده، او د لوديانو د سلطنت په آخر کي په ۹۳۲هـ د پنجاب په جالندهر کي وزيږيده، مور يې بيبنې نوميده[2] چي د محمد امين لور وه.[3]

کورنۍ او اساتيد:

د بايزيد پلار عبدالله اصلاً قندهاری اورمړ و، چي وروسته يې د وزيرستان په کانيې کوړم[4] کي ژوند کاوه، د دوی کورنۍ په انصاري هم مشهوره وه.[5] پخپله روښان وايي، چي زما پلار عبدالله قاضي د محمد زوی و، کورنۍ مو انصاري ده

---

۱. مخزن اسلام د راورټي په گلشن روه کي.

۲. د بستان مذاهب يې بنين ليکی؛ مگر مآثر الامراء (ج۲، ۲٤۳ص) يې: بهبين يا بيبن راوړي، ښايي بيبن يا د ببين د بي بي يو مهند رنگ وي.

۳. د بستان مذاهب د بايزيد د حالنامې په حواله.

٤. کانيې کوړم، وزيرستان د بدر په وادي کي د غره لمني ته يو ځاي دئ، چي په پښتنو کي شهرت لري او د بحر له مخه څخه ۷۰۰۰ فټه لوړ دی او هلته اوس هم اورمړ د مسيدو په منځ کي اوسي. (پټان ۲۰۰ص).

۵. د اتحاد افغان مجله ليکي، چي اورمړ په کانيې کوړم کي آباد دی، وزير او مسيد يې ستانه بولي، د دوی ژبه پښتو ده؛ خو ځيني د نورو ژبو لغات هم په گډ دی، ځيني محققين د اخوند درويزه په قول استناد کوی او وايي، چي انصار له اورمړو څخه يوه قبيله ده، چي په مياگانو هم مشهور دي، د بايزيد يو شاگرد دولت پخپل ديوان کي د ده نوم شيخ سراج الدين بايزيد مسکين ليکي او دی د روښان او ميا مسکين په صفت هم يادوي:

او محمد دوهلس زامن درلوده، چي په دوی کي عبدالله په فضيلت مشهور و او قاضي توب يې کاوه، د محمد بل زوی خدایداد نومیده چي زوی یې خواجه اسماعیل د عبدالله وراره و او دغه سړی ته بایزید عقیدت درلود، چي شرح به یې وروسته راشي.[1]

وایي چه د عبدالله نیکه او د بیبن پلار محمد امین سره وروڼه وه او په جالندهر کي اوسیدل او دوی د پښتنو لودی پاچاهانو په نهضت کي هلته تلي وه او پښتانه حکمداران د دوی معتقد وه، په ستانه توب او تقوی یې منل، د عبدالله پلار د خپل تره محمد امین لور، خپل زوی عبدالله په کاڼي کوړم (وزیرستان) کي و، چي دی خبر شو، نو جالندهر ته راغی او د بیبن سره یو ځای شو، دلته میا روښان وزیږیده.

څکه چي د مغولو تسلط او جبر له ښنتنو سره زیات شو او د لودیانو سلطنت هم محوه شو؛ نو پښتانه له هندوستانه ایستل کیده او بابر د دهلی پر تخت ناست و، په دغه وخت کي بیبن له خپل زوی روښانه سره چي د غیرږي هلک و، کاڼي کوړم ته راغله.[2]

بایزید د علم او فضیلت په کورنۍ کي لوی شو، پلار یې صالح او عابد او مدرس و.[3]

اخوند درویزه وایي، چي د وزیرستان په کاڼي کوړم کي د پښتنو څو قبیلې سکونت لري، چي اورمړ او انصاري هم له دغو قبیلو څخه ګڼل کیږي،[4] میا روښان له انصاري قبیلې څخه دی، چي دغه قبیله په علم او صلاح او تقوي مشهوره وه، درویزه لیکي: "بدان ای فرزند که در موضع کاڼي کوړم در میان افغانان ورمړ عبدالله نام مردی بود با علم و صلاح، و از اولاد علماء و صلحاء بوده، تا بقضای قدیر ازو فرزندی بزاد با زید نام.[5] بل ځای دورویزه د بایزید د کورنۍ علمي شهرت او تقوی داسي ستایي: "د بایزید پلار نیکه دواړه عالمان وه، د ورمړ، هم رشتیني وه په دین کي.[6]

د هند په جالندهر ښار کي یوه کورنۍ اوسیدله چي ځانونه یې انصاري او د پیر روښان له کورنۍ څخه بلل، د دغي کورنۍ یو سړی مولوي نیاز الدین دانشمند انصاري په فارسي ژبه یو کتاب درلود، چي نوم یې تذکرة النصار و او د روښان او د ده د کورنۍ احوال پکي ذکر شوي وه.

په دې تذکره کي د دوی سلسلهٔ نسب تر حضرت ابو ایوب انصاري پوري داسي ده: "بایزید مسکین بن عبدالله بن محمد شیخ بن بابا شهباز بن شیخ محمود بن شیخ سراج الدین بن حضرت مولانا ابراهیم انصاري بن خواجه محمود بن خواجه حمزه بن خواجه داود بن خواجه شمس الدین بن خواجه خلیل بن خواجه لقمان بن خواجه حداد بن خواجه منصور بن خواجه محمد بن خواجه مت (؟) النصاري بن حضرت ابو ایوب النصاري میزبان رسول خدا."[7]

که هادی شیرین زبان شي　　شیخ سراج بایزید روښان شي

(د دولت قلمي دیوان ۲۵۸ص)

۱. صراط التوحید، ۳ ص.
۲. تذکرة الابرار.
۳. د بستان د حالنامې په حواله.
٤. تذکرة الابرار.
٥. تذکرة الابرار.
٦. مخزن.
۷. مجله معارف اعظم کرط هـ ٤۳۳ ص ج ۱۹ جون ۱۹۲۷.

دا تذکره د روښان مولد جالندهر ښيي او وايي، چي د ده حجره د شيخ احمد غوث ولي له مقبرې سره تر اوسه شته، مګر دغه نسب نامه صحيحه نه ښکاري؛ ځکه چي د مؤرخانو په اتفاق يو قرن د (۳) پښتو لپاره مقرر دی، په لوړه نسب نامه کي له بايزيد څخه تر ابو ايوب انصاري پوري ۱۸ پښته دي، چي تړوله بايد تر ۶۰۰ هـ پوري تير شوي وي. حال دا چي تر بايزيد پوري ۳۰۰ کاله نور هم تير شوي دي او بله دا چي د شيخ الاسلام خواجه عبدالله انصاري هروي د نسب سلسله هم دغه ميت الانصاري ابو منصور ته رسيږي؛[1] خو په دواړو نسب نامو کي هيڅ توافق نه ښکاري.

اما د ده نوم بايزيد و، چي مفغن شکل يې بازيد دی؛ نو ځکه اخوند درويزه په تذکرة الابرار ۸۸ص کي ليکي:

چي ميا روښان پخپل مهر کي يايزيد انصاري ليکلي و، دولت چي د روښان شاګرد دی، پخپل ديوان کي داسي وايي:

هر طالب که عمل کا مقصود به مومي	چي مريد د ورمړ بايزيد مسکين شه

د دولت د قلمي ديوان نسخه چي ډيره پخوانۍ ده، په دې بيت باندي کوم نامعلوم محشي داسي حاشيه ليکلي ده: ”براي رفع تهمت خودها را انصاري ميگفتند و گر نه به تحقيق افغان ورمړ اند، چنانچه از افغانهاي وزيري شنيده شده.“

د مسکين صفت چي دولت د ده له نامه سره يادوي، په غالب ګومان د روښان تخلص دی. په صراط التوحيد کي هم پخپله بايزيد ځان مسکين بولي او د اکثرو ابوابو په سر کي قال مسکين يا مسکين ګويد ليکي، د دغه کتاب په يوه ځای کي دا کلمه ښه شرح کوي او د سلوک او توحيد د مراتبو آخر يې ګڼي، وايي، چي: انسان د قادر مطلق په قدرت له نطفې څخه پيدا کيږي، د مور رحم ته راځي، علقه او مضغه شي، وزيږي، شيدې خوري، ناطق شي، هلک شي، مراهق شي، بالغ شي، کافر وي مسلمان شي، ګناه کار وي فرمان بردار او ذاکر شي، ذاکر بينا شي، بينا اشنا شي، اشنا نژدې شي، نژدې وصل شي، وصل يګانه شي، يګانه مسکين شي، يعني د بشريت له صفاتو څخه خدايي صفاتو ته ميل وکړي.[2]

نو ګويا د بايزيد په اصطلاح مسکين هغه دی چه له حيواني صفاتو څخه يې تزکيه راغلې وي او دا نو د عرفان لوړه درجه ده.

اما روښان د ده مشهور نوم دی، چي اخوند درويزه يې تعصباً پير تاريک بولي او د پيښور په سيمو کي تر اوسه هم په پير تاريکي مشهور دی، د روښان وجه تسميه په تذکرة الانصار کي داسي راغلې ده، چي يوه شپه په څراغ کي تيل تمام شول او څراغ تاريک شو، چي ژر به مړ شي، بايزيد خپل مريد ته وهيل، چي تيل نشته نو اوبه پکي واچوه! هغه مريد د پير په حکم په څراغ کي اوبه واچولې او د ده په کرامت څراغ روڼ لګيده. له دغي شپې څخه مريدانو دی پير روښان وباله او ډير خلک يې معتقد شول.[3]

د دې سړي يو بل شاګرد او معاصر ملګری ملا ارزاني خويشکي دی، چي د ده په قلمي ديوان کي هم روښان د فقير او پير کامل په نامه يادېږي مثلاً:

دا خبر چي فقير وهې	بلا شک بې اشتباه دی
فقير ناست دی پخپل غولي	په ناري طالبان بولي

---

۱. د طبقات الصوفيه هروي د خطي نسخې مقدمه.

۲. صراط التوحيد، ۱۷ ص.

۳. معارف ۴۳۵ ص ج ۱۹.

دغه لوی نفسک به زیر کړي   د کامل پیر له اسراره[1]

د روښان د هلکیني په خصوص دوني معلومه ده، چي د ده مور پر پلار گرانه نه وه؛ نو ځکه عبدالله هغه پرېښوده او روښان د میرې او ناسکه ورونږ په لاس کي لوی شو.[2]

وایي چي د روښان د پلار په شاگردانو کي ملا پاینده نامي کمال ته ورسید او د روښان پلار د درس حلقه ده ته پرېښوده او خپل زوی روښان یې ده ته وسپاره، لږ وخت ملا پاینده زیار وکیښ او دغه هلک یې د علومو معتدلي درجې ته ورساوه؛ ځکه چي ده ډېر ذکاوت درلود او په کوچنوټ توب به یې لوړي خبري کړلې.[3]

د روښان د کوچینوالي له عاداتو ځخه حکایت کوي، چي ده به د خپل کښت او فصل نگراني او مراقبت کاوه، په دغه وخت کي به یې د نورو خلکو کښتونه هم ساتل او مرغان او حیوانات به یې ځني شړل او پردی کښتونه به یې داسي ساتل؛ لکه خپل پټي او ځمکه.[4]

بایزید په کوچنوالي د اسلامي پنځو بناوه پابند و، په مواظبت سره به یې کلمه ویله او لمونځونه به یې ادا کول، روژه به یې نیوله، اما زکات نه و پر فرض شوی، د حج میل یې درلود او په کوچنیوالي کي یې ریاضت کیښ او د حقیقت په انکشاف کي یې زیار ایست.[5]

بایزید د روحانیت او تقوی او علم په محیط کي لوی شو، د ده په استادانو کي مؤرخان د ملا پاینده او ملا سلیمان کالنجری او خواجه اسماعیل نومونه اخلي، چي روښان له دغو استادانو ځخه علمي او روحاني استفاده کړې وه، په دې لاندي شرح:

لکه چي تاسي دمخه ولوستل: ملا پاینده د ده د پلار شاگرد او جانشین و، چي په کوچنیوالي کي د روښان مربي او معلم و چي دا هلک د رشد او بلوغ وخت ته ورسید؛ نو د ده له خپلوانو ځخه یو سړی و، چي خواجه اسماعیل نومید او د ریاضت خاوند و، ډېر مریدان یې درلودل، بایزید وغوښتل، چي د ده مرید شي او د ارادت لاس ورکي؛ مگر پلار یې منع کړ او د شیخ بهاءالدین زکریا کورنۍ ته یې بوت، ځو چي روښان دې نکتې ته ملتفت شو، چي شیخي په ارث نه ده او پخپله په ریاضت مشغول شو او د خلکو په هدایت او تبلیغ بوخت شو او ډېر خلک پر را ټول شول.[6]

د بایزید د ژوندانه دغه دوره د ده له بیانه په داسي ډول را خلاصه کیږي:

"از یک کسي شنیدم که معرفت حق بر آدمي فرض عین است و آن بی پیر کامل حاصل نمیشود چون چنین شنیدم، پرسش کردم، دیگر عالمان نیز چنین گفتند، که پیر کامل طالب را در ریاضت در می آورد، و بذکر و فکر حق شاغل میگرداند تا با خدای تعالی موحد و یگانه گردد، و از شرک جلی و خفی خلاصي یابد. چون چنین شنیدم بعدۀ در طلب پیر بر آمدم و پرسش میکردم، چون کسی از جانب خراسان یا هندوستان یا جانب دیگر می آمد، بعضی را پرسش میکردم تا مرا کسی از مرشد کامل خبر دهد، کسی مرا ز مرشد کامل خبر نمی داد، و بناقصان یقین بمیگردم... درین

---

١. د ارزاني قلمي دیوان.
٢. د باسستان د حالنامې په حواله.
٣. تذکرة الابرار، او دبستان.
٤. دبستان.
٥. دبستان.
٦. دبستان.

طلب بودم که یک درویش دران دیه (دیار) پیدا شد، دعوی شناختن حق آغاز کرد، بعضی آدمیان به وی اعتبار کردند و بعضي از وي منکر شدند، بعده یقین من نیز سوی وی پیدا شد، که بدست این درویش توبه کنم، تا مرا سوی طاعت و عبادت و ذکر حق در مجاهده و ریاضت دارد، تا از صفات ذمیمه من چیزی به صفات حمیده بدل گردد، آن درویش نیز انصاری بود، و برادر زاده عبدالله قاضي بود، در آنوقت من بحد بلوغ رسیده بودم و خود را گناهکار و بدکار می شمردم. یک روز عبدالله را گفتم، که اختیار من سوی توبه پیدا شده است و یقین من بخواجه اسمعیل اکثر شده است، که بدست وی توبه کنم، تا از وی راه یابم. عبدالله ریش بدست خود بگرفت و گفت: ریش من تراشیده میشود، و نام من بد یشود، اگر بدست وی توبه کنی، و عبدالله پسر محمد گفت: که محمد دوازده پسر داشت، من در ایشان بعلم فاضلتر و بهتر بودم، و نام منم بلند تر است، اگر بدست وي توبه کنی، در ولایت خبر خواهد شد، که پسر عبدالله بدست پسر خدایداد توبه کرد، باین سبب ریش منم تراشیده و نام منم بد میشود، زینهار که بدست وي توبه نکني، اگر بکنی در خانه من باشم یا تو، و من از تو ناخشنود باشد. منم گفتم: چون در حالت مراهقی سوی کعبه گذاردن و علم خواندن رفته بودم، نیز بسر من آمدی، و مرا گردانیدی، اکنون در حالت جوانی اختیار توبه کنم، نیز مرا سوی پیر نمی گذاری! وی گفت: با سلسلۀ شیخ بهاء الدین قدس سره داریم، اگر توبه کنی سوی ملتان برو و به خانوادۀ شیخ بهاء الدین توبه کن، توشۀ راه و شکرانۀ پیر نیز بدهم تا از تو خشنود گردد از آنکه طالبان بعضی آینده ورونده اند، و بعضی آرنده اند. و برنده اند، من گفتم مردمان سوی آن چیزی برده اند، و از آنجا کلاه یا شجره یا ثمر یا کمربند یا نشان دیگر آورده اند، و لیکن از ذکر و فکر، از شناختن حق خبر ندارند. من مشتاق ذکر و فکر و شناختن حقم، اگر خوب کنی برای الله مرا اجازت کن. تا بدست وی توبه کنم. هر چند که میگفتم، مرا اجازت نمیدا پس دل خود را مفتی کردم، و دل من بر من این فتوی داد که قرآن را امام کن به پیروی آن اقتداء کن، و خواجه اسمعیل یاران خود را به کم خودرن و کم گفتن، و کم خفتن، بعزلت بودن میفرمود، من نیز اگر این کار توانم بمقدار خود بکنم پس کم و خشک خوردن اختیار کردم، چون چند گاه کم و خشک میخوردم عبدالله بر من گفت: چرا کم و خشک میخوری؟... اکنون جوانی بیسار بخور، هر گاه که بحالت پیری برسی، کار دین محکم کن! من گفتم: که چه دانم که به پیری برسم یا نرسم؟ ترا چه شده است، که مرا بکار دین نمی گذاری! اول مرا از راه کعبه باز گردانیدی، دویم آنکه مرا از مرشد باز گردانیدی، سویم آنکه مرا سوی ریاضت نمیگذاری! پس در دل گفتم: که در قرآن نگاه کنم، هر چه قرآن فرماید، آن بکنم. چون در قرآن نگاه کردم. این آیت نوشته دیدم: (قوله تعالی و وصینا الانسان بوالدیه حسنا و ان جاهداک لتشرک بی ما لیس لک به علم فلا تطعهما)، پس عبدالله را گفتم، که این سخن تو نخواهم شنید... پس من در آن اربعین در خواب یک شب دیدم...‘‘[۱]

په دې ډول د بایزید د مراهقۍ او بلوغ دوره شروع کیږي او دا ښکاري، چې له کوچني والي څخه دا هلک یو فکور انسان و او په دغه دوره کې هم د عبادت په فکر کې و او غوښته یې چې د کعبې شعریفې زیارت ته ولاړ شي او د علم تحصیل وکړي.

په دغه وخت کې بایزید خپل یو خوب لیکي، چې حضرت خضر یې په خوب کې لیدلی و او د هغه لاس نیوی یې هم کړی و او روښانیان دغه د خضر د ملاقات ورځ لکه خپل اختر داسي ګڼي او په دغه ورځ روژه نیسي او عبادت او خوښي کوي.[۲] دی وایي چې ما درې مرحلې تیري کړي دي:

۱. تلخیص از صراط التوحید، ص ۱-٦.

۲. معارف ٤٣٤ ص ج ۱۹.

اول: کوچنیواله چي د اسم الیقین دوره وه، یعني دا مي اوریدلي وه، چي خدای واحد لاشریک دی؛ نو مي د خدای په نامه یقین کړی و.

دوهم: د مراهقۍ په وخت کي مي لوستلي وه، چي خدای واحد لاشریک دی، او هر شي هستي د ده له هستۍ څخه ده؛ نو هغه اعتقاد چي پخوا وهم او خیال و، اوس مي په علم الیقین بدل کړ.

دریم: چي ځوان شوم؛ نو مي دا ومنله، چي بې له خدایه بله هستي یقیني نشته او نوري هستۍ په هلاکت کي دی، زما هستي او د ټولو موجوداتو هستي او د ټولو ذراتو هستي د خدای له هستۍ څخه ده او د قوله تعالی: "قل انما ادعو ربي ولا اشرک به احداً" معني راته ښکاره شوه او د عین الیقین مرتبې ته ورسیدم.[1]

قرب: تر دې وروسته یو بل مقام بایزید بیانوي، چي لغه قرب بولي په دې ډول:

"چند سال درین حال بودم که محبت من با صحبت عالمان و درویشان و شلندران بود، و خادمی ایشان بمقدار خود میکردم برای طلب معبود، و نیز دران حال در طلب پیر کامل بودم و لیکن نمی یافتم، بعده حق تعرالی بفضل صوس مرا تجلی کرد و دل من بکشاد و پرده از آن برداشت و مرا عین الیقین بنمود و علامت وی آنک بود که بهر سوی که نظر میکردم به چشم و دل بی مثل میدیدم... و یکی دیدم هیچ چیز از هستی او جدال نمیدیدم هو هیچ آوازی جز تسبیح حق نکیشنیدم و علامت ؛و ان من شئ الاً یسبح بحمده و لکن لا تفقهن تسبیحهم" در خود میدیدم: رباعی

بذکرش هر چه بیني در خروش است ولی داند درین سری که هوش است

نه بلبل با گلشن تسبیح خوان است که هر خاری به تسبیحش زبان است

پس دانستم که بمقام قرب رسیدم، چند سال درین حال بودم، بعده حق سبحانه و تعالي مرا بیک سبب باسم اعظم رسانید و گفته شد اگر این اسم اعظم بخواني بمقصود برسی. من آن را نمی خواندم و طاقت آن نداشتم، چند مدت از هر چیز که آواز می شنیدم، از هر آواز آن اسم اعظم می شنیدم، پس از آن بیک سبب حق تعالی بر من ذکر و حلاوة رسانید، بآن ذکر هستی من در هستی او میگداخت، و هلاک میگردانید، و هستی هر وجود با هستی حق تعالی یک وجود میگردانید، و در آن حال هستی او باو می دیدم – آواز او باو شنیدم باو خوردم و چشیدم، و خود را از میان برداشتم، در هر کار فاعل او را می دیدم، و علامت بی سمع و بی بصر و بی یاخذ و یا کل و بی یشرب و بی یمشی در خود دیدم هر وجود و وجود خود را باو یک وجود مي دیدم و شمردم، چون من نیست و فاني گشتم، پس هستی خود را با هستی او یکی و باقي دیدم، این مقام نیز بآیت بحدیث موافق دیدم (یا یها الذین آمنوا اتقوا الله و ابتغوا الیه الوسیلة و جاهد و في سبیله..."[2]

مراتب:

بایزید وایي: چي پس له قرب هم زه فارغ نه وم، او لاندي مقامت مي ولیدل:

"درین حال نیز در طلب پیر کامل بودم و لیکن پیر کامل را نمی یافتم، ... در مقام وصالت نیز درویشان و عارفان دوست میداشتم و خدمت ایشان میکردم و بآیت قرآن، و بحدیث انبیاء و باقوال اولیاء شغل مي کردم و لیکن حال خود را پنهان میداشتم، ... از شریعت و طریقت، و حقیقت و معرفت و قربت و وصالت خبر گشتم... در خانهٔ خود کم خواری و دستور خلوت اختیار کردم، بعد از دو شب و روز، حق تعالی مرا تجلی اسرار کرد، از شرک پاک گردانید...

---

۱. صراط التوحید ۹-۱۰ص.

۲. صراط التوحید، ۱۱ص.

بعده حق تعالی بر من تجلی ذات و صفات کرد، که هر صفات را بذات خود حیات و باقی دیدم چنانکه مسکین فرموده است: بقاء کل صفات بذاته و کل صفات اذاتفرق عن ذاته فقد یهلک...""[1]

له دې تړولو تشریحاتو څخه ښکاري، چي بایزید خپل پدري شعل یعني قاضي توب نه خوښاوه او له پلار سره یې پر دغه خبره اختلاف و، د ده پلار یوه بله ماندینه آمنه هم کړې وه، چي هغه د شیخ یعقوب مور وه او دغه یعقوب د خپل پلار پیښبه چلوله او پس له ده د ده دوه زامن میا محمد علی او میا شیخ سلطان هم قاضیان وه، چي روښان د دوی په لار نه تلو او د قضا پیشه یې نه خوښوله، ده به تل خپل پلار او شیخ یعقوب ته نصیحت کاوه، چه له خدایه وبیریږي او رشوت وانه خلی او تقوا وکړي؛ ځکه نو هغه ټول د ده مخالف وه.[2]

په حالنامه کي وایي، چي بایزید د عمر پر اوهم کال له خپلي کورنۍ سره مخالف شو او پر شپاړسم کال د پلار سره تجارت ته ولاړ او په هند کي یې د یوګیانو عقاید مطالعه کړه او د تناسخ او هندي اوتارو (د تجسیم د عقیدې د خاوندانو) پر افکارو یې غور وکړ څو چي پخپله یې له خضر علیه السلام څخه په خوب کي آب حیات وموند او پر څلویښتم کال یې اسم اعظم ورد هم وایه.[3]

بل سړی چي میا روښان د رشد او ځوانۍ پر وخت له هغه څخه استفاده کړې ده د ټولو تذکرو په قول ملا سلیمان کالنجري دی[4] چي درویزه دغه سړی د یوه ملحد ملا په نامه ستایي او له بایزید سره د ده ملاقات هغه وخت شوی دی، چي دی پس له صباوته، د رشد پر وخت هند ته تللی و او هلته له علماوه او پوهانو سره په علمي مفاوضاتو بوخت و، او د ده په افکارو کي یو ښکاره انقلاب موندل کیده ځکه چي د هند په دغو سفرو کي ده د پښتنو تللی عظمت او موجوده ذلت ولیده، او یو سیاسي تحول د ده په ارادو کي پیدا شو.

موږ نه شو ویلای چي د بایزید د سیاسي افکارو استاد څوک و؟ دا ښکاره ده، چي اسلامي علوم د عربي ژبي پر اساس یعني هغه علوم چي په قرآن او حدیث اړه لري او بیا فقه او اخلاق او فلسفه او علم کلام او نور ادبي علوم لکه لغت، بلاغت، صرف و نحو په مسلمانانو کي رایج وه او د ده په کورنۍ کي به هم دغه علوم لوستل کیده، اما د تصوف معلومات او ذوق او هغه کوایف چي په حال اړه لري نه قال، دا هم هغه شیان دي چي د ده د ژوندانه له محیط سره متناسب دي او تاسي به یې شرح ولولئ، اما هغه سیاسي فکر چي بایزید د پښتنو د آزادۍ او سلطنت لپاره درلود او د ده شخصیت هم له دې جهته اهمیت مومي، له کومه راغي؟ د دې معما د حال لپاره هم بې له دې چي د ماحول اثرونه وګورو، بل څه مأخذ نه شو موندلای، له دې سببه نو په آینده لیکو کي پر دغو شیانو بحث کوه، چي د دې سړي شخصیت هم تر دغي رڼا لاندي پیژندلای شو.

دلته باید دا حقیقت هیر نه کړو، چي د مغولو د حاکمانو ظلم او تیری او پر پښتنو باندي د دوی ناوړې لیدل د بایزید د نهضت یو لوی او کلي سبب ګڼل کیږي. تاسي د قندهار په سفر کي له بیرم خان سره د بایزید تصادف په دې کتاب کي لولئ، چي روښان پخپل صراط التوحید کي د دوی د ظلم او جفا ښکاره تأثیرات ښکاره کوي او د عدالت او

---

۱. صراط التوحید ۱۱-۱۹ص.

۲. معارف ٤۳٤ص، ج ۱۹.

۳. د حالنامې خطي نسخه تر ٥٤ ص وروسته.

٤. تذکره الابرار، مخزن، دبستان، اسلامي دائرة المعارف (ج اول ماده بایزید) دغه سړی اسماعیلی مذهب ګڼي، مګر په کوم سند؟

انصاف نصیحت ورته کوي، په تذکرة الانصار کې هم د روښان نهضت د مغولو د ظلم یو عکس العمل ګڼل شوی دی او داسي قصه را نقل شوې ده:

د مغولو حاکمانو تر دې اندازې ظلم پر پښتنو باندي کاوه، چي یوه ورځ یې یوه پښتنه میرمن ونیوله او د دې وینښتان یې د ژرندي له پله سره وتړل، چي ژرنده به څرخیده؛ نو دا پښتنه به هم رو سره څورلیده!!!.

بایزید چي پښتون و، پر یوې پښتنې ښځي یې داسي ظلم او ناروا نه شوي زغملای، د ده روحانیت په دنیا کي د حضرت رسول الله ﷺ په حضور عرض وکړ او د دغو ظلمو د مخنیوي او مدافعې اجازت یې وغوښت، چي دا روحاني اجازت یې وموند؛ نو را ولاړ شو او له پښتنو څخه یې د ظلم او ناروا دا تور څادر ونغښت، او انصاف او عدل یې جاري کړ، په دغو ورځو کي د جالندهر یوه مشهور بزرګ حضرت شیخ غوث الکرام وهیل: "په کوهستان کي بیا اور بل شو خدای دي خیر پیښ کړي"![1]

له دې قضې څخه تاسو معلوملای شي، چي د پیر روښان د نهضت په سیاسي اسبابو کي د مغولو د حکومت ظلم او تیري څومره لاس درلود؟ او ظلم څنګه پخپل مقابل کي قهرمانان پیدا کوي؟...

سفرونه او شخصیت

داسي ښکاري، چي بایزید د رشد او شباب په وخت کي پښتونخوا لیدلې او ده یوه سلسله سفرونه هم کړي دي، په دغه سیاحتو کي د آفاق او انفس په سیر کښیوتلي، او ډیري علمي او روحاني استفادې یې کړي دي.

اخوند درویزه وایي، چي بایزید په هند او ترکستان کي تر سمرقنده سفرونه وکړل[2] او د مذاهبو پر فلسفې بې عبور حاصل شو، د تصوفو په عالم کي داخل شو او له پوهانو او روحاني خلکو سره محشور شو.

په دغو سفرو کي بایزید ډیره استفاده وکړه، پوخ او پوهاند سړی شو، د شخصیت د تکمیل دپاره یې زیارونه وایستل، په ادب، فلسفه، تصوف او سیاست کي یو نابغه شو، درویزه وایي: "بایزید په عقل پوره و، هوښیاري او زیرکي یې ډیره زده وه، په عقلي دلایلو کي ډیر مړنی و، لویو علماوه ور سره بحث نه شو کولی، د کابل د مرزا محمد حکیم په دربار کي ده لوی لوی عالمان پړه کړل، او په مناظره او علمي استدلال کي یې لوی لاس درلود او میرزا ده ته په درنه سترګه کتل.[3] بایزید پخپله حالنامه کي لیکي، چي د حکیم میرزا د کابل قاضي چي قاضي خان نومید، له ما پوښتنه وکړه، چي ته د الهام مدعي یې؟ ما ویل هو! نو قاضي صاحب وهیل: الهام خو کله غلط کله صحیح وي!

بایزید ورته وهیل: ما خپل الهام له قرآن او سنت سره برابر میدنلی دی؛ نو یې څکه صحیح ګڼم. وایي چي په ابتداء کي میرزا محمد حکیم پیر روښان په سیاه چاه کي قید کړي و، مګر پس له څه وخته چي یې وکتل دی هلته ژوندی و او ډیر اشعار یې په دغه تور زندان کي ویلي وه؛ نو پخپله میرزا او د ده قاضي القضات قاضي خان او حکیم خان د میرزا اتالیق د روښان معتقد شول.[4] موږ د بایزید کرکتر او سجایا د تاریخي روایاتو په رڼا کي داسي ښیو، چي دی علام و، روحاني ذوق او وجدان یې درلود، پوخ خطیب او واعظ و عقل، ژبه، فکر یې رساوه، جنګي سړی و، د قلم خاوند مؤلف

---

١. معارف ٤٣٥ص، ١٩ج.

٢. مخزن او تذکره.

٣. دبستان مذاهب ٢٥١ص.

٤. معارف ٤٥ص، ١٩ج.

و، د قیادت او رهنمایۍ (لیډرشب) ګرده صفات په ده کي جمع وه، د دې ټولو سجایاوه سره دی یو توریالی سیاس او مفکر هم و، د پښتنو د سیاست او ریفارم په تاریخ کي دا سړی جګ مقام لري، او په سیاسي احیاء او نهضت کي یې لوی لوی کارونه کړی دي.

مؤرخان وایي: چي بایزید په ځوانۍ کي له سوداګرانو سره د تجارت عزم وکړ او په سیاحت بوخت شو، دغه دوره که د ده په ١٦ کلني کي شروع شوې وي؛ نو به د ٩٤٧هـ حدود وي، د ده د سمرقند تګ او د ماوراء النهر د ځمکو سفر د مورخانو په قول ثابت دی، له هغه ځایه څخه ده د سوداګرۍ آسونه راوستل او هند ته یې بوتلل، په دې سفر کي چي جالندهر ته ورسیده، هلته یې له پښتنو لودیانو څخه یوه پیغله په نکاح کړه، چي شمسیه نومیده، د ده مشهور زامن له دې پښتنې څخه پیدا شوي دي.[1] بایزید یو سفر د تجارت په سلسله کي قندهار ته هم کړي دي او دا هغه وخت و، چي په قندهار کي بیرم خان حکمدار و، لکه چي پخپله وایي:

"پس چند ماه در خلوت، روزه و عزلت اختیار کرده بودم، پس جفت شریعت (زن) مرا گفت: که تو اول تجارت و کار میکردي – نفقهٔ خانه و مهمان از آن حاصل مي شد، اکنون نیز تجارت و کار کن، تا براي نفقهٔ چیزی حاصل شود، چون بسیار میگفت، سوی قندهار برای تجارت رفتم، و نیت چنین کردم مگر کسی موحد بیایم، تا با وی شاغل باشم، کاروان بقندهار رسید، دیگر کاروانیان از خرید و فروخت سود و زیان میکردند، من اول پرسش پیر کامل کردم، در آن ولایت نیز پیر کامل نیافتم...در آن وقت در قندهار یک میر بود، نام او بیرمخان بود، بر آن کاروان ظلم کرد،... پس وارثان بعضي جمع شدند، برای فریاد کردن مرا نیز با خود روان کردند،... گفتم: امیران و پادشاهان را حق تعالی از عدل خواهد پرسید، و یک ذرهٔ عمل کسی را ضایع نگرداند، بر وی بنماید که "من یعمل مثقال ذرة خیرایره..." پس بیرمخان قبول کرد و گفت تفحص مال بکنم، و لیکن تفحص نکرد، بروعده مخالفت شد..."[2]

دغه د قندهار سفر چي د بیرم خان په زمانه کي بایزید کړی دی، باید د ٩٦٠هـ حدود وي؛ ځکه چي په دغه وخت کي بیرم خان د همایون له خوا په قندهار کي حکمران و او په ٩٦١هـ دی همایون له قندهاره څخه کابل ته ور سره بوت.[3]

پس له دغه وخته بایزید بیا پخپل کور کي تر پنځو کالو پوري عزلت ګزین او خلوت نشین شو او د دنیا له کاروباره یې لاس وکیښ، په قناعت او توکل پخپل سیر او طریقت مشغول شو او د ځان تکمیل ته یې توجه وکړه او دلته د ده عمل پر "فاعرض عن من تولی عن ذکرنا" برابر و او ویل به یې چي "خصلتان لا یجتمعان في قلوب الانسان طمع و توکل" له دې جهته نو د ده د عمر دغه دوره په ذکر او مجاهده او توکل او له نفس سره په جګړه کي تیریدله.[4]

د بایزید د شخصیت په خصوص کي مؤرخان ځیني اشارات لري، چي د ده نبوغ او ذکاء او د عقل پوخوالی ځني څرګندیږي، د دبستان مذاهب لیکوال دا هم وایي، چي دی یو نالوستی سړی و، لیکن د قرآن او حدیث په معنی پوهیده او تطبیق به یې پکي کاوه؛ مګر دا خبره صحیح نه ښکاري؛ ځکه چي د ده د تعلیم او زده کړې په خصوص کي مؤرخان ډیر روایات لري او دی د ډیرو کتابو مؤلف هم ګڼې؛ نو سړی چي څو کتابونه په عربي، پارسي، پښتو، هندي لیکي،

---

١. دبستان.
٢. صراط التوحید، ٢١ ص.
٣. فرشته، اکبر نامه ٢ ج.
٤. صراط التوحید، ٢٤ص.

ناځاره به دی لوستونکي او ليکوال هم وي. درويزه وايي: ''پدرش بايزيد را در تحصيل علم گماشته، تا بقدر وسع حاصل آورده و در طاعت و عبادت جد و جهدی نموده، و از منهيات شريعت محترز، و مجتنب حتی الامکان ميگشته...''[1]

له دې روايته هم د ده علمي تحصيل او تقوی ښکاري، د دبستان مذاهب مؤلف وايي: شاه بيگ خان ارغون چې په خان دوران مخطب و، ده بايزيد ليدلی و، او ده ويل: کوم وخت چې بايزيد لا توره نه وه ايستلې، نو دی د ميرزا محمد حکيم دربار ته حاضر شو، چې د همايون پاچا زوی و، د دربار علماء د بايزيد مناظرې ته را غونډ شول؛ مگر بايزيد دوی عاجز او پړه کړل او ميرزا ناځاره شو، چې بايزيد پريږدي.[2]

د بايزيد استدلالي قوت او د برهان زور دوني و، چې هيچا نه شو پر کولای، درويزه هم د ده عقل او فراست او علمي مقام ته اشارت کوی او وايي: ''بايزيد ډير په عقل پوره و، د دنيا عقل يې ډير و، هوښياري او زيرکي يې ډيره زده وه..ځکه بايزيد يو حکمتي و...دا بايزيد په عقل پور و...''[3]

د بايزيد د شخصيت عرفاني او علمي څنگ لږ څه تاسي ته له دغو سابقو رواياتو څخه ښکاري او هغه وخت چې موږ د ده پر تاليفاتو بحث وکړو؛ نو به لا ښه څرگنده شي؛ مگر د ده حربي او سياسي کرکټر هم د پيژندي وړ دی، چې دغه مقصد به هم په لاندي ابحاثو کي ښه تاسي ته روڼ کړ شي، چي دا سړی د پښتونخوا د آزادۍ لوی رهبر او حامي و، د پښتنو سلطنت او تللی عظمت يې غوښت، د پردو د غلامۍ جوغ يې پر غاړه نه شو قبلولای، له دې جهته دی د آزادۍ د جنگ يو توريالی قايد او د سياسي فکر مبلغ هم و.

د بايزيد د عصر روحاني محيط او معصرين:

چنگيز او تيمور او بابر او شيباني هغه مغولي لوی او غښتلي فاتحان وه، چې د پښتنو له غوری او لودی او سوری شاهنشاهيو سره دوی په پښتونخوا او هند کي مخامخ شول او تقريباً څلور سوه کاله، له ٦٠٠ تر ١٠٠٠هـ پوري پښتنو له دوی سره د خپلي آزادۍ لپاره جنگونه وکړل، د مغولو فاتحانو د ايشيا ځمکي له آباسينده تر شامه په وينو ولړلې او د اسلامي ملتو ژوندي روحيات يې ور مړه کړل، د دې خونين تاړاک او چپاو طبيعي نتيجه دا وه، چې په خلکو کي د انزوا ميل پيدا شو او د ژوندانه منفی خوا ته يې مخه کړه، له هندوستان تر مصره د تصوف په نامه يو ډول تفکر خپور شو، چې خلکو به د روحاني تربيت او رياضت په وسيله معنوي نجات غوښت او د تصوف تبليغات او د ترتيب حلقې دوني ډيري شوې، چي لوی لوی ښارونه، له خانقاهو او د تصوف له تربيت خانو څخه ډک وه او د تصوف لوی لوی بزرگان او رجال په ټول ايشيا کي پيدا شول، پر پښتونخوا هم له شمال او شرق او غربه، د دې روحاني نهضت څپې راغلې او په خلکو کي د تصوف او روحانيت خوا ته يو ډول مخصوص شوق او ذوق ليدل کيده، په هند کي مغولي دربار او د بابر د کورنۍ شهزادگانو دې خوا ته ميل درلود او په ايران کي هم صفوي کورنۍ مخصوصاً د اردبيل د تصوف له خانقاه را وهته او د شيخ صفي الدين اردبيلي د اولادې له خوا پر روحاني اساس يو لوي سلطنت تشکيل شو، چي پس له ٩٠٠هـ يې ټول ايران او پښتونخوا تر حکومت لاندي راغله. د دوی د دربار رسمي خلک د صوفی په لقب يادېدل، او د صوفي توب فکر داسي خپور شوي و، چي لوی مؤلفانو او علماء، په دې فن کي ځيني په قال او ځيني په حال مشغول وه او دې حرکت

---

١. تذکرة الابرار.

٢. دبستان.

٣. مخزن

په پښتونخوا کي هم يو روحاني محيط پيدا کړی او پاچاهانو هم خپل اکثر سياسي مقاصد په دغه لباس او د روحاني خلکو په ذريقه اجرا کول او په دغه منځ کي ځيني داسي پاک طينته روحانيون او متصوفين هم وه، چي فقط د خلکو روحاني او اخلاقي تزکيې ته متوجه وه او په دنيوي اغراضو پسې به نه تلل.

بايزيد چي د پښتنو د آزادۍ لپاره پخپل نهضت شروع وکړه؛ نو د ده د حرکت او فعاليت مرکز خو د تيرا او خيبر او ننگرهار آزاد غرونه وه، په دغو غرونو کي آزاد پښتانه اوسيدل، چي د غوری او لودی سلطنت خوند يې څکلي و، او هر وخت دوی د آزادۍ او د خپل پښتني سلطنت د حفاظت لپاره تپيدل، دغه پښتانه د پښتونخوا په شرقي غرو او رغو کي ميشته وه، دوی اکثره د تصوف او روحانيت له هغي حلقي سره نښتي وه چي سيد علي ترمذی يې مشر مبلغ و او دا سړی په پيښور کي په "پير بابا" مشهور دی.

سيد علي د قنبر زوی دی او دا سلسله داسي ده: قنبر ولد سيد احمد نور، ولد سيد يوسف نور، ولد سيد محمد نور چي اصلاً د ترمذ له ساداتو څخه و او له هغه ځايه قندوز ته راغلی و او دا محمد د امير تيمور خوريي و، له مغولي پاچاهانو سره يې ټينگه رابطه درلوده، اولاده يې د شاهانو په دربار کي د عزت او رتبې خاوندان وه څپله پير بابا ويلي دي، چي: نيکه مي له ترمذه قندوز ته راغی او ما له ده څخه تعليم او تربيت وموند، تر شرح ملا پوري مي کتب له ده څخه ولوستل او پلار مي له همايون ولد بابر سره هند ته ولاړ او زه هم ور سره وم، او هلته له علماوه او صالحانو سره محشور شوم، پس له ډيره رياضته مالک پور ته ولاړم او هلته مي له شيخ سيلونه څخه چي د علم او طريقت خاوند و، تر هدايي پوري کتب ولوستل، او څو عمر مي له شيخ سالار رومی څخه استفاده وکړه په تصوف او سلوک مشغول شوم، او له دغه سړی څخه زه د طريقت مأذون يم او ده امر راته کړي دی، چي د پښتنو په غرو کي خلکو ته هدايت وکړم.[1]

سيد علی پس له ۹۰۰هـ تولد شوی او د ۹٦٤هـ په حدودو کي په هندوستان کي په علمی او روحانی استفاده مشغول و دا سړی چي له مغولو پاچاهانو سره خپلوي هم لري؛ نو طبعاً له دوی سره په سياسي آمالو کي هم مرتبط ښکاري، هغه وخت چي د تبليغ او کارکولو لپاره د پښتونخوا غرو ته راغلی دی؛ نو له پښتنو سره داسي محشور و، چي د يوسفزو د دولت زيو قبيلې يوه ملک ده ته خپله خور هم ورکړه[2] او د پښتنو په کورنۍ او قبيلوي ژوندانه هم ورگډ شو.

سيد علی ترمذي په پښتنو کي ميشت شو، له پښتنو مشرانو سره يې خپلوي وکړه او دوني نفوذ او اقتدار يې وموند، چي په پير بابا مشهور شو او له چتراله تر وزيرستانه د ده روحانی نفوذ خپور شو، ده خپل مريدان او شاگردان په تبليغ مامور کړل، وعظ، خطابه، کتب ليکل او د پيرۍ او مريدۍ په رنگ يې خلک تابع کول د دې ډلي کار و، او د ډهلي له مغولي حکومته سره هم د دوی روابط دوستانه وه، هغه حکمرانان چي د مغولط له درباره پيښور، بنگښ، کابل، غزني ته مقرر کيدل، دوی به د سيد علی له اتباعو سره کومکونه کړل، او دغه خلک به هم په شعوري يا غير شعوري ډول د مغولو د سياسي مقصدو لپاره استعماليدل.

سيد علی په پښتونخوا کي تقريباً ديرش کاله تير کړل او ډير گړندي شاگردان يې وموندل، د دوی جگړه له روښان او روښانيانو سره له اولي ورځي شروع شوه او هر ځای چي به دوی د مناظرې يا اقتدار په ميدان کي صعيف شول؛ نو د مغولو لښکرو او حکمداران به هم د دوی شا ته ولاړ وه او د حکومت د سرنيزي زور هم ور سره ملگری و. د درويزه په

---

۱. تذکره او مخزن او پټان تر ۱۹۸ ص وروسته.

۲. تذکره.

روايت سيد علی په ۹۹۱هـ په بونير کي وفات شو[1] او هلته د ده مزار مشهور دی، به ژوندانه کي د ده روحاني او سياسي مرکز د بونير پاچا کلی و، د سيد علی له مريدانو څخه اخوند درويزه او د ده کورنۍ هغه خلک دي، چي په خوله او قلم او عمل د روښان مقابلې ته وتلي وه او د دوی ادبي او تبليغي کارنامې به وروسته په دغه کتاب کي راوړلي شي.

پير بابا دوه زامن درلوده، چي يو سيد مصطفی نوميد او بل سيد حبيب، چي دغه دوهم بي اولاد و او فقط د مصطفی اولاد اوس د ننگرهار په کونړ او نورو سيمو کي خپاره دي.

دغو ساداتو د مغولو په عصر کي ډير سياسي نفوذ درلود او تر يوه قرنه د مغولو په طرفدارۍ د پير روښان له کورنۍ سره د دوی جگړې او مقابلې جاري وې او پښتانه به يې د مغولي حکوت لپاره ايلول او د مغولو له حکمرانانو سره به يې همکاري کوله.

د روښان نهضت او جنگونه

روښان چي پخپل نهضت شروع کوله، د پښتونخوا پر شرقي غرو تر اباسينده د روحانيت او تصوف يوه داسي جذبه څپره وه، چي ټول پښتانه د پيرانو او ملايانو تر اقتدار لاندي وه، سيد علی او اخوند درويزه او نور داسي مقتدر روحانيون دلته موجود وه، چي له دوی سره علاوه تر خپل شخصي اقتدار او نفوذ، د مغولو د دربار قوت هم ملگری و، حال دا چي روښان له مغولو سره جنگيده او غوښته يې چي د هغو اقتدار د پښتنو له سره کم کړي.

دلته نو روښان مجبور و، چي پښتانه پر هغه ډول په يو روحاني کانون سره را ټول کړي او خپل مسلکي او سياسي مبادي د يوه روحاني مسلک په رنگ دوی ته وړاندي کړي او هغسي تبليغ دوي ته ورکړي، چي ژر يې قبلولای شي.

په دغه ډول نو ده د پښتونخوا په غرو کي يو روحاني او سياسي مسلک تلقين کړ او ډير پښتانه پر ده او د ده پر ملگرو د مريدانو او روحاني مخلصينو په توگه را غونډ شول، ده د خپل مسلک د تبليغ لپاره کتابونه په پارسي، پښتو، عربي او هندي وليکل، موعظې يې وکړې، له مخالفينو سره د علمي مناظرو ميدان ته حاضر شو او په آخر کي يې توره وکښله او د جنگو پر ډگر يې ويني هم تويي کړې.

د روښان اولين مخالفت په علمي مفاوضاتو کي له خپلي کورنۍ سره ونښت، له خپل پلار او تره سره يې په ځينو مسايلو کي اختلاف پيدا شو، وايي چي د پلار له لاسه زخمي هم شو، د دبستان خاوند ليکي: ما له ميرزا شاه محمد (غزنين خان) څخه واوريدل، چي بايزيد په ۹٤۹هـ ډير قوي شو، او د ده مسلک په پښتنو کي ومنل شو، او شاوخوا خپور شو.[2]

دی د خپل تبليغ او دعوت اوايل داسي بيانوي:

"پس دوباره در خواب ديدم که کسی مرا گفت اگر کسی بر تو يقين کند، خدمت و فرمان برادری تو باخلاص اختيار کند، علم توحيد بر وی پنهان مکن، تا از علم توحيد خبردار گردد... بعد از آن آدميان را معلوم کردم و گفتم هر که بمن بيايد و يقين و مجاهده اختيار کند، بطاعت قرآن، بحديث انبياء و بگفتار اولياء و مشيخ و بفرمان برادری من، باخلاص کار کند، بغايت حق از شريعت و از طريقت و از حقيقت و از معرفت و از قربت و از وصلت و از علم توحيد

۱. تذکره، ۱۳۳ص.

۲. دبستان، ۲۵۱ص.

خبر شود...''[1]

له دې لنډه بيانه ښکاري، چې بايزيد د خپل دعوت اساس پر قرآن، حديث او د اولياء او مشايخو پر اقوالو باندي ايښي و او له شريعته تر وحدته يې ځيني مراتب مقرر کړي وه، چې په لوړو ليکو کي ذکر شوه.

دعوت او د خلکو رجوع:

په دې ډول بايزيد پخپل دعوت شروع وکړه، خلک يې د خدای طاعت او عبادت ته راوبلل، دی وايي، چې د توبې راحتونه سړي ته ميسر شي؛ نو د اسلام او قربت او وصلت او وحدت انوار دی روښانوي او د ''ليخرجکم من الظلمات الی النور'' په معني پوهيږي، زړه يې د روح مطيع شي او روح د ''تخلقوا باخلاق الله'' په صفت ستايلي شي، ما له دغي لاري خلک توبې ته دعوت کړل:

''چون اين بيان بعضی ادميان از من بشنيدند بعضی يقين و اعتبار کردند و مجاهده نفس اختيار کردند و راه و مقامها و منزلها حاصل کردند بعضی منکر شدند بيخبر ماندند دعوی حق و باطل راه و بې راه پيدا شد، پس بعضي ادميان برای زيارت، بعضي برای توبه، بعضي براي کار ديگر می آمدند و مهمان می گشتند در آن چند سال مال دنيا تمام شد.''[2]

بايزيد وايي چې: ۱۲ کاله په دې ډول تير شوه، ما پر خدای توکل وکړ او د دنيا له کاروباره مي ځان فارغ کړ اوس چې ۲۱ کاله تير شوي دي ما ته په خوب کي الهام وشو چې خپل دعوت د اميرانو او پادشاهانو غوږو ته هم ورسوم.

''درين بيست و يکم سال مرا در خواب يا بالهام بشارت شد، که يک رساله يا خليفه سوی پادشاهان بفرست؟ تا دعوی توحيد در ولايت شان نشان در آرند، تا آن پادشاهان که از علم توحيد بيخبر بودند، نيز بطلب علم توحيد بگمارند...تا خيرات و حسنات بيفزانيد، و سيآت را بکاهند... مسکين گفته است.

نظر دارم سوی پادشاهان و اميران اين زمان، که تا کدام پادشاه و امير باشد که کار دين باخلاص اختيار کند، تا در ميان پادشاهان ديندار و دنيادار نامدار گردد...''[3]

د دعوت د خپرولو او ابتشار لپاره بايزيد خپله فارسی رساله د صراط التوحيد په نامه وليکله، دی وايي چی ''پس پادشاهان او اميران بايد که اين رساله تا آخر بخواند، بعمل آرند''.

د بايزيد نصايح:

په صراط التوحيد کي بايزيد يو څو نصيحته پاچاهانو او مشرانو او اميرانو ته کښلي دي، دی کوښښ کوي چې دغه نصايح په آيات شريفه او احاديث نبويه او د لويو اولياوه په اقوالو ښه ثابت کاندي. او له دغو نصايحو څخه تاسي د ده د دعوت مقاصد معلومولای شئ؛ نو يې لنډ لنډ دلته راوړو:

۱. اول نصيحت: د عقل فضيلت او د معرفت مبادي او د خالق په قدرتو کي تفکر.

۲. دوهم نصيحت: علم باطن او د پير کامل ضرورت او د اوامر او نواهي رعايت د مرگ ياد او د تقوی لزوم، خوف

---

۱. صراط التوحيد، ۲٤ص.

۲. صراط التوحيد، ص ۲۵.

۳. صراط التوحيد، ص ۲۷.

و رجاء.

۳. دريم نصيحت: صراط مستقيم د انسان په خپل زړه او ځان کي دی، انسان بايد ځان تزکيه کړی، د نبی دعوت او د انبياوه، د خلفاو دعوتو ته غوږ ونيسي، او د توحيد په داراسلام کي داخل شي، د مشرکانو او منافقانو له خويونو څخه ځان وژغوري، امر بالمعروف او نهی عن المنکر ته توجه وکړي او تل د خدای په خفي ذکر مشغول وي؛ له قربته وصلت ته سير وکړي، له وصلته وحدت ته ولاړ شي.

د دې نصيحت په پای کي دی د توبې آداب بيانوي چي يو سړی څنګه د پير لاس نيولای شي او دا څه شرايط لري.

داسي ښکاري، چي د بايزيد دغه دعوت او تبليغ پر ځينو خلکو باندي اثر وکړ او د ده د ارادت په حلقه کي داخل شول او پس له لږ وخته د ده نفوذ له کانېي کورم څخه د ټوچي درې په دوړو کي خپور شو او بيا نو د ده مريدان بنګښو ته ولاړل اورکزي او تيراهي او اپريدي قبايل يې د بايزيد مريدان کړل. څو وروسته د ده روحاني نفوذ په خليلو او داودزو او مومندو او ګګيانو او يوسفزو کي هم خپور شو او تر صافو او سوات پوري ورسيده. په دې ډول روښان خپل داعيان د قندهار کاسي او هم شينوارو او برېخو ته واستول او هلته يې هم خپلي ريښې ټينګي کړې، بيا نو د ده مخلص داعيان سند ته هم ولاړه او له حيدر آباد سره نژدې يې په سيدپور کي خپل د تبليغ مرکز پرانست او ډير سنديان يې هم پخپلو مريدانو کي داخل کړه او پخپله روښان د اشنغر په ډهير کي و او استازي يې د شاوخوا حکمرانانو دربارو او د علماؤ مدرسو ته واستول، يو استازي يې د هند اکبر شاه او بل يې د بدخشان ميرزا سليمان ته واستاوه، دغسي يې د بلخ او بخارا او هندوستان نورو شاهانو ته هم قاصدان وليږل.[1] په دې ډول روښان ډير مقتدر او پوه پيروان وموندل، چي په دغو کي درې خويشکي ورونه ارزاني، ملا عمر، ملا علی محمد مخلص[2] ادباء او شاعران او عالمان وه، ملا پاينده او ملا دولت اکوزی او ملا دولت مهمندزی هم د ده په پيروانو کي شهرت لری او دغسی هم دولت لوڼ، ميرزا انصاري د ده له ملګرو او احفادو څخه مهشور دي.

روښان چي د کانېي کورم په غرو کي تبليغ شروع کړ او لومړئ پلا يې له خپلي کورنئ سره ټکر وخوړ، بيا نو د کابل له لاري ننګرهار ته ولاړ او د ملک سلطان مومند کره په ميلمستيا پاتي شو او دلته يې پښتنو ته د خپل مسلک تبليغ کاوه، بيا نو له دې ځايه پيښور ته ولاړ، هلته د خليلو په غورياخيلو کي ديره شو او ډير خلک پر ده را ټول شول او په خورا جديت يې خلک خپل مسلک ته رابلل او د پيرئ آوازه يې په ټولو پښتنو کي خپره شوه.

د اشنغر له مهمند زو څخه په دغه وخت کي ملا دولت مهمندزی ډير مشهور سړی و، ده روښان اشنغر ته بوت او په کله ډير کي يې ځای ورکړ، دلته د روښان د اقتدار دايره دوني زياته شوې وه، چي تر کابله هم د ده تبليغات راورسيدل او هري خوا ته يې کاغذونه واستول او خلک يې خپل مسلک ته رابلل، دا دعوت سيد علی ترمذي او د ده مشهور شاګرد اخوند درويزه ته هم وشو!

روښان يوازي خلک خپل روحاني مسلک ته نه رابلل؛ بلکي له يوه معنوي تلقين سره چي د خلکو په زړونو کي اچاوه، تيره توره او کښلې چاړه يې هم په لاس ورکوله، چي له مغولو سره وجنګيږي او د دوی له اسارته ځانونه آزاد کړئ.[3] له دې جهته د مغولو دربار په ډهلي کي دې حرکت ته ملتفت و او دا نهضت يې د پښتنو د يوه عمومي کار مقدمه

---

۱. اسلامي دائرة المعاف لومړی جلد نوی طبع.

۲. د دې ورونو احوال او اشعار به په دريم جلد کي راوړل شي.

۳. حالنامه، ٤٧١ص.

ګڼله او په کابل کې د مغولو حکمدار لیدل، چې له پښتنو سره په توره جګړه ګرانه ده او باید پښتانه پخپل منځ کې سره وجنګول شي، چې له لاسه یې مغول فارغ وي.

دلته د مغولو له خوا سید علی ترمذی او اخوند درویزه د پښتنو په منځ کې هغه خلک وه، چې دوی له مغولو سره قدیمه خپلوي او نژادي علاقه هم درلوده او د دوی د حکومت طرفداران هم وه، نو طبعاً دا خلک د روښان مقابلې ته وپاڅول شول او پښتانه ځیني د روښان پر خوا او بله ډله د اخوند درویزه پر خوا ودریدل او د دوی په منځ کې داخلي جنګ تود شو. په دې جګړو کې په زرونو پښتانه مړه شول او هغه مقصد چې د مغلولو حکمدارانو درلود ښه حاصل شو. علاوه پر هغو مسلحو جګړو چې مغولو له روښان سره کړلې ، د درویزه او نورو ملایانو له خوا له ده سره علمي او جدلي مقابلې هم جاري وې، چې دا ټوله د سید علی ترمذي شاګردانو او ارادتمندو د مغولو د حاکمانو په لمسون د دې لپاره کولې، چې روښان پښتنو ته په بې دینۍ او الحاد بد نام شي؛ مګر روښان له دې ټولو سره په خپل علمی تبحر او فصیحه ژبه مقابله کوله؛ لکه چې د ده علمي څېړني او مناظرې له ملا زکریا سره مشهورې دي، او د ده مخالفو ډلو دغه په عجیب ډول لیکلي دي، وایي چه ملا زکریا روښان ته وهیل: ته د کشف قلوب او کشف قبور دعوی کوې؛ نو زما د زړه حال راته ووایه! روښان د ده په ځواب کې وویل: ته خو اصلاً زړه نه لرې، دغه زړه چې ته لرې هر خر او پسه او آس یې لري؛ مګر د مؤمن زړه بل دی ”قلب المؤمن اکبر من العرش و اوسع من الکرسی“. روښان ده ته وویل: کشف قبور هم داسي کار نه دی، چې په ظاهري حواسو یې ته ووینې، باید په کلو کلو د نفس تصفیه وکړې؛ نو به هله د دې قابل شې، چې داسي اسرار ولیدلای شې.[1]

د اشنغر جنګ او د روښان ګرفتاري:

روښان د مغولو پر خلاف علناً د جنګ اعلان وکړ او خپلو مریدانو ته یې امر وکړ، چې د مغولو له اسارته ځانونه وژغوري، د مغولو طرفدارنو له ده سره جګړه شروع کړه، روښان او د ده ملګري یې تکفیر کړل او هري خوا ته یې د دوی د بدنامولو لپاره مبلغین وګومارل، د اخوند درویزه شاګردان به په هر کلي او هره ډیره او هر مسجد کې ولاړ وه، د روښانیانو تکفیر به یې کاوه.

د مغولو له درباره په دغو وختو کې د کابل حکمران محسن خان و، ده ولیدل، چې د روښان تبلیغات پر پښتنو ډیر اثر لري او د دوی په زړونو کې د آزادۍ هغه جذبات را ژوندي کوی، چې پخوا یې درلودل او یوازي د سید علی او درویزه مخالفت د ده د تحریکاتو دفاع نه شي کولای؛ نو یې عزم وکړ، چې له روښانه سره پخپله عسکري مقابله وکړي؛ نو محسن خان د پښتنو آزادي خواهانو د استیصال په عزم له کابله را ووت او د پیښور حاکم معصوم خان هم د ده مقابلې ته تیار شو، دوی به اغازپور کې له ډیرو لښکرو سره پر روښانیانو حمله وکړه، د روښان ملګرو له دوی سره په جنګ لاس پوري کړ؛ مګر دلته بیا هغو داخلي مخالفتو، دوی ناکام کړه او محسن خان بری وموند، روښان ونیول شو او د کابل په بند کې واچول شو[2] او دا وقایع ټول د ۹۷۰-۹۸۰ په حدودو کې وه.

---

۱. ائمه تلبیس ۳۵۸ص ابو القاسم رفیق دلاوري طبع لاهور ۱۹۳۷ (اردو).

۲. تذکره مخزن اسلامي، دائرة المعارف لومړی ټوک.

د روښان دوهم نهضت:

روښان لږ وخت په کابل کي بندي پاتي شو؛ ځکه چي دی یو ډېر مقتدر روحاني و او خلک یې ژر تر اثر لاندي راتلل؛ نو په کابل کي هم ده ډېر صمیمي ملګري وموندل، چي د پښتونخوا د غرو وګړو له دې آزاد او مقتدر سړي سره اخلاص پیدا کړ او ژر تر ژره یې د مغولو له زندانه ویوست او ننګرهار ته یې ورساوه.

وایي، چي میرزا محمد حکیم د همایون زوی چي د کابل حکمران و، د کابل د قاضي خان په وسیله روښان خپل حضور ته وغوښت او دی یې محاکمه کاوه؛ مګر ده د حکمران په حضور کي داسي عاقلانه ځوابونه وویل او د خپل ملي مرام دفاع یې په داسي ژبه وکړه، چي میرزا محمد حکیم دی له بنده ایله کړ.[1]

نو روښان له کابله بیا د پېښور سیمو ته راغی او په لاچه پور کي ډېره شو او څه وخت یې دلته خپل تبلیغات جاري وساتل او ډېر مریدان او اخلاص کیشان پر را ټول شول، بیا نو له دې ځایه د پېښور شمال (ټوټي) ته ولاړ او علناً یې د مغولو پر خلاف د آزادۍ په جنګ لاس پوري کړ؛ ځکه چي دغه ځای هم د مغولو تاړاک ته نژدې و؛ نو وروسته روښان له دې ځایه تیرا ته عزم وکړ او د خپل نهضت مرکز یې هلته غوره کړ او په پښتنوکي یې بیا د آزادۍ هنګامه توده کړه او د یوه پښتني حکومت د جوړولو اساس یې هلته کښېښود.[2]

د تیرا کشمکش:

د ۹۹۰هـ حدودو وه، چي روښان په تیرا کي خپل سیاسي او حربي مرکز ونیوه او اپریدي او اورکزي یې پخپلو سر فروشو مریدانو کي داخلل کړل. دلته د اتمان خیلو خلک هم د ده په تابعانو کي شامل شوه او د ده نفوذ دوني پر پښتنو خپور شو، چي له تیراهه یې ډېر خلک نفي بلند کړل، د تیرا په چورې کي د مغولو لښکر په ده پسې راغلل، د غرو خلکو وسله نه درلوده، د چورې دورمې ډېري کلکي دي، روښان مریدانو ته وویل، چي دا درمې پریکوئ او سرونه یې تیره کړئ، دا ستاسي وسله ده! روښانیانو په دغه جنګ کي د دورمو په ذریقه مغول مات کړل او د نیزو کار یې ځني واخیست.[3]

په تیرا کي ځني خلک وه، چي په باطن کي له مغولو سره ملګري وه او دوی د پښتنو د لستوڼي ماران وه. روښان دوی ته وویل: ځکه چي ستاسي زړونه له مغولو سره دي؛ نو زمان له طریقې څخه مردود یاست! باید پخپله خپل لاسونه وتړئ او راشئ!

ستاسي تو ه همدغه ده. نو له اعتقاده یا له بیري دیرلس سوه تنه لاس تړلي راغلل. روښان د دوی ګنه کاران ووژل او ځیني یې له تیرا څخه وشړل، په دې ډول اپریدي، اورکزي، ټول د ده فرمانبردار شول.[4]

درویزه لیکي چي: د چورې په جنګ کي روښان د مغولو لښکر تار او مار کړل؛ نو مغول وتښتیدل او پښتنو اتفاق وکړ، چي ځیني تیرایي خلک له مغولو سره مله دي، او د دوی په واسطه مغول، تیرا ته راځي، له دې جهته باید دوی د ملي خاینانو په ډول له دې آزادو غرو څخه ورک کړه شي؛ ځکه چي د آزادۍ لپاره دغه داخلي خاینان هر وخت مضر دي. په دې ډول ۲۲۰ تنه د مغولو طرفداران ده ووژل او نور چي پاته وه، ننګرهار ته وتښتیدل او تیرا د مغولو له طرفدارانو

---

۱. اسلامي دائرة المعارف لومړی ټوک.
۲. تاریخ مرصع، تذکره، مخزن.
۳. تاریخ مرصع، تذکره.
٤. تاریخ مرصع.

څخه خالي شوه.[1]

اوس نو روښان ډېر ملګري مونډلي وه او له داخلي خاينانو څخه هم لږ څه فارغ شوی و او دغه وخت مساعد و، چې د مغولو له سلطې څخه نور اسیر پښتانه هم خلاص کړي او په پښتنوخوا کې د استقلال بيرغ بيا جګ کړي!

د تور راغه جنګ او د روښان مرګ:

بايزيد پښتانه په تيرا کې سره را غونډ کړل او دوی ته يې وويل: تاسي يو قوم واست، چې تر ډېرو پورې مو سلطنت درلود، اوس د مغولو مريان شواست او د دوی ظلمونه ګالئ او لاړ شئ او دا د غلامۍ کړۍ له غاړو وباسئ!

د روښان دې برغ پښتانه خپل تللي عظمت او اوسني ذلت او اسارت ته ملتفت کړل او په زور سپاره او پياده د ده په رکاب کې د آزادۍ جنګ ته حاضر شول او د ننګرهار خوا ته يې حرکت وکړ او دلته په بړو کې ديره شول.

محسن خان د مغولو حکمدار هم جنګ ته حاضر و او د جلال آباد په ځای کې د پښتنو د غرو څارکاوه. له خپلو خونخوارو لښکرو سره را ووت او د شينوارو په علاقه کې هلته چې تور راغه نوميږي، پښتانه او مغول سره مخامخ شول!

دا جنګ ډېر خونين و، د روښان ملګرو مارته وکړه او پخپله دی هم مړ شو، له موږ سره اوس د ده د مرګ په خصوص کې دوه روايته دي، اول دا چې د جنګ په ميدان کې مړ شو او په اشنغر کې يې ښخ کړ.

دوهم دا چې پخپله په خورا تودوخه کې پلی په غرو او رغو کې ژوندی پاتي شو او په لار کې جل وهاهه، چې اشنغر ته ورسيده په کلياتې کې په ۱۵۸۵م کال وفات شو او همدلته په اشنغر کې ښخ کړ شو؛ مګر وروسته يې زامنو هډونه را وايستل په صندوق کې له ځانه سره ګرځول، وايي چې د يوسفزو په جنګ کې بيا هغه تابوت اباسيند ته لاهو شو، يا دا چې په وزيرستان کې ښخ کړ شو؛ ځکه چې هلته د ده په نامه يو قبر شته.

بل روايت دا دی چې: روښان په جنک که زخمي شو؛ نو اشنغر ته ولاړ او په مامن زی کې چه د اکبر پورې له ګلوزي سره متصل ځای دی، مړ شو؛ نو يې هلته ښخ کړ او يوه لوړه ګنبده يې هم پر جوړه کړه، چې تر اوسه شته، مګر زامنو يې وروسته د ده تابوت له هغه ځايه يو وړ او اټک ته يې لاهو کړ.[2]

اما يو بل هندي مؤلف وايي: د افغانستان د غرو په سلسله کې د بټه پور پر غره د روښان قبر دی.[3]

پخپله حالنامه دا وايي چې په ۹۸۹هـ د روښان اخلافو د ده تابوت په بټه نګر کې ښخ کړ، چې دغه ځای له کاڼي کوړم څخه درې ورځې لار مسافه لري.[4]

او اوس په کاڼي کورم وزيرستان کې يوه مشهور هديره د ميا پير ولی صاحب په نامه مشهوره ده او خلک يې د پير روښان د خاندان مقبره ګڼي او يوه کورنۍ (پيران) هم هلته شته چې ځانونه روښان ته منسوبوي.[5]

ګريرسن يو انګليسي مستشرق د روښان مرګ په ۱۵۸۵م =۹۹۳هـ ليکي[6] مګر اولف کيرو وايي: چې دغه تاريخ ډېر

---

۱. تذکره.

۲. تذکرة الاولياء د امير احمد شاه رضواني د لاهور طبع ۱۳۲۱۱، ۱٤ ص.

۳. ائمه تلبيس ۳۵۹ ص.

٤. حالنامه ١٥٦-٤٨٣ ص.

۵. دا معلومات ما ته له جنډولې څخه ښاغلی عبدالقيون شاه ليکلي وه چې د دغې کورنۍ يو سړی دی.

٦. لنګوستک سروې اف انډيا ۱۰ص، ۱۰ج.

پس دی او روښان به تر دغه دمخه په بړو کي وژل شوی وي؛ ځکه چي په ۹۸۹هـ د اکبر لښکرو جلاله (د روښان زوی) ته شکست ورکړ او د روښان درې زامن یې ووژل او د ده ښځه یې هم بندي کړه او تابوت یې وسوځاوه. ایرې یې په اټک کي واچولې، نو معلومه ده چي روښان تر دغه کاله دمخه مړ شوی و.[1]

دا خبره صحیح په نظر راځي؛ ځکه چي د دبستان خاوند هم لیکي په هغه کال چي اکبر شاه کابل ته ولاړ، د پښتنو قبیلو مشر جلال الدین د روښان زوی و.[2] دغسي هم ابوالفضل د ۹۹٤هـ په وقایعو کي لیکي چي په دغه کال د پښتنو قبیلو په جګړو کي د دوي مشر جلاله و[3] بلکه عبدالقاد بن ملوکشاه بدواني تصریح کوي، چي په ۹۸۹هـ د روښان ځورلس کلنی زوی جلاله د اکبر شاه حضور ته راغی، هغه وخت چي دا پاچا له کابله بیرته هند ته ستون شو.[4]

له دغو ټولو روایاتو څخه ښکاري، چي د پیر روښان مرګ باید تر ۹۸۹هـ دمخه وی او ځکه چي په دغه کال لا هم د ده تابوت موجود و؛ نو ممکنه ده، چي وفات یې په ۹۸۸هـ کي وي او په دې حساب نو د ده عمر به له ۹۳۲هـ څخه تر مرګه پوري ٥٦ کاله وي.

په هر صورت له دې سرې سره د مغولي دربار جفا او د ده له مړی او ښځي او اخلافو سره ظلم د زاړه استعمار فجایع دي او موږ اوس د ده مزار او د وژلو تاریخ په یقیني ډول نه شو ټاکلای.

بعد از وفات تربت ما بر زمین مجوی   کاندر قلوب مردم عارف مزار ماست

د بایزید علمي او ادبي آثار

د بایزید له پاتو آثارو څخه دا ښکاري، چي دی په عربي او اسلامي علومو پوه و، په تفسیر او حدیث او فقه کي یې مطالعه لرله، په معقولو او فلسفه کي هم لږ څه بلد و، په تصوف کي نظراً او عملاً داخل و، په ادبي علومو کي یې هم لوست کړی و.

څلور ژبي بایزید ویلای او لیکلای شوای، پښتو، فارسی، عربی، د پنجابی یوه لهجه؛ نو د ده لیکني او کتابونه هم په څلورو ژبو دي.[5] اخوند درویزه وایي: ده د پښتنو لپاره په پښتو موزوني او له طبع سره سمي خبري جوړولې او پاړسیانو ته یې په پاړسو او هندیانو ته یې په هندکو[6] او ده ډیر آثار لیکلي دي، چي اوس موږ ته فقط دغه معلوم دي:

۱. د پښتو رسم الخط:

داسي ښکاري، چي پیر روښان د پښتو ژبي ځیني حروف چي مخصوص اصوات لري او د عربی او فارسی حروفو له اشکالو څخه هغه اصوات نه زده کیږي، په یوه مخصوصه رساله کي ترتیب او توضیح کړل او د هغه د لیکلو شکل یې

---

۱. پټان ۲۱۰-۲۰۳.

۲. دبستان ۲٥۲ص.

۳. اکبر نامه مغولي مؤرخان د روښان زوی جلال الدین توهیناً جلاله بولي.

٤. منتخب التواریخ ۳٤۹ص، ۱ ج د کلکتې طبع ۱۸٦۸م.

٥. د بستان مذاهب.

٦. مخزن اسلام.

وتاکه، که څه هم پښتو ژبي پخوا رسم الخط او کتب او آثار درلودل؛ خو په دغه وخت کي به هغه مهجور شوي وه؛ نو ځکه ده یو څو پاڼي رساله پر ولیکله. دولت د روښان یو مرید وایي:

افغاني لفظ مشکل و لوست کوینښ نشه   ورته وشوه کننده دیارلس حروفونه[1]

د خیر البیان کومه خطي نسخه چي پخوا له سر ډینس راس څخه په لندن کي وه او اوس د غربي جرمني په یوه موزیم کي پرته ده[2] دغه د رسم الخط رساله په سر کي لري، چي ١٤ مخه ده، د دې رسالې او د ارزاني او دولت قلمي دیوانونه چي ما لیدلي دي، رسم الخط یې یو راز دی، له فارسی او عربی سره مشترک حرفونه هسي لیکي، لکه په نستعلیق رسم الخط کي چي کښل کیده؛ مګر د پښتو خاص توري داسي لیکي:

ټ

دا شکل اوس هم شته او په خیر البیان کي هم دغسي دی. مثلاً اټکل، پټول، پټ چي کټ مټ یې موږ هم دغسي لیکو.

څ

دا توری هم اوس هغسي لیکو؛ لکه بایزید چي لیکلي دی، مثلاً څلور، خرڅ، څیز، میرڅي.

ځ

دا توری یایزید داسي نه لیکی؛ بلکي تر (د) لاندي یو ټکي ږدي، مثلا ځما (ډما) او ځیني (ډني) نمونځ (نموند) ورځ (ورډ) چي هر ځای دال لاندي ټکي لري (ډ).

ډ

دا توری هم د اوس په ډول دی؛ لکه ډیر، برمنډ، شونډه.

ړ

کټ مټ د اوس په ډول ده لکه زړه، کړی، غړ غړ کول.

ږ = ژ

په خیر البیان کي بالکل د (ژ) شکل نشته او ټول کلمات چي اوس د (ژ) توري پکي دي، فقط په (ږ) لیکي، مثلاً روژه (روږه)، ژبه (ږبه)، وژني (وږني)، پیژنم (پیږنم)، ژر (ږر) پیژندګلي (پیږندګلي) ژوندی (ږوندی) ژغوري (ږغوري)، ژوي (ږوي).

د. =ږ

(ږ) چي د پښتو له اساسي ږغو څخه ده، په خیر البیان کي (د.) لیکل کیږي، یعني دال یو ټکي په منځ کي لري؛ لکه سازید.ي (سازیږي)، پوهید.ي (پوهیږي)، مزک بدو وارو کود.دم و بوږنم پوړ مي کود.ول واړږوي (مزکه به دوه واره وکود.وم و به وژنم پوړ مي کود.ول واړږوي (مزکه به دوه واره وکوږوم و به وژنم په دومي کوږول واړه ژوی) پرید.دی (پریږدي). دا شکل عربي ذال ته نژدې دي، مګر د عربي (ذ) ټکي پر سر دی، او خیر البیان (ږ) په منځ کي ټکي لري (د.).

---

١. د دولت خطي دیوان ٣ ص.

٢. دا واحده خطي نسخه یو وخت د برلن په موزیم کي په نمبر ٤٠٩٣ موجوده وه ټوله ٣٣٠ مخه ده، هر مخ ١١ لیکي لري او ښاغلي بینوا د دغي نسخې یو عکس اخیستي دی، چي اوس یې ما ته د کتلو لپاره را کړي دی.

ښ

کښ مښ دغه اوسنی شکل لري؛ لکه ښ تښتن، تورکښ، ښيگړه، پکښي، پښته، راوښيه، لښکر، فرښته، کښي او نور.

ڼ

دا شکل هم قديم دی او په خير البيان کي کښ مښ دغسي دی. کوم خلک چي دا (ڼ) اوس (نړ) ليکي، دا مرکب شکل مناسب نه ښکاري؛ ځکه پخپله (ڼ) د پښتو يو مستقل ږغ دی، مرکب به بلل کيږي؛ لکه کوڼ، کيڼ، گڼ.

په نورو حرفو کي د خير البيان املا د فارسی املا په ډول ده؛ خو تر (س) لاندي چي کشش داره ليکل شوي وي، درې ټکي هم شته او هغه کلمات چي په پاي کي (هـ) يا (ی) ده، اکثر بې له (هـ، ی) ليکل کيږي لکه: هغ (هغه)، زړ (زړه)، نزد (نزده)، وت (وته)، ک (که)، واړ (واړه)، وړاند (وړاندي)، مزک (مزکه) ښيگړ (ښيگړه) او کلمات اکثر يو ځای ليکل شوي دي لکه: پقرآن کښيدي (په قرآن کي دي)، وپښي وته دي گوري (و پښي وته دي گوري)، مسخرک (مسخرې که) خوښيوي (خوښي وي) پکښيو (پکښ و)، ورشي (به ورشي) تلاتل (تل د تل).

گ اکثر (گ) او کله (ک) او چه (چي) او کښ (کښي) او پر (پور) ليکي؛ د نمونې لپاره دغه څو جملې د خير البيان په اصلي املا وگورئ: حکمت ميدرک (حکمت مي درکړ) او نخلا سيدن د مازړ نښتي د نوس د شيطان (او نه خلاسيدن زما زړه له نښتي د نوس د شيطان) او پنغت د نوس (او په نغوته د نوس).

چيما روږده پزب ميويل چي خدای يو دی (چه ما اورېده په ژبه مو ويل چه خدای يو دی)، پينده يا پدروډ کښي (په پنځه يا درې ورځي کښي) زبدرو ښيم و تا وت پخپل قدرت بڅلور ږبي خيرالبيان څه شو، کت لدغو وړاند بيخبر و لخيرالبيان (زه به در وښيم و تا وته پخپل قدرت په څلور ژبي خيرالبيان څه شو که ته له دغو وړاندي بيخبر وي له خيرالبيان (ورق ۱۵۳) نبي وليدي صلعم بانک زن چه صلاح فلاح وة ورسی مخ دی وښي وکيڼ رخ وته گرزوي بي اقدام، چي ئی اروی هغه دي هم وايي لاحول د عظيم پوری تمام (نبي ويلي دي صلعم بانگ زن چه صلاح فلاح ورته ورسي مخ دي وښی و کيڼ رخ وره گرزوي بی اقدام چه ئی اروي هغه دی هم وايي لاحول د عظيم پوري تمام) (ورق ۹۵) کور دليوه نخښ هغه د چی پشيډير کرزي د نوس پهوس پطلب د مرد ار يادډ تاوران يا د نور څيز د پارچيد دوی خوردندی عيان هسي چيپشپه ډير کرزي فرمان بردار د شيطان عيان د نوس پهوس د غلا د کاپسيري د پار يا د نور حرام (وگوره د ليوه نخښه هغه ده چه په شپې ډير گرزي د نوس په هوس په طلب د مرادري يا د ځناوران، يا د نور څيز دپاره چه د دوی خوردن دی عيان، هسي چه په شپه د غلا د کاسيري دپاره يا د نور حرام) (ورق ۱٤۱).[1]

۲. صراط التوحيد

دا کتاب بايزيد په ۹۷۸هـ ليکلي او مطبوع ۱۱۵ مخه دی، د کتاب په پای کي يې کښلي دي "تصنيف اين رساله بايزيد مسکين انصاري قدس سره العزيز در سنه ثمان و سبعين و تسعمائه و نامش (صراط التوحيد) نهاد، هر که بخواند و بآن عمل نمايد، بعلم توحيد بهره مند شود و مسعود گردد، اگر جايی سهوی و خطايی افتاده باشد، بايد که برای آنکه اين مسکين بظاهر علم (نه) خوانده است عغو گردد."[2] د حالنامې مؤلف ليکي، چي روښان د دغه کتاب يوه نسخه د

---

۱. دا نمونې تش د املا د توضيح لپاره انتخاب شوې، پر خير البيان تفصيلي څېړني وروسته شته.

۲. صراط التوحيد، ص ۱۱٦، د هند په جالندهر کي د انصاريانو په کورنۍ کي د صراط التوحيد يوه نسخه وه، چي د تصنيف

اکبر پاچا دربار ته هم استولې وه.[1]

د دې کتاب په اول کي د خپل طفوليت حال ليکي، چي د پير کامل په طلب کي و او د دغي برخي اقتباسات ما دمخه د ده په احوال کي وليکل، بيا نو پخپل دعوت شروع کوي او درې نصيحته خپلو معاصرو پادشاهانو او مشرانو ته انشا کوي، چي د دغو درو نصيحتو لنډون هم دمخه ما وکيښ.

تر دې وروسته بايزيد د توبې اصول او د پير کامل صفات بيانوي. بيا نو د طريقت او سلوک مقرر کړي مقامات په يوه يوه باب کي ښيي، مثلاً اول باب د شريعت بيان دی، دوهم باب د طريقت او دريم باب د حقيقت او ذکر خفي او څلورم باب د معرفت او پنځم باب د سکونت، چي بايد شپږ اربعينه ولري؟

د صراط التوحيد رساله په لوړ ډول ختميږي، په دې رساله کي نيم مقاصد په فارسي او نيم هم په عربي دي، امراؤ او شاهانو ته اول په عربي خطاب کوي، بيا نو هغه په فارسي ترجمه کوي؛ مگر د ادب له پلوه هم عربي هم فارسي ډير نواقص لري او داسي ښکاري؛ لکه يو عجمي چي په تکليف ماته گوډه عربي ليکي، يا کوم پښتون فارسي وايي!

بايزيد کوښښ کوي، چي خپل مقاصد په آياتو او احاديثو او عربي مقولو ثابت کاندي؛ مگر هغه احاديث، چي دی په دې رساله کي را نقلوي، اکثر يې د علم او فن له رويه صحيح او ثقه احاديث نه دي، او ډير لږ منقولات يې صحت مومي، او له دې څخه ښکاري، چي بايزيد په منقولاتو کي ډير ثقه او پوخ عالم نه و او د احاديثو په روايت کي يې پر علمي اصولو اتکاء نه ده کړې؛ بلکي هر څه چي يې د حديث په نامه ليدلي دي، هغه يې را نقل کړي دي.

مگر دا کار لومړی پلا بايزيد نه دي کړي، تر ده دمخه ډير مشهور علماء داسي تير شوي دي، چي د احاديثو په روايت کي يې دقت نه دي کړي او ضعاف يې په قوي احاديثو گډ کړي دي! په معتبرو تفسيرو کي لکه کشاف، بيضاوي هم موضوع احاديث شته او د امام غزالي په احياء العلوم غوندي مهم کتاب کي ډير احاديث موضوعه او ضعيفه راغلي دي، چي حافظ زين الدين عبدالرحيم عراقي د احياء العلوم دغه احاديث تخريج کړه او د کتاب نوم يې ''مغني'' دی او بيا دغه کتاب د مجدالدين فيروز ابادي د قاموس د ليکوال له خوا مختص کړ شو او محقق علماء د دغي احاديثو په باره کي داسي فرمايي.

''لازم نيست اگر حديث موضوع باشد، آنکه مضمون و صحيح نباشد، چه بسياری از موضوعات از قبيل حکم اسرائيليات و از مقولهٔ کلام حکما و مقولات مشايخ طريقت ميباشد...''[2]

په دې ډول هغه چي د احاديثو په نامه په صراط التوحيد کي را نقل شوي دي د علم له پلوه لوړ حکم لري؛ خو موږ د دې رسالې له وجناتو (شکل او بڼې) څخه دا معلوموو چي بايزيد د نقلي تحقيق او علمي پلټني خاوند نه و؛ بلکي د ذوق او شهود او معنوي خوندونو له پلوه يې خبري کولې.

تاسو د بايزيد د پارسي انشاء نمونې د صراط التوحيد په حواله دمخه ليدلي دي، دغه نسخه چي پيدا شوې ده، ډيره مغلوطه او مغشوشه ده، گومان کوم چي يو خو پخپله د بايزيد انشاء په پارسي کي ماته گوډه وه او بيا نو ښايي چي نقالانو هم دا کتاب مسخ کړی وي!

دلته د عربي ليک نمونه هم راوړله کيږي، چي دا هم صعف تاليف او ادبي علطۍ ډيري لري. ''و اعلموا يا اهل

تاريخ يې هم دغه ۹۷۸هـ ښودلی شوي و.

۱. انسايکلوپيډي آف اسلام، ۱ ج ماده بايزيد.

۲. نقد الثقات في تزئيف الموضوعات قلمي ٦ ص، د مولوي حبيب الله قندهاري ليک.

الهملوک و المراء ان الانبياء و الاولياء و المؤمنون المخصون لا يسکنون في الحقيقه و يرفعوا اشدا مهم عنه الي معرفة[1] و موتوا ابصار قلوبکم[2] عن العمية و عن روية سوی الله و حيوابالبصايرو بروية الله صار صاحب المعرفة و من اهل العارفين و يحصل الدعيه حيوة و تجلية الروح.''[3]

له دې ماتي ګوډې عربي څخه سړی قصد هم ښه نه شي فهمولای، ادبي ښيګړي او بلاغت او له ګرامره سره برابري خو پرېږده، لاندي تاسي د دغو عربي جملو معاني هم په فارسي وګورئ، چي لږ څه مقصد ځني ښکاري؛ مګر خبره خو دا ده، چي فارسي يې هم يوه بليغه او ښکلې ژبه نه ده، تعقيد او ابهام لري او له دې څخه ښکاري، چي د بايزيد اعتراف د رسالې په آخر کي صحيح دی، چي ''اين مسکين بظاهر علم نه خوانده است'' دا ده لوړو عربي ګډو وډو عباراتو فارسي ترجمه:

''بدانيد ای ګروه پادشاهان و اميران! بدرستی که انبيا و اولياء و مؤمنان مخلصان در حقيقت قرار نبودند، و قدم خود از آن سوی معرفت برداشته بودند، و بنائی دل را از کوری، و از ديدن غير الله ميرانيده بودند، و بينائی بديدن حق زنده ګردانيده بودند، و صاحب معرفت و تجلی روح کرده بودند...''

دا خو د عربي عبارت تحت الفظ ترجمه وه چي بيا هم ابهام او تعقيد لري او لاندي فارسي شرح به يې لږ څه مقصد درته ښکاره کاندي، چي وروسته بايزيد ليکي:

''پس می بايد شمار را که در حقيقت قرار ميباشيد و ازان سوی معرفت (قدم) برداريد و بينائی دل را از کوری و از ديدن غير خدای بميرانيد به بينائی بديدن حق زنده ګردانيد.

هر که بينائي دل از کوری و از ديدن غير خدای بميراند، به بينائی بديدن حق زنده ګرداند، صاحب معرفت و از ګروه عارفان ګردد، و مراورا در وي حياتي و تجليهٔ روح حاصل ګردد و با عارفان محسوب ګردد، و کاری وي بآيت قرآن و بحديث انبياء صلواة الله عليهم موافق ګردد، و علامت ''وجوه يو مئذ ناضرة الي ربها ناظرة '' دوري ظاهر ګردد...''[4]

د صراط التوحيد پر ادبي کمزوريو او ژبنيو نواقصو دغومري ليک کفايت کوي، اوس به يې اصل موضوع ته يوه کتنه وشي:

تر هر څه دمخه بايد دا ووايو، چي بايزيد د منقولاتو پوخ او مدقق عالم نه دی، چي خپل ليک په علمي ډول تر تدقيق او انضباط لاندي راولي، له دې جهته دغه رساله چي صراط التوحيد نوميږي، کوم علمي ترتيب او ارتباط نه لري، لکه چي تاسي ولوستل، خپل سوانح او افکار يې له وړکتوبه بيان کړي دي، چي څنګه د پير کامل په طلب کي و، او نه يې موند، او څنګه يې په سير او طلب او رياضت شروع وکړه! دی وايي، چي ما ته په زړه کي را وګرزيده، چي خلکو ته د توحيد دعوت وکړم؛ نو مي دا رساله وکښله، تر ۳۳ مخه پوري دغه خپل احوال بيانوي، بيا نو درې نصيحته تر ن ۸۵ مخه پوري خطاب اميرانو او پاچاهانو ته ليکي، له ۸۵ مخه څخه لومړی باب د شريعت بيان شروع کيږي، دوهم باب طريقت، دريم باب حقيقت، څلورم باب معرفت، پنځم سکونت دی، په دې رساله کي بايزيد د ځينو کتابو نومونه اخلي

۱. په اصک کي مغفرة دي؛ مګر په پارسي ترجمه کي معرفته دي.
۲. کذا فی الاصل له پارسي ترجمې څخه ښکاري، چي بايد قلوبهم وي.
۳. صراط التوحيد، ٦٨ ص.
٤. صراط ص ٦٩.

او د مضمون حواله ورکوي؛ لکه مقصد اقصی[1] او امراو امیریه و درویشیه، چي غیر معروف کتب دي.
تاسي د صراط التوحید اقتباسات د بایزید په احوال او عرفاني افکارو کي مفصلاً په دغه کتاب کي مطالعه کولای شئ.

۳. حالنامه:

د دبستان مؤلف وايي، چي پیر روښان یو کتاب لیکلي او خپل حال یې پکي بیان کړی و.

"و حالنامه کتابي دارد که در آنجا احوال خود را باز گذارده."[2] دا خو د دبستان د مؤلف قول دی، اما د حالنامې یوه نادره خطي نسخه ۵۲٦ مخه د هند د علی گړهـ په شرقي کتابخانه کي (نمبر ۹۲۰۱۳۷۰) شته، چي په پارسي ژبه ده او مؤلف یې علی محمد مخلص د ابابکر قندهاري زوی دي[3] مولوي نیاز الدین انصاري لیکي، چي: حالنامه ۱۵ جزو ده او په دې کي داسي غریب او عجیب حالات لیکل شوي دي، چي د روښان لیاقت څني ښکاري.[4]

داسي ښکاري، چي د حالنامې ابتدایي برخي روښان لیکلي او بیا نو دغه علی محمد مخلص د ده د اولادو احوال هم پکي زیات کري دی، وايي، چي د علی محمد پلار ابابکر په کوچنیواله کي د جلال الدین بن بایزید په خدمت کي داخل شوی او بیا نو د احداد په لښکرو کي و، څو چي په آخر کي د بایزید له لمسیانو سره هندوستان ته ولاړ او له رشید خان سره چي د روښان له کورنۍ څخه و، په دکن کي مستخدم و او د شمس آباد په رشید آباد کي ناندیر ته نژدې اوسیده.[5]

علی محمد د حالنامې په مقدمه کي وايي، چي: د دې کتاب اصلي متن ورو ورو ډیر شو او د روښان زامنو او لمسو د خپلو جنگو حالونه هم پکي زیات کړل او د بایزید احوال یې هم په تفصیل سره وکیښ؛ خو دا وقایع تاریخونه نه لري، اما د احوال تفاصیل یې ډیر غنیمت دي او ژبه یې هم سلیسه ده، د اورنگ زیب تر عصره پوري وقایع پکي زیات شوي دي.[6]

دوکتور محمد شفیع لاهوري چي په اسلامي دائرة المعارف کي د بایزید مقاله لیکلې ده، د حالنامې له دغي نسخې څخه د بایزید احوال را نقلوي او داسي ښکاري، چي دا کتاب ډیر مفصل او مفید و او د دغي مشهوري کورنۍ غوره تاریخ دی، خو دا خطي نسخه تاریخ نه لري. اما دغه علی محمد مخلص د حالنامې لیکونکي د پښتو شاعر او د دیوان خاوند دي او د ده ژوند وخت هم د ۱۰۵۸هـ حدود ټاکلای شوای؛ څکه دغه رشید خان چي دی یې ملگری و، نوم یې الله داد د جلال الدین زوی او د روښان لمسی و، چي تر ۱۰۲۸هـ وروسته د مغولو لښکرو گرفتار کړ او د جهانگیر حضور ته یې بوت[7] او وروسته نو د شاه جهان له خوا په دکن کي د رشید خان په خطاب حاکم و او په ۱۰۵۸هـ په دکن کي مړ

---

۱. دا کتاب د عزیز بن محمد النسفي تالیف او پر تصوف یوه مختصره رساله ده، فهرست ۲-۸۳٤.
۲. دبستان، ۲۵۱ص.
۳. د اورینټل کالج میگزین ضمیمه ۳۵ ص می ۱۹٤۳ لاهور.
٤. معارف اعظم گدهـ ۱۹ ج، ۳۳ص، ٤ جون ۱۹۲۷.
۵. حلنامه او ماثر الامراء ۲-۲۵۰.
٦. انسایکلوپیډي آف اسلام، ۱ ج ماده بایزید.
۷. تزک جهانگیر ۲-۲۹۰.

او د نانديز په شمس آباد کي پخپل باغ کي ښخ کړ شو.[1]
له دې تاريخي پلټني داسي ښکاري چه علی محمد مخلص به هم په دغو وختو کي د الله داد رشيد خان سره په دکن کي اوسيده او حالنامه به هم د ۱۰۵۰هـ په حدود کي ليکل شوې وي.

٤. مقصود المؤمنين:

د دبستان ليکوال دا کتاب د بايزيد په تاليفاتو کي داسي معرفي کوي: "مقصود المؤمنين بعربي است" [2] له دې کتابه اوس موږ د دوه خطي نسخو درک لرو، يوه په لاهور کي او بله د حيدر آباد دکن په آصفيه کتب خانه کي شته[3] چي په ۱۲۲٦هـ ليکلي شوې ده.

دا کتاب د روښان د دېلي د اصولو بيان کوي او بايزيد د خپل لوی زوی عمر په خواهش ليکلی او کله کله ده ته داسي خطاب کوهي: "زما گرانه زويه!"

بايزيد دا کتاب د خپلو مريدانو د مطالعې لپاره وکيښ، چي تل يې ولولي او عمل په وکي.[4]

د مقصود المؤمنين له ۲۱ فصلو څخه، اته وروستنی فصلونه د بايزيد د مقرر کړو مقاماتو په شرح کي دي، چي بيان به يې وروسته راشي.

د لاهور خطي نسخه:

د مقصود المؤمنين خطي نسخه، چي په لاهور کي د دوکتور محمد شفيع په کتابخانه کي ده ۹۵ پاڼي لري خط يې نستعليق دی، متن يې عربي په توره سياهي و، ترجمه يې په فارسي تحت الفظ ده چي په سره خط ليکي ده، د کتاب اول داسي شروع کيږي:

"الحمد لله الذی بعد معلوم له فهور کثير الاکثر قوله تعالی قل لوکان البحر الخ...قال اصغر و اعجزو اعضف من امت محمد صلی الله عليه و سلم بايزيد انصاري بن عبدالله قاضي قال لي ابن شيخ عمر رضي الله عنه، الله اکبر، انکان رضائک اکتب الاجلی و ابناء و اهل عيالک بآيت القرآن و با حاديث الانبياء و با قوال لاولياء و بدليک نصيحة (؟) ثم احببت قوله و اريد ان يکتبها (؟) مفصلاً بمقدار علمی و ادارکی بالعناية و بالمدد و بتوفيق الله باحدي و عشرين فصلاً و صميتها مقصود المؤمنين و يکتب فيها متصل (؟) موافق حديث و آيت لاجل ان يقرؤن و يذکرون و يعلمون به مؤمنون و المؤمنات..." [5]

د کتاب په آخر کي داسي ليکي دي: "تم هذه الرسالة مسمی بمقصود المؤمنين من تصنيف بايزيد الانصاري رحمة الله عليه بدستخط عبدالضعيف راجي الی سفاعة النبي صلی الله عليه و سلم منتها (؟) ولد اخوند شيخ نور محمد سکنه سرسنگه دلرگهر (؟) فی يوم اربع و عشر من شهر ربيع الثاني تحرير يافت سه ۱۲۲٤. که څه هم د کتاب په لوړه مقدمه

---

۱. ماثر الامراء ۲٤۸۲، د ديوان دولت ۲۲ ص خطي.
۲. دبستان ۲۵۱ص.
۳. د برکلمان ترتيب کړی فهرست ۲-۹۹۱.
٤. انسايکلوپيډي آف اسلام، ۱ ج د بايزيد ماده.
۵. دا مقدمه ماته گوډه عربي ده چي ادبي او گرامري مقياس نه لري.

کي ليکلي دي، چې ټول ۲۱ فصلونه لري؛ مگر په دغه نسخه کي دغه شل فصلونه راغلي دي.

۱. بيان العلم و معرفته و منفعه و النصيحه. ۲. معرفت عقل و نور و درجات. ۳. معرفة ايمان و اصل و فروغه. ٤. معرفة الخوف و عقوبته. ٥. علم و معرفت رجاء و عطايئه (؟). ٦. معرفة النفس و عداوته. ۷. معرفة الشيطان کيده و ضلالته. ۸. معرفة القلب و خصاله. ۹. معرفة الروح و راحته. ۱۰. معرفة الدنيا وصول و غربته (؟). ۱۱.معرفة الاخرة نعمائه و نقمته. ۱۲. معرفة التوکل و قناعت. ۱۳. معرفة التوبة. ١٤. معرفة الشريعة و اوامر او النواهي. ۱۵. معرفة علم الطريقت. ١٦. معرفة الحضور (؟) (يا حصور). ۱۷. معرفة فرضيه (ښه نه ويل کيږي) ۱۸. بصيرت...الروح ۱۹. الوصله، قرين و ذکر وصاله ۲۰. الوصلة و اسراره.

٥. فخر الطالبين:

په حالنامه کي کښلي دی، چې دغه رساله بايزيد ميرزا سليمان د بدخشان حکمران[1] ته هغه وخت وليکه، چې ده ټولو پاچاهانو ته له خپلي خوا د تبليغ او تلقين خطونه استول؛ مگر د دې رسالې کومه خطي نسخه تر اوسه چا ته نه ده معلومه.[2]

٦. خيرالبيان:

د پير روښان مهم کتاب چې د پښتو ادبي يوه غوره ذخيره ده خير البيان نوميږي چې راورټي يې نوم خوريان؟ هم ليکلی دی.[3]

د دبستان ليکوال وايي "و کتابي دارد خير البيان، و آن به چهار زبان گفته."[4] صمصام الدوله ليکي: "خير البيان وی نسخه ايست منتخب از اقوال اکابر سلف بر اثبات وحدت وجود."[5]

په اسلامي دائرة المعارف کي پر خير البيان هسي ليکي:

"دا کتاب څلويښت فصلونه و. حالنامه چې د اخوند درويزه په قول يې ځيني ټوټې په عربي او فارسي او ځيني په پښتو او هندي وي تذکره او يو څو برخي يې ملا ارزاني خويشکي د قصور هستيدوينکي چې د روښان خليفه و، ليکلي وې. کله چې روښان پر ځکندن پروت و؛ نو مريدانو ځيني خبري له ده څخه وپوښتلې، ده وويل چې هر څه ما ته معلوم وه، هغه مي په خيرالبيان کي ليکلي دي. اخوند درويزه وايي، چې د خير البيان ځيني جملې بې ربط او بې ترکيبه دي (تذکره) خو مريدانو يې دا کتاب د ده له الهاماتو څخه مقدس گڼه او هغه يې تر دې حده ساته، چې عمر د ده زوی په يوه

---

۱. ميرزا سليمان د خان ميرزا (جان ميرزا) زوی و او دغه خان ميرزا د بابر اکا کيده، دغه پلار او زوی د بابر او همايون په وختو کي تر ۹۲۰هـ وروسته د بدخشان او د افغانستان د نورو ځايو حکمرانان وه او سليمان په ۹۹۷هـ د عمر پر ۷۷ کال په لاهور کي وفات شو. (اکبر نامه ۲–۵۱۵–۵۵۱) دا شهزاده د فارسي او ترکي شاعر او تخلص يې ذکا و، دا بيت د ده دی:

دلم بگرفت از کار جهان ساقی بده جامی   که يک ساعت بياند اين دل سرگشته آرامي

۲. انسايکلوپيډی آف اسلام ج۱.

۳. د پښتو گرامر مقدمه.

٤. دبستان ۲۵۱ص.

٥. مآثر المراء ۲ج، ۲٤۳ص.

جنګ کي خاص د دې لپاره معطل و، چي د خير البيان نسخه يو ځای ځنی پاته شوې وه او د هغې تر راوړلو لپاره په جنګ ځای کي ولاړ و (حالنامه).[1]

ارازني پخپلو اشعارو کي دا کتاب د ديوان په نامه يادوي، چي په څلورو ژبو و:

د فقير پښتو ديوان دی	دا ديوان حقاني خوان دی
دی ريخته په څلور ژبي	دي بيان په څو الوان دی
دا کلام د هغه دل دی	چي د عشق پر اور بريان دی[2]

د روښان بل مريد دولت داسي وايي:

په څلور لفظه يې خير البيان روغ کا[3]	موافق شو په آيات په حديثونه

دا بيت ښکاره کوي، چي روښان بل ديوان نه درلود؛ خو د ده په څلورو ژبي کتاب هغه خير البيان دی، چي اوس د دې کتاب نسخې خورا لږ دي او فقط يوه نسخه يې د جرمني د ټوبنګن په کتب خانه کي شته، چي ما يې ذکر دمخه کړی دی. د دې کتاب متن پښتو دی او په منځ منځ کي د قرآن شريف آيتونه، يا ځيني احاديث او عربي مقولې او د اسلافو خبري په عربي را نقل شوي دي او د دغو عربی برخو ترجمه په فارسی ژبه پر حاشيه په يوه بل خط چي د اصلي متن خوط نه دی، ليکلی شوې ده او د کتب په ابتدايي څو مخو کي ځيني جملې د پنجابي ژبي هم شته، چي دا به ضرور د پنجابي هغه لهجه وي، چي په جالندهر کي ويله کيده؛ ځکه چي بايزيد او د ده کورنۍ په هغه ځای کي اوسيده او ده به په کوچنيواله کي ضرور هغه لهجه زده کړې وي؛ مګر دغه پنجابي او هندي جملې د کتاب په لومړيو مخو کي ډير لږ دي.

کتاب داسي ختميږي:

هر آن حرف کز قلم رانده ام	بخوننا بها ديده را مانده ام

"تمت تمام شد خير البيان بروز چهار شنبه به وقت عصر بتاريخ بيستم ماه مبارک رمضان براي عصمت پناهي بی بی خير خاتون. کاتب فقير بهارتوني (طوسی يا تونی؟) موريد (مريد) پير روښان رحمة الله عليه، هر که ختم کند کاتب را بفاتحه ياد دارد.. سنه ۱۰٦۱.[4]

د خيرالبيان نمونې

د خيرالبيان دغه نسخه چي اوس شته او يو عکس يې دلته را رسيدلي دی، خط خو يې نستعليق او ښه دی، مګر د املا د بيلتون له جهته يې لوستل لږ څه مشکل دي او ډير دقت او غور غواړي.

زه به دلته له دې کتابه يو څو نمونې د پير روښان د پښتو نثر د سبک د ښکاره کولو دپاره را واخلم او په اوسنۍ املا به يې له توضيحاتو سره وليکم، چي ښاغلي لوستونکی د ده نثر او د ليک ډول پخپله ولولی او وګوری چی د دې نثر د سليمان ماکو له نثره څوني فرق دي.

---

۱. انسايکلوپيډي ج ا.
۲. د ارزاني قلمی ديوان.
۳. د دولت قلمي ديوان.
٤. خير البيان ورق ۱٦۵ خطي.

(په دې نمونه کې چې کوم اوړده اوړده عربيات راغلی دی، د هغوی پر ځای مې (...) ټکي ايښي دي.

د کتاب پيل (ورق ۱):

په نامه د خدای چې بخشاينده دی مهربان، معني په نامه د خدای په خدای دی عيان:

آغاز د کتاب: ځما ډير ستور[۱] صفت وکښه، خوشي مي پيدا شي چې ځما ډير ستور صفت وايي آدميان.

گوره! ځما تسبيح وايي چې ځما په مزکه کي دی په آسمان.

نشته هيڅ بيرون چې ځما تسبيح وايي، ته باور کړه په دا بيان.

يسبح لله[۲] مافي السمواة و ما في الارض په قرآن کي دی عيان.

کل شي، قال تسبيح الرحمن[۳]، هادي ويلي دی، رحمت د خدای په ده دا کلام زه عامي ميږه يم، په څه[٤] ستا ډير ستور صفت وکښم او سبحان! ... ته دانا بې او خالق يې د مخلوقان.

ته ژغوروې[٥] واړه مخلوقان او ژغورول دي[٦] چې لا دوی[۷] پيدا شوي نه و عيان.

و ربک علی کل شئ حفيظ[۸] په قرآن کي دي عيان.

عالم و حافظ کل شيئ کان سبحان.

هادي ويلي دي رحمت د خدای (په ده) که دريابونه شي څو پکړندر[۹] د مخلوقان ترو واړه دريابونه توری شی يا که له دغو[۱۰] بکړندر (؟) زيات شي اويا زره کاتبان يا که له پکړندر (؟) زيات شی، د هر کاتب اويا زره قلمونه شي بيگمان وکښي[۱۱] او تمام به نه شي ستا د ستوری[۱۲] ثنا خبري، که د کښل په بهنه.

قلمونه مات شي او توري شي تمام...

---

۱. دا کلمه اوس موږ ستر ليکو، د بزرگ او لوی په معني.

۲. اصل تسبع؟ دا آيت قرانی دی، قرآن، سورة التغابن، آيت او معنی يې په حاشيه کي داسي په فارسي ليکلې ده. بپاکی ياد ميکند مر خدايرا چيزی که در آسمانها و زمين هاست.

۳. حاشيه: هر چيز ميگويد تسبيح پروردگار.

٤. اصل: پسه.

٥. اصل: تبزغروې.

٦. اصل: اوړغرده.

۷. اصل: چي لا دويوه.

۸. حاشيه: پروردگار تو بر هر چيز نگاهبان است و نگاهدارندۀ هر چيز است.

۹. دا کلمه په دغه شکل څو واره تکرار شوې ده، چې معني يې (عدد، شمار) دی، مگر ما ته د دې ريښه او اصل په پښتو کي نه شو معلوم ښايي (په) بيل وي او (کړندر) بيل او ممکن ده چې د پښتو گڼل، گڼه، گڼو (شمردن) سره ربط ولري؛ ځکه چې دا کلمات کله (کړل، کړه، کړون) هم ويل شوي دي اما وروسته (ندر) نه معلوميږي، چې څه شی دي؟

۱۰. اصل: کلدغو.

۱۱. وکښي: نوشته شده.

۱۲. ستوری ستري: يعني لوړې.

ولو انما في الارض من سجرة اقلام و البحر يمده من بعده سبعة ابحر مانفدت كلمات الله (ان الله) عزيز حكيم[1] په قرآن کي دي عيان.

يا ستا ډير ستور صفت هورې دي[2] پکړندر (؟) چي پتا معلوم دی او سجان ان الله کان علی کل شئ حسيبا[3] په قرآن کي دی عيان.

لا احضي ثناء عليک انت کما اثنيت علی نفسک[4] نبی ويلي دي صلی الله عليه و سلم. وکنبه پدا کتاب صلوة په خاتم د انبيا چي محمد دی (ع–م).[5]

او په واړه پيغامبران چي د ديو دي پسروان.

وسلام علی المرسلين و الحمد لله رب العالمين[6] په قرآن کي دي عيان.

ومي که رحمت او برکت په تا او ستا په پسروان په محبان، چي دي نغوړي[7] پدا زمانه، په تا دي وي اعلام ...

و کنبه خير البيان، چي يې لولي آدميان، په هغه هسي الحان، چي يې[8] لوست سورت د الرحمان.

زه عاجز بنده عامي يم، خپسر[9] و تاوته گنهگار او بد کار گڼم له واړه گنه گارانو له بد کارانو د محمد په امت کي عليه السلام.

ولي اميدواري مي ستا ونبيگړې[10] و رحمت و بخشش وته ده، را وبخښه و ما وته او ځما و يارانو فرمان برادرانو و محبتي وته گناهان.

بل مي زړه قرار شي او ستا و کلام وته وزگار شي – او سبحان! ...

تا زده چي په ما پوري مسخرې که او راپوري خاندي ځما په کنبل او ځما په لوستن پوري ځيني ادميان.

را حواله کړه و ما وته هغه چاري چي ځما پکنبي ډيري ښيگړي او ستا خوښي وي (چي) نه مسخرې که نه راپوري خاندي...[11] ادميان او بايزيده! شرم دي نشته چي د پوري مسخرې که، يا درپوري خاندي او نه نقصان د ايمان.

---

١. حاشيه: و اگر باشد آنکه بتحقيق هر چيزی که در زمين است از جنس درختان قلمها و دريا سياهی شود حال آنکه بعدد هفتاد دريا ديگر مثل اين دريای موجوده باشد، تمام نشود سخنهای صفتهای کلام الله تعالی و بدرستي که خدای غالب است و حکيم است آيت ۲۷ سورهٔ لقمان.

٢. هوی دی: هغه دی او هغوني دي.

٣. حاشيه: بتحقيق هست الله تعالی بر هر چيز دانا ... آيت شريف دی.

٤. حاشيه: طاقت ندارم اي پروردگار ستايش گفتن بر تو چنانچه ستايش کردي تو بر خود.

٥. د عليه السلام مخفف توری دی.

٦. حاشيه: سلامتی است از جانب خدای تعالی بر پيغمبران مرسل و ستايش و ستوده گيها ثابت است مر خدای را که پروردگار عالميان است.

٧. نغوړي دا کلمه وروسته تکراريږي، معني يې (شنونده) ده، له نغوړل (شنيدن) څخه.

٨. اوس وايو چي به يې لوست.

٩. خپسر: خپل ځان.

١٠. اصل ستا و ښيگړو رحمت.

١١. دلته يو توری نه ويل کيږي.

گوره! هسي يې مسخرې کړې او خندل يې ځما په پيغامبرانو، په اولياګانو پوري له تا وړاندي ادميان...

و تا مي عقل درکه، و دې ليده، و دې پيژانده د ده په رڼا رښتيا دروغ، امر، نهي، حلال او حرام.

ترومي ننيوست ستا په زړه کي ډار، اميدواري. په هغه بهنه دي کړي چاري د اسلام، د چاري په بهنه دي لار بيامونده او هر مقام. ترو حکمت مي درکه او اجتهاد او نور د الهام و هر چا لره چي مي حکمت ورکا، و هغه مي ډيري ښيګړي ور کړې عيان.

يوتى الحکمة من يشاء و من يوت الحکمة فقد اوتي خيراً کثيراً[۱] په قرآن کي دي عيان. فعل الحکيم لايخلو عن الحکمة[۲] نبي ويل دي عليه السلام.

ورق ٦:

مرګ به ورشي و سړي وته ننګهان[۳] نشته د سړي په دنيا کي تل د تله مقام. ګوره! د دغي زمانې ادميان غواړي دنيا او هر چي پکښې دي پې مشغول دي ډير ادميان.

ځيني په کرل يا په بازرګاني يا په پوندګلي[٤] يا په ترکښ[٥] باندي، ځيني په نور نور چار مشغولي که ادميان. يعلمون ظاهراً من الحياة الدنيا و هم عن الاخرة هم غافلون[٦] په قرآن کي دي عيان...

مرګ به ورسي و سړی وته ننګهان. نشته د سړی په دنيا کي تل د تله مقام.. ځيني سړي هسي ګڼي چي لويه عزيزي په ډير مال، په زهوزاد[۷] يا په ډيره دنيا ده، چي بد بيهوده په زور وايي. نده ځما خوښي چي بد بيهوده په زور وايي ادميان.

لايحب الله الجهر بالسوء من القول[۸] په قرآن کي دي عيان البلاء مؤکل بالقول[۹] نبي ويلي دي عليه اسلام.

مرګ به ورشي و سړي وته ننګها، نشته د سړي په دنيا کي تل د تله مقام. يا هسي ګڼي چي لويه عزيزي په ننبت[۱۰]

---

۱. حاشيه: و ميدهد حکمت و علم شرعيت و معرفت، هرکسي را که ميخواهد، و هرکرا داده شد علم شريعت و معرفت، پس بتحقيق داده شد نيکي بسيار. آيت ۲٦۹ سورة البقره.

۲. حاشيه: کردار حکيم خالي نيست از حکمت. دا غالباً عربي مقوله ده.

۳. کذا، معني يې هغه ناګهان دی.

٤. پوندګلي: شباني او کوچي توب.

٥. دا کلمه په خير البيان کي مکرره ده، چي په اوسنۍ املا تورکش ده، يعني توري کښونکي او شمشير باز د قديمو آريايانو کشتري چي په ويدا کي دی، هم (کش توري) و او د زړې پارسي او اوستا خشتر هم له دغي ريښې څخه دی، چي د مارکوارټ په قول د کشور، شار، شاه، ريښې هم له دغي څخه دي: دا کلمه د اباسين د هندپه په يوه سنسکريت کتيبه کي چي په مسيحي (۷-۸) پيړۍ کي ليکلې شوې ده، (تورشکه) راغلې ده (کابل د پرنس تاليف، ص ۱۲۰) نو کشتري، خشتري، تورکش د جنګي خلکو او عسکريانو ډلي ته وايي، چي حکمرانان او پاچاهان وه.

٦. حاشيه: مي دانند ايشان آنچه پيدا است از زنده ګاني کمينه و حال انکه از آخرت ايشان غافلند آيت ۷ سوره النساء.

۷. زهوزاد: اولاده او کورنۍ.

۸. آيت ۱٤۸ سوره النساء.

۹. حاشيه: هر بلائی که فرود می آيد از ګفتار بد. دا حديث طياليسي روايت کړي دی (کنوز الحقائق د سناوي).

۱۰. ننبت: جګړه.

ده، د قهر په رانل[1] ده، د تيغ په وهل ده، چي وژني آدميان.

گوره! دا هسي چاري دي حرام، خذالعفو و امر بالمعروف و اعرض عن الجاهلين[2] په قرآن کي دي عيان...

مرگ به ورشي ننگهان. نشته د سړی په دنيا کي تل د تله مقام. يا هسي گڼي چي لويه عزيزي په زورکاري، په غلا، په طمع، په کاسيري[3] په ناداني ده په گناهان...

مرگ به ورشي و سړي وته ننگهان نشته د سړي په دنيا کي تل د تله مقام، يا هسي گڼي چي لويه عزيزي په اسراف[4] په وراني، په بد فعلي په ميرڅي کي ده. ميرڅي به نه وي بيرون له نوسه لشيطان، و لاتتبعوا خطوات الشيطان[5] بيان دی په قرآن...

ووايه چي مرگ دي ډېر يادوي آدميان او يادوي دي عذاب د ځانکدن چي روح يې به وزي[6] له تنه د آدميان...

تر سکارانو نخښنه هغه ده چي ليري به اوسي ځما د ډار په بهنه له واړه حرام، د محبتي نخښنه هغه ده چي هر چاره به که زما د محبت په بهنه ځما په ورمندن[7] ځما د طلب او د پيژندگلي دپاره به ښه چاري که په اندام...

ترو ستا به وي چي يادکړې عذاب د ځان کدن، د پوښتني د گور، د قيامت يادکړه نامه او تله[8] او عذاب د اور و آدميان. بل ليري اوسه د هر مقام له واړه حرام...

گوره! د ځانکدن عذآب هغه دی چي د گناه گار، ځانکدن شي و ده ته به د ځان کندن په وقت د قهر فرښته له هيبته سره د ده د روح د وکښول دپاره ورستوم چي روح يې په گرانئ وکاږي د ده له ځانه عيان...

د ځان کندن عذاب يې يو ساعت د ده په نظر څوکاله کړم، يوکال به څو د دنيا زرکاله وي او درد به يې هسي وي، چي څوک پوست کاږي د ژوندي حيوان يا به زيات وي له هغه د ځني آدميان، چي مرگ ور نژدې شي، ترو به وايي گنه گار، زار شه په ما چي ولي مي عذابوي سجان؟...

ترو به و خپلو فرښتو وته وکړم فرمان، چي وايي وگناه گارو ته چي تا نه لوست کتاب د خدای؟ چي دي لوست، چار دي نکړه په کتاب د رحمان؛ ځکه دي دا عذاب مندلي دي عيان...

ترو به د هغه پس عزرائيل په قهر ورته گوري، ترو به هسي ورته وايي: او بي نمازه روحه له دغه بې نمازه تنه راووزه، ترو به يې روح راوباسم پخپل فرمان، د ده له تنه، ترو به يې په عذاب کي باسم په تادي وي اعلام...

---

۱. رانل: راندن.

۲. حاشیه: پیش بگیر تو درگذشتن را از خطای آدمیان و امر بکن بکار نیکي و روی بگردان تو یا محمد از جاهل نادان. آیت ۱۹۹، الاعراف.

۳. کاسیری: زنا کاری.

٤. اصل: اسرف؟

٥. حاشیه: پیروي نکنید ای مسلمانان قدمهای شیطان را. آیت ١٦٨، سورة البقره.

٦. په اوسنئ ژبه، چي روح به يې وزي.

۷. دا کلمه په خير البيان کي مکرره د "امر، طلب، لازموالي" په معني راغلې ده ښايي چي له ور+ مندل = ورمندل څخه مرکبه وي.

۸. تله: ميزان.

د شریعت د طریقت د حقیقت د معرفت بیان

ورق ۳۹:

گوره: د شریعت پوه مي د پیغامبرانو گفتار کړي دی، او بنیاد د اسلام بنیاد د مسلمانۍ روا کلمه د شهادت کړې ده چي ربښتیا اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمداً عبده و رسوله وایي په ژبه په زبان عیان. او روا لمونځ شپه ورځ، پنځه وخته دی د زړه په حضور د جنان... او روا روژه لکه روژه د انبیا د اولیا او چي د دوی دي پسروان، روژه د ماه رمضان... او روا زکات د مال، د تن دی د ایمان...

او روا حج چي زیارت د خلیل د جلیل د کور که هر چي طاقت[1] لري عیان... کلمه د شهادت مي د هغو روا کړې ده، هر چي یې نمونځ، روژه، زکات، روا دي له آدمیان.

نمونځ، روژه، زکات، حج عبادت مي د هغو روا کړی دي، چي یې که بې غفلته بې حرام. چي یې ځما په پیژندگلۍ، په یاد، د زړه په حضور ئې وي په دین د اسلام...

گوره تن د سړي په زهر ومري او ایمان یې په حرام، نه به وي د ادمیان، چي وژني ایمان، په چار د حرام. زه نه قبلوم بندگي له حرامو سره د ادمیان. هر چي یې رضا[2] وي چي په ربښتیا ځما په بندگي کنبیوزي ترو د ده به وي په هر مقام کي دی لیري اوسي له واړه حرام.

ورق ٤١

د نمانځه د فرض د واجب د سنت دی بیان:

د فرض زده کول فرض، د واجب واجب، د سنت د ادا کول دپاره سنت دی په ادمیان...نمونځ بې اودسه او اودس بي استنجا روا ندی. که د استنجا ځای له درمه زیات پلیت وي عیان.

د اودس وړاندي ستنجي[3] فرض ده او له نمونځ وړاندي اودس فرض دی، ښه چار هغه ده، چي هره چاره د هغې چاري په مهل[4] چاره که آدمیان...

ترو به وي چي فرض، واجب، سنت د سنتجي، د اودس له فرض له واجب د سنت، له ادا کولو وړاندي ادا که او مکروهات دي یې مکروه لري. او فرص، واجب، سنت د اودس، د نمانځه له فرض له واجب او د سنت له ادا کولو وړاندي ادا که آدمیان...

ورق ٤٥:

گوره د مخ جاریستل د نمانځه دپاره و کعبې[5] وته شرط او حکم دی په شریعت کي او په طریقت کي د زړه د مخ جاریستل دي په اخلاص دورمندن[6] د اسلام. او په حقیقت کي د زړه د فهم جاریستل دي او ذکر خفي و فکر دایم مدام.

---

۱. اصل تاقت.

۲. اصل: رزا.

۳. کذا، مطلب استنجا ده.

٤. مهل=مهال یعني وخت.

٥. اصل: کعبه وه.

٦. ورمندن: طلب، حکم، امر.

او په معرفت کي جاریستل د روح دي ځما و یګانګي وته، د قرار و راحت وته دي د آدمیان.

ورق ۵۷:

پریښون[۱] او خوله د سړي، د جنب د حایض د نفسا[۲] پاک، د کافر یا که وي مسلمان هسي لکه پریښون او خوله د حلال حیوان. که هغه پلیتي وي چي څرګندیږي لکه وینه یا زوغل[۳] په لیري کولو یې[٤] پاک شي عیان.

بیرون چي اثر یې پاته وي نه پرې کیږي، یا هغه پلیتي وي چي نه څرګندیږي لکه متیازي، یا په شراب یا په نور هسي پلیتي پلیت وي، په درې واره وله پاک شي، یا هونبره پریونځي چي زیات ګمان د پاکۍ پیدا شي د آدمیان...

که پلیتي په موزه یا پیزار وي، تر څو درم ورسي، که وچ سي، په مزکه یې ومیږي، نمونځ په روا دی د ادمیان.

له لرګین یا خورین کالي[۵] پوزی یا پلاس یا نور هسي کالي پلیت شي، په درې واره، هسي وله پاک شي، چي په هر واري څاڅکي ودري عیان.

که اسپرین[٦] یا سرولین[۷] یا دا هسي نور کالي یا تیغ پلیت شي، که یو وار یې پریونځي، پاک شي، په خاورو یا په ایرو یې ومږي، په تادي وي اعلام.

ورق ۷۹:

ګوره د عید د نمانځه دی بیان. په کم عید ثواب دي چي له نمانځه وړاندي وخوري له اتام[۸] ښه یا پاکه جامه دې واغوندي چي لري.

په تن او په جامه دي خوشبویي پوري که هر چي لري عیان...

مسواک او غسل دي وکه، سرسایه دي د عید له نمونځه وړاندي ورکه، د عید د مزدک په لار دي تکبیر په زوره وایي عیان.

نفل نمونځ د عید له نمانځه وړاندي، نه په کور نه په مزدک، دا ثواب دي د نمونځ کړوني، په تا دي وي اعلام...

د کم عید په نمانځه کي یوولس تکبیرونه دي، شپږ په وړمي[۹] رکعت او پنځهٔ په دوهم کي او واجب دي د ستر عید په نمانځه کي نه تکبیرونه دي، پینځه دي په وړمي رکعب وایي، او څلور په دوهم کي عیان.

هر چي د عید په نمانځه کښیوزي، تکبیر تحریمه او درې دي پس ووایي، لاس دي وړاندي لري، څو تکبیرونه که تمام.

دې پس دې سبحانک اللهم، ترو اعوذ بالله، ترو بسم الله ، ترو الحمد دي لسورة ستره ولولي، ترو دي تکبیر وایي،

---

۱. پریښون: پس خورده.
۲. نفاسأ: هه ښځه چي په نفاس کي وي.
۳. زوغل: حیواني فضله.
٤. اصل: بلوکولیي.
۵. کالي: دلته د مطلق متاع معني لري، لباس نه دی.
٦. په اصل کي دغسي لیکلي دي ښایي چه مقصد یې اوسپني شي وي.
۷. اصل کي دغسي لیکلي دی ښایي چي مقصد یې ځیني مسي شي وي.
۸. اتام، ډوډۍ او خواړه.
۹. وړمي: لومړي، اول د دې کلمې ریښه په وړمه شپه، لاته وړمه شپه کي هم شته.

رکوع دي وکه، ترو دي دوهم رکعت په لوستن آغاز که، چي له لوستن خلاص شي، ترو دي درې واره تکبیرووايي، ترو دي څلور تکبیر ووايي، په هغه دي رکوع که او نونځ دي که تمام.

ورق ۸۸:

روژه د رمضان له نیت سره فرض ده، که عاقل بالغ وي په امتي د محمد علیه السلام. روژه روا ده په نیت د شپې، که يي و هیر[۱] شي، نیت يې روا دی پخوا چي نور[۲] وجاوزي عیان...

د نیت وړاندي هسي وايي: یا خدایه! روژه مي در له تا لره، توکل باور مي په تا دی او ستا په رزق روژه کښایم[۳]، ترو دي څه وڅښي یا دي وخوري له اتام.

له کښایل پس دي نیت که چي ګوندي[٤] به فرض روژه لرم که خواست وي د سجان.

روژه له خوړو له څښو له سروتو[٥] منعي که بې شپځ ادمیان...

ما ته نشي فرض روژه نفل که په وهیره څه وخوري یا وڅښي یا صحبت که یا واچوي بیرون بقصت[٦] نه چي يې علت که[٧] شیطان.

چي پقصت وازجوي روژه يې ماته شي، یو دې قضا ولري ولي کفارت يې واجب نشي په تا دي وي اعلام.

په روژه د سر غوړول، د سترګي تورول د دنیا د ښایست دپاره بیرون د دارو، ناروا کښلول، د لوبي کړه لهغه، مکروه دي په ادمیان.

۱۰۰ ورق:

نوس اماره، لوامه، ملهمه، مطمئنه له خوی سره دي په ادمیان.

اماره ځای دي چي پکي اوسي شیطان، او لوامه ځاي دي چي پکي اوسي لښکر د شیطان، او ملهمه ځای دي چي پکي اوسي فرښتکان او مطمئنه ځاي دي چي پکي روح اوسي عیان...

ګوره لار د شیطان د لښکرو زړه وته و کیڼ رخ وته ده، په زړه کي و کیڼ رخ وته ننوزي، چي وسوس که په ادمیان، له لښکره د شیطان خناس الذي یوسوس في صدور الناس[۸] بیا دي په قرآن...

وریادوی لذت، شهوت، هوس د نوس و ادمیان.

په ښیګړي ور څرګندوي و دوی وته شیطان، و هغو چارو ته به يې لږي[۹] لښکر د شیطان، د شیطان د لښکر د نغوتي

---

۱. وهیر:هیر.

۲. نور: لمر.

۳. کښایل: کشودن.

٤. اصل: کهند؟

٥. اصل لسروة، چي غالباً به سروته وي د جماع په معني.

٦. په اصل کي دغسي دی، ښايي دا ترکیب د انزال یا جریان په معني وي.

۷. اصل غلتک.

۸. حاشیه: حناس آنکه وسواي میکند در سینهاي آدمیان، آیت سورة و الناس پاره ۳۰.

۹. لږي: یعني بیا يې له لښل څخه مشرق دي.

په بهنه د کینې لوري له یارانو شي آدمیان... گوره پسو[1] ور یادوي لذت، شهوت، هوس د نوس و ادمیان: کشگي ډېر مال د خرچي دپاره، یا دي ډېر ملک د کښت دپاره، یا دي ښایسته اورته په کور، یا برده یا آس وي، یا ځناوران، یا نور څیر د دنیا له ما یې ور یادوي و ادمیان...

گوره ښه آواز وغوړ، ښایست و سترگي، خشبويي و پوزي، او وخولې وته مزه د ځښنو د خوړو د اتام، ښه اغوستن وسله او پسول یا دوی و تن و اندام.

د کتاب خاتمه

ورق ۱۵٤ :

گوره کړي مي دی خیر البیان، په څلور ژبي، موافق له قرآن، پکي دي بیان د ربتیا د دروغ د حلال د حرام او بیان دي کړونکړ[2] د هر مقام. په تا دي وي اعلام.

گوره کړي مي دی خیر البیان کتاب، ټنگ دارو د سین، تندرستي د ایمان او ځراغ د ادمیان.

چار کړه په قرآن، په خیرالبیان او په هغه کتاب چي موافق دی له قرآن د تندرستۍ دپاره د زړه روح د ایمان.

او که چار یې نکړې، بخره دي نشته په خیر البیان.

ترو دی وشمیرې له ما چه پند ورکوي و ادمیان بې کردې د خیر البیان، گوره هر چي لولي خیر البیان، او بې چار کا ورته وښیم و ده وته څلور ژبي، خبر نه یې کړم د کړ د نکړ له چاري د هر مقام.

پناه به یې کړم د دنیا په ژوندون د نوس له بدۍ، د شیطان له مکره، له ورکوالي د ایمان... ترو به یې وباسم لمنکرۍ و باور وته، له گناهه ورمندن[3]وته، له غفلته و یاد مدام. له بیراهۍ و لار وته، له ناپوهۍ و پوه وته، له ړندوالي ولیده وته، له گنوالي وارویده وته، له جدايي و پیوستن وته او له شرکه و یگانگۍ وته، له نفاقه و اخلاص وته آدمیان.

گوره! هر چي لولي خیر البیان، او چار پي نکه، ورو به نه ښیم و ده وته څلور ژبي او خبر به یې نکړم د کړ د نکړ له چاري د هر مقام.

ولي پناه به نه مومي عذاب د ځانکندن، د گور، د قیامت، د اور او عذاب رنگارنگ عیان... یعذب الله الانسان بسبب العصیان وید خلهم في راحته بسبب الاحسان هادي ویلي دي رحمت د خدای په ده دا کلام (د کتاب ختم).

---

۱. پسو: داسي او پر له پسې.

۲. کړونکړ: امر و نهي.

۳. ورمندن: معروف، طلب.

د خیرالبیان موضوع او مباحث

د خیرالبیان ډېره برخه پښتو ده، د پښتو جملو په منځ کي د قرآن عظیم آیات او ځیني احادیث یا عربي مقولې د دلیل په ډول راوړل شوي دي او د قرآني آیاتو فارسی تحت الفظ ترجمې هم د کتاب پر حاشیه لیکلي شوي دي، فقط د کتاب په ابتداء کي چي د املا کومه رساله ده، په هغه کي د پنجابي لهجې ځیني جملې هم لیدلي کیږي.

د خیرالبیان مضامین ټول شرعي احکام او عقاید او د تصوف او اخلاقو مباحث دی، د حلال او حرامو بیان دی او دا ټول د حنفي فقهي له کتابو څخه را اخیستل شوي دي، لکه هدایه، کنز، قدري او نور.

پخپله روښان خیرالبیان داسي معرفي کوي:

ور کړی مي دي خیرالبیان، په څلور ژبي، موافق له قرآن، په کي دی بیان د رشتیا د دروغ د حلال د حرام او بیان د کړ و نکړ د هر مقام.[1] دا کتاب له لومړۍ پاڼې په حمد و نعت شروع کیږي او تر ۳۹ پاڼې پوري تحذیري خبري او اخلاقی تبلیغونه او له مرگه او د قبر او دوزخ له عذاب بیرونه ده. له ۳۹ پاڼې وروسته د شریعت او طریقت او حقیقت او معرفت څېړني دي.

د شریعت په برخه کي د اسلام د پنځو بناوه (توحید، لمونځ، روژه، زکات، حج) بیان تر ۹۸ پاڼې پوري بیانیږي.

بیا نو د طریقت او اخلاقو بیان (له ۹۹ پاڼې) او د حقیقت (۱۱۷ پاڼې) ذکر (۱۲۷ پاڼې) پیژنگلي او د کامل پیر متابعت (۱۳۱ پاڼې) زده او[2] چار د معرفت (۱۳۲ پاڼې) سماع (۱۴۲ پاڼې) قربت، وصلت (۱۴۳ پاڼې).

د خدای وجود په هر ځای او هر څه کي د وحدت وجود په ډول (۱۴٤ پاڼې) موحد (۱٦۵ پاڼې) سکونت (۱۵۲ پاڼې) او نور اخلاقي او د تصوف خبري دي او د توحید په مسئله کي البته ډېره شرح لري، چي دغه مشکله خبره یې په پښتو په اسانه ژبه بیان کړې ده او هر ځای یې د قرآن عظیم آیات او احادیث او د اسلامي بزرگانو مقولې د برهان په ډول ور سره را وړي دي.

د فقه د علم احکام دوه ډوله دي: یو عبادات دي او بل معاملات، عبادات هغه دي، چي په خداي او بنده اړه لري، یعني د بنده وظایف نسبت و خدای تعالي ته بیان شوي دي، چي لومړی رکن یې توحید دی، اما معاملات هغه احکام دي چي د بندگانو په بیني او اجتماعي روابطو اړله لري، لکه نکاح او نور معاملوي احکام په بیع و شري او نورو فردي او اجتماعي معاملاتو کي.

خیرالبیان له فقیهي احکامو څخه فقط د عباداتو خوا مفصله بیان کړي ده او داسي معلومیږي، چي دغه احکام یې له حنفي مذهبه را اخیستي دي د نورو مذاهبو احکام نشته، یعني دائمه وه اختلافات یې نه دي ذکر کړي، لکه د فقهي ځیني کتب چي یې راوړي. د خیر البیان بل مهم موضوع عقاید دي، چي په دغو کي د اهل السنه له عقایدو څخه کوم اختلاف نه ښکاري او د سنت د پیروانو په ډول یې بیان کړي دي؛ مگر د توحید په مسایلو کي لږ څه شرح کوي او داسي ښکاري، چي د توحید پر وجودي او شهودي لارو تللي دی او دا د تصوف یوه مهمه مسئله ده چي ډېر متصوفین دمخه هم پر دغه لار تللي وه او روښان د دغه مکتبو شاگرد دی.

بله برخه د خیرالبیان، په اخلاقو پوري اړه لري، چي اخلاق هم په دغه ډول بیان شوي دي؛ لکه اسلامي متصوفینو

---

۱. د خیرالبیان خطي نسخه، ۱۵٤ ورق.

۲. دا کلمه مکرره د زده کولو په معني راوړي.

چي بیانول. اساساً د ارسطو اخلاق له یوناني منابعو څخه اسلامي فیلسوفانو لکه ابن رشد،، ابن سینا، ابن مسکویه فارابي او نورو ترجمه کړل او د دوی د بیان ډول او ترتیب د ارسطو په ډول و.

مګر متصوفانو له اخلاقو څخه هغه برخه او هغه راز بیان غوره کړ، کوم چي د انسان په تزکیهٔ نفس او د طریقت په طي کولو پوري اړه لري، مثلاً دوی صبر، تواضع، توکل، جود، حلم، عفو، محبت، توبه، رضا، عزلت، تجرد او نور نور لازمه عناوین چي د یوه سالک لپاره ضرور وه، په اخلاقي ابحاثو کي غوره کړل، چي د لومړي ډول کتب د ابن سینا تدبیر منزل او د ابن مسکویه تهذیب الاخلاق او د الفارابي المدینة الفاضله او نور دي؛ مګر په دوهم ډول کي د ابن عربي فلسفة الاخلاق او د امام غزالي احیاء او کیمیای سعادت او منهاج العابدین او د علي هجویري غزنوي کشف الحبوب دي.

د خیر البیان اخلاقي برخه هم په دغه دوهم ډول ده، یعني د الغزالي او هجویري او ابن عربي په ډول د اخلاقو او ښو خویونو بیان او تفصیل دی، نه په فیلسوفانه او حکیمانه ډول، چي د ارسطو د بحث و بیان لار وه.

روښان په خیرالبیان کي په داسي ډول خبري کوي، لکه خواجه عبدالله انصاري هروي چي کوم مخاطبات له خالقه سره لري او دغه د بیان هغه ډول دي، چي د ده معاصر علماء یې نه خوښوي او له ده سره اختلاف لري. اخوند درویزه او د ده ملګري، چي د روښان پر خلاف کومه وسله استعمالوي، هغه هم دا ده، چي دا بنده له خالقه سره خبري کړي، او په هره مسئله کي له خالقه څخه په (او سبحانه!) سوال کوي او بیا یې جواب په (او بایزیده) سره وایي.

دغه ډول مخاطبه او شرح یقیناً یو نوی کار دی چي پیر انصاري هروي یې هم د علماؤ په مخ کي بدنام کړی و او دی یې (ولي ګستاخ) باله، مګر که موږ د خیرالبیان ابحاثو ته ځیر شو، هلته یو بحث او موضوع چي خلاف شریعت وي، یا د اسلامي متصوفانو او متقدمانو پر کتابو کي نه وي، نه دی راغلي، له دې جهته پر پیر روښان او د ده پر ملګرو د الحاد او تکفیر حکم کول، ګران کار معلومیږي او ښایي چي د هغه وخت علماء هم د اخوند درویزه په ډول، ټول د ده مخالف نه وه؛ ځکه چي د ده د خیرالبیان مضامین ټول هغه ابحاث دي، چي د فقهي، عقاید، اخلاقو په کتابو کي د اهل السنه و الجماعه له خوا دمخه لا نوشته شوي وه او ده فقط په پښتو را اړولي دي.[1]

---

۱. پر پیر روښان باندي ځیني تهمتونه هم ویل شوي دي، چي خلکو مشهور کړي دي مثلاً په پیښور کي دغ خبري شهرت درلود، چي روښان به ویل: ښځي دي ګلونه چهي هر څوک یې بویوینه، یا چرګ یو مارغه دي چا چي ونیو د هغه دي. له دح جهته نو ملایانو دی د اباحت په تور نیولی دي؛ مګر دا خبري الحاي او تهمت ښکاري ځکه لومړۍ پښتو مقوله د دغه عربي بیت ترجمه ده، چي ابن فقیه همداني په ۲۹۰هـ پخپل کتاب کي راوړي دی:

ان النساء ریاحین خلقن لکم　　　　و کلکم یتقي شم الریاحین

(کتاب البلدان د ابن فقیه د لیدن طبع ۱۳۰۲ ٤٤ خ)

له دې څخه ښکاري، چي په روښانیانو پسې یو عمومي پروپاګند د سیاسي اختلاف په وجه له شاهي درباره روان و چي دوی د الحاد او اباحت په تور بدنام کاندي. دې خبري ته سر اولف کارو په لطیف ډول اشاره کوي، چي روښان خو د سیاست لپاره ''پیر تاریک یا ملحد و ببلل شو''؛ مګر د هغه وخت پاچا اکبر خو پخپله هم د دغه نامه مستحق و؛ ځکه چي هغه هم یو نوی ۰دین الهي) را ایستلی و! (پټهان ۵، ۱۹۹ص).

الف: عرفان او تصوف:

د بایزید عرفاني او سیاسي افکار

بایزید اهل السنه حنفي متصوف سړي و، چې د ده دیني اعمال پر حنفي مذهب برابر وه او د حنفي فقهي له کتابو سره سم یې په خیرالبیان کې دیني احکام او عبادات بیان کړي دي.

د ده په عصر کې د پښتنو اسلامي اعمال او عقاید دوه اساسه لري چې لومړی اساس یې اسلامي فقه او حنفي مذهب دی، دوهم اساس د اهل السنه عقاید او د تصوف د امامانو اقوال او اعمال دي، چې دا هم له اسلامي نصوصو سره موافقت لري او د تصوف د لویو بزرگانو لکه (شبلي، جنید، بایزید) او نورو بزرگوارانو پر اعمالو او اقوالو بنا دي؛ خو ظاهري علماء هر کله له دې ډلې سره اختلاف لري او دا د اختلاف هنگامه له پخوانۍ زمانې څخه توده ده، نوې هنگامه نه ده. شیخ شهاب الدین مقتول سهروردي، حسین حلاج، حتی لوی شیخ ابن العربي چې پر دغه لار تله، د ظاهري علماوو له خوا محکوم او مقتول یا د اعتراض هدف و؛ نو اخوند درویزه او د دوی ملگریو پر پیر روښان او روښانیانو باندې هم اعتراضونه کړي دي او له دوی سره یې معارضې او مشاجرې درلودې، دا خو نوې خبره نه ده، ډېر سوابق لري او د اسلام تاریخ په داسې وقایعو ډک دی.

د روښان پر تصوف باندې مفصل نظر او د ده د طریقت او متصوفانه ژوندون تحلیل هغه وخت ممکن دی، چې خیرالبیان په انتقادي نظر وکوت شي او د ده د مخالفانو خبرې هم وکتلی شي.

اوس چې ما ته دغسې مطالعات میسر نه دي؛ نو زه لنډ لنډ ځیني مطالب د ده او د ده د شاگردانو له اقوالو څخه را اخلم، دا به یو ابتدایي بحث وي، ښایي چې کوم وخت دغه لنډ او مجمل بحث مفصل کړ شي او له علمي اساسونو سره سم د پښتو د تاریخ دغه تیاره گوټ روڼ شي.

لاندې د نمونې په ډول ځیني مباحث وگورئ او بیا به د روښان د شاگردانو او ملگرو په احوال کې هم د دوی عرفاني افکار در ښکاره شي (د دې کتانب دریم ټوک).

وحدت: په اسلامي صوفیانو کې د وحدت دوه مکتبه موجود دي، چې یو وحدت الوجود بولي او بل وحدت شهود او په پارسي عبارت د لومړي مکتب یو خلص سمبول "همه اوست" دی او د دوهم مکتب ډله "همه ازوست" خو اسلامي متأخرینو صوفیانو دغه دوهم مکتب "وحدت شهود" خوښ کړی دی او دوی وایي، چې له کتاب او سنت سره دغه دوهم فکر ښه او ډېر مطابقت لري او محقق علماء دا وایي، چې د وحدت وجود طرفداران هم معذور دي او د دوی اقوال او خبرې که ظاهراً له شریعته سره برابري نه کړي پیدا، باید تأویل شي او هغو بزرگانو ته بد و نه ویل شي.

علماء وایي: "توحید وجودي عبارست از اذعان وحدت در وجود، و توحید شهودي از وجدان وحدت در شهود، و تعبیر ازین توحید در فارسی بیک دیدن میشود و از توحید اول بیک موجود دانستن، و توضیح فرق میان هر دو آنکه معنی اول اعتقاد است بوجود حق تعالی با اعتقاد بعدم، غیر وسوای او تعالی، چه جمیع ما سوای حق تعالی بر مشرب وجود به معدوم محض و موهوم صرف اند، که از وجود و تحقق بهره ندارند، و معنی ثانی وجدان وجود حق تعالي است، فقط با عدم وجدان وجود از غیر او، و منشا این عدم وجدان نسیان ماسوای او تعالی است نه اعتقاد عدم آن"[1]

حضرت شیخ احمد مجدد سرهندي وایي: "مسئلۀ وحدت وجود هر چند بظاهر مخالفت بمعتقدات اهل حق دارد،

---

۱. رساله خطي توحیدین محقق قندهاري ۲۲۷ص.

اما قابل توجیه است و شایان جمع، این فقیر بعنایت الله سجانه در شرح رباعیات حضرت خواجه باقي بالله قدس سره این مسئله را بمعتقدات اهل حق جمع ساخته و نزاع فریقین را بلفظ عاید داشته و شکوک و سبهات طرفین را حل ساخته، بنهجی که محل ریب و اشتباه نمانده، کمالا یخفي علی الناظرفیه...''[1]

له دغو روایاتو څخه تاسي معلومولاي شواي: چي د اسلامي پوهانو او محققانو افکار د وجود او شهود په باب څه دي؟ او محتاط علماء لکه حضرت محدد رضي الله عنه څنګه د دغو اقوالو سمونه او تلفیق له اسلامي روایاتو سره کوي.

روښان هم د وحدت په خصوص کي ښه بیانونه په پښتو لري او ډېر ځله د قرآن شریف د نصوصو ترجمه ده، مثلاً د قل هو الله احد مقصد داسي شرح کوي:

''ما هر چیز له خپلي هستۍ د خپلي هسۍ دپاره یو یو کړی دی، په هر یو که زه یو خدای یم بیګامان +د ترو بویه چي ځما د یګانګۍ یاد کا، هر یو چي ووینې آدمیان''.

دلته د ''همه اوست'' شرح ده او هر شي د یوه واحد لاشریک مصنوع دی، او هر انسان چي د شهود سترګي لري، باید په هر شي کي د لوی خدای صنعت او قدرت ووینې.

د الله الصمد لم یلد و لم یولد... الخ... پښتو شرح داسي کوي:

''زه هغه بې پروا یم، چي هر چار تل بې شریکه بې مله بې کالی کړم،... نشته ځما پلار، زهمن نه خور، ورور...''.

صوفیه وایي: چي الله تر هر څه انسان ته نزدې دي او هر کله حاضر او ناظر دی، په قرآن شریف کي راغلي دي، نحن اقرب الیه من حبل الورید، روښان په پښتو هسي وایي: ''زه یم په آدمي کي، ځما هستي په چارسون د ادمیان، زه نژدې یم و آدمیان وته له ځان...''.

د دې خبري شرح ارزاني د روښان شاګرد هسي کوي:

د ثبات په سراي دننه — غیر نشته الا الله
یو الله دی وړاندي بیارته — ښي او کیڼ ته و بلا
د مولي په یاد کي اوسه[2] — په ملا هم په خلا

دولت لوربني د روښان بل شاګرد وایي:

هر چي نوش د وحدت مي کا — د خودۍ مرکب به پی کا
یو دیدن به د دوست ویني — هر نظر چي پر څله شي کا[3]

بحر وجود:

صوفیه پر ''وجود'' ډېر عمیق ابحاث لري، د روښان په تصوف کي هم دا خبره ډېره څېړل کیږي، آیت شریف ''ان الله محیط بالعباد'' په پښتو هسي شرح کوي:

''کب چي په اوبه کي ګرځي مخ یې و اوبو ته شي، هسي هر لور وته چي و جاروزي، مخ یې و ما وته شي د آدمیان... آدمیان ځما په هستۍ کي دي، ځما هستي ده په آدمیان''.

---

۱. مکتوبات حضرت مجدد؟ مکتوب ۲٦٦.
۲. د ارزاني قلمي دیوان.
۳. د دولت قلمي دیوان ۲۵ ص.

مولانا رومي وايي:

هستيت در هست آن هستی نواز — همچو مس در کیمایا اندر گداز
بحر وحدانیست جفت و زوج نیست — گوهر و ماهیش عبر از موج نیست

مولانا جامي په لوايح کي وايي:

بحريست وجود جاودان موج زنان — زان بحر ندیده غیر موج اهل جهان
از باطن بحر، موج بیني گشته عیان — بر طاهر بحر، بحر در موج نهان

خواجه عبدالله انصاري هروي لا دمخه ويلي دي:

عشق آمد و شد چو خونم اندر رگ و پوست — تا کرد مرا تهي و پر کرد ز دوست
اجزای وجودم همگي دوست گرفت — نامیست زمن بر من و باقي همه اوست

همه ازوست:

آيه شريفه ده: هو الاول و الاخر و الظاهر و الباطن. مولانا جامي رحمة الله د دې په شرح کي وايي: چي حقيقت الحقايق خو ذاتاً واحد دی، هلته شمير او عدد لار نه لري؛ مگر په تجلياتو او شئونو کي کثير او متعدد دی، د عين وحدت په لحاظ حق ورته وايي او د ظهور او تعين په لحاظ يې ”خلق“ بولي؛ نو ظهور، بطون، ازليت، آخريت ټول د هغه اعتبارات دي.[1] عرفاء او متصوفين په حقيقت کي وجود يو بولي، او نور يې ټول شئون او د صفاتو مظاهر گڼي (و مار ميت اذ رميت و لکن الله رمي) روښان د واجب الوجود صفات په پښتو داسي بيانوي:

؛هر علم ځما له علمه دی، هر نوم ځما له نومه دی، هر زور ځما له زوره دی، هر آواز ځما له آوازه دی، هر رنگ ځما له رنگه دی هر ستر او لوی ځما له لويۍ دی هر ښايست ځما له ښايسته دی، هره تياره ځمال له تاريکۍ ده، هره روښنايي ځما له روښنايۍ ده...زه له هر څه سره يو يم...“.

مولانا رومي دغه د وحدت مراتب هشی بيانوي:

او بصنعت آزر است و من صنم — آلتي کو سازدم من آن شوم
گر مرا ساغر کند ساغر شوم — ور مرا خنجر کند خنجر شوم
گر مرا چشمه کند آبی دهم — ور مرا آتش کند تابي دهم
گر مرا باران کند خرمن دهم — ور مرا نازک کند در تن جهم
ما چو نائيم و نوا در ما زتست — ما چو گوئيم و صدا در ما، زتست
ما چو شطرنجيم اندر بر دو مات — بر دو مات ما زتست ايخوش صفات!
ما عدم هائيم و هستيهای ما — تو وجود مطلق فاني نما
باد ما و بود ما از داد تُست — هستی ما جمله از ايجاد تُست

(مثنوی)

روښان د ټولو وجودي صفاتو منبع فياض خداي گڼي، او ټول مصنوعات د هغه د قدرت مظاهر بولي دی وايي په حقيقت کي اورېدل هم د ده له قدرته دي او د ”سمع“ صفت په مخلوقاتو کي يو مجازي شي دی، (هر آواز ځما له آوازه

---

[1] لوايح جامی ۲۵.

دی، ځما اواز دی اروی لکه اوریده به سامعان آدمیان: وگورئ عین دغه فکر د مولانای رومي په دغو بیتو کي:

آن چه باد است اندر آن خورد استخوان　　کو پذیرد حرف و صوت قصه خوان
استخوان و باد، رو پوش است و بس　　در دو عالم غیر یزدان نیست کس
(مثنوي)

ارزاني خویشکي چي د روښان له ملگرو څخه دی، هم داسي وایي:

چاري یو کننده کاندي　　آدم تشه بهانه دی
یو احد شو په څو نامه　　دا فلانه هغه فلانه دی
خلیفه يې د انسان کا　　دی پادشاه تر دا میانه دی
د زړه علم فقیر کنبلي　　په قلم دو زبانه دی[1]

ارزاني دا فیض او د وحدت د سر اصلي رمز له (فقیره) اخیستي و او فقیر د ده په اصطلاح بایزید روښان دی.

مشاهده او بې رنگي:

عارف هر کله گوري او د مشاهدې په جولان کي د مصنوعاتو او جهان تماشا کوي؛ مگر هر وخت له مصنوعاتو څخه صانع ته او له موجوداتو څخه موجد ته ځي، روښان وایي:

"په عارف واجد داورمندن دي، چي هيڅ له ما شریک نه گڼي، هر چي شته په دواړه جهان + په هر نطر د زړه سترگي و ما وته نظر که، په هر څه کې[2] دی ځما هستي بې رنگه ویني لکه لیده عارفان، زما آواز دی اروي لکه ارویده به سامعان آدمیان، او خوښ دي اوسي په دا هر حال په هر ځای مکان. نښان د عارف واجد دا چار ده په تا دي وي اعلام[3]. د مشاهدې دغه سیر د عارفانو په نزد داسي دی:

د حیوان تشخصات او تعینات چي لیري شي؛ نو له انواعو څخه فقط "حیوان" پاتیږي؛ نو که د حیواناتو ممیزات هیسته شي یو مشترک حقیقت "جسم" به پاته شي، بیا هم که د جسم تحلیل وشي؛ نو به "جوهر" باقي وي او که د جوهر او اعراضو ممیزات هم تحلیل شي؛ نو به مشترک اسم "ممکن" پاته شي، بیا که د ممکن او واجب ممیزات هم حل کړه شي، فقط "وجود مطلق" باتیږي او دا نو د ټولو ذواتو او صفاتو منتهي ده[4] او د مشاهدې اخرنئ مرحله هم دغه ده، مولانا جامی وایي:

تا چند حدیث جسم و ابعاد و جهات　　تا کي سخن معدن و حیوان و نبات
یکذات فقد بود محقق نه ذوات　　این کثرت و همی ز شئونست و صفات

مولانای روم هم د د مشاهدې مراتب چي په آخر کي بې رنگه هستي پاتیږي، داسي بیانوي:

صنع بیند مرد محبوت از صفات　　در صفات آنست کو گم کر ذات
واصلان چون غرق ذاتند ای پسر　　کم کنند اندر صفات او نظر

---

۱. د ارزاني قلمي دیوان.
۲. اصل: څښکې.
۳. خیرالبیان ۱۳۸ ورق.
٤. لوایح جامي، ۱۸.

چونکه اندر قعر جو باشد سرت کي برنگ آب افتد منظرت
هست بيرنگی اصول رنگها صلحها باشد اصول جنگها
صبغة الله است رنگ خم هو رنگها يکرنگ گردند اندر او

(مثنوي)

روښانيان په دغو مراتبو کي ډېر محتاط دي، چي په صفاتو او مصنوعاتو او تعيناتو کي پاتي نه شي؛ بلکي ”مطابق وجود“ او بې رنگه هستي وپيژني، ميرزا خان انصاري د روښان لمسی او د ده د مشرب مشهور سړی وايي:

که جهان د حقيقت په نظر ويني زيان و سود مي د هر چا له خپلي ميني
دانايان په هر ظاهر کي باطن گوري د جاهلو زړونه تور شوه سترگي سپيني

دولت لواڼي وايي:

د ديدار لذت چي مومي په نظر يې د جنت لذت به سهل بې مقدار شي
تر ابده به پرې مست وي بيخبر تل پرې يکسان نه غم خوښي ليل و نهار شي
د جنت پر حور غلمان به مينه نه کا چي ديدار ورته څرگند د پاک غفار شي
اې دولته! ته نظر پر غير مکړه د عارف د وړاندي درست جهان يو يار شي[1]

ذکر:

په تصوف او طريقت کي ذکر يو مهم موضوع دی او عرفاء يې داسي تعريف کوي چي د حق يادول دي، د ماسوی الله په هيرولو (و اذ کربک اذا نسيت) او بايد چي عارف دومري د حق په ياد مشغول شي، چي بې له خدايه نور هر څه هير کړي (اذکر الله بنسيان ماسواه)[2].

روښان ذکر ته پنځه مرتبې ښودي اول د بدن ذکر، دوم د اندام ذکر، دريم د ژبي ذکر، څلورم د زړه ذکر، پنځم د ساه ذکر چي د دغو شرح داسي کوی:

ذکر مي د تن، د اندام د ژبي د زړه، دسه[3]، کړی دي عيان.
د تن ذکر هغه دی چي تن و جار باسي له واړه حرام.[4]
د اندام ذکر هغه دی چي عبادت او ياري د ښيگړي که له آدميان.
د ژبي ذکر هوی دی چي کتاب، تسبيح پې لولي، پې وايي ښه کلام. (وقولوا للناس حسناً) بيان دی په قرآن.
د زړه ذکر هغه دی چي په کښيباسي ځما فکر او ځني وباسي انديښنه د شيطان.
د سه ذکر هوي دی چي ننباسي او وباسي ځما په ياد هره سه په هر حال، په هر ځای چي وي ذاکران آدميان. (و اذکرو الله کثيراً العلکم تفلحون) بيان دی په قرآن.

---

۱. د دولت قلمي ديوان ۱۸۰ص.
۲. لب لباب مثنوي ۲۳۱ص.
۳. سه: په اصل کي دوه واره سين زور او هـ زير لري اوس يې ساه وايو.
۴. اصل: هرام!

افضل العباد عند الله من یذکر الله کثیراً[1] نبي ویلي دي صلعم[2].

په دې پنځو مراتبو کې آخرنۍ مرتبه هسي ده چې عارف په ذکر کې فاني کوي او له هر ساه کښلو او ننه یستلو سره د حق په یاد کې لویږي او دا ذکر اخص دی چې عارف یو ګړۍ له حقه نه فارغ کیږي، او نور ټول یې هیریږي مولانای روم ویلي دي:

ذکر حق پاکست و چون پاکي رسید رخت بر بندد برون آید پلید

اهل تصوف په دې خبره کې اختلاف لري، چې ذکر خفي ښه دی که جلي؟ ځیني خلک د جلي ذکر طرفدار دي او ځیني خفي ذکر کوي، روښان خپلو مریدانو ته دواړه ذکره تجویز کړي دي. دوی وایي چې له انسان سره باید تل د تله خفي ذکر ملګری وي او په پټ ډول خدای یاد کاندي؛ مګر د سحر پر وخت دوی جلي ذکر هم خوښوي، ارزاني د روښان ملګری وایي:

د حق یاد خاصه جوهر دی که خفیه دی که جهر دی
د حق یاد فرض دایم دی نه پر وخت، ساعت پهر دی
که خفیه ذکر هر دم دی د جلي وخت پر سحر دی

میرزا خان انصاري وایي:

ذاکران چې د غفلت له خوبه ویښ شوه د نفس وچلیده ته نظاره کا
مسافر چې له خواړه خوبه بیدار شي په سحر جرس د تلو په وخت ناره کا

په دې اول بیت کې هغه د ساه ذکر توضیح شوی او په دوهم بیت کې "جهر او جلي ذکر" د جرس د سحري نارو په تعبیر سره راوړي دی.

په دې ډول روښانیان ډیر د خفي او پټ ذکر پر خوا دي ارزاني پخپل نثر کې لیکي: "د سړي اندامونه خدای کړي دي د هر اندام بخره شته، سترګي خدای کتو لره کړي دي او خوله خدای خبرو لپاره کړې ده او پوزه خدای دم لره کړې ده او غوږ خدای آرویدو لره کړي دی او پښې خدای یانه لره کړي دي او زړه خدای یاد لره کړي دی چې هیڅ دم د خدای لیاده مه یې تش ننباسه او مه یې وباسه د سړي عمر سهی هم په شمار دي حدیث ویلي دي (الانفاس معدودات فکل نفس یخرج بغیر ذکر الله فهو میت (یعني هر دم چې د خدای بې یاده وباسي هغه مړ دي حدیث ویلي دي رسول علیه اسلام (قلب المؤمن حرم الله ان لا یولج فیه غیر الله) یعني حرام دي د خدای په ځای، چې نور څه پکې ننباسي... مشایخ ویلي دي: ذکر الخفي طریق الی الحق یعني پټ ذکر لاره ده و خدای وته...[3]

دا سطور هم د روښان هغه د ساه ذکر شرح کوي چې باید خفي او تل وي، دولت وایي:

محبان د خدای و لاري وته بولي ور ښیي همیشه یاد خفي ذکرونه
د خفي ذکر تاثیر یې زورور دی[4] د ذاکر له زړه به لري شي زنګونه

---

۱. دا حدیث شریف د امام احمد په مسند او د امام ترمذي په صحیح کې داسي دی افضل العباد درجة عند الله یوم القیامة الذاکرون الله کثراً (جامع الصغیر، ۵۰ ص)

۲. خیرالبیان، خطي ۱۲۸ پاڼه.

۳. د ارزاني له قلمی دیوانه څخه چې منثوري برخي هم لري، مګر دغه دوه حدیثونه په صحاحو کې نشته.

٤. د دولت قلمی دیوان ٤ ص. د ذکر په خصوص کې د روښان افکار د حقیقت تر عنوان لاندي هم وګورئ.

توبه:

د حق د لاري د سالک لومړی مقام توبه ده. په دې خصوص کي ډېر نصوص وارد شوي دي او توبه رجوع ته وايي، يعني له نهي څخه را گرځيدل او پښيماني کول[1] او دا توبه د عارفانو او سالکانو په نزد مراتب لري، روښان دا مراتب داسي ښيي.

''توبه مي فرض کړې ده په آدميان چي له ناپوهۍ و پوهي وته، له کفره و ايمان وته، له گناه و فرمان برادرۍ وته، له غفلته دې جاروزي و ياد وته مدام''.[2]

ذوالنون مصری عليه الرحمه ويلي دی: ''توبه العوام من الذنوب و توبه الخواص من الغفله'' چي عين دغه د خواصو توبه روښان هم ښودلې ده، يو عارف وايي:

عام را توبه ز کار بد بود	خاص را توبه ز ديد خود بود

د روښانيانو د طريقت او سلوک په مراتبو کي هم لومړی کار توبه ده، چي ارازني يې داسي بيان کوي:

حديث دي ''التايب من الذنب کمن لا ذنب له'': يعني هغه څوک چي توبه کا هسي له گناه پاک شو، چي هيڅ گناه ئې کړې نه وه. طالب دی غسل وکا، ترو چي اوبه پر ځان اچوي هسي دی وايي: ای خدايه! لکه مي تن په اوبو پاک شو، زړه مي د تا په ياد پاک که[3] تر دې وروسته استغفار لولي او توبه کاندي، چي له گناهه خلاص شي.

دولت وايي:

په گناه د دولت له رحمه نوميده مشه!	خود په خود درته نارغ وهي چي راشه
د توبې په آب تير شوې گناه وينځه	د غفلت له واړه رنگه مصفا شه

دلته دولت هم له غفلته توبه کول توصيه کوي، چي د حضرت ذوالنون په کلام کي راغلی دی او بيا روښان هم دغسي ويلي و:

د نفس وژل:

عرفاء تل له نفس سره جگړې کوي او نفس خپل لومړی دښمن گڼي، څو سړی پر نفس غالب شي او د هوا هوس سره مخالفت و نه کړي، د عرفان او سلوک پر لار قدم نسي ايښولای.

عرفاء وايي: چي نفس د شر منبع دی، ذوالنون مصری رحمه الله ويلي دي:

''اشد الحجاب روية النفس و تدبيرها'' بايزيد بسطامی وايي: ''النفس صفة لا تسکن الا بالباطل'' د حضرت جنيد خبره ده: ''اساس الفکر قيامک علی مراد نفسک'' د ابو سليمان دراني قول دی: ''النفش خاينة مانعة افضل الاعمال خلافها'' دا ټول د عرفاو اقوال پر هغه حديث شريف مبني دي، چي حضرت رسول الله ﷺ فرمايلي و: ''المجاهد من جاهد نفسه في الله'' او هم ده د جهاد اکبر په بيان کي داسي وفرمايل:

---

۱. کشف المحجوب د علي هجويري.

۲. خيرالبيان ورق ۱۲۷.

۳. د ارزاني اقلمي ليکونه.

"الا! وهي مجاهدة النفس."[1]

مولانای رومي د عرفان د دغي مهمي مرحلې شرح هسي کوي:

ما در بتها بت نفس شما است　　　زانکه آن بت مار، و این بت اژدهارست
بت شکستن سهل باشد نیک سهل　　　سهل دیدن نفس را جهلست جهل
یک قدم زد آدم اندر ذوق نفس　　　شد فراق صدر جنت طوق نفس
هر که مرد اندر تن او نفس گبر　　　مرورا فرمان برد خورشید و ابر

مولانای رومي نفس او شیطان یو ګڼي چي فقط صور یې دوه دي او د "ان الشیطان لکم عدواً فاتخذوه عدواً" پر اساس دښمني ور سره کوي او انسان ته داسي وايي:

نفس و شیطان هر دو یکتن بوده اند　　　در دو صورت خویش را بنموده اند
چون فرشته، عقل کایشان یک بدند　　　بهر حکمتهاش دو صورت شدند
دشمنی داری چنین در سر خویش　　　مانع عقل است، و حضم جان و کیش
دشمن است این بی وفا از وی گریز　　　بلکه از خود کن گریز اندر ستیز
آن عدوئی کژ پدر تان کین کشید　　　سوی زندانش ز علین کشید
(مثنوی)

روښانایان د نفس په مجاهده کي ډېر اقوال او بیانونه لري او د دوی په سلوک او طریقت کي له نفس سره جګړه یوه مهمه مرحله ده پخپله روښان وايي:

"هر چه د نوس له بدئ پناه غواړي، ترو يې بويه، چي د نوس هوس د عقل په رڼا فهم لري...د مشقت په تيغ دي ووژني عيان".

د روښان د شاګردانو دواوين او اشعار ټول په دغه تبليغ ډک دي، ميرزا انصاري وايي:

نوس نادان دی نه يې نغوره　　　ته دانش په فهم ځير کړه
له خناسه خاطر ژغوره؟　　　د خدای یاد باندي تحرير کړه

دولت وايي:

نوسک وتړه په بند کي　　　روح پادشاه جاوداني لره
د خناس په نغوته مه ځه　　　پسروي د روحاني کړه
بد د يو نوس دی، که دي بند کا　　　پر هوا دي سليماني کړه
له دښنه سره دښمن شه　　　پر خپل دوست مهرباني کړه
که دی دا فتح رښتيا شي　　　تل تر تله کامراني کړه
(د دولت قلمي ديوان)

شریعت او طریقت:

له ډېره وخته د اهل ظاهر او اهل باطن تر منځ يو ډول اختلاف موجود و، علماء چي د شريعت پر ظاهري لار روان وه، د طريقت او سلوک خاوندان به يې ښه نه ليدل او داسي اختلافات د علامه ابن الجوزي او ابن تيميه او ابن حزم

---

۱. د علی هجويري کشف المحجوب.

طاهري او نورو علماوه په آثارو کي ليدل کيږي، چي د فقه او احاديثو علماء يې پر خوا دي او دوی له صوفيانو او د طريقت اوسلوک له خاوندانو سره مخالفت ښکاره کوي.

د اهل شعريعت او طريقات دغه جګړې چي په قرنو قرنو جاري وې، د زرم هجری کال په حدودو کي د حضرت مجدد شيخ احمد سرهندي کابلی په عالمانه توجه حل شوې او د شريعت او طريقت اختلاف ورک شو، وروسته تر ده حضرت شاه ولي الله دهلوي او شاه عبدالعزيز او نورو علماوو هم د حضرت مجدد رحمه الله دغه لار تعقيب کړه او دوی دا خبره ټينګه کړه: چي طريقت او سلوک له کتاب او سنته څخه يوه ذره اختلاف نه لري او يو سالک بايد له کتاب او سنته يو ويښته تجاوز و نه کړي. په دې ډول د دوی په سعي او همت، تصوف او سلوک او طريقت بيا د شريعت پر قوي اساس روان شو، او انفکاک او اختلاف يې ورک شو.

روښانيان هم پر دغه لاره روان دي، او شريعت له طريقته سره ملګري کوي، روښان د شريعت او طريقت تعريف په لنډو الفاظو داسي کوي:

"شريعت وينا او طريقت چار د پيغامبران ده... نه نغوته د نوس ده او شيطان او نغوته د زړه د روح چار د پيغامبران ده عيان"[1]

بل ځای وايي:

"زه د طريقت ورو هيغه[2] وته پرانزم چي د شريعت په علم چارکا، د هيغه پس و ده وته د طريقت پوه وربخښم، د حقيقت ورو هيغه وته ته پرانزم چي د طريقت په علم چارکا، دغه پس يې د حقيقت له پوهي خبر کړم. د معرفت ورو هيغه وته پرانزم، ځي د حقيقت په علم جارکا، دغه پس د يګانګي پيژندګلي ورو ښيم عيان."[3].

د بايزيد له نوشتو څخه ښکاري چي ده د شريعت په اقامت کي ډېر تأکيد کاوه، پخپله وايي:

"در مقام وخالت نيز درويشان و عارفان دوست ميداشتم، و خدمت ايشان ميکردم، به آيت قرآن، بحديث انبياء، و باقوال اولياء شغل ميکردم..."[4].

د شريعت په باب کي داسي وايي! "شريعت پنج بنای مسلمانيست. و گفتار پيغمبران عليهم السلام. پس مي بايد که شريعت را عزيز دارند، چنانکه عزيز داشتند پيغمبران براست ثابت کلام و هر که باز گردد و حذر دارد از دروغ و بيهوده و فحش و طعنه دادن و بدنام خواندن و غيبت کردن و از نامشروعات ديگر... پس از اهل شريعت است، و هر که در شريعت کار کند، وی بسوي طريقت برسد..."[5]. په دې ډول بايزيد شريعت د طريقت لار بولي او دا دوه نه سره بيلوي او پاچاهانو او خپلو اتباعو ته په "شريعت" سره توصيه کوي: "گفتار من بشنويد و در شريعت ثابت شويد، و ديگر آدميان را نيز بفرمائيد، تا در آن ثابت شوند"[6].

تر دې وروسته د طريقت په باب کي وايي: "پس آن کار پيغمبران است و خوی فرشتگان است و تائب بايد کرد

---

١. خيرالبيان ورق ۹۹.
٢. هيغه: د هغه يوه لهجه ده؛ خو لږ څه اشارې زور په کي شته.
٣. خيرالبيان، ورق ١١٥.
٤. صراط التوحيد، ١١ ص.
٥. صراط التوحيد، ٨٤ ص.
٦. صراط التوحيد، ٨٨ ص.

خود را از فرمان برادري گروه شيطان، باز گرداند اند امهای خود را از گناهان"[1]

شريعت را مقدم دارا كنون — حقيقت از شريعت نيست برون

كسي كو در شريعت راست آيد — حقيقت را بروی خود كشايد

و ادا كردن طريقت (آن است) كه با عبادت شريعت ديگر عبادت ضم كند، با نماز نماز نفل ضم كند، با روزه روزهٔ نفل ضم كند با زكوة سخاوت ضم كند، با حج كردن پير كامل ضم كند، تا عبادت زيادت شود...[2]

دغه دي چي بايزيد د شريعت او طريقت ملازمت په داسي ډول سره كوي، چي قطعاً يې پر پكړون ممكن نه دی، د ده په مريدانو كي دولت لوڼ وايي:

شريعت: رښتيا گفتار د پيغامبر دی — حذر كړه له غلا زنا، له غيبتونه

پنج بنا، حلال، حرام پيژندگلي ده — عمل كړه په واړه حكم په ركنونه

طريقت: فعل، كردار دايم فرض شوی — د صانع طاعت په واړه اندامونه

له صوفيانو څخه ځيني متقدمين محققان هم شريعت او حقيقت يو له بله سره بيل نه گڼي، حضرت علی هجويري غزنوي وايي: حقيقت هغه معنی ده، چي نسخ يې روا نه وي او له آدمه تر دې دمه يې حكم متساوي وي: لكه د حق معرفت او خلوص نيت، مگر شريعت هغه معني ده، چي نسخ او تبديل يې روا وي لكه احكام او اوامر، چي په هر شريعت كي ځيني نسخ شوي او اوښتي دي؛ نو شريعت د بنده په فعل پوري اړه لري او حقيقت د خدای تعالي مقرر كړي او د ده حفظ او عصمت دی؛ نو د شريعت اقامت بې حقيقته محال دی او د حقيقت اقامت هم بې شريعته محال دی، شريعت بې حقيقته هم ريا ده او حقيقت بې شريعته هم نفاق دی؛ نو شريعت له مكاسبو څخه دی او حقيقت له مواهبو څخه.[3]

حضرت علی هجويري يو پوخ او ثقه متصوف دی، تاسي د ده له دغه لوړه بيانه معلومولای شوای چي روښانيان هم په دغسي خبرو كي د پخوا او لويو امامانو پر لار تللي دي او د مقدمينو پاخه پيروان دي.

قشيري چي د صوفيانو يو لوی امام دی شعريعت (امر بالتزام العبودية) او حقيقت (مشاهدة الربوبيه) بولي او وايي: كه شريعت په حقيقت سره مؤيد نه وي، غير مقبول دی او هر حقيقت چي په شريعت مقيد نه وي، هغه هم ښه نه دی[4] له دې جهته نو پخواني ټول د تصوف لوی لوی امامان په شريعت پوري داسي تمسک لري چي جزويات يې لا هم نه پريږدي او د روښان په طريقه كي هم شريعت په حقيقته سره توأم او يو ځاسي دي.

انسان:

صوفيه انسان عالم اكبر بولي او د خلافت الهي بهترين مظهر يې گڼي، دوی وايي: چي انسان د صفاتو د تجلي او ښكاره كيدلو لپاره د يوې هينداري په ډول دی، له دې جهته بايد دی خپل مقام وپيژني او خپلي لوړتيا ته ملتفت شي،

---

۱. سراط التوحيد، ۹۰ ص.

۲. صراط، ۱۰۰ص.

۳. كشف المحجوب.

٤. الرساله القشريه ٤٣ص.

مولانای رومي علیه الرحمه دغه د عرفان مهم بحث په دې ابیاتو کې سره لنډوي:

آدم اصطرلاب اوصاف علوست — وصف آدم مظهر آیات اوست
چون مراد حکم یزدان غفور — بود در قدمت تجلی ظهور
پس خلیفه ساخت صاحب سینه ای — تا بود شاهینش را آئینه ای
ای خنک آنرا که ذات خود شناخت — در ریاض سرمدی قصری بساخت
ز آدمی ابلیس صورت دید و بس — غافل از معنی شد آن مردود خس
این ندانست او که اوصاف کمال — اندر این آئینه بنماید جمال

(مثنوی)

د انسان دغه لوړ مقام په دغه بیت کې چې حضرت علی (رض) ته منسوب دی ښه ښوول شوی دی:

و تزعم انک جرم صغیر — و فیک انطوی العالم الاکبر

یو بل عارف وایي:

بیرون ز تو نیست هر چه در عالم هست — از خود بطلب هر آنچه خواهی که توئی!

روښان وایي چې د توحید لارکښته، پورته، ښي، کیڼ ته نه ده؛ بلکې د توحید صراط مستقیم پخپله د انسان وجود او زړه دی، د صراط مستقیم په فارسي رساله کې دا موضوع ښه سپینې او نور روښانیان هم د پخو صوفیانو او عارفانو په ډول د انسان دغه لوړ مقام مني، ارزاني د روښان ملګری داسې وایي:

دا صورت د خاورو ځلي — په دم سپور او په دم پلي
په دا ځلي کې بسیا دی — د دې دواړو کونو کلي
حق د دواړو کونو علم — د صورت پر کتاب کښلي
دا کتاب دی هغو لوستي — چې یې خپل صورت کتلي
دا صورت لوح محفوظ دی — له لوی نون قلم وتلي

(د ارزاني قلمي دیوان)

''دولت'' چې ځان انسان او عالم اکبر ویني نو هسې وایي:

په ظاهر صورت عاجز بنده باله شم — د معنی به ملک د دواړو کونو میر یم
په خوارۍ راته نظر مه کړه نادانه! — څه شو نن که بې لښکره بی وزیر یم
زه اوس مست راغلي نه یم له ازله — پرورده د محبت په خاصه شیر یم
د لاهوت په ملک یم روح ''من امر ربي'' — د ناسوت په مقام یاد دولت فقیر یم

(د دولت قلمی دیوان)

میرزا خان انصاري وایي:

که ذره د لمر په مخ کې — ګاهي غوټه پر اوبه یم
د وصال په هوا ورزم[1] — د دې لامکان مرغه یم

---

۱. ورزم: یعني لوړیږم، الوزم.

د روښنانیانو د سلوک اوایل:

د روښان په ډله کي د سلوک او طریقت پر لاره داخلیدل، خاص آداب او شرایط لري او دغسي اصول او شرایط په ځینو نورو طریقو کي هم مقرر دي. د ارزاني د دیوان په پای کي دغه شرایط او آداب په نثر بیان شوي دي، چي زه یې لنډ دلته را اخلم.

ملا ارازني وایي: چي د ټولو سعیو او مجاهداتو نتیجه دا ده، چي معرفة الله حاصل شي، ولي چي (لا یقبل الله تعالی عبادة العبد کلها بغیر معرفة الله) یعني نه قبلوي خدای عبادت بې د خدای له پیژندګلي. دی لومړی مرحله توبه ګڼي او بیا طهارت، نو په طالب اوله پلا غسل کوي او بیا به پر زنګنو کښیني او لاسونه به پر زنګنو ږدي او دا به وایي: "اللهم اني اعوذ بک من ان اشرک یک شئ الخ..." بیا به کلمه طیبه وایي، بیا به آمنت بالله وایي.

دلته به نو خلیفه د ده لاس نه ونیسي او د ده نوم به زده کي او خلیفه به دا وایي: چي دا لاس د میان (مقصد روښان دی) لاس دی او طالب به هم هسي ووایي، چي پیر مي میا دی او توبه مي وکړه له واړو بدو. بیا به نو خلیفه ده ته مبارکي ورکي.

بیا به نو طالب عبادت کوي: او عبادت دوه قسمه دی، یو څرګند چي پنځه بنا (کلمه، نمونځ، روژه، زکات، حج) دي او بل پټ عبادت دی، چي دایم د خدای په یاد کي وي او دا فرض دایم دی.

له دې جهته باید طالب ته داسي ذکر ورکړه شي، چي ټول اعضاء یې په ذکر مشغول شي او زړه او نفس هم ذکر وکړي او د ذکر بهتره طریقه خفي ده، تر ذکر وروسته باید چي طالب د ادب کامل خاوند شي، او د دغه ادب شرایط هم بیانوي او خاص به بیا خپل پیر ته پوره ادب کوي او هم به حلاله نفقه مومي، او لږ خوب به کوي، او په لمانځه به ډیره مشغولا کا، او یو ګړی به غفلت نه کوي او تل به په طلب کي وي او مسلسل تفکر به کوي، پر دې اسساس چي (تفکروا فی آیاته، ولاتفکروا في ذاته).

بیا نو خلیفه له طالبه پوښتنه کوي، چي ته څوک یې؟ ستا ژوندون له چا دی؟ ستا د سترګو بینایي له چا ده؟ ستا د غوږ و شنوایي له چا ده؟

طالب به وایي: له خدایه! خلیفه به وایي: رشتیا ده، چي آیت شریف هم دغسي دی: هوالاول، هوالاخر، هوالظاهر، هوالباطن.

دلته به نو طالب ته د فنا رهنمایي وشي چي (من عرف نفسه بالنا، فقد عرف ربه بالبقاء) او دا چي ټول له خدایه څخه دي او په حقیقت کي بقا هم د ده ده.

بیا به نو د کلمې درې مقامه در وښیي: اول نفي چي لا اله دی، دوهم اثبات چي الا الله دی، او بیا محمد رسول الله.

د روښاني اوه صفته:

پس له هغه چي یو طالب د طریقت پر لار روان شي؛ نو روښان د ده لپاره اوه صفته لازم ګڼي او باید چي یو روښاني په دغو صفاتو متصف وي:

اول: آنکه از جمله حرام حذر دارد.

دویم: آنکه از حلا بی اسراف، اندک آب و طعام بچشد و بخورد.

سوم: آنکه اندک سخن بنرمی بگوید و بد کلا، نگوید.

چهارم: آنکه خواب اندک کند، و خواب و بیداری وی بیاد خدا باشد.

پنجم: آنکه در صحبت نیکان باشد، از صحبت بدان و غافلان دور باشد.
ششم: آنکه خدا پنهانی بذکر دایم یاد کند.
هفتم: قرار نشود از جانب خدا، تا او را به یگانگی بشناسد...[1]
په دې ډول طالب د روښان په طریقه کې داخلیدلای شي او بیا په دغو مقاماتو کي سیر کوي.

اته مقامات

روښان د یوه سالک لپاره اته مقامات مقرر کړي دي، چې هر سالک باید دغه اته مرحلې پې کړي او د کمال مرتبې ته ورسیږي.

پخپله روښان وایي: چې ما پخپل سیر او سلوک کې دغه مراتب طی کړل. دی تأکید کوي، چې دغه علم باطن دی او باید سړی یې له ''پیر کامل'' څخه زده کاندي. په صراط التوحید کې شاهانو ته خطاب کوي:

''بدانید ای گروه پادشاهان و امیران! که علم، ظاهر و باطن است و میباید که علم ظاهر از استاد بیاموزند و علم باطن از پیر کامل.''[2]

وروسته د پیر کامل تعریف داسي کوي. چې د دغو اتو مقاماتو خاوند وي او د روښان له دې بیانه ښکاري، چې د ده په طریقت کې دغه اته مقامات داخل وه، وایي:

''و کامل و مکمل آنست که صاحب شریعت و طریقت و حقیقت و معرفت و قربت و وصلت و وحدت و سکونت بود، و کشاف حقایق اسرار ربوبیت و تخلقوا باخلاق الله شده باشد. و طلب و اطاعت بر آدمیان فرض مطلق بود؟ و فرمان برادری پیر کامل فرمان برادری رسول است و فرمان برادری رسول، فرمان برادری خدایست، و فرمان خدای راه راست...''[3].

د روښان دغه اته مقامات او د سلوک پوړۍ ارزاني داسي بیانوي:
د کمال اته مرتبې:

شریعت دئ، طریقت دئ — حقیقت یې معرفت دئ
هر چي دا څلور یې خپل کړه — د بابا آدم پر پت دی
بل قربت، بل یې وصلت دئ — بل وحدت، بل سکونت دئ

تر دې وروسته د دغو مقاماتو لنډه شرح داسي کوي:

شریعت د ره آغاز دئ — طریقت یې سوز و ساز دئ
حقیقت حال دی، په زړه کي — معرفت یې سر راز دئ
قربت یې نزدیکي ده — په وصلت کي لا دوئي ده
په وحدت کي دوئي نشته — سکونت کل نیکخوئي ده[4]

---

۱. صراط التوحید، ۸٤ص.
۲. صراط التوحید، ۳۷ص.
۳. صراط،، ٤۷ص،
٤. د ارزاني خطي دیوان.

دا خو د اتو مراتبو لنډ بیان و؛ ځکه چي د روښان تر عصر وروسته تصوف او د دغه اصطلاحات د پښتو ادب یو مهم جز شوه، نو به لږ څه دلته په اتو مقاماتو کي وړغیږو، چي د آینده دورې د ادبي مطالعاتو لپاره هم د دغو اصطلاحاتو پوهیدنه ضروری ده.[1]

۱. شریعت

دا لومړۍ مرحله ده، چي بایزید یې په ډېر تاکید توصیه کوي او خپل ملګري شریعت ته را بولي، دمخه ما د روښان له صراط التوحید څخه د شریعت او طریقت تر عنوان لاندي اقتباس وکړ او له هغه څخه د روښان پوره د شریعت تقلید ښکاري، د ده بل ملګری دولت یې داسي بیانوي:

شریعت رښتیا ګفتار د پیغامبر دی　　　حذر کړه له غلا، زنا، له غیبتونه
پنج بنا، حلال، حرام پیژنګلي ده　　　عمل کړه په واړه حکم په رکنونه[2]

ارزاني وایي، چي شریعت پنځه حرفه دی او هر حرف یې بیل مقصد لري:
ش: شرم له خدایه، ر: روا چاري، ی: یاري لربه، ع: عبادت، ت: توبه ده.[3]

۲. طریقت

دوهمه مرتبه طریقت دی د روښان خپل بیان مو دمخه د شریعت او طریقت تر عنوان لاندي اقتباس کړ؛ مګر دولت د دغي مرتبې له بابته داسي وایي:

---

۱. د تصوف فکر په پخوا انسانانو کي هم و او داسي مراتب په پخوانیو ادیانو کي هم مقرر وه، د زرتشت په مزدي سینا کي پندار نیک، ګفتار نیک، کردار نیک درې مقامه وه، د هیون تسنګ په وخت (٦٤٤م) کي د بودا دین هم اته مقامات درلوده، دی وایي: د بودا په قول (متولد حدود ٥٦٧ق،م) انسان د ژوند د مسلسلو تکالیفو څخه د نفس په ریاضت او د خواهش په ترک نجات مومي، او دا نجات اته مقامات لري: سمه عقیده، سمه آرزو، سمه وینا، سم کردار، سم معیشت، سم قصد او کوښښ، سم ذکر، سم تفکر، او هغه څوک چه دغه اته مراتبي طي کړي، د نروانا او سعادت نفس مرتبې ته رسیږي (د هیون تسنک سفر نامه).

په اسلامي تصوف کي هم داسي مقامات مقرر شوي وه، خواجه عبدالله انصاري هروي (متوفي ٤٨١هـ) د دغو مقاماتو په بیان کي یوه عربي رساله ''علل الداخله في المقامات'' لري (طبع دمشق ١٩٥٦م) او د دغه لوی افغانی صوفي بل عربی کتاب ''منازل السائرین'' هم د دغو مقاماتو تفصیل دی، چي لنډون یې په فارسي کتاب ''صد میدان'' کي لیکل شوي دی (طبع قاهره ١٩٥٤).

دغه سل مقامه د انصاری په قول درې درجې لري: اول عامه درجه، دوهم د سالک درجه، دریم د محقق درجه چي په اوله درجه کي سړی په سیر او سلوک پیل کوي، په دوهمه درجه کي په غربت کي داخلیږي او په دریمه درجه کي د مشاهدې حالت دی چي د توحد په سترګو د فنا په لار کي لیدنه کوي (د صد میدان مقدمه).

د هند یوه صوفي سید عبدالطیف قادري یو کتاب جواهر السلوک کښلی دی (د مدراس طبع ١٢٨٣هـ) چي دغه سل مقامه یې په جدول کي لس لس برخي کړي او زر مقامه (الف مقام) یې ځني جوړ کړي دی او په دغه بحث کي یو جامع او مانع کتاب دی. اما ابو طالب مکی د عربو ډېر پخوانی صوفي پخپل کتاب قوت القلوب کي دا مقامات اوه دریابه (سبعة ابحر) ګڼلي دي: (١) سکر (٢) وجد (٣) کشف (٤) شهود (٥) قرب او ولایت (٦) جمع (٧) د افراد حقیقت (کشف الاسرار ٣ج، ٢٩٧ص).

۲. د دولت قلمي دیوان.

۳. د ارزانی قلمي نثر.

طریقت : فعل کردار دایم فرض شوی — د صانع طاعت په واړه اندامونه
خمس حواس بندي کول د فرښتو خوی دی — په صافي پاکي همیش ریاضتونه[1]

ارزاني خو یې په یوه بیت کې هسی لنډوی:

طریقت باریکه لار ده — راه د خپل اصلي وطن دی

ارزاني هم د طریقت پنځه حرفه هسي تحلیل کوی: ط: طوق بندگی، ر: ریاضت تن، ی:یون په ورځ و شپه، ق: قدم راستي، ت: تن پاک.

۳. حقیقت

دریمه درجه حقیقت دی چي پخوانو عرفاو یې داسي تعریف کاوه: ''اقامت بنده باشد اندر محل وصل خداوند و وقوف سروی بر محل تنزیه.''[2]

بایزید د حقیقت په شرح کي لیکي:

''حقیقت حال پیغمبران است، و حال پیغمبران ذکر خفی و دایم است. یقین و ترک کردن گمان و صافی دل است، پس تائب را باید که در حقیقت، از غفلت سوی ذکر خفی باز گردد، تا دلش صاف شود، اما ذکر خفی آنست که هر دم که اندرون و بیرون کند در یاد حق باشد، و هیچ دم بی یاد حق نزند.''[3]

نو د حقیقت مرحله په ذکر خفي او دایم دوام کوي او هم دغه مقصد د روښان نورو ملگرو بیان کړی دی، دولت وایي:

حقیقت د زړه طاعت د نبي حال دی — المدام د مذکور یاد دی...
د مولی ذکر د زړه صیقل یاد شوی[4] — پرې خلاصیږي...له غیرتونه

ارزاني حقیقت داسي شرح کوي: ح: حال دروني، ق: قلب پاک، ي: یاد جلی و خفی، ق:قالب زنده پدم، ت: تن له بد و پاک وروسته نو وایي:

حقیقت پاکي دامن دی — دا پاکي له ما و من دی
هوښ پر دم، فهم، قدم دی — هم خلوت در انجمن دی

٤. معرفت:

څلورمه مرتبه معرفت دی، چي عرفاء یې پر دوه ډوله ویشي، معرفت علمي او معرفت حالي او حضرت علی هجویري رحمه الله وایي: ''معرفت علمی قاعدهٔ همه خیرات دنیا و آخرت است و معرفت حالی حیات بود بحق، و اعراض سرازدون حق...پس مردمان او علماء و فقها و غیر آن صحت علم را بخداوند معرفت خوانند، و مشایخ این طایفه صحت حال را با خداوند معرفت خوانند، و از آن بود که معرفت را فاضلتر از علم گفتند، که صحت حال بجز

---

۱. د دولت دیوان ٤ص.
۲. د هجویري کشف المحجوب ٤٥٣ص.
۳. صراط التوحید، ۹٤ص.
٤. په قلمي نسخه کي دا بیتونه پرې شوي دي.

صحت علم نباشد، اما صحت علم صحت حال نباشد، يعني عارف نبود که بحق عالم نباشد، اما عالم بود که عارف نباشد.''[1]

ځيني عرفاء د معرفت ويشنه داسي کوي: اول رسمي معرفت، دوهم بالکُنه معرفت.

۱. رسمي معرفت: د عارف کاشفي تعبير داسي دی ''ادراک حقست باعتبار تعينات او در مجالی مکونات و تنوعات ظهور او در مراتب تنزلات''[2]. او دا هغه د هجويري علمي معرفت دی چه يوه عربي شاعر په دې کي شرح کړې و:

والله في كل تحريكة — و تسكينة ابدا شاهد

و في كل شئ له آية — تدل على انه واحد

۲. بالکنه معرفت: چي کاشفي يې داسي شرح کوي: ''ادراک اوست باعتبار کنه ذات مجرد از ملابس تعينات اسماء و صفات، و اين ممتنع است مر غير حق را که لايعرف الله غير الله''[3]. چي دغه معرفت د حضرت هجويري په تعبير معرفت حالي دی؛ مگر دا دوهمه درجه معرفت د پخو عارفانو په عقيده، انسان ته ميسر نه دی او د ''ذات په کنه'' کي فکر کول نه ورته ښايي:

کنه ذاتش ره سوال يست — عقل حيران و نطق لال نشست

حضرت مولينای رومي دغه مشکل په دې ډول رونوي:

مر صفاتش را چنان دان ای پسر — کزوي اندر وهم نايد جز اثر

ظاهر است آثار نور رحمتش — ليک کی داند جز او ماهيتش

ليک ماهيات اوصاف کمال — کس نداند جز بآثار مثال

په دې ډول انسان نه شي کولای چي په ذات کي فکر وکړي؛ نو عرفاء دلته خاموش دي، مولانا رومي وايي:

چونکه عيب آمد و راز و پوش به — پس دهان در بند لب خاموش به

دا رباعي هم دا گرانه خبره رابنيي:

اي آنکه بجز تو نيست در هر دو جهان — بر ترز خيالی و مبرا زگمان

هر چند که عين هر نشاني ليکن — اينست نشانت که تو را نيست نشان

د روښان خپله نوشته د معرفت په خصوص کي داسي ده، چي دی د عرفت اساس پر تعقل او مشاهده ږدي او وايي:

''پس عالقان را بايد که عقل خود بيدار گردانند، تا امر و نهی يعنی کردنی و ناکردنی حلال و حرام نيکخواه و بد خواه، خوی پيغامبران و مؤمنان و مخلصان و شيطانان و کافران و منافقان را سود و زيان جمله مقام به بيند و بشناسد... از فضيلت عقل بشنو که روسل مقبول فرموصه است صلی الله عليه و سلم: العقل کرامته، و العقل نور في القب يفرق به بين الحق و الباطل... بايد مر عاقلان را که عقل خود در خواب و دلهای خود در غفلت و فهم خود بې فکر حق نگذارند و فکر بکند، که حق تعالی شما را از چه چيز برای چه چيز آفريده است؟ هستی و بقاء هستی به چه چيز

---

۱. کشف المحجوب ۳۲٦ص.

۲. لب لباب ٤۲۰ص.

۳. لب لباب ٤۲۲ ص.

است؟ و کجا خواهد رسانید و شما را از چه چیز خواهد پرسید...؟ بدانید که معرفت، ظاهر و باطن است و معرفت ظاهر معرفت مخلوقاتست و معرفت باطن معروف خالق است... و حاصل نمی شود مر آدمیان را معرفت ظاهر و باطن، بی طلب و بی نظر دیدن و بی یافتن آدمی اول طالب گردد، پس ناظر بینا، پس عارف گردد... اما معرفت لفظ جامع است و معرفت بسیار چیزهائی در آن در می آید، چنانکه معرفت دنیا بیخ و شاخهای آن، معرفت آخرت، درجات و حسنات آن و معرفت نفس در آنچه دروست، و ظاهر و باطن و زیان آن، و معرفت روح و کار عذاب و راحت آن، و بدان که حق تعالی همه علم و عبادت و معرفت و همه نیکیها و خیرات برای معرفت توحید گردانیده است:

بی گلي هر گز نیابی بوی را　　　تا نه بینی کی شناسی روی را[1]

د روښان دغه د معرفت نظريات ټول د نورو پخو متصوفانو پر تعقل او مشاهده او تفكر بنا دي او دا هغه د رسمي او علمي معرفت لار ده، چي تفصيل يې دمخه وشو.

اوس به وګورو، چي نور روښانيان څنګه په دې ګرانه مرحله کي داخل شوی دي؟

دولت وايي:

معرفت عيب ديدن دی بې جهته　　　د جميل جمال بې شبه بې نمونه
د باطن په سترګو هر چيري ليده شي　　　د عارف مقصود...[2] تر شهرتوته
معرفت به بې اخلاصه حاصل نکا　　　که په ډير نماز لغړ کا زنګنونه

بل ځاي وايي:

د عارف واجد مقام د معرفتر دئ　　　هر نظر د دوست و مخ وته کتل تل
زاغ حريص منګل آلود پر جيفه ګرزي　　　دلداده بلبل دی مست پر مخ د ګل تل
نور سړي د دين دنيا په کار مشغول دي　　　د عارف بې دوسته هيڅ نه وي پر دل تل[3]

ارزاني د روښان بل ملګری د معرفت تجزيه داسي کوي: م: مخ يعني په هر مخ کي خپل مخ ليدل، ع: عين، ف: فنا تن د حق وطن، بيا نو وايي:

معرفت د نور څراغ دی　　　هر عارف يې داغي داغ دی
عارف يو په يوه ويني　　　که بلبله ده که زاغ دی[4]

ميرزا انصاري د روښان د ډلي يو بل عارف وايي:

عارفان د دواړو کونو ننداره کا　　　شوپرک په تياره ګرزي بې نظره

له دغو ابياتو څخه ښکاري چي روښانيانو هم رسمي او علمي معرفت خوښ کړی و او دوی هر وخت په تعيناتو او مکنوناتو او تنزلاتو کي کتنه کوله او له "معرفت بالکنه" څخه يې ځانونه ژغورل او د نندارې او مشاهدې له خوا به د معرفت په مرتبه کي داخليدل:

چشمی داری و عالم در نظر است　　　ديگر چه معلم و کتابت بايد؟

---

۱. صراط التوحيد، ۳۵، ۱۰٤، ۱۰٦ ص.
۲. دلته يوه کلمه په خطي نسخه کي نه لوستلي کيږي.
۳. د دولت قلمي ديوان ۱٤٦ص.
٤. د ارزاني قلمي ديوان.

٥. قربت:

دا پنځمه مرحله ده، چي مولانا کاشفي یې داسي شرح کوي: "و آن ارتفاع مسفرت است و ارتفاع مسافت است و انقطاع مخافت، و گفته اند که قرب زوال حس است، اضمحلال نفس، و گمان نبری که قرب حق بمکان نیست، بی شبهه حضرت ذات متعالی، از مکان و زمان و جای و جهت منزه است"[١].

مولانای رومی هم دغي خبري ته هسي اشاره کوي:

قرب به بالا و پستی جستن است — قرب حق از حبس هستي رستن است
کارگاه قرب حق در نیستی است — غرهٔ هستی چه داند نیست چیست؟
گفت پیغمبر که معراج مرا — نیست بر معراج یونس اجتبا
آن من بر چرخ و آن او بشبب — زانکه قرب حق برونست از حسیب

(مثنوی)

دا قرب دوه ډوله دی یو قرب فرضی، بل قرعب نفلی. قرب فرضی هغه مرتبه ده، چي بنده ته د محبت په مقام کي داسي حالت پیښ شي، چي اختیار د شعور د سلب په سبب له ده څخه نفي شي، دی د قدرت کامله یوه آله وي، او سمع الله لمن حمده له دې مقامه یوه نکته ده. مولانای رومي له دې مقامه وایي:

من چو کلکم در میان اصبعین — نیستم در وصف طاعت بین بین
او بصنعت آزر است و من صنم — آلتی کو سازدم من آن شوم
گر مرا ساغر کند ساغر شوم — ور مرا خنجر کند خنجر شوم
گر مرا باران کند خرمن دهم — ور مرا ناوک کند در تن جهم

(مثنوی)

اما دوهم ډول نفلي قرب، د محبوبیت هغه مقام دی، چي د سالک صفات، په ذات کبریا کي محوشي او دی تش یوه آله وي چي کنت سمعه و بصره و لسانه وید، فلا ناطق غیری ولا ناظر و لا سمیع سوای.[٢]

مولانای رومی په دې مقام کي وایي:

ما چو نائیم و نوا در ما ز تست — ما چو کوهیم و صدا در ما ز تست
ما عدمهائیم و هستیهای ما — تو وجود مطلق فانی نما
باد ما و بود ما از داد تست — هستی ما جمله از ایجاد تست

ارزاني وایي قربت یې نزدیکي ده او ق: قربت حق، ب: بند، ت: تن پاک دی او په دې رباعي کي هسي بیانوي:

تر معرفت یې لوی قربت دی — دا قربت په ډېر غربت دی
له خپل ربه به اشنا سي — چي اشنا پخپل قربت دی[٣]

دولت وایي:

---

١. لب لباب ٤٠٥ص.
٢. لب لباب ٤٠٩ص.
٣. د ارزاني قلمي دیوان.

د قربت ذکر مقام د سامعان دی   پوهیده په تسبیحات او آوازونه
بې مثلي عجب آواز په زیر و بم کا   دا افلاک لکه سرود، اشیا تارونه[1]

٦. وصلت:

شپږم مقام دی چي مولانا کاشفي يې هسي تعریف کا: ”اشار تست بفنای عبد از اوصاف خود، و ظهور اوصاف حق در او، و چون سالک متصف گردد بصفات حق و فانی شود در ذات او. هر آینه بوصل حقیقی رسد.“[2]

بایزید د دې مقام شرح داسي کړي:

”و بدانید ای گروه پادشاهان و امیران! بدرستی و راستی که انبیاء و اولیاء و مؤمنان مخلصان در مقام قربت قرار نبودند؛ و قدم از آن سوی وصلت برداشته بودند، نذکر وصلت تارک وجود شده بودند و ذات خود را نذات معبود یکی یاد میکردند. و نمی گفتند و نمی دیدند و نمی شنیدند و نمی گرفتند، پس می باید شما را که د مقام قربت قرار میباشید و قدم ازآن سوی وصلت بردارید بذکر وصلت هستی خود، یکی به هستی معبود، خود یاد کنید، اندامهای خود را از هستی خود بمیرانید که ننگرید، و نه بینید و نگوئید و نشنوید و نگیرید و نروید و نکنید هیچ کاری را مگر ترک وجود کنید و زنده گردانید که هر کاری بهستی معبود کنید...“[3]

دا تغیرات چي بایزید له وصلته کړي دي د واعظ کاشفي د هغو الفاظو شرح ده، چي ویلي يې وه: ”فنای عبد از اوصاف خود، و ظهور اوصاف حق در او“.

ارزاني وصلت داسي تجزیه کړی: و: وصل مقصود، ص: صیقل دل: لانفی، ت: ترک خودی، دولت وایي:

په وصلت د واصلانو یو گیده دی   له یو وجود شمیرل واړ وجودونه

دلته روښانیان د ”همه ازوست“ یعني وحدت شهودي خوا ته تللي دي.

٧. وحدت:

اومه مرحله ده چي عرفاء يې پر درې مرتبې ویشي. اول توحید شرعي چي د الله تعالی د وحدانیت ثبات دی. دوهم توحید عقلي، چي خاص خدای لره اثبات د وجوب دی، او نفې د وجوب ده له نورو څخه. دریم کشفي توحید چي خاص حق لره د وجود اثبات دی.[4] بایزید وایي: ”در غایت جوانی ذکر جز مستی خدای، دیگر هستی هلاکت میکرد یقینم چنین بود: که هستي من و جمله موجودات و ذره ئی از ذرات، از هستی خدای جدا نیست و نبود...“[5] بل ځای وایي: ”انبیاء و اولیاء و مؤمنان و مخلصان در وصلت قرار نمی بودند، و قدم از آن سوی وحدت برداشته بودند بذکر توحید وجود خود گم کرده بودند، و در هر گم شده به هستی معبود خود یاد میکردند، و خود را از خوی بشریت میرانیده بودند، و بخوی

---

١. د دولت قلمي دیوان.
٢. لب لباب ٤١٣ص.
٣. صراط التوحید، ٧١٥ص.
٤. لب لباب، ٤٣٧ص.
٥. صراط التوحید ٩ ص.

ربوبیت زنده گشته بودند، در هر یکی خدا می نگریست و میدید و خود را نمی شمرد.''[1]
مولانای روم هسي وايي:

چیست توحید خدا افروختن　　　خویشتن را پیشی واحد سوختن
هستیت در هست آن هستی نواز　　　همچو مس در کیمیا اندر گداز
بر درش هر که من و ما میزند　　　در بابست او و برلا میزند

نو روښانیان په دې باره کي هسي وايي، د دولت قول دی:

په وحدت کي دوئی نشته　　　یگانه یگان یگان دئ
دا حاصل به سر بازي شي　　　هسي نه چي رایگان دئ
د کثرت د عددونو حساب ډیر دي　　　د وحدت پر مقام دي بیخدایه کل هیڅ
په هزار پرده که مخ د وحدت پټ شي　　　د موحد د وړاندي نه کیږي حایل هیڅ

میرزا خان انصاري وايي:

ما چي وکوت په باطن د معنی ولي　　　د وحدت په انګڼ میشت د کثرت کلي
د عاقل د عقل قیاس رسیدی نه شي　　　چي د کن فیکون لاس دی رسیدلي

۸. سکونت:

اتمه او آخرنۍ پوړۍ ده، چي دلته عارف ته سکون حاصلیږي او دا مرتبه خورا لوړه ده؛ ځکه چي د سکون په حالت کي بیرته عارف کتې مټ د نورو انسانانو په ډول وي او په خدمت خلق مشغولیږي، دلته ټول ''صحو'' وي، له سکره وزي د شریعت او سنت ټول جزویات پر ځای کوي او شریعت او طریقت او حقیقت سره یو ځای کیږي.

ارزاني سکونت داسي تجزیه کوي: س: سوگند وایم په خدای ک: کمال خوبي، ن: نیت خوب، ت: تمام شدن مراتب:

د سکونت شیوه ښه خوی دئ　　　ساکن ګل دي، یار یې بوی دئ
په هر دم په دا خپل کور کي　　　تل له یاره روبروی دی
هم تمام مي دا کلام دئ　　　سکونت و ستری مقام دئ
چي ته دې مقامه راشې　　　پیژندلی یې خپل قام دئ[2]

دولت وايي:

سکونت بلند مقام له واړو پاس دی　　　نور د ده دپاسه نشته مقامونه
د مسکین په رضا واړه چاري کیږي　　　په هر هر یوه کي کاندي خپل حکمونه

سکونت د روح خصلت شي　　　په صورت یې عمل ګران دئ
نه کښیني، نه ځي، نه خوري څه　　　نه وصال نه یې هجران دئ

---

۱. صراط التوحید، ۷٤ ص.
۲. د ارزاني قلمي دیوان.

نه په عرش، کرسي، په زمکه   نه بیرون، نه تر دا میان دئ[1]

په دې ډول روښانیان د تصوف او سیر و سلوک په مقاماتو کې ډېر گفتارونه لري، ما یې ځیني مهم مهم مسایل په دغه برخه کې راوړل، پخپله د روښان او د ده د شاگردانو افکار مې څرگند کړل. له دې بحثه زه دا نتیجه اخلم، چې روښانیان په تصوف کې د پخوانو محققانو پر لار تلي دي، د دوی په اقوالو او دیوانو او نوشتو کې کوم بدعت او نوي له ځانه راوړې افکار نه لیدل کیږي او عموماً دوی د ''شهودی توحیه'' پر لار ځي؛ مگر کله کله د روښانیانو په کلام کې د ''وحدت وجود'' تجلی هم شته؛ مگر داسې ښکاري، چې دغسې افکار کله کله او لږ لږ پر دوی غالبیږي او کله چې د ''صحو'' څخه ''سکر'' ته ولاړ شي؛ نو د وجودیانو په ډول کلام هم لري او د متصوفانو په اصطلاح ''شطحیات'' وایي او بلند پروازي کوي.

مولانا جامي وایي:

همسایه و همنشین و همره همه اوست   در دلق گدا و اطلس شه همه اوست
در انجمن فرق و نهانخانهٔ جمع   بالله همه اوست، ثم بالله همه اوست

مولانای رومي وایي:

اتصال بې تکیف بې قیاس   هست رب الناس را با جان ناس
لیک گفتم ناس من نسناس نه   ناس غیر از جان جان اشناس نه

په دغه ډول ځیني شطحیات د روښانیانو په کلام کې هم شته، چې د دوی معاصرو علماوه یعني اخوند درویزه او د ده ملگریو هم دغسې خبرو ته گوتې نیولې وې او د روښانیانو انتقاد به ئې کاوه، حال دا چې دغسې خبرې د ټولو پخوانو پخو صوفیانو بزرگانو په کلام کې خورا ډېرې دي او په هغه ډول ارزاني وایي:

د منصور رشتیا سبق و   دا سبق   یې پر ورق وه
هر ورق باندې یې کښلې   سر کلام د اناالحق وه

دولت وایي:

یو احد راته ښکاره شو لور په لوري   په خفي ذکر چې لرې کا حایل ما
د جمال جلوه یې وکړه پر یې مست کړم   د باطن په سترگې ځیر ولیده کل ما

بې تا هیڅ نشته موجود څه   دا، هغه جهان، وجود څه
واړه ستا دي بې چگونه!   پر اسمان، زمکې رنگونه
کل پیدا له تا پیچونه!   اسمان، زمکه، دریاب، غرونه
کل له تا پیدا ای پاکه!   هر چې شته هر نُه افلاکه
چې څه شته هغه کل ته یې!   هغه نشته چې ته نه یې!

میرزا خان انصاري وایي:

زه به څه وایم چې څه یم   نیست وهست واړه په ده یم
هر چې نیست شي له هستئ   د نیستئ معنی زه یم

---

۱. د دولت قلمي دیوان ۱۱ص.

گه ذره د نمر په مخ کي / گاهي غوټه پر اوبه هم
له وحدته پر کثرت شوم / هغه نه شته چي زه نه یم

په دې شطحیاتو او سکر کي روښانیان بیرته ملتفت کیږي او ځیني ”اسرار“ او د نه ویلو خبري نه کړي؛ ځکه چي داسي اسرار محرمان غواړي او هر غوږ د دې د اروېدلو تاب نه لري.

مولانای رومي هم وایي:

این مباحث تا بدینجا گفتنی است / هر چه آید زین سپس بنهفتنی است
هان و هان هشدار بر ناری دمی / اولا برجه طلب کن محرمی
عاشق و مستی و بگشاده دهان / الله الله اشتری بر نردبان!
باوجود آنکه این استرار کار / یک بود وقت بیان از صد هزار
رند رونم صد خموش خوش نفس / دست بر لب میزند یعني گه بس

ارزاني وايي:

یو احد دي دوهم نشته / دا رشتیا وینا ده مُره
دا رشتیا وینا ترخه ده / که طالب یې ویې نغره
دا اسرار یې پوشیده کړه / برهنه مه وایه له سره
د فقیر وینا رموز ده / پوشیده نه ده له خره
که د سر آتش ونغرې / ستا به ولگي په سره
نه دایم لرې اغوستي / شریعت سپینکۍ زغره

ارزاني پښتو خبري / ځیني گوی ځیني مگویي
دا د گوی مگوی خبري / ارزاني له دله زیږي

دولت وايي:

لا اله الا الله تل لوله سبق نور / د خپل زړه په ارسي[1]هیڅ مکوښه بې حق نور
د باطن په زور یې هسي مصفا کړه / چي تمام عمر، ونه نیسي غسق نور
په ظاهر باطن ځوک نشته بې احده / هیڅ شریک ور سره مه گڼه مطلق نور
استر ذهب مذهب رسول ویلي / د مگوی خبري مه کوښه په ورق نور
پر منصور علماو ځکه سیاست تیر کا / چي هر تقلیدی فاش نکا اناالحق نور

دا وه د روښان او روښانیانو عرفاني افکار او د دوی د تصوف برخه، چي لږ څه ما تشریح کړه، اوس به نو ولاړ شو او د روښان سیاسي خوا به وڅیړو؛ ځکه چي دا سړی یوازي متصوف او منزوی سړی نه و، له عرفانه سره یې سیاست هم یو ځای کړی و او د طریقت تر خرقې لاندي یې تیره توره هم پټه وه، متصوف و؛ خو مجاهد هم و، که ریاض و؛ خو جگړن هم و.

۱. ارسي: تخته، لوحه.

د روښان سیاسي پلو

تاسي دمخه هم ولوستل: چي د روښان شخصیت ډیري خواوي لري او دا سړی یوازي د یوه میدان ماهر نه دی؛ بلکه د ده د نبوغ خواوي او متعدده پلونه بیل بیل د بحث او څیړني وړ دي. عرفان، ادب، سیاست درې بارز صفات د ده په کرکتر کي میندل کیږي.

بایزید پخپل عرفاني حرکت کي یو علمي روح داخل کي، او د تصوف منفي خوا او انجماد یې په اجتهاد او حرکت او عمل تبدیل کړ؛ ځکه نو د ده او د ده د کورنۍ او اولاد او شاگردانو عمرونه په یوه سیاسي جهاد کي تیر شول او مقصد له هغه څخه هم اول "د پښتنو آزادي" وه او بیا د "پښتنو د عظمعت تجدید."

د روښان د معاصرینو اقوال او د ده ملگریو اعمال، اقوال، حرکات، نهضتونه چي موږ مطالعه کوو، نو روښان او د روښانیانو سیاسي خوا داسي تحلیل کوو، چي دا نابغه په سیاست کي ډیر پوه و او د ده سیاسي افکار پر درو اساسونو بنا وه.

۱. د پښتنو آزادي:

د روښان په وخت کي د پښتنو د رهرووج او سلطنت دوره تیر شوې ده، د ده د تولد په کال ۹۳۲هـ د پاني پت په ملحمه کي د لودیانو شاهنشاهي ختم شوه او د فرغانې یو مغولي فاتح بابر پښتنونخوا او هندوستان ونیول؛ نو ځکه روښان خپل لومړنی مطمح نظر دا وگرځاوه، چي پښتانه د مغولو له غلامۍ څخه وژغوري!

د دې کار لپاره ډیر علمي او عملي تدابیر او تجاویز لازم وه او روښان په خورا غور او سنجش دا مراحل تشخیص کړل او خپلو مریدانو ته یې د "آزادۍ مکمل پروگرام" جوړ کړ، د دې پروگرام کلیات دا وه.

الف: له ظالمانو او ظلمه نفرت:

روښان پخپلو مریدانو او پیروانو کي داسي تلقین وکړ، چي هر ځای له هر ظالمه سره مبارزه وکړي. ده فتوا ورکړه، ځکه چي مغولان پر پښتنو ظلم کوي؛ نو باید پښتانه د دوی حکومت ونه مني او ځانونه آزاد کاندي.[۱]

پخپله روښان د قندهار د یوه تجارتي سفر قصه کوي، چي دی هلته د قندهار حکمران بیرم خان ته ولاړ او هغه ته یې د حکومت کولو لاره داسي وښووله:

"گفتم امیران و پادشاهان را حق تعالی از عدل خواهد پرسید و یک ذره عمل کسی را حق تعالی ضایع نگرداند، بروی بنماید..."[۲]

لکه چي تاسو دمخه ولوستل: د روښان د نهضت اصلي علت هم دا و، چي ده به پر پښتنو باندي د مغولو د حاکمانو د ظلم چاري لیدې او د هغه د دفاع لپاره یې توره وکښله.

ده په قندهار کي یوه پښتنه میرمن ولیده، چي د مغولو سپاهیانو یې وینښتان د ژرندي په پله تړلي وه او دا به د ژرندي له پله سره چوریدله.

---

۱. حیات افغانی، ۱۸۵٦ص.

۲. صراط التوحید، ۲۰ ص.

نو روښان دوني متأثر شو، چي له مغوله سره يې خپل عمري جهاد شروع کړ.[1]

دی په خيرالبيان کي د خپلو عرفاني مقاماتو په شرح کي انساني اخلاق او رحم او عدل ډېر بيانوي او په سياست کي د هغو وجود ضروري ګڼي.

د روښان د شاګردانو په کلام کي هم د ظلم او ظالمانو پر خلاف ډېر تبليغات شته او دوی کوښښ کوی، چي پښتانه د ظالمانو پر خلاف ودروی او احکام او مشران د عدل خوا ته بوزي، مثلاً دولت وايي:

په قيامت به ظالم واړه	ډوب تر حلق پوري په خوي کا
عزرائيل به په آخر دم	مات د هر يو مغزي کا
چي ناحق ناروا زور پر مظلومان کا	لايزال به د ده ځاي آتش سوزان کا
عرش، کرسي، اته بهښته يې وران کړي	هر نادان چي د مؤمن خاطر پريشان کا
که يې عدل کړی ښه وي	خوښ به شي له سلطنته
که ظالم وي زار به کاندي	له شاهۍ له شوکته
کاشکي شاه نه وای ګداي وای	نن ورځ مه وی فضيحته

په دې ډول د روښانيانو اولينه مجادله له ظالمانو سره وه او دوی له ظلمه نفرت کاوه او ويل يې:

مرتبه د آخرت به هغه مومي	چي دلې په ظلم نکه د چا سرمات

(دولت)

ب: له مغولو سره عدم موالات او اجتناب:

د اوسني عصر د سياست په ميدان کي هم له دې کاره ډېره استفاده کيږي او که يوه ټولنه وغواړي، د نورو له ظلمه او اسارته ځانونه خلاص کي، نو دوی له هغه سره خپل د همکارۍ او معاونت او موالات روابط قطع کوي، او دې ته په سياسي اصطلاح non-cooperation وايي. د هندوستان د آزاديخواهانو يوه وسله د انګريزانو په مقابل کي هم دغه وه، چي اوسنی جمهوريت يې وګاټه.

عجيبه دا ده، چي تر ګاندهي دمخه، پير روښان د پښتونخوا په غرو کي د مغولو پر خلاف هم له دغي وسيلې څخه کار اخيست او خپل مسلکي پيروان يې ټول له مغولو سره په عدم موالات او نه همکارۍ امر کول.

موبد شاه په دبستان مذاهب کي يوه عجيبه قصه ليکي، چي د روښانيانو شديد نفرت او نه همکاري له مغولو سره ښيي، دا قصه په عبدالقادر اړه لري، چي د روښان کوسی و او د شاه جهان مغولی پاچا لښکرو ته تسليم شو، عين عبارات دا دي:

"نامه نګار (مؤلف دبستان) از سلطان ذوالقدر مخاتب به ذوالفقار شنيد، که ګفت: چون بفرمان شعيد خان بخواندن عبدالقادر، رفتم، اقسام اطعمه و اشربه بهر او مي آوردم، تا بدان فريفته شود، روزی يکی از افغانان پير، بعد از چشيدن حلوا، برخاست و ګفت: ای عبدالقادر! از امان نيای بزرګوار تو تا اين زمان، قدم مغول اينجا نرسيده است، اين مرديکه آمده ميخواهد ترا بجامۀ سرخ و زرد و اطعمۀ چرب و شيرين که رغبت بدان، دين اصحاب بطن و نفرت از ان آئين

---

۱. په دې کتاب کي د روښان د کورنۍ او اساتيدو عنوان وګورئ او د معارف مجله ۱۹ ج د تذکرة الانصار په حواله.

درویشانست بفریبد، صلاح درین است که او را بکشیم، تا دیگری از هراس بدینجا نیاید، اما عبدالقادر و مادرش بی بی علائی که دختر میان جلال الدین است، راضی نشدند.

روزیکه عبدالقادر داخل اردوی سعید خان میشد، از آواز نقاره و کرنای، اسپ او می ترسید، از میان مردم بر کنار میرفت. افغانی با او گفت: آنچه حضرت میان روشن فرموده است، اسپ بجامي آورد و شما نه، خمار این مستی خواهید کشید! عبدالقادر پرسید، میان چه فرموده است؟ افغان گفت: از مغولان دوری و اجتناب."[1]

په دې ډول روښانیانو له مغولو څخه ډېر اجتناب کاوه او ځکه چې مغولان ظالمان وه، نو دوی له هغو سره نه ګډېدل او له ظالمانو څخه لرې ګرځېدل، چې "ان الله لایحب الظالمین".

ج. سربازی او قربانی او عدم تسلیم:

دریمه مرحله د روښانیانو په سیاسي رفتار کې "سربازي" وه چې د آزادۍ په لار کې ټولو ځانونه بایلل. تاسې به د دې کتاب په دریم ټوک کې وګورئ، چې د روښانیانو په دغه آزادیخواهانه حرکت او نهضت کې څومرې خلک قربان شوي دي؟ او پخپله میا روښان، جلا الدین د ده زوي، احداد د روښان لمسی او نور د ده شاګردان او پیروان ټول د استقلال په جهادونو کې مړه دي او سرونه یې په دې لار کې ایښي دي.

موبد شاه یوه عجیبه قصه لیکي، چې له دغې قصې څخه موږ د روښانیانو د سربازۍ احساس ښه معلومولای شوای، د روښانیانو نارینه نه؛ بلکې ښځو هم سربازی کوله او د آزادۍ لپاره یې ځانونه قربانول او مغول ته نه تسلیمیده. د موبد شاه الفاظ دا دي: "افغانان بعد از وصال احداد، عبدالقادر بن احداد را برداشته و بکوه رفتند، و لشکر پادشاهي که گمان مسخر شدن قلعه نداشتند، داخل قلعه شد دختر احداد در قلعه میگردید، یکي از لشکریان آهنگ گرفتن او کرد، دختر چادر بر چشم افگنده، خود ار از دیوار قلعه بزیر افگند و هلاک گشت، مردم همه متحیر شدند..."[2]

۲. د پښتنو حکومت:

پیر روښان لیدلي وه، چې پښتون یو غښتلی او دلاور قوم دی او دوی له څو قرنو څخه په پښتونخوا کې خپله پاچهي درلوده او پر هندوستان یې هم د امپراتورۍ ډمامه کوک وه.

په هغه وخت کې چې پیر روښان ژوندون کاوه، یقیناً د پښتنو د انحاط او اسارت دوره وه، د بابر او د ده د کورنۍ سلطه او اقتدار د ګنګا له غاړو تر آمو پورې خپور و، د پښتنو تللي عظمت په وینو ژړل، او پښتانه د استارت په سوځند اور کې ورتیدل.

بایزید اولاً پښتنو کې د خپلې سلطې او پښتني اقتدار احساس پیدا کړ او دوی ته یې د یوه پښتني امام او شرعي "اولوالامر" ضرورت وښود او پښتنو دی په خپل شرعي امامت ومانه او ده ته یې شرعي عشر او خراج هم ورکاوه، او ده د پښتنو د حکومت یوه "خزانه" هم درلوده، او لکه اخوند درویزه چې لیکي د روښان زامنو سکه هم په خپل نامه وهلې وه.[3]

---

۱. دبستان مذاهب ۲۵۳ ص.

۲. دبستان، ۲۵۲ ص.

۳. مخزن.

نو روښان پخپل ژوند کي د پښتنو د حکومت اساسونه ايښي وه، عشر او ماليات يې له خلکو څخه ټولول، خزانه يې درلوده او د خپل دولت عايدات يې په جهاد او ملي مصالحو کي صرفول، اخوند درويزه د روښان د زوی شيخ عمر په باب کي هسي ليکی: "شيخ عمر خود را پادشاه افغانان تصور کرده، حتی که مردم يوسفزی انقياد بعضی اوامر دنيوی او نموده بل بدادن عشر و خراج راضی شده..." [1]

بل يو سند چي د روښانيانو سياسي تشکيلات ښيي او دوی د پښتنو حکمرانانو په ډول معرفی کوي، د موبد شاه دا نوشته ده، چي د روښان لمسی او د شيخ عمر زوی (احداد) ستايي:

"احداد مردی بود عادل و ظابط... و حق مردم را بمردم رسانيدی و خمس اموال که از جهاد بهم رسيدی، در بيت المال داشتی، و آنرا نيز بغازيان رسانيدی... [2]

د روښان د شاګردانو او پيروانو په آثارو کي د يوه "امام" او "عادل حکمران" نظريه تلقين شوې ده او دوی پښتنو ته دا ښوولي دی، چي بايد دوی له ځانه يو عادل امام ولري او د پردو اسارت و نه مني، دولت وايي:

ودانی يې تمه مکړه زر به وران شي	هغه قام چي نصيب نه وي له امامه
ښه عادل حاکم د درست جهان ښايست دی	مشه دا جهان هر ګز بې اهتمامه[3]

بل ځای د پاچا لپاره عدل او رعيت داري داسي لازمه ګڼي:

که پادشاه د جهان شي عدل دي نه وي	ميراثي د حرصناک شيطان ملعون يې
په قيامت به يې له حاله پوښتيد وشي	ستا رعيت لکه رمه او ته يې شپون يې[4]

ارزاني د روښان بل ملګری د راعي او رعيت متقابل حال هسی بيانوي:

د رعيت پادشاه راعي دی	رعيت د شه راعي دی
چي رعيت آزار وينه	دی خپل زړه خورينه افعي دی
پادشاه درخته رعيت بيخ دی	شاه خيمه رعيت ميخ دی
چي رعيت آزاروينه	دين يې نشت شيطان يې شيخ دی
دا حديث کړی رسول دی	د هر چا نن هم قبول دی
هر راعي له رعيته	د قيامت په ورځ مسئول دی
پاشاهي نه ده اسانه	دا وينا نغوږه انسانه!
پادشاه به حق وپوښتي	هم لعدله له احسانه
	(د ارزاني قلمي ديوان)

١. تذکره الابرار، ص ١٥٥.
٢. دبستان مذاهب، ص٢٥٢.
٣. د دولت قلمي ديوان ص ٢٤.
٤. د دولت ريوان ص ٢٢٢.

۳. د پښتنو شهنشاهی:

روښان یوازي پر دې نه و قانع، چي پښتانه له خپله منځه یو عادل امام او پښتون حکمران ولري او دوی آزاد ژوندون وکړي؛ بلکی د غوریانو او لودیانو د عظمت په تجدید هم بوخت و، چي د ده خوب اعلیحضرت شیر شاه سوری بیرته تعبیر ته ورساوه او د روښان دغه دریم سیاسي مهم هدف و.

روښان دا عزم دلرود، چي اول خپله پاچهي په پښتونخوا کي قایمه کاندي او بیا نو د غزنویانو او لودیانو په دود، بیرته هندوستان هم ونیسي او د پخواني عظمت ډیوه بیا هلته روڼه کړي. درویزه د روښانیانو مخالف ملا، د روښان دغه لوړ آمال هسي بیانوي، چي ده به ویل:

"لښکري به کړم بنیاد، هندوستان به ونسم، آوازه یې کړله ګډه، هر چي آس لري راځي، د اکبر پادشاه ټنګه واړه ځما دي..." [1]

له دې معاصره سنده تاسي ښه معلومولای شي، چي روښان څه آمال لرل او د دوی معاصرینو د سیاسي اختلاف په سبب، په دوی پسې څنګه تبلیغات کول؟ بل ځای هم درویزه د جلال الدین روښاني له خوا وایي:

"چي پادشاه د پښتانه یم، پښتانه را پسې ځي، زه به ماته د اکبر دروازه کړم..."[2] د روښانیانو سیاسي رقباء د دهلي مغول وه او هغه هم د دوی د دفع کولو لپاره خپل ټول عسکري او مالي او تبلیغي قواء متوجه کړي وه؛ مګر روښانیان ټول سر فروش او مجاهد او تبلیغ کي تیر شوي دي او دا ټوله سعیه او جهد فقط د "پښتنو د آزادۍ او د دوي د تاریخي عظمت د تجدید" لپاره و؛ نو ځکه د روښان په آثارو او د ده د شاګردانو په باقیات الصالحات کي د "آزادي خواهۍ" یو ژوندی روح ښکاره دی او دغسي تبلیغات د روښان د ادبي مکتب روح روان ګڼل کیږي.

خو د تعجب ځای دا دی، چي روښان د تصوف او سیر او سلوک په درس کي سیاسي روح ننه ایستلې وو، او د تقوا او خدا پرستۍ له سجادي سره یې ځلانده توره هم په ترخ کي وه.

ده که د نفس سره جهاد اکبر کاوه؛ خو له سیاسي مخالفانو سره په جهاد اصغر هم بوخت و او په دغه لارکي یې سر هم کښیښود.

د روښان د نثر ادبي خصایص

تاسي دمخه د "فني نثر" په بحث کي ولوستل، چي دغه د نثر ډول څنګه پیدا شو او پر پښتنو یې څنګه اثر وکړ؟

پیر روښان په پښتو کي د فني نثر علم پورته کړ، او دغه مخصوص مکتب یې په پښتو ادب کي بیرته کړ چي د پښتو له پخواني نثره سره ډیر تفاوت لري او د خیرالبیان د لیک ډول هغه نه دی، چي پخوا سلیمان ماکو خپله تذکره پر لیکلې وه.

دغه سبک تر روښان وروسته، د درویزه له خوا په مخزن اسلام کي تعقیب شو او وروسته د درویزه کورنۍ او نورو لیکوالو لکه بابو جان او اخوند قاسم او حسین او نورو هم پسې وروزلی چي تاسي به د دې ادبي مکتب دوام، پس له

۱. د درویزه مخزن، قلمي ۴۱۸ص.

۲. مخزن پښتو ۴۲۳ص.

زرم هجري کاله د دې کتاب په دریم ټوک کې وګورئ.

دا ادبي سبک نیم منظوم نثر و، چې سجع پکې داخله شوه او مهم خصایص یې لاندې بېل بېل ښیم.

۱. د اوږدو یا لنډو جملو په آخر کې د سجع راوړل، چې دغه سجع هم په اکثر خیرالبیان کې په (آن) یا (آم) ختمیږي، مثلاً قرآن، سجان، نښان، کلام، سلام... په دغو جملو کې مختلفي سجع وګورئ:

لري دي اوسي په پرېزګاري له واړه حرام.

بل به نه کښېوزي ځما په عذاب کې آدمیان.

۲. د خیرالبیان په نیم منظوم سبک کې کله کله د کلماتو ربط او تراکیب هم د پښتو ژبې له جاري محاورې سره سم نه دی، او کوښښ شوی دی، چې کلمات او الفاظ سره وړاندې وروسته شي. او دا کار به یا ارادي وو، د یو نوع ریتم او آهنګ لپاره یا به غیر ارادي و، د عربي او پارسي تر اثر لاندې مثلاً:

د خیر البیان نثر	دغه نثر د پښتو پر محاوره سم
۱. را وښیه و ما ته رده او چار د طریقت پخپل فرمان او سبحانه!	او سبحانه! ما ته د طریقت رده او چار پخپل فرمان راوښیه!
۲. سر سایه په نور وخاته واجب ده چې وباسي آدمیان هر چه له دغه وړاندې ومري یا وزیږي یا شي مسلمان سر سایه یې واجب نه شي...	۲. واجبه ده چې آدمیان سر سایه په نور خاته وباسي، که له دغه وړاندې څوک ومري یا وزیږي یا مسلمان شي؛ نو سر سایه نه پر واجبیږي.
۳. په منځ د حرفو د قرآن...	۳. د قرآن د حرفو په منځ کې.
٤. پې مشغول دي ډېر آدمیان.	٤. ډېر آدمیان پې مشغول دي.

په دې ډول روښان کلمات او الفاظ له خپله ځایه سره اړه وي او غواړي چې د کلام آهنګ خوندي شي، او دا کار د دغه سبک یو ممیزه ده، چې په ټولو آثارو کې لیده شي، او تاسي به یې د دې کتاب په دریم ټوک کې نوري نمونې هم مفصلي وګورئ.

۳. سره له دې چې د آهنګ د ساتلو لپاره روښان د پښتو جملې سره اړوي او د محاورې له جاري ډوله تخلف کوي، بیا هم د ده نثر له وضاحته او صراحته نه وزي، خپل مقاصد په فصاحت ادا کوي او له دې جهته خپل نثر ته یو خاص ملاحت هم بخښي او دا ملاحت او عذوبت د اخوند درویزه په مخزن کې ډېر لږ موندل کیږي سره له دې چې درویزه د خیرالبیان په ماتولو کې ډېر کوښښ هم کړی دي. تاسي لاندې د روښان یو څو خورا خوږې جملې د درویزه د کتاب له آغازه سره مقابله کړئ:

زه هغه بې پرواه یم، چې هر چار تل بې شریکه، بې مله، بې کالي کړم، نشته ځما محتاجي شریک و مل و کالي وته لکه د آدمیان. حال د مخلوقان بدلیږي نور نور کیږي، ځما حال نه بدلیږي، نه نور کیږي لکه حال د مخلوقان.	بسم نام الله خدای دي کار ساز د کل عالم دی د بندگان. رحمان مهربان خدای دی، رزق روزي ورسوینه، مومن و کافرو جمله و ځانوران رحمان رحیم دواړه مشتق له رحمته، د رحمان معنی مي ووې، رحیم بسیار بخشاینده دی، هورې ډیر به ورکوینه دي خاصه و مومنان.

چا چې پس له روښانه او درویزه څخه هم دا سبک او فني نثر تعقیب کړی دی، دومره خوږتوب او سلاست او وضاحت چې د روښان نثر لري، دا نور یې نه لري؛ ځکه نو حقاً روښان د دغه مکتب مؤسس او لومړی واضع بلل کیږي.

٤. کوم صریح لهجوي امتیازات چې د شمالي پښتونخوا او جنوبي پښتونخوا یعني (پختون او پښتون) په لهجو کي شته، د روښان په نثر کي کوم خاص رنګ چې یوې خوا ته مایل وي، نه لیدل کیږي، بلکي دی داسي نثر لري، چې د شمال او جنوب تر منځ مشترک دی او د منځي پښتونخوا یعني (وزیرستان) د لهجې اثر هم ډیر نه په کي ښکاري، مثلاً هغه امالي چې دغه خلک یې لري؛ لکه مور، میر د ده په نثر کي ډیري نه ښکاري، د دې خبري علت هم دا دي: چې روښان د پلار له خوا قندهاری و او بیا بخپله ده په شمالي پښتونخوا کي تر پیښوره او د یوسفزو تر میرو پوري سیاحت او ژوند کړی و او مور یې د هند په پښتنو کي محشوره وه، نو ځکه د ده په پښتو لیک کي د ټولي پښتونخوا مشترک لهجوي رجحان لیده شي. مثلاً (مخ یې واو بوته شي) د قندهار پر لهجه سمه جمله ده، اما (زه نژدې یم و آدمیان وته له ځانه) د شمالي پښتونخوا رنګ لري، ترو، بویه، لولي، هوی، ورجاني، داسي کلمات دي، چې په قندهار کي نه مستعملیږي، اما ور څخه هسي، منبه، کښیوزي، کښیباسي، او نور ډیر کلمات شته، چې د قندهار او جنوبي پښتونخوا د لهجې نمایندګي کوي او بل د شمالي پښتونخوا یعني د یوسفزو د لهجې غیر نافي (نه) کورټ په خیرالبایان کي نه لیدل کیږي؛ لکه (له کور نه راغی)؛ بلکي په دې خاصیت کي پوره جنوبي لهجې ته ورته دی.

٥. روښان ځني خاص خاص پښتو نادر لغات هم استعمالوي، چې په نورو ځایو کي لږ لیدل شوي دي، مثلاً (کړمکړ) د (امر و نهي) پر ځاي او (تورکښ) د عسکریت او لښکر پر ځاي، (ورمندن) د واجب او لازم پر ځاي، (نغوږي) په معروفه یاء، د شنونده او پیرو په معني. (یون) رفتار او تګ، (تله) د ترازو په مفهوم، (کالي) د آلت او اسباب پر ځاي، (چار) د عمل او کار په مفهوم، (نغوته) تحریک او اشاره، (رده) لار او طریقه، (غوښت) خواهش او هوا، ستروي (عظمت).

دا لغات او کلمات ځیني موږ هم پیژنو او د نورو شاعرانو په دیوانو کي راغلي دي؛ لکه نغوته، غوښت، کالي، یون. مګر ځیني کلمات خاص دي، د روښان په استعمال پوري لکه کړمکړ، ورمندن، تورکښ، ستروي او نور...

٦. ځکه چې روښان پخپل کتاب کي دیني، اخلاقي،عرفاني، فقهي ابحاث سره یو ځای کړي دي؛ نو طبعاً عربي کلمات او مصطلحات چې په دغو ابحاثو یې اړه درلوده، هم د ده په نثر کي ډیر دي لکه صلوة، نبي، سلام، حلال، حرام، رحمن، محبت، بقا، فنا، رحمت، طریقت، توبه، فرض، شیطان او نور...

٧. روښان ځاي پر ځای ځیني خبري له عربي څخه راوړي په آیاتو او احادیثو او عربي مقولاتو استدلال کوي، چې دا د پخوانو په آثارو کي لږ وه خاص بیا په نثر کي.

۸. د روښان ځيني پښتو جملې مستقيماً عربي څخه ترجمه دي؛ مگر ده يې عربي اصل نه دي ښودلي، خو د لويو صوفيانو اقوال يا د احاديث شريفه مقاصد يې خلص په پښتو کي را اړولي دي او کله آيات شريفه په پښتو ترجمه کوي، مثلاً د (اللّه المصد لم يلد ولم يولد) مقصد هسي وايي: ''زه هغه بې پرواه يم، چي هر چار تل بې شريکه، بې مله، بې کالي کړم، نشته ځما پلار، زهمن، نه خور، ورور. ''

۹- د افعالو تکرار لکه د نورو متقدمانو په نثر کي چي شته، د روښان په نثر کي هم ليدل کيږي او دا کار دی ډير کوي، مثلاً: ''حال د مخلوقان بدليږي، نور نور کيږي، ځما حال نه بدليږي، نه نور کيږي''.

کله کله د کلماتو تکرار په پښتو جملو کي راځي او دا بد هم نه معلوميږي؛ بلکي ښه خوند کوي او د مقصد د توضيح لپاره په ډير سلاست او جزالت تکرار کيږي، لکه: ''زه يم په ويښته، په پوست کي د آدميان. په وينه په غوښه د آدميان، په رگ په پله د آدميان. په هډ په ماغزه د آدميان.''

۱۰. د افعالو حذف هم په متعاطفو جملو کي د روښان په نثر کي ليدل کيږي:

مثلاً په لوړو جملو کي ابتداً (زه يم) راغلی دي، چي درې وروسته جملې هم په قرينه سره هغه (زه يم) لري، مگر حذف شوی دي.

په دې ډول نو روښان د قدماوه سبک پخپل نثر کي د ''تکرار'' له امله هم ساتي، او کله کله د افعالو حذف هم د ''فني نثر'' په ډول کوي او يو مخلوط سبک ايجادوي.

د دې ټوک پای

په دې ډول زموږ د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم توک د پير روښان پر بحث ختم شو او د هجرت د زرو کالو د پښتو ژبې تاريخ د اسلام له ابتداء څخه تر ۱۰۰۰هـ پوري راورسيده.

دا کتاب ما په ۱۳۲۵ش په کابل کي ليکلي و؛ خو د ټول کتاب په نشر موفق نه شوم او اوس مي په سر کي يو څو نوی ځيړني پوري ونښلولې، او دا دي پښتو ټولني ته د خپرلولو لپاره وړاندي شو.

اميد لرم چي دغه مباحث به ښاغلو لوستونکو ته گټور وي او که ژوند پاته و؛ نو به د دې لړ دريم او څلورم ټوک هم وليکم.

کابل ششس ررک
۱۰ حوت ۱۳٤۰
عبدالحی ''حبيبی''